جاوید احمد غامدی

# مقامات

ژباړن:
شهید عبدالغفور پیروز

المورد
د علم او څېړنې اداره

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

# مقامات

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جاويد احمد غامدي

# مقامات

ژباړن

شهيد عبد الغفور پېروز

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

المورد

د علم او څېړنې اداره

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تهول حقوق خوندي دي

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

خپرندوی: المورد

لومړی چاپ: ۲۰۱۷

بیه:

ISBN : 978-969-681-012-4

Address: Post Box ۱۵۸۵, Lahore Pakistan.

Post Box ۷۱۰٦, Karachi Pakistan.

Website: www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# فهرست


| | |
|---|---|
| د یوه شهید ورور نیمګړی ارمان | ۲ |

## ذوق او شوق

| | |
|---|---|
| زما نوم | ۵ |
| د ژوند کیسه | ۸ |
| څو کاروانونه | ۱۷ |
| تر ما وروسته | ۳۰ |
| د جام ملګری | ۳۲ |
| پاتې شراب | ۳۴ |
| کور او ژوند | ۳۶ |
| د هنر معجزه | ۳۸ |
| دمه نه کوم | ۳۹ |
| د شبلي بنوونځی | ۴۱ |
| امین احسن | ۴۸ |
| شخصیت لمانځنه | ۷۲ |
| دین او بې دیني | ۷۴ |
| نوې فتنه | ۷۶ |

## اساسي اصول

| | |
|---|---|
| د دین ماخذ | ۷۹ |
| اصول او مبادي | ۸۲ |
| د قرآن موضوع | ۸۴ |
| د قرأتونو اختلاف | ۸۶ |
| عام او خاص | ۹۳ |
| حدیث او سنت | ۹۶ |


www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د حدیثو نوی تدوین ۹۸

## معاصر موضوعات

اجتهاد ۱۰۳
اجماع ۱۰۵
زموږ بلنه ۱۱۰
د مسلمانانو زوال ۱۱۲
دیني بنسټ پالنه ۱۱۶
د بدن د غړو نښلول ۱۱۹
د سپوږمۍ لیدل ۱۲۱
مسلمان او نا مسلمان ۱۲۳
اسلامي تهذیب ۱۲۵
زموږ تعلیم ۱۲۷

## ټولنیزې لیکنې

ږیره او ترپوندیو د جامې کښته کول ۱۳۷
د ښځې تادیب ۱۳۸
د سرپټول ۱۳۹
د نوکانو رنګول ۱۴۰
د ښځو سفر ۱۴۱
د حمل غورځول ۱۴۲
د اولاد بندول ۱۴۵
د فرجو ساتنه ۱۴۷
د جنسي اړیکو حدود ۱۴۸
نبوي میرمنې ۱۵۱
د عایشې رضی الله عنها عمر ۱۵۷
د طلاق حق ۱۶۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د طلاق ناسمې طريقې ۱۶۲

## دولت او حکومت

د شريعت نفاذ ۱۶۷
اسلامي حکومت ۱۷۱
اسلام او دولت ۱۷۴
د قانون بنسټ ۱۷۷
اسلام او دولت – يوه ځوابي ليکنه ۱۸۰
د پارلمان برتري ۱۹۰
اسلام او ملت پالنه ۱۹۲
خلافت ۱۹۵
دولت او حکومت ۱۹۹
زموږ مسجدونه ۲۰۳
امرهم شورى بينهم ۲۰۵

## اقتصادي مسايل

د سود مسئله ۲۳۲
بيمه ۲۳۵
د ميراث ويش ۲۳۷
د وصيت حق ۲۴۰
د يتيمو لمسيانو وراثت ۲۴۲

## جهاد او سزاوې

جهاد او قتال ۲۴۷
د طالبانو استدلال ۲۴۹
د رسولانو اتمام حجت ۲۵۵
د شريعت سزاوې ۲۶۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د نبوي سپکاوي سزا ۲۶۳
د قصدي قتل سزا ۲۷۲
د شاهدۍ قانون ۲۷۸
حدود او تعزیرات ... څو مهم بحثونه ۲۸۹
دیت ته یوه کتنه ۲۹۹

## بېلابېل موضوعات

د خدای پېژندنه ۳۱۸
حلال او حرام ۳۲۱
له منکراتو منعه ۳۲۳
د ثواب بخښنل ۳۲۶
اضطراري علم ۳۳۰

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بسم الله الرحمن الرحيم

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د یوه شهید ورور نیمګړی ارمان

د ۲۰۱۷ کال د می اوومې سهار مې د مشر ورور د شهادت په ویرجنه پېښه سره پیل کړ. دا سهار زما د ژوند تر ټولو تور سهار وو، د ژوند له ډېرو بدو ورځو څخه یوه وه او دې ورځ ما داسې څه وبایلل چې هیڅ شی یې بدیل کېدلای نه شي.

زما ورور د روانې جګړې له قربانیانو یو دی، خو په دومره توپیر چې نوموړی صرف په دې جرم وویشتل شو چې ولې یې د دې جګړې نظري مخالف دی او ولې د دې جګړې او د پر مخ وړونکو پر وړاندې یې د قلم له لارې مبارزه کوي؟ تر هګرو سهار مهال پر اته بجې هغه وخت وویشت چې له پوهنتونه کور ته پر لاره وو، یوازې د دې جرم په وجه چې د دې توري او منحوسې جګړې مشروعیت نه مني او په منصوصې استدلال سره د دې په نوم جهاد مشروعیت ردوي.

زه خپل ورور ته د یوه اتل په سترګه ګورم، هغه یو زړور لیکوال او دیني عالم وو. خدای ورته ډېر ښه استعداد ورکړی وو. د ژباړې کولو یو جالب هنر یې درلود او لیکنې یې یو ځانګړی جذابیت درلود. په خاص ډول په خپل مسلک کې به یې لیکنې دومره زړه وړونکې وې چې لوستونکي به یې حیرانول. د ده ځینې مقالې په رسالت نومي کتابګوټي کې چاپ شوې دي. د شهادت پر مهال یې د همدې کتاب ژباړه روانه کړې وه او ښه ډېرې یې ژباړلې وو، خو افسوس چې څو منحوسو او تورو لاسونو د ژوند په ۳۳ پسرلي کې دا ستر استعداد له سترو ارمانونو سره د تل لپاره له موږ واخیست. ده به ډېر ویل او لیکل چې " خپله هم ژوند وکړئ او نور هم ژوند ته پرېږدئ." خو د مرګونو استازي د ژوند په دې له ارزښته ډک پیغام کله پوهېږي؟

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د شهید یوه بله وینا چې ډېره مشهوره ده: " دلته به یا ځان وژنې یا وجدان." په دې وینا کې یې خپلې ټولنې او هیواد ته اشاره ده چې که غواړې حق ووایې او سپین وړغیږې د ژوند په بیه تمامیږي او یا به رښتیا نه وایې نو د وجدان وژنې بیه لري. د خپل زړورتوب پر اساس یې د وجدان وژنې لار غوره نه کړه، سپین یې وویل که څه هم پوهېد چې د ژوند په بیه تمامیږي. سپین ویل د انبیاوو لار ده، سپین ویل د خدای امر دی او سپین ویل ستر اخلاقي ارزښت دی. شهید پېروز د همدې لارې لاروی وو.

هیله یې درلوده چې د غامدي صیب ټول کتابونه وژباړي او تر دې کتاب وروسته یې د هغه د تفسیر البیان د ژباړې اراده هم کړې وه. خو نه یوازې دا چې البیان ونه ژباړل شو مقامات یې هم نیمګړی پرېښود. تر دې وروسته د دې نیمګړي ارمان د پوره کولو مسئولیت ما او زبیر افغان ته را له غاړې شو. دا دی د خدای په مرسته سره د شهید یو ارمان پوره کیږي خو کاش! د دې ارمانونو پوره کیدل یې په خپل ژوند لیدلي وای!

مقامات د غامدي صیب د بېلابېلو مقالو ټولګه ده او پر ګڼو موضوعاتو یې دومره مستدل لیکل کړي دي چې د علم او منطق د مینه والو تنده پرې په بشپړه توګه ماتېدلای شي. خدای دې غامدي صیب تر ډېره ژوندی لري، ستره هستي ده.

وصیل پېروز

۲۰۱۷/ سیپټمبر / ۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ذوق او شوق

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# زما نوم

زما د نوم کیسه هم حیرانوونکې ده، د مور مې جاوید نوم خوښ وو. تر زوکړې وروسته مې پلار د دعا غوښتلو لپاره پیر ته وروستم نو هغه وویل چې د ده نوم به زموږ د درویشانو غوندې وي، باید شاه یې وبولئ، زه وینم چې پاچاهان به ورته په عجز را روان وي. زما کشره خاله له کلونو راهیسې له موږ سره اوسېده، پلار او مور مې ډېره مینه ورسره درلوده. د هغې یو زوی تر ما درې کاله مشر وو چې رفیق نومېدی. له دې وجې بیا د دې ټینګار دا وو چې زما نوم باید شفیق کېښېښوول شي. هغه له دې پرته د بل نوم منلو ته تیاره نه وه. تر دې ځو ورځې وروسته مې مشره خاله لیدلو ته راغله نو هغې وویل: ما خو یې له وړاندې لا نوم کاکا محمد ایښی دی. نو اوس به څه کېږي؟ زما کوروالو د دې یو اسانه حل را وایست دا چې ټول یې ومنل. نو تر څو چې دا مشران ژوندي ول زه به یې د خپلې خوښې په نوم یادولم.

کله چې په ښوونځي کې د داخلولو وخت راغی نو پلار مې نه وو. هغه مهال به مې پلار ځیني وختونه په میاشتو -میاشتو د خپل پیر خانقاه کوټلي مغان ته تلی. د هغه یو نژدې ملګری وو چې موږ به ورته کاکا ویل. د پلار په نه شتون کې همدی را سره ښوونځي ته ولاړ. زما لپاره هماغه ښوونځی انتخاب شو چې زما د خاله زوی پکې وو. د نوم لیکلو پر وخت چې کاکا پوښتنه وکړه نو ما ورته ټول نومونه وویل. هغه سخت اندېښمن شو چې اوس پر کوم نوم پریکړه وکړي؟ د رفیق لور ته یې وکتل نو هغه وویل چې زموږ په کور کې خو یې شفیق بولي. کاکا د یو څو شیبو لپاره چوپ پاتې شو او بیا یې د ښوونځي د حاضرۍ په کتاب کې همدا نوم ولیکه.

کله چې زه را لوی شوم نو مې د مور نوم ډېر خوښ شو خو اوس به د ښوونځي د حاضرۍ له کتاب سره څه کوم؟ له خپل یوه استاذ محمد

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

صادق سره مې خبره وکړه، هغه وویل چې دا مهال به نوم بدلول سخت وي، ته له شاعرۍ سره مینه لرې زما خو مشوره درته داده چې جاوید په تخلص واړوه. زه به دې نوم شفیق احمد جاوید ولیکم. که دې شفیق نوم خوښ نه وي نو قلمي نوم دې جاوید احمد کړه. زما دا مشوره خوښه شوه، ملګرو به له پخوا څخه لا په جاوید را بللم. د کالج پر مهال همدا د جاوید نوم مشهور شو، کله چې بیا د شناخت کارډ (پاکستانۍ تذکره) او پاسپورټ جوړولو وخت راغی نو همدا نوم مې پکې ولیکه.

زه تقریبا په نهم ټولګي کې وم چې د عمې د ورور په واده کې د ګډون لپاره لاهور ته راغلم. دلته په لومړي ځل ما له مشر کاکا سره د لسو -پنځلسو ورځو او سیدو فرصت تر لاسه کړ. د هغه له خپل پلار او زما له نیکه نور الهي سره ډېره مینه وه. شپه او ورځ به یې د هغه کیسې راته کولې او ویل به یې چې هغه په سیمه کې د یوه ډېر نیک انسان حیثیت درلود. د هغه د نیکۍ، له خدایه د ویرې او پوهې له وجې به تل خلکو پرې خپلې لانجې هوارولې او د هغه هره پریکړه به یې منله. د هغه خبرو زه ډېر متاثر کړم. دا اغېز دومره ژور وو چې ما به تل د نیکه په اړه فکر کاوی، تر دې چې څو ورځې مې په خوب هم لیدی.

دا مهال مې د کورنۍ له یوه بل مشر او د ماشومانو لپاره د دیني کتابونو له لیکونکي مقبول انور صیب سره لیدنه وشوه. د هغه داودي تخلص زموږ کلي داود ته منسوب وو. زما د پلار نوم که څه هم محمد طفیل جنیدي وو خو ځیني شیان ډېر ژر توجو جلبوي. له داودي صیب سره تر لیدنې وروسته په لومړي ځل ما فکر وکړ چې زما له نوم سره هم باید همداسې یوه نسبتي زیاتونه وي. د ماشومتوب ځیني داسې غوښتنې بیخي له ذهنه نه وزي. ما به هم شپه او ورځ همدا فکر کاوی. یوه ورځ مې دا خبره له پلار سره یاده کړه نو هغه د داودي صیب په اتباع د دواودي د زیاتولو مشوره راکړه. بیا یې وویل که دې زموږ له پیر سره



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیعت کړی وای نو جنیدي دي هم ایښوو ای شوای. بل خوا مي بیا غوښتنه دا وه چي دا نسبت مي باید نیکه ته وي. له اکا چي مي څه اوریدلی وو د هغو له مخې مي اوس ایډیال نیکه وو. چي د هغه لور ته پر نسبت به مي فکر کاوی نو نوري او مصلحي به ذهن ته راتلل خو ذوق یې منلو ته تیار نه وو. په همدې کش وګیر کي وم چي دوه کسان مو میلمانه شول. زما د پلار عادت وو چي په میاشتو -میاشتو به یې طبیبان او سیلاني فقیران میلمانه ول. دا خلک هم همداسي راغلل، له دوی څخه یو یې د پلار د پیر ورور او دویم یو بوټی پیژندونکی عالم عبدالله وو. وحشي یو ښه لیکونکی وو، ده د خپل پیر کتاب لیلی او مجنون په خپل لاس سره لیکلی وو. ده به هغه اوراوه او د هغه په شرح او تفسیر کي به یې د تصوف اسرار او رازونه بیانول. د عبدالله صاحب بیا د عربو د جاهلیت له تاریخ سره دلچسپي وه. ده به همدا پیښې زما پلار ته اورولې. زه به د دوی په مجلس کي د ساعتونو لپاره ناست وم او په مینه به مي یې خبرې اوریدې. عبدالله صیب کیسه کوله چي د بنو غامد ډېر وړاندیني نیکه پیړی وړاندي یوه پیښه پېښه کړه او په دې توګه یې د حالاتو د اصلاح هڅه وکړه. له دې وجې هغه ته غامد وویل شول او تر دې وروسته په عربي ژبه کي د (غمد الامر) الفاظ د اصلح الامر په معنا استعمال شول. ده زیاته کړه چي دا قبیله اوس هم په عربي ټاپو کي له همدې وجې په غامدي یادېږي.* ما دستي فکر وکړ چي زما نیکه خو هم همدا کار کړی، د دې نوي تعبیر په موندلو سخت خوښ شوم. کله چي مي یې پلار ته یادونه وکړه نو هغه هم خوښ کړ. زه چي د ساهیوال ولسوالۍ په کومه کلیواله سیمه کي اوسېدم هلته پر داسي نوم ټوکي

*کله چي مي وروسته دا لغت په کتابونو کي وکوت نو د دې خبرې تصدیق یې کاوی. په اقرب الموارد کي دي: (غامدة) ابو قبيلة ينسب اليها الغامديون، وقيل: هو غامد و اسمه عمرو ولقب به لاصلاحه امر كان بين قومه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کیدلې ځکه یې نو ما لیکل ډېر نا وخته شروع کړل خو له هماغې ورځې مې پرېکړه وکړه چې دا لفظ به زما د نوم یوه برخه وي.

د ماشومتوب او د ځوانۍ د لومړیو وختونو خوښۍ هم ډېرې عجیبې وي. وروسته چې سړی فکر کوي نو حیران شي چې په علم، عمل او فکر و خیال کې کومو شیانو ارزښت درلود؟ له نیکه سره د نسبت په وجه چې دې نوم ما ته څومره خوښي راکړه نن یې زه په الفاظو کې نه شم بیانولای. وخت څومره بدلېږي؟ او س تر ټولو لویه خبره هم په زړه او ذهن کې هغومره شور نه شي پیدا کولای. دا سې ټول شیان د وخت په تېرېدو خپل ارزښت بایلي:

هر روز ایک تازه جهاں کی حکایتیں
اب ره گی هیں قصه عهد شباب میں

۲۰۰۷

# د ژوند کیسه

زه په ښوونځي کې وم خو زما پلار پر دې بسنه نه کوله او هیله یې وه چې زه له دې سره یو ځای عربي، فارسي او سنسکرت هم زده کړم خو د دې ټولو چاره کول ستونزمن وو. هم‌دا مهال یې د پاک پټن سیمې په شاوخوا کې له میان محمد حسین بودله سره نوکري شروع کړه. هلته تر دوو -درو میاشتو کار کولو وروسته چې ډاډمن شو نو مور هم له پلار سره یو ځای د میان صیب کلي نانګپال ته د تګ پرېکړه وکړه. دا کلی له سمه سټه څخه د تلونکي اورګاډي له مرکز پکاسد هار څخه دوه نیم میله لرې وو. زه یې د پاک پټن له ایم سي ابتدایي ښوونځي څخه وایستلم او د پکاسدار په ښوونځي کې یې شامل کړم. دا د یوې خونې ښوونځی وو چې هیڅ هم پکې هوار نه وو. موږ به د اورګاډي کرښې ته له نژدې د ښتې څخه د کیکر ښاخونه راوړل او د هغو په پاڼو به مو غولی جارو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.almawrid.org

کاوی او بیا به پرې کښېنستلو. په کلي کې یو کوچنی مسجد وو، کله چې به پلار مسجد ته تلی نو زه به یې هم بوولم. د دې مسجد ملا او خطیب مولوي نور احمد وو. زما لږ یاد یږي او په غالب گومان چې له دیوبندي مسلک سره تړلی وو. پلار مې ورسره زما د زده کړې خبره وکړه نو ده وویل چې فارسي او عربي به ورته ووایم. پلار مې ډېر خوشاله شو او له مور سره تر مشورې وروسته فیصله دا وشوه چې زه به له ښوونځي تر راتلو وروسته لږ وخت ارام کوم او بیا به د مازگر د لمانځه لپاره مسجد ته ځم او هلته به تر ماښامه مولوي صیب ما ته عربي او فارسي وایي.

موږ چې نانگپال ته تللي وو نو زه په دریم ټولگي کې وم. تر پنځم ټولگي پورې له مولوي نور احمد صیب څخه د زده کړې دا لړۍ روانه وه. نو موږ ما ته تر شرح جامي پرې عربي او د شیخ عطار تر پند نامې پورې فارسي وویله. د پنځم ټولگي ازموینې پر راسېدو وې چې پلار مې پر یوه خبره له میا صیب څخه خپه شو او د ده یې خوشي کړه بېرته پاک پتن ته راغی. زه هم مجبور شوم چې راشم، نو مې له مولوي صیب سره د روانو زده کړو لړۍ هم وشکېده. مگر شوق مې ختم نه شو، ویل کېږي چې شوق در هر دل که باشد رهبري در کار نیست. نو ما به هم استاذان لټول او ورتلم به، له هغوی څخه به مې د درس نظامي کتابونه ویل. تر نهم صنف پورې مې د فنونو کتابونه خلاص کړل. د لسم ټولگي امتحانونه پر را رسېدو ول نو مې ټوله توجو هغو ته واړوله او د عربي زده کړو لړۍ یو ځل بیا وشکېده.

د پنځم ټولگي په ازموینه کې تر بریالي کېدو وروسته زه د نور تعلیم لپاره اسلامیه لیسې ته راغلی وم. دلته مې غالبا په اووم یا نهم صنف کې له نصیر الدین همایون سره لیدنه وشوه. دی زموږ د تاریخ استاذ وو، دا لیدنه له دې وجې هم مهمه وه چې د همده په وسیله په لومړي ځل

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زه د مولانا ابو الاعلی مودودي له نوم او کار سره بلد شوم. د مولانا ټول کتابونه مي له ده واخيستل او ومي لوستل، دا د پوهي او علم يوه نوې نړۍ وه. د اسلامي جمعيت د زده کوونکو کلنۍ غونډه په دې ورځو کي په داود ګارډن، داروغه کي کيدونکې وه. موږ څو انډيوالان هم له اسلاميه های سکول څخه د همايون صيب په ملتيا په غونډه کي د ګډون لپاره لاهور ته راغلو. مولانا سيد ابو الاعلی مودودي مي په لومړي ځل په همدې غونډه کي وليد. ډېر زړه وړونکی شخصيت وو، داسي ښکاريده لکه د ده په جسم کي چي د فطرت له ټولو ښکلاوو کار اخيستل شوی وي. وروسته مي له نوموړي سره د نژدې ليدلو فرصت تر لاسه کړ. د علم او عمل، ښو اخلاقو، پوهي او بصيرت، جرات او عزم له مخې چي يې له کومو خلګو سره نوم اخيستل کېدای شي هغوی د ګوتو په شمار دي. دا يوازي زما تاثر نه دی، له هغه سره چي هر چا د ليدلو او خبرو فرصت تر لاسه کړی هغوی هم د دې شاهدي ورکوي:

نه من بران گل عارض غزل سرايم و بس

که عندليب تو از هر طرف هزارانند

د لسم کال په شروع کيدو مي د فلسفې، تصوف، ادب او تاريخ کتابونو په لوست سره په دې اړه دلچسپي نوره هم ډېره شوه. دا مي د پلار او هغه ته د راتلونکو کسانو د مجلس اثر وو. په دې اړه چي به مي هر کتاب تر لاسه کاوی نو خامخا به مي لوستی. وخت مي هم درلود که څه هم د ښوونځي بوختياوو تر يوه حده خنډونه جوړول. ما فکر وکړ چي دا ستونزه بايد حل کړم. په همدې تلوسه مي يوه ورځ له خپل استاذ او سرمعلم سيد شيرمحمد صيب څخه غوښتنه وکړه چي د درسونو له حاضرۍ دي مي مستثنا کړي، زه غواړم چي په ډاډه زړه مطالعه وکړم. تاسو ما ته د اوسيدو لپاره يوه کوټه راکړئ نو ان شاء الله د لسم په اخيري ازموينو کي به مو هم مايوس نه کړم. سيد صيب يو بيل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شخصیت وو، زه حیران شوم چي هغه څرنګه ومنله؟ تر څو شېبو چوپتیا وروسته یې وویل چي زما باور خو به نه ماتوې؟ ما ډاډ ورکړ. نو هغه په راتلونکې ورځ دا خبره ومنله. بلکي له دې سره یې دا ښېګڼه هم راسره وکړه چي د ښوونځي له کتابتون څخه یې ماته اجازه راکړه چي زه زما د ذوق ټول کتابونه وړلای شم. په دې کوټه کي مي د کتابونو او فراغت ټولي اسانتیاوې درلودې. د لسم صنف تر ازموینو په همدې کوټه کي پاتي شوم. کله چي دا ورځې رایادېږي نو سید صیب مي هم سترګو ته درېږي. زه چي هر څو مره هڅه وکړم چي د شخصیت یو انځور یې دلته وکاږم نه یې شم کولای، د استاذ په څېر استاذان به بیا چیرته پیدا شي؟

ای تو مجموعه خوبی، بچه نامت خوانم

تر لسم صنف وروسته مي د لاهور په دولتي کالج کي داخله واخیسته. فلسفه او انګریزي ادبیات مي اختیاري مضامین ول چي ما پکي له ادبیاتو سره یو کال اضافه انګریزي ادبیات انتخاب کړل. دولتي کالج هغه مهال د علم او ادب د ځلیدونکو ستورو کهکشان وو. د پروفیسور مرزا منور، صابر لودي، غلام الثقلین نقوي، ملک بشیر الرحمن، پروفیسور سراج، پروفیسور سعید شیخ، پروفیسور بختیار حسین صدیقي او ډاکټر محمد اجمل په څېر علماء او ادیبان ول چي زده کوونکي یې له مجلسونو برخمن کیدل. پروفیسر اشفاق علي خان د کالج مدیر وو. د مطالعه کوونکو لپاره په کالج کي یو ډېر ښه کتابتون موجود وو. د پنجاب پوهنتون کتابتون او د پنجاب عمومي کتابتون هم لرې نه وو. هغه مهال لاهور په خپله هم د علم یوه نړۍ وه. هغه مهال د مولانا سید ابو الاعلی مودودي، مولانا ابو الخیر مودودي، مولانا حنیف ندوي، مولانا ادریس کاندهلوي، مولانا عطاء الله حنیف، ډاکټر صوفي، ضیاء الحق، ډاکټر سید عبد الله، ډاکټر برهان احمد فاروقي، پروفیسور علم الدین سالک، پروفیسور یوسف سلیم چشتي، فیض



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

احمد فیض، شورش کاشمیري، حفیظ جالندري، عابد علي عابد، احسان دانش او احمد ندیم قاسمي په څېر د علم او ادب پاچاهان ژوندي ول او هر کله چي به چا غوښتي وای د هغوی له پوهي يې ګټه اخیستلای شوای.

د هغوی ځيني يې تدریس ته هم چمتو ول نو له ډاکټر صوفي ضیاء الحق څخه مي غوښتنه وکړه نو هغه د مقامات همداني او د مولانا عطاء الله حنیف صیب د (دارمي) یو څه برخه راته وویله. مولانا د اهل حدیثو غوره عالم او ډاکټر صیب د عربي ژبې د ادب تکړه عالم او څېړونکی وو. د هغه پلار مولانا اصغر علي روحي د شبلي او فراهي استاذ او د (حماسه) او (سبع معلقات) شارح او د ادیب الهند مولانا فیض الحسن سهارنپوري شاګرد وو. ډاکټر صیب د ژبې او ادبیاتو د همدې سلسلې ځای ناستی وو.

زه په دولتي کالج کي تقریبا پنځه کاله پاتي شوم. زما عادت وو چي سهار به له کوره وتلم د کالج په درسونو کي به مي ګډون کاوی، بیا به تر مابنامه په کوم کتابتون کي ناست وم او یا به له کتابتون څخه د دې مشرانو مجلسونو ته ورتلم. د نویو کتابونو لپاره په فیروز سنز او یونایټېډ پبلشرز کي دا اسانتیا وه چي تر څو به یو چا غوښتل کښيني او مطالعه وکړي نو د دوکان خلګو ورته څه نه ویل. زه هغو دوکانو ته هم تلم او په ساعتونو -ساعتونو به مي کتابونه کتل. هغه مهال مي د ځینو کتابونو د لیکلو پلانونه تیارول، یو څه مي و هم لیکل خو تر ډېره حده دا یوازي تر پلان پوري پاتي شول. له ماشومتوبه مي د شعر لیکلو شوق درلود، هغه مهال مي ځیني و هم لیکل او ځیني يې د فیروز سنز په انګریزي میاشتنۍ مجله (پاکستان ریویو) ۱۹۶۸، ۱۹۶۹ کي خپاره شول او ځیني نور شعرونه مي په بېلابېلو مجلو کي خپاره شوي دي. خو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیا به مي هم ډېره توجو درسونو ته وه، نو د کالج ورځې په همدې کي تیري شوې:

اوقات همان بود که با یار بسر رفت

باقی همه بی حاصلی و بی خبری بود

د ادبیاتو د لومړۍ ازموینې تر ورکولو وروسته زه په اخیري کال کي وم چي د حمید الدین فراهي ځیني کتابونه مي ولیدل. ما دا کتابونه ولوستل او دا د پوهي او فکر، فهم او بصیرت یوه حیرانوونکې نړۍ وه. د ځینو کتابونو په سریزه کي د امام د شاګرد مولانا امین احسن اصلاحي یادونه هم شوې وه. الفاظ یې غالبا دا ډول وو: "ثاني اثنين اذهما يتادبان بآداب الامام الفراهي." زما په زړه کي له مولانا سره د لیدنې هیله پیدا شوه، د اسلامي جمعیت یوه ملګري راته وویل چي دی له لاهور څخه دباندي په کوم کلي کي اوسي. دومره راته معلومه وه چي ډاکټر اسرار احمد صیب هم له هغه سره اړیکې لري. ډاکټر صیب هغه مهال د کرشن نګر په یوه سیمه کي طبیب وو او هماغلته اوسېدی. زه له کتابتون څخه ووتلم او په پوښتنو -پوښتنو یې کور ته ورسېدم. ډاکټر صیب د خپل طبابت په ځای کي له خپلو ملګرو سره په په شاتنۍ خونه کي خبرې کولې. ما د مولانا په اړه پوښتنه وکړه، هغه وویل چي له نیکه مرغه هغه نن له خپلي کلي رحمان اباد څخه راغلی او دا مهال د خپل زوم نعمان علي سره په واپډا کالوني کي د هغه په کور کي دی. له ما سره بایسکل وو. پته مي را سره واخیسته او د واپډا کالونۍ خوا ته روان شوم. مابنام مهال هلته ورسېدم، د تلو پر مهال مي له یوه کس څخه د لارې په اړه پوښتنه وکړه نو هغه مخامخ لور ته اشاره وکړه چي مولانا د لمانځه لپاره دباندي راوزي. زه ورمختنه شوم او سلام مي وکړ. دا مي له استاذ سره لومړۍ لیدنه وه. غالبا مولانا دوې اونۍ په لاهور کي وو، زه به هره ورځ لیدنې ته ورتلم او د یوې نوې دنیا تر لیدنې وروسته به بیرته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

راتلم. له استاذ سره په همدې لومړنيو ليدنو کې په دې پوه شوم چې دين يو داسې شی دی چې هم درک کېدای شي او هم ورښوول کېدای شي. دا ښکاره خبره ده چې قران کريم وروستۍ خبره ده، د دين او شريعت د هر شي لپاره ميزان دی، د ټول عالم لپاره د خدای حجت دی. د ده په رڼا کې موږ د حديثو، فقهې، فلسفې، تصوف او تاريخ و سيرت په اړه پريکړه کوو.

دا زما لپاره د يوه نوي قرآن موندنه وه. ما غوښتنه وکړه چې زه غواړم ستا پر طريقه قرآن زده کړم. زما د تعليمي شاليد په پوښتلو يې وويل چې په دې لړ کې زه څه کولای شم؟ مولانا د مختلفو علومو او فنونو د مهمو کتابونو يو اوږد فهرست را وښود چې بايد په ډېري خواری سره وويل شي او ځان پرې وپوهول شي. مولانا وويل: که يې په دې طريقه سره ويل غواړې نو د مشرتوب او ليډرتوب خيالونو څخه په لرې کېدو به د علم، فکر او تدبر لپاره ګوښې کېږې. دا پريکړه وکړه چې که دې خپل سيوری هم ملتيا نه کوي نو پر حق به قايم پاتېږې. زموږ علمي مدرسې ته هيڅوک له دې پخې ارادې پرته نه شي داخليدای.

دا وروستۍ ورځ وه، په راتلونکې ورځ مولانا خپل کلي ته تلی. ما له ځان سره فکر وکړ، پر پايلو مې غور وکړ او په همدې ورځ مې فيصله وکړه چې کالج به پريږدم او سبا به د مولانا په علمي مدرسه کې داخليږم. د همدې لپاره چې د هرډول علم اړتيا وي، په تر لاسه کولو کې به يې هيڅ لټې ونه کړم.

زما د زده کړې دويمه دوره له همدې ځايه پيل شوه. دا د ۱۹۷۳ يو مابنام وو، تر دې وروسته دا لړۍ زيات و کم لس کاله روانه وه. دا مهال مولانا په خپله هم تدريس راته کاوی چې په دې توګه يې قرآن کريم له سورت زخرف څخه تر اخيره، موطا امام مالک، پر قرآن او حديث د تدبر اصول او مبادي او د نوې فلسفې ځيني بحثونه په خپله طريقه را ته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

وویل. مولانا به ویل چي د کمو لوستلو او ډېرو لیکلو خلګ نن خورا ډېر شوي دي. د هغه لاربښوونه دا وه چي قلم هغه وخت باید لیکل وکړي چي یو نوی حقیقت مو مخ ته راشي، نو د زده کړې پر مهال مي د ډېرو کمو لیکلو جرأت وکړ. ما شعر لیکی، له نثر لیکنې سره مي داسي خاصه دلچسپي هم نه وه خو ځیني شیان مي په اردو او عربي ژبه لیکلي ول، خو په داسي بڼه لکه یو نوی زده کوونکی چي یې لیکلای شي.

په ۱۹۸۳ کي د زده کړې دا مرحله ختمه شوه، نو زما د باورونو په نړۍ کي داسي تکان را منځ ته شوی وو چي هر شي خپل ځای پرېښوووی. فقهې، اصول الفقهې، تصوف، علم کلام دې ټولو په قرآن کي خپل بنسټونه لټول. د دین صحیح تعبیر څه دی؟ د دې پوښتنې چي څومره ځوابونه تر ننه ورکول شوي هغوی ټول تر نیوکې لاندي ول. زما د خیالونو ماڼۍ نړېدلې وه او نوې ودانۍ نوې رغونې ته اړتیا درلوده. راتلونکي اووه کلونه د همدې تیارۍ ښکار شول. نه ده معلومه چي دا مهال تر څومره درو را واووښتم، څومره لارې مي ووهلې، پر څومره پیچومو را تیر شوم او د پښو په تناکو مي د څومره ازغیو تنده ماته کړه؟. دا عجیب سفر وو! تر یوه منزل ورسته به بل راتلی خو هیڅ به معلومه نه وه چي څه کیدونکي دي؟ غالبا فیضي به د همداسي حالت په اړه ویلي وي:

کسی نمی گویدم از منزل اول خبری
صد بیابان به گذشت و دگری درپیش است

دا مهال مي یوازې د اړتیا له مخې لیکنه کوله، د تصوراتو په بتکده کي چي مي د تراشلو، لمانځلو او ماتولو کوم حالت را منځ ته شوی وو په اړه به یې نورو ته څه ووایم؟ دا دوره همداسي تېره شوه. په ۱۹۹۰ کي پر ورانې شوې ځمکې د نوې ودانۍ د بنسټ ایښوولو وخت وو. د ژوند شلویښت کلونه پر پوره کیدو وو، په فکر او خیال کي تر ډېره حده



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وضاحت پیدا شوی وو او د کار تګلاره هم روښانه وه. ما د لیکنې یو پروګرام چمتو کړ او له هغه سره سم مې کار پیل کړ. له تېرو اوولسو کلونو له هماغه پروګرام سره سم کار کوم، ډېر څه شوي او ډېر نور لا پاتې دي. د الله په مرسته به دا هم وشي. څو ورځې وړاندې میزان نومې کتاب بشپړ شو، نو مې فکر وکړ چې په دې فرصت کې به دا داستان در واوروم او دلته به درته د خپل کار پلان ووایم. دا هغه کتابونه دي چې ځیني لیکل شوي او ځیني یې اوس لیکم:

۱) البیان

د قران کریم ژباړه او تفسیر دی.

۲) میزان

په اسلام چې زه څرنګه پوه شوی یم، دا د هغه بیان دی.

۳) برهان

دا د هغو بحثونو ارزونه ده چې زما لیدلوری یې له نورو علماوو سره توپیر لري.

۴) مقامات

له دوو لومړنیو کتابونو پرته چې مې څه لیکلي او یا یې د لیکنې اراده لرم، هغه په همدې کتاب کې را ټولوم.

۵) الاسلام

د میزان لنډیز دی.

۶) علم النبي

۷) فقه النبی

۸) سیرت النبي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا درې کتابونه د احادیثو او اثارو د جمعې او تدوین او د هغوی د متونو د ارزونې لپاره لیکم.

۹) خیال و خامه

زه شعر هم لیکم، دا کتاب د شعر لپاره خاص دی.

برهان، مقامات او خیال و خامه چاپ شوي دي، البته د مضامینو زیاتونې پکې وخت پر وخت کېږي. هیله ده چې میزان هم د دې کال تر اخیره چاپ شي. البیان مې تر سورت النساء رسولی دی. له دې چې خلاص شم نو که د خدای رضا وه پاتې عمر د احادیثو خدمت ته وقف کوم. دا مهال که د ژوند هیله کوم نو صرف د همدې خدمت لپاره، که د ابو الکلام لاسوهنه ومنل شي نو د زماني یزدي دا شعر په هر لحاظ ډېر مناسب دی:

حکایت از قد آن یار دل نواز کنیم
باین فسانه مگر عمر خود دراز کنیم

(۲۰۰۷)

## څو کاروانونه

ما هغه وخت د شعور سترګې پرانیستې چې ګوندونو او تنظیمونو د اسلامي انقلاب لپاره هڅې کولې. انسان له خپل چاپېریال څخه اغیزمنېږي. نو ځکه د کالج پر مهال مو ړ څو ملګرو هم د دایرة الفکر په نوم د یوې ادارې د جوړولو پرېکړه وکړه. په هغوی کې ګران ملګری ډاکټر ساجد علي مخکښ وو. دی هغه مهال په پنجاب پوهنتون کې د فلسفې د څانګې مسئول وو. پر لنک میکلوډ سړک زما د کرایې اطاق وو، ما غوښتل چې د خیال په نوم یوه میاشتنۍ مجله له همدې ځایه خپره کړم. د دې ادارې پیل له همدې اطاق څخه وشو. د دې هدف دا وو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي د اسلامي انقلاب لپاره يو حرکت را پيل شي چي په دې کي دا اداره د يوه علمي مرکز او رهبرۍ دنده ترسره کړي. تر دې وروسته مو اراده وه چي يوه مدرسه يا دار العلوم جوړ کړو. موږ غوښتل چي په راتلونکي کي د تحريک د مشرۍ لپاره له همدې مدرسې څخه فارغ کسان د رهبرانو په توګه انتخاب شي. دا يو خيال وو. زموږ په ګومان له مولانا سيد ابو الاعلی مودودي صيب څخه چي په ګوند کي کومې نيمګړتياوې را منځ ته شوې دي، هغه په همدې توګه لرې کېدای شي. موږ دوې -درې مياشتې د لنک ميکلوډ سړک په همدې اطاق کي سره يو ځای کېدو او مجلسونه به مو کول. وروسته را ته معلومه شوه چي د ياد هدف لپاره بايد ډېر وخت يو ځای پاتي شو. نو هغو ملګرو چي په ليليه کي اوسېدل پريکړه وکړه چي ليليه به پرېږدي، د خپل جيب او ليليې ټول مصارف به د يوه کور پر کرايه ورکړي. دا به د همدې تحريک مرکز شي. زما کور هغه مهال د لاهور د اورګاډي مرکز ته څېرمه په سلطان پور سيمه کي وو. تر پلټنې وروسته مو نژدې يو کور پيدا کړ او ټول ملګري هما لته ورغلو.

موږ چي د کومې مدرسې اراده کړې وه نوم مو يې جامعة الحمراء انتخاب کړی وو. په همدې مناسبت مو د الحمرا په نوم د يوې مجلې د خپرولو پريکړه کړې وه. ملګرو پريکړه وکړه چي دا مجله بايد په لاس د ليکنې پر ځای ټايپ او چاپ کړای شي. په دې کي حروف په يو ځای کېدو عبارت را منځ ته کوي. څوک چي د داسي چاپ تجربه لري هغوی پوهېږي چي په دې طريقه کي ډېري ټايپي تيروتنې کېږي چي وروسته بايد اصلاح کړای شي. خو له موږ سره داسي پېښه وشوه چي موږ تر ييا کتنې وروسته د تيروتنو په مشخص کولو ډاډه شوو چي چاپ کوونکي به دا اصلاح کړي. مګر کله چي مجله چاپ شوه نو جوته شوه چي کومې تيروتنې موږ په نښه کړې وې، له هغو څخه يوه هم نه وه اصلاح شوې نو اوس بله هيڅ چاره نه وه پاتي پرته له دې چي دا ګڼه ضايع کړو. دا

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لو مړی، پېښنه وه چې موږ د نه تجربې له وجې ورسره مخ شوو. تر او سه مو لا دا اندېښنه نه وه ختمه شوه چې یوه بله ټکه را ولوېده. تر څو میاشتو وروسته موږ مجبور شوو چې هغه کور خالي کړو چې موږ پکې د خپل تحریک یو مرکز جوړ کړی وو. نوی ځای مو تر څو میاشتو ستړیاوو وروسته تر لاسه کړ. دا په ماډل ټاون کې د جي بلاک ۲۹ نمبر کور وو. موږ د خدای شکر ادا کړ چې د څنډ دا وخت ډېر اوږد نه شو او یو ځل بیا کار پیل شو.

د ۱۹۷۱ په جون کې مې د لاهور له یوه وکیل چودري محمد انور صیب سره لیدنه وشوه. د لیدنې پر مهال د ده یو ملګری سید بدر بخاري هم موجود وو. دوی دواړه زموږ له کار څخه ډېر متاثر شول. هغوی وړاندیز وکړ چې د دې کار د پرمخ بیولو لپاره دې پر علامه اقبال روډ د دوی په سیمه کې د قرآني درس یوه حلقه جوړه شي. پر اووم جولای د قرآني درس دا لړۍ پیل او په نتیجه کې یې موږ زده کوونکو د څو مشرانو رهبري هم تر لاسه کړه. په دوی کې سید ارشد بخاري او شیخ محمد ارشد تر ټولو مخکښ ول. دا دواړه ملګري ول او د برق په ریاست (واپډا) کې یې کار کاوی. تر دې مخکې یې د ډاکټر اسرار احمد په درسونو کې هم په پوره پابندۍ ګډون کړی وو. ډاکټر صیب دوی دواړو ته ارشدین ویل. دوه نیم کاله د درس او تدریس دا لړۍ روانه وه، اوس نو ښه ډېر خلک له موږ سره د کار لپاره تیار ول. نو د سید بخاري په مشرۍ د دې تحریک لپاره خاص نظم را منځ ته کړای شو. د اهل حدیثو یو مشهور عالم مولانا عبد الرحمن مدني صیب موږ ته نژدې اوسېدی. هغه هم په دې کې شامل شو. د درس ځینو نورو غړو هم په دې کې شمولیت وکړ خو دا لړۍ تر ډېره همداسې پاتې نه شوه. بدر بخاري صیب د عمر په یوه داسې برخه کې وو چې د دا ډول کوم تنظیم مشري ورته اسانه نه وه، نو تر څو میاشتو وروسته مو په خپل منځي مشوره دا تنظیم ختم کړ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ۱۹۷۳ په مارچ کي مو له دايرة الفکر څخه يوه مجله د اشراق په نوم چاپ کړه. زموږ دا خيال وو چي که دولتي اجازه تر لاسه کړو نو به دا د يوې دوامداري مجلې په بڼه چاپوو او په وسيله به يې تر خلکو خپل پيغام رسوو. خو ژر راته معلومه شوه چي اجازه تر لاسه کول اسانه کار نه دی. له دې وجې دا پلان عملي نه شو. تر دې څو مياشتې وروسته زموږ د کور خاوند د کرايې لوړولو غوښتنه وکړه. په هغو حالاتو کي مو نه شوای کولای چي د هغه غوښتنه پوره کړو ځکه مو نو د ماډل ټاون دا کور هم پرېښود. تر دې څو مياشتې وروسته خلک سره وپاشل شول، اداره هم وځنډېده. اخير مو په ګارډن ټاون احمد بلاک کي يو کور پيدا کړ. ملګري را غونډ شول، سامانونه مو سم کړل او د مجلسونو لړۍ مو بيا را پيل کړه.

زموږ د ځينو ملګرو د دايرة الفکر نوم خوښ نه وو. د دې پر ځای د ادارې لپاره د دار الاشراق نوم غوره شو. په لومړيو کي چي کوم زده کوونکي له دې ادارې سره تړلي وو له هغو څخه زه او ساجد علي پاتي وو. شيخ افضال احمد، مستنصر مير، چودري الياس احمد او چودري محمد رفيق نوي ملګري ول. زموږ دوست ذو الفقار احمد خان هم د هغې دورې يادګار دی. هغه له موږ سره نژدې او سيدی، که څه هم له ادارې سره تړلی نه وو خو يو فرد يې ګڼل کېدی. له اصغر نيازي او محمد طارق مکن سره هم دا معامله کيده. دوی هم د دوستانه اړيکو پر بنياد له موږ سره ول.

هغه مهال به مو کله د مولانا سيد ابو الاعلی مودودي د ملاقات موکه هم تر لاسه کوله. يوه ورځ د ليدني لپاره ولاړم نو د دې کار يادونه هم وشوه. مولانا تفصيلات وپوښتل، له ملګرو سره معرفي شو. ما خپلې ستونزې ورته وښودې، هغه خندونه مي ورته وويل چي په کار کي د ځنډ سبب کېدل او له هغه څخه مي د سرپرستۍ غوښتنه وکړه.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مولانا زما دا غوښتنه د مهربانۍ له مخې ومنله، نو د هغه له لارښوونې سره سم د ادارې لپاره زما او مولانا په نوم یو مشترک حساب د اچیره په حبیب بینک کې خلاص کړل شو. په دې حساب کې مولانا له خپله جیبه د میاشتې زر روپۍ جمع کولې، له احمد بلاک څخه موږ د مولانا له کور سره نژدې د هغه له خوا راکړل شوې ودانۍ ای ذیلدار پارک اچیرې ته را نقل شوو. د مولانا فکر دا وو چې همدا د اداره معارف اسلامي د یوې څانګې یا یوې نوې ادارې په توګه منظمه کړل شي. تر دې هم وړاندې د مولانا په اشاره زه د جماعت اسلامي غړی شوی وم، لیکن د مولانا دا پریکړه د ګوند د نورو مشرانو خوښه نه وه. په دې سره یو فعالیت را شروع شو او اووه - اته میاشتې وروسته مې محسوسه کړه چې په دې حالاتو کې راته دلته کار کول ممکن نه دي. د ګوند دا هیله هم اسلیم سلیمي صیب موږ ته را ورسوله چې په کومه ودانۍ کې دا اداره موجوده ده ګوند یې د انتخاباتي مرکز په توګه ټاکي. دې حالاتو را ښوولە چې موږ باید څه وکړو؟ نو موږ خپل منځي مشوره وکړه، د مولانا په اجازه او د چودري الیاس احمد په غوښتنه مو لاهور ته نژدې د هغوی کلي مرید ته د تلو پریکړه وکړه. د ۱۹۷۶ په اخیر کې موږ دلته ورسیدو او د ۱۹۷۷ جنوري پر یوولسمه د جماعت اسلامي د پنجاب امیر مولانا فتح محمد صیب له لوري مو یو خط تر لاسه کړ چې هغه ما ته خبر راکړی وو چې ګوند زما غړیتوب ختم کړی دی. دا د یو دوو لیکو خط وو چې د کوم لامل له ښودو پرته یې دا فیصله راته اورولې وه چې زه نور د ګوند غړی نه یم. میا طفیل محمد صیب هغه مهال د پاکستان د جماعت اسلامي امیر وو. ما د هغه په نوم خط ولیکی او غوښتل مې د دې فیصلې لامل معلوم کړم، خو هیڅ ځواب مې تر لاسه نه کړ.

دا ګډون او بیرته تګ زما د ژوند یوه ډېره مهمه تجربه وه. دا مهال ما د خپل وخت یوه هستي له نژدې ولیده، له هغه سره مې لمنځونه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وکړل، خبرې مې ورسره وکړې، د ژوند اداب مې ترې زده کړل، د صبر و حکمت درس مې ترې واخیست، د ژبې او بیان ځیني نزاکتونه مې ځني وفهمول. تر ما چې ګوټ وړاندې او وروسته چې څه وشول، د هغه په اړه مې د ده نظر د ده له ژبې واورید. له مولانا اصلاحي سره د ده د علمي اختلافاتو په اړه مې د افکارو تبادله وکړه، د امام فراهي په اړه مې د ده له احترامه ډک تاثرات ولیدل، له ابو الکلام ازاد، محمد علي جوهر او علامه اقبال سره مې د ده د مینې داستانونه واوریدل. دا مجلسونه مې د ژوند پانګه ده او زه اوس هم مولانا هغه ډول یادوم لکه یو پاتي زوی چې خپل پلار یادوي. د هغه د ګوند غړي خپل ورونه ګڼم او له پالیسۍ و تګلارې سره له زرګونو اختلافاتو سره -سره په زړه کې دا سې احساس کوم لکه یو کس چې یې د خپلو کورنیانو په اړه احساسوي. زما پر خلاف چې کوم کسان مخکې -مخکې کېدل هغوی بنایي زه نه پیژندلم، ځکه نو له هغوی هم هیڅ ګیله نه ده په کار. زه پر هغوی نیک ګومان چې دوی څه وکړل د خپلې پوهې له مخې یې د ګوند لپاره غوره بلل. مولانا امریکا ته تر تلو مخکې په وروستۍ لیدنه کې راته وویل چې زما ډېرې هیلې له تا سره تړلې دي، پر تا د نیوکه کوونکو خبرې تل په توجو اوره، په نرمي ورسره مخ کېږه، د (اذا مروا باللغو مروا کراما) طریقه غوره کړه. دوی غواړي تا وپاروي خو پر تا له دروا غو سره باید ونه پارېږې، په دې سره به خدای له تا سره وي او ان شاء الله ته به هغوی ته په هر میدان کې ماته ورکوې. د ژوند په لوړو ژورو کې مې د مولانا دا نصیحتونه تل په پام کې نیولي. دا د همده اغیز دی:

اس دشت بے چراغ میں کرتاهوں روز وشب
پیدا هر اک ببول سے سر و وسمن کو میں

له لاهور څخه مرید ته د راتلو یادونه شوې وه چې د مولانا مجلسونه مې را یاد شول نو (لذیذ بود حکایت دراز تر گفتم.) زموږ یوه ملګرې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ملک محمد اشرف واده کړی وو، دلته تر راتلو وروسته ما او ملگري مي هم ودونه وکړل. اوس نو د ليليې په ډول ژوند کول ممکن نه وو. د حالاتو د بدلون له مخې مو بايد د ملگرو د ساتنې يو معقول بندوبست کړی وای. مونږ ډېري هڅې وکړې مگر د دې لپاره چي څو مره وسايل په کار ول هغه په هيڅ ډول نه پيدا کېدل، زيات وکم تر دوه کاله په مريد کي تر پاتيدا او هڅو وروسته مونږ دې نتيجې ته ورسيدو چي اوس له دې پرته بله هيڅ چاره نه شته چي دا اداره وتړو. د ۱۹۷۸ اپريل يو ماښام وو چي مونږ تر څو ورځو بحثونو وروسته بالاخره دا فيصله وکړه او د کلونو ملگري مو په نه زړه خپلو کورونو ته روان شول. همدا مهال مو د اشراق اجازه تر لاسه کړې وه چي د مستنصر مير په نوم وه. لومړۍ گڼه يې د ۱۹۷۹ په جنوري کي خپره شوه. د مجلې سرليکنه په همدې اړه وه او ما پکي ليکلي وو:

"... د ۱۹۷۰ په نومبر کي د دار الاشراق په نوم هغه اکاډمي را منځ ته شوه چي له لاهور څخه ۲۶ کيلو ميټره لرې په مريد کلي کي د ۱۹۷۸ تر اپريل پوري يې په منظم ډول کار وکړ او له څو مياشتو را هيسي ځنډېدلې. زما ځيني ملگري د کلونو تر هڅو وروسته کورونو ته تللي دي او ځيني به ولاړ شي. دا يو کار وو چي را پيل شو او د خپلې بقا لپاره يې ډېر پړاوونه ووهل او ختم شو. زما د ملگرو غوښتنه وه چي زه د دې کار پر ډول او د ځنډېدا پر لاملونو يو څه وليکم. تر څو هغه خلک چي غواړي دا کار را ژوندی کړي نو که غواړي يو څه وکړي وبه يې کړي. زه نه پوهېږم چي د دې دويم پيل به کله وشي؟ خو دا ويلای شم چي په اراده کي مي هيڅ ډول تغيير نه دی راغلی. زه باور لرم چي دا کار بايد وشي او احساسوم چي دا کار کولای شم. که خدای غوښتل نو دا کاروان به بيا روانېږي. زه دا فکر نه کوم چي دا له منځه تللی دی، بلکي احساسوم چي د دمې اخيستلو لپاره يې پړاو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

اچولی، ښايي دا پړاو يا د توښې اخيستلو لپاره وي او يا يوه نوي سفر ته د چمتووالي. زه د شپيلۍ اواز اورم او قلم مې په لاس کې دی."

تر دې وړاندې مې ليکلي وو:

"... زه له پيله په دې فکر وم چې دا موقتي کار نه دی. دې ته راتلونکي به شپه او ورځ را روان وي او ټول ژوند به را روان وي. ما ته جوته وه چې کوم کسان په دې کې د هر څه د بايللو لپاره راځي، د هغوی د پالنې مسئوليت بايد اخير همدا اداره واخلي. همدا وجه وه چې له پيله مې دا کار په دوو اړخونو کې را پيل کړ. د کاري خلګو لټه او د وسايلو موندلو هڅې مې پر يوه مهال شروع کړې. اوس احساسوم چې د لومړي کار لپاره زما اراده ډېره مناسبه او د دويم لپاره ډېره بې ځايه وه. پايله يې دا شوه چې ما د کار خلګو په را پيدا کولو کې تر تمې زياته بريا تر لاسه کړه خو د وسايلو په موندلو کې له همداسې ناکامۍ سره مخ شوم. په تفصيل سره د دې داستان د اورولو ځای دا نه دی. دا د فرهاد او بيستو کيسه ده، د زړه په وينو د کيکر د ازغيو او بولو داستان دی. زه يې دلته په ډېر لنډيز سره ليکم. د نژدې يارانو د ګرانښت احساس دی، خو په يو څو حروفو کې يې د بيان فرصت ښايي همدا وي:

پهر التفات دل دوستان رهې نه رهې

دا کار څه وخت شروع شو؟ دا خبره مې وړاندې وکړه. پيل يې ستونزمن وو خو وشو، ملګري وخت پر وخت له دې کار سره يو ځای شول. تر دې چې په ۱۹۷۵ کې د هغوی شمېر او وو ته ورسېد. په دوی کې افضال احمد صيب او محمد اشرف صيب اقتصاد ويلې وو، ساجد علي صيب فلسفه، الياس احمد

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سیاست پوهنه، محمد رفیق صیب عربي ادبیات او مستنصر میر صیب په انګریزي ژبه کي تر ایم -اې زده کړې کړې وې. منصور الحمید صیب ایم بي بي ایس وو. مستنصر میر صیب سي ایس ایس ډګري درلوده او د ملکي خدماتو په اکاډمۍ کي د روزنې تر بشپړولو وروسته پر دنده تر ټاکل کیدو څو ورځې وړاندي یې د دندې خیال پرېښود او زموږ حلقې ته راګډ شو. د دوی د هر یوه قرباني بې بېلګې ده. دا د سترو استعدادونو لرونکي ځوانان ول. حقیقت خو دادی چي د هغوی هوډ، له علم سره مینه، ښه طبیعت او خواخوږي یې د دې اکاډمۍ د تاریخ ستره شتمني ده. زه پوهېږم چي ما په خپله له هغوی ډېر څه زده کړل، دا هم احساسوم چي دوی راتلونکي دورته ډېر څه ورکولای شوای، خو د خپل وجود پر مهال یې یوازي یو څو میاشتې په ډاډ سره کار وکړ. د مالي وسایلو نه شتون د هغوی کار بیا -بیا وځنډاوی. د دې ټول تاریخ د پرله پسې بحران تاریخ دی. دلته د تدریس له بیا -بیا شروع کیدا سره هر وخت ختمېدی. خو له دې سره د الله احسان دی چي یو څه کار وشو او ډېر لا پاتي دی. زما اټکل دی چي که مو د دوه نیمو کلونو لپاره د کار فرصت تر لاسه کړی وای نو د دې کار لومړی پړاو بشپړېدی. اوس دا هر څه ځنډېدلي دي او د مرید پر دې وچه ځمکه موږ د ستر ذات یو څو بې وسه بندګان له نوي هوډ سره د دې کار د ژوندي کولو هڅې کوو. څرګنده نه ده چي د ځنډ دا موده به کله ختمېږي؟ خو زه هیله لرم چي خدای پاک به دا کار ضایع نه کړي."

زما د هڅو لومړۍ مرحله همدلته پای ته ورسېده. لاهور ته تر راتلو وروسته مو خیال وو چي اوس به یوازي مجله چاپوو. د اشراق اجازه د مستنصر میر په نوم تر لاسه شوې وه، خو تر اوسه لا دوې ګڼې چاپ شوې وې چي میر صیب امریکا ته د تلو پروګرام جوړ کړ. بیا زما او د ده



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر منځ د مجلې د تګلارې پر سر یو څه اختلاف هم وو. نو دا هیله مو پوره نه شوه او اشراق یو ځل بیا بنده شوه.

په دې ورځو کې ځینې زده کوونکي ما ته د عربي ادب د ځینو کتابونو د ویلو لپاره راتلل. په هغوی کې مشهور ابو شعیب صفدر علي او مسعود اکبر پاشا وو. ابو شعیب سرګودې یو عالم وو او د وان بچهران د مولانا حسین علي د مشهور شاګرد مولانا غلام نقشبند ګران زوی وو. د هغه پیاوړي استعداد ته په پام مې هیله وه چې هغه لاهور ته ولاړ شي. د مرید د سختو وختونو پر مهال چې کومو کسانو له موږ سره ډېره مرسته کړې وه له هغو څخه یو یې زموږ له کورنۍ څخه یو مشر ډاکټر فرخ حسین ملک هم وو. ما د ډاکټر صیب توجو جذب کړه نو هغه د فرخ فاونډیشن په نوم یوه اداره جوړه کړه چې د مستنصر میر پلار ښاغلی صفدر میر یې مسئول وو. هغه زما په اشاره د الاعلام په نوم د یوې مجلې چاپولو پریکړه وکړه، په هغې کې که څه هم زما نوم لیکلی وو خو د ټولو عملي اړتیاوو لپاره یې یې ابو شعیب مدیر وټاکل شو. زه ډېر خوشاله شوم چې د دې په پایله کې هغه ته په لاهور کې د اوسیدو اسباب چمتو شول، خو دا مجله هم ډېره ونه چلیده. دوه -دوه نیم کاله وروسته مولانا ابو شعیب د پنجاب په پوهنتون کې دنده واخیسته او مجله بنده شوه.

همدا ورځې وې چې ما استاذ امام ته وړاندیز وکړ چې د تدبر القرآن حلقه هم باید په یوه مستقله اداره بدله کړای شي. دا حلقه له جماعت اسلامي څخه د هغه تر بیلیدا وروسته جوړه شوه. مولانا دا وړاندیز خوښ کړ، د هغه په اشاره ما د دې ادارې تګلاره ولیکله او (اداره تدبر قرآن و حدیث) په نوم دا اداره را منځ ته کړای شوه.

درې میاشتنۍ (تدبر) مجله هم د همدې ادارې له خوا چاپېږي، زما اراده وه چې د یادو اهدافو لپاره په همدې اداره کې کار وکړم. خو ډېره



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ژر را ته څرګنده شوه چې د حلقې مشران مې نه خوښوي. تر دې وروسته مناسبه دا وه چې د جنجال له پیدا کولو پرته له دې ادارې څخه په بېلېدو په خپل ډول سره کار وکړم.

هغه مهال د زده کوونکو یوې ډلې ته ما درسونه ویل. په هغوی کې یو نعیم رفیع هم وو. هغه چې به ما ته راتلی نو بیا - بیا یې په ټینګار ویل چې په ۱۹۷۸ کې چې کوم کار ختم شوی هغه باید بیا را ژوندی کړو. مخکینیو تجربو ته په کتلو مې نه ورسره منله، بیا د خالد ظهیر او افتاب شمسي په شان ملګري هم د هغه ملګري شول نو بالاخره زه هم چمتو شوم. سعید نواز صیب زموږ په ملګرو کې تر ټولو مشر وو. د هغه په مشرۍ یوه تنظیم وونکې غونډه جوړه شوه. د ادارې پرانیستونکې غونډه د لاهور په جناح هال کې د استاذ امام امین احسن اصلاحي تر مشرۍ لاندې جوړه شوه چې ډېرو پوهانو او عالمانو برخه پکې واخیسته او د ۱۹۸۳ په جون کې د المورد په نوم هغه اداره را منځ ته شوه چې نن د ماډل ټاون په ۵۱ کې موجوده ده. تر دې لږ وروسته په ۱۹۸۵ کې اشراق مجله یو ځل بیا چاپ شوه. دوه - دوه نیم کاله د یوې مجلې په بڼه خپریده. د ۱۹۸۷ پر مهال ما ته د هغې اجازه راکړل شوه. د الله شکر دی چې له هغه مهاله تر اوسه دا مجله له کوم خنډ او ځنډ پرته خپرېږي. په ۱۹۹۰ کې ریني سان هم را پیل شوه. هغه هم همداسي روانه ده. دا مجله له پیله د زما د ګران ملګري شهزاد سلیم پر غاړه ده. د اشراق چارې زما پر غاړه وې، مګر هغه مې هم اوس خپل زوی جواد احسن ته سپارلې. زما هیله ده چې د الله په مرسته به دا همداسې خپرېږي.

په تیرو پنځه ویشتو کلونو کې د الانصار المسلمون او دانش سرا ډلې هم زما په مرسته را منځ ته شوې. د مولانا وصی مظهر صیب او ډاکټر محمد فاروق خان په څېر رهبرانو یې مشري کوله خو د دې ډلو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عمر تر څو کلونو وانه ووښت. مګر المورد له تیرو پنځه ویشتو کلونو راهیسي روانه ده او ان شاء الله روانه به وي. تر ۸۷ میلادي وروسته د ازموینې او ځنډ یوه مرحله پر دې اداري هم تیره شوه، مګر په ۱۹۹۱کي زموږ د ملګري الطاف محمود په هڅو تر بیا را ژوندي کیدو وروسته له هیڅ ډول ځنډ سره نه ده مخ شوې.

دا اداره د دې احساس له مخې جوړه شوې چي مسلمانانو ته دیني پوهه په سم ډول نه رسول کېږي. له ګوندیزو تعصبونو او سیاسي رقابتونو پرته یوازي د قرآن او سنت پر بنسټونو ولاړ دعوت مسلمانانو ته پردی ښکاري. قرآن چي د دې دین بنیاد دی، یوازي د حفظ او تلاوت شی ترې جوړ شوی دی. په مذهبي مدرسو کي هغه علوم هدف ګرزیدلي چي قرآن ته یوازي د رسېدو وسیله کیدای شوای. د حدیثو اړیکه په قرآن او سنت کي له خپلو اساساتو سره پرې کړای شوې ده او ټول زور د یوه خاص فکري مکتب د اصولو او فروعو پر زده کړه او د نورو په وړاندي یې د هغه پر برتري ښودلو مصرفېږي.

دا اداره د دې حالت د سمون لپاره را منځ ته شوې ده، نو ځکه یې بنسټیز هدف له اسلامي علومو سره تړلی علمي او څېړنیز کار، له ټولو ممکنو لارو یې په پراخه کچه خپراوی او له دې سره سم خلکو ته د زده کړې ماحول برابرول دي.

د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره چي کومه تګلاره غوره شوې ده، مهم ټکي یې دا دي:

۱) په نړۍ واله توګه د قرآن پوهنې زمینه برابرول.

۲) له قرآن و سنت سره سم د الهي شریعت، ایمان او اخلاقو تعلیم ورکول.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳) د سم ديني فکر علما او څېړونکي بايد له اداري سره د مرستندويانو په حيث وتړل شي او د هغوی د علمي، څېړنيزو او دعوتي کارونو لپاره ضروري اسانتياوې چمتو کړای شي.

۴) خلک دې ته تيار کړای شي چي که شونې وي:

أ) د اسلامي علومو د زده کړې داسي مرکزونه دي جوړ کړي چي هدف يې پر سم ديني فکر د علماوو او محققينو روزل وي.

ب) تر ايف اې، ايف ايس سي او اې سطحې دي د لوړ معيار لرونکي ښوونځي جوړ شي چي د زده کړې تر څنګ د زده کوونکو فطري ورتياوو ته وده ورکړي او تر څنګ يې ديني روزنې ته هم توجو وکړي.

ج) د عامه ښوونځيو د زده کوونکو لپاره دي د ديني زده کړو داسي اونيزي مدرسې جوړي کړای شي چي پکي د قرآن دعوت په خپله د قرآن په وسيله زده کوونکو ته داسي تشريح شي چي وروسته په پوره ډاډ پر دين قايم پاتې شي.

د) داسي خانقاوې دي جوړي شي چي خلک کله-ناکله د دنيوي معاملاتو په پرېښودو د علماوو او صالحينو له مجلسونو ګټه واخلي، دين ترې زده کړي او يو څو ورځې په ګوښې توګه د عبادت او ذکر په مصروفيت سره خپل زړه او فکر پاک کړي. زما د ټولو هڅو محور او س همدا اداره ده. د ژوند هر څو مره ورځې چي مې پاتې دي له علمي کارونو پرته مې يې نوري همدې ادارې ته وقف کړې دي. له الله تعالی څخه د علم او عمل سوال کوم:

شاهان چه عجب گر بنوازند گدارا

(۲۰۰۷)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# تر ما وروسته

زما پلرنی وطن که څه هم د سیالکوټ داوود کلی دی خو زما پیدا ایښت پاک پټن ته نژدې په یوه کلي کي شوی دی او زه د همدې ښار په غیږ کي هغه عمر ته ورسېدم چي کله -کله د ماغ فکر کول پرېږدي او زړه حرکت هیروي، د دې په پایله کي چي موږ څه کوو تاسو به ورته حیران شئ:

وای دیوانگي شوق که هر دم مجهـ کو
آپ جانا ادهر اور آپ هی حیران هونا

له نن څخه تقریبا شل کاله وړاندې د همدې ښار په یوه مدرسه کي زه د شپږم یا اووم ټولګي زده کوونکی وم. د مدرسې له تعلیم سره مي د درس نظامي کتابونه هغه مهال غالبا تر کافیې او شرح جامي پوري ویلي وو. د علم د ښار دروازه خلاصه شوې وه او زه به یې هره ورځ د بازار او کوڅې د لیدلو لپاره هر مازیګر د ښار والې کتابتون ته تلم. زما کور د ښار په اطرافو کي وو. زه به له هغه ځایه هره ورځ په پښو کتابتون ته تلم. دا مینه هم یو شی دی، کلونه مي همدا عادت وو او هیڅ مي نه یادېږي چي کله مي هم د ستړیا احساس کړی وي:

طالبان را خستگي در راه نیست
عشق خود راه ست و هم خود منزل ست

کتابتون ته پر لار مي یوه ورځ ولیدل چي د بینک پر دروازه د ولاړ پولیس سترګې مي تر لرې تعقیبوي. عمر مي کم وو، زړه مي د ویرې او حیرانتیا له ګډو جذباتو سره په لومړي ځل مخ شو. راتلونکې ورځې هم همداسي وشول نو پر ویره او حیرانتیا تجسس غلبه وموند. ما غوښتل چي د دې وجه معلومه کړم خو جرأت مي نه شو کولای. هغه هم غوښتل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي يو څه ووايي خو نه يې شواى كولاى. ګويا هماغه كيسه وه چي له غالب سره د عشق په درباركي شوې وه:

ادب هي اور يهي كشمكش تو كيا كيجي
حيا هي اور يهي ګومګو تو كيو كر هو

ډېري ورځې تيري شوې. يو ماښام له كتابتونه را روان وم. په لاس كي مي د خلافت پر موضوع يو علمي كتاب وو، پر لار روان وم او د كتاب پاڼې مي اړولې. فكر مي نه وو چي بانك ته نژدې راغلى يم. ناڅاپه مي وليدل چي هغه مي په لار كي ولاړ دى. سترګې مي د هغه پر مخ ولګېدې چي له ډېري يې د اوبو څاڅكي تويېدل، ښايي همدا اوس يې اودس كړى وو. په سترګو كي يې يو نور وو او پر تندي يې د سجدو ښكلا څرګنده وه. په ډېره مينه يې را څخه وپوښتل: ته دا كتاب لولې؟ د درس له كتابونو پرته دا سي علمي كتابونه هم لوستلاى شې؟ ما د هو په توګه سر وښوراوى نو هغه وويل: ستا په لاس كي مي يوه ورځ عربي كتاب ليدلى وو، په عربي پوهېږې؟ ما ورته وويل چي هو. تا عربي چيري ويلې ده؟ هغه دا پوښتنه په عربي وكړه نو زه حيران پاتي شوم. تر ډېرو شيبو خو مي پر خپلو غوږونو باور نه شواى كولاى. كله به مي هغه ته كتل او كله به مي د هغه پوليسي جامو ته. ما د خواصو په جامه كي جاهل ليدلي ول خو دا مي لومړى تجربه وه چي د عوامو په جامه كي مي يو عالم ليدى.

ته چي كوم كتاب درسره وړې دا ولوله، دا د يو ستر انسان كتاب دى. زه تا ته يو كتاب دركوم چي پر همدې كتاب يې علمي تنقيد كړى دى. ته تر كومې پريكړې كولو مخته هغه هم ولوله، د علم په نړۍ كي اشخاص هيڅ اهميت نه لري، دلته ټول ارزښت يوازي د دليل دى.

دويمه ورځ چي هغه كوم كتاب ماته راكړ، ما په هماغه ورځ ختم كړ. زما په ژوند كي لومړى موكه وه چي د دليل په ارزښت پوه شوم. زما

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هماغه پوهه نن هم د ژوند تر تولو ستره پانګه ده چي له يوه پوليس څخه مي ترلاسه کړه. وروسته مي د لاهور په تر ټولو لويو درسګاوو کي فلسفه او انګريزي ادب ولوستل. تر دې هيڅ لوی حقيقت مي هلته هم ترلاسه نه کړای شو، ما د زده کړې پر مهال ډېر ځله فکر وکړ چي کاش! زما ټول ټولګيوال او استاذان کتابتون ته په تلو له همدې لارې تېر شوي وای.

څو کاله وروسته، دا تېره مياشت پاک پتن ته تللی وم. له ولي محمد صاحب سره مي د همغه بانک په دروازه کي ملاقات وشو. دی نن هم همالته ولاړ وو چي شل کاله مخکي مي ولاړ ليدلی وو. ما ته معلومه نه ده چي د هغه له درسګاه به بل څوک هم فارغ شوي وي:

هوئی معزولی انداز وادا میرے بعد

(۱۹۸۶)

## د جام ملګری

با رفيقان زخود رفته سفر دست نداد

سير صحرای جنون حيف که تنها کردم

د يخنۍ راتګ تل زما لپاره ستونزې را ولاړوي. د ستورو تر ډوبېدو وړاندي چي کله زه د ګيس بخارۍ ته کښېنم او بلو لمبو ته ګورم او د خيال و قلم تر منځ تړاو را منځ ته کوم نو د فکر هغه توکي چي هغه مهال موجود وي، نو تر هغه وروسته د هيڅ شي د نيستۍ غم را سره نه پاتېږي:

دل که جمع ست، غم از بی سر و ساماني نيست

فکر جمعيت اگر نيست، پريشانی نيست



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.almawrid.org

کله چي مي هغه وخت د نومبر پر ۲۷ په اول وار او ر لګوونکي ته د اوربلولو امر وکړنو ومي ليدل چي زما د محسوساتو نړۍ له هغه اهتزازه بلکل تشه ده. د خونې په بخارۍ کي پروت خاموش اور بل شو مګر له هغه سره په يوه بېغ د تللو کوم اواز چي هغه ورځ له زړه را پورته شو يوازي يوه دردوونکې نغمه يې بيانولای شي:

آتش دوزخ میں یہ گرمی کہاں

سوز غم ہائے نہانی اور ہے

موږ چي کله د ژوند سفر پيلوو نو کله - کله را سره يو ځای تلونکي هم مله کېږي. دا د يوه سفر ملګري تر خپل منځ د وفا ژمنې کوي او اکثر مهال چي څه وايي له يوه بله يې د پوره کولو لويي هيلې لري. بيا ډېر وخت نه وي تېر شوی چي د وفا کړې ژمنې د ريګونو د غونډيو په شان له منځه ځي او د هيلو نړۍ د نجد د صحرا په شان ويجاړه پاتېږي. د سفر په پيل کي دا فکر نه وي چي د ژوند واقعيتونه به دومره ترخه وي، مګر کله چي يې زهر رګونو ته ننوزي نو پته انسان را ښکاره شي او خلګ يو بل وپېژني. هغه مهال که څوک پر خپله ژمنه ودرېږي نو پر وفا له وير پرته به له هغه سره هيڅ پاتي نه شي. تلونکي په مينه پر خپلو لارو ځي خو ځيني بدمرغه تر ځان ګران دوستان په نيمه کي له لاسه ورکړي او په خپله د ژوند سفر ته يوازي پاتي شي:

نہ گلہ ہے دوستوں کا، نہ شکایت زمانہ

له نن څخه کم و زيات نهه کاله وړاندي د نومبر پر همدې اوويشتم تاريخ ما خپل ځيني تر خپل ځان ملګري په همدې ډول رخصت کړي ول. دا ورځ هر کال راځي خو يادونو يې کله هم زړه ته داسي لاره نه ده کړې. ايا بل به داسي ملګری ومومم؟ زه د بخارۍ مخ ته کښېنستم او پر ژبه مي بې اختياره هغه شعر راغی چي نهه کاله وړاندي مي د دې تلونکو په ياد کي ويلی وو:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مقام شرح جنوں پہ وہی سرور و حضور
نفس نفس وہی تنہا سرود نیم شبی
مری نگاہ سرابوں کی آرزو کا وجود
کہاں سے آئے ندیموں میں ذوق تشنہ لبي

اسی خطا پہ گریزاں ہیں ہم سفر میری
کہ میری طبع رواں مصلحت شناس نہیں
وہ ہم سفر کہ زمانے میں جن کی دوہم هويي
مثال ماہ تھی تیرہ شبوں میں جن کی جبیں

مری وجود میں پنہاں وجود کا حاصل
زبان شعر میں اپنے معلقات کہوں
مری نواوؤں سے اب وہ بھی آشنا نہ رہے
مرے ندیم، میں شہر جنوں مي تنہا ہوں

مجھے رفیق صبوحي کی جستجو ھي رہے
مرے سبو کي حقیقت تہ سبو ھي رھي

(۱۹۸۸)

# پاتي شراب

حافظ شيرازويلي وو:

بده ساقی می باقی که در جنت نخواهی یافت
کنار آب رکنا باد و گلگشت مصلا را

ما ته معلومه نه ده چي د شيراز د شاعر به دا ارمان پوره شوی وي او که نه؟ خو په ځلونو مي ليدلي دي چي د لاهور د رکنا باد ساحل پر غاړه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ساقي هره ورځ جامونه تشوي.

رکناباد دیلمي ایستلی وو او د اوبو هر غوړپ یې د حافظ په خبره د خضر عمر ورکوي:

زرکنا باد ما صد لوحش الله

که عمر خضر می بخشد زلالش

د لاهور نهر کوم دیلمي نه دی کښلی او په دې کې خوږې اوبه هم نه بهېږي. په اوبو کې یې خاوره داسې ګډه ده لکه له سمندر سره شور، خو ورو تګ او پر غاړه ولاړو ونو او زرغونتیا یې یوه داسې ښکلې منظره پنځولې چې سترګې ترې نه اوړي. که په تیروتنه هم ورته وکتل شي نو سترګې نه ترې ګرزي او پر ژبه بې اختیاره راځي چې:

دل کے لیے ہزار سود، ایک نگاہ کا زیاں

د رکناباد اوبه د الله اکبر له درې را روانې دي. د خضر د اوبو په اړه ویل کېږي چې ځای یې ظلمات دی، وګورئ حافظ یې په اړه څه ویلي؟:

شیراز و آب رکنی و این باد خوش نسیم

عیبش مکن که خال رخ هفت کشور است

فرقست از آب خضر که ظلمات جای اوست

تا آب ما که منبعش الله اکبر است

د خپل ښار د دې نهر د سرچینې معلومولو هڅه مې هیڅکله ونه کړه خو پای یې راته معلوم دی. لکه څرنګه چې حافظ ویلي رکناباد له الله اکبر څخه را پیلېږي او دا زما لپاره تل د الله اکبر پر سیمه ختمېږي. بې له شکه دا د قدرت په لاسونو نه دی جوړ شوی خو د ښار د لوړو ماڼیو په منځ کې بهېدا یې د هر ذوق لرونکي لپاره ډېره ښکلې منظره ده. ما څو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځله هغه مهال چي کله د سهار وړانګې خپرېږي شي لیدلی چي د همدې ځمکې له کنارو د اسمان تر لوړو رسېږي.

د دې زمانې ښاریان چي ورځ یې د شپې په نیمایي کي ختمېږي او سهار یې په نیمه ورځ کي پیلېږي به په دې څه پوه شي؟ دوی که یې د ستورو د لویدو پر مهال پر غاړه ودرېږي او د راختونکي سهار ننداره وکړي نو ورته څرګنده به شي چي دا یوازي او به نه دي، د دې نړۍ تر پنځوونکي پوري تللې لاره هم ده.

نوي تمدن موږ یوازي له قرآن څخه نه یو لرې کړي چي حقایق پکي د الفاظو په بڼه راغلي، له هغه قرآنه یې هم محروم کړي یو چي ایاتونه یې د فطرت پر پاڼو لیکل شوي دي او انسان به یو وخت شپه او ورځ لوستل. انسان او س غرمه مهال را کښیني، چای خوري او تر هر څه وړاندي ورځپاڼه لولي. په هغې کي د ده لپاره تول خبرونه وي خو په خپله د ده په اړه هیڅ خبر نه وي. په دې ورځ او شپه کي به هغه ته څه معلومه شي چي د لاهور د دې رکناباد پر غاړه د تشیدونکي جام خوند به څه وي؟ عجب شعر مي را یاد شو، ښایي یو څا پر همدا سي ځای د سهار راختلو پر مهال ویلی وي:

هم ایسے اهل نظر کو ثبوت حق کے لیے
اگر رسول نه هوتے تو صبح کافي تها

(۱۹۸۶)

# کور او ژوند

په څو تیرو میاشتو کي مي دوه ځله خپل کور بدل کړ. له نیو ګارډن ټاون څخه په تللو مي ایله پنځلس -شل اونۍ تیري شوې وې چي د اقبال ټاون د نوي کور مالک د خپل کور د خرڅولو فیصله وکړه، ګویا هماغه کیسه ده:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

آکے بیٹھے بھي نه تھے اور نکالے بھي گئے

ما د دې کور په لټون او د اوسيدو لپاره په چمتو کولو کې ډېره خواري کړې وه. ما هيڅ فکر نه شواى کولاى چې زه به دومره ژر له دې ځايه وزم. د کور مالک هم دا احساسوله، هغه په ډېره پښېماني د خپلې مجبورۍ يادونه وکړه. که ما انکار کړى واى نو هغه به يقينا چوپ پاتېدى. ما فکر وکړ د کډې په ټولولو کې چې کوم خوند دى په هغې بخښنې کې هيڅکله نه شته چې د انکار په بنه يې تر لاسه کوم. ما د کور خالي کولو ژمنه وکړه:

از بهر آشيانه خس اندوزيم نگر

باز اين نگر که شعله در گيرم آرزوست

په تېرو پنځلسو کلونو کې مې څو کورونه بدل کړي دي. د بل کور به يوه ورځ خالي کوې. ما ته چې هر وخت د کور مالک د کور خالي کولو وايي نو زه اوس احساسوم چې دا راته د يوه لوى حقيقت يادونه هم ده. په دې دنيا کې چې موږ د چا په کور کې اوسو هغه به هم يقينا يوه ورځ د پريښوولو راته وايي. دلته موږ د کور له خاوند څخه د بيا ورکړې غوښتنه کولاى شو خو د الله په وړاندې د دې امکان هم نه شته. دلته موږ خپل ټول سامان را سره وړلاى شو، هلته دا هم ممکن نه دي. موږ اړ يو چې يوه ورځ د هغه کور خالي کړو او په څه ډول چې مو استعمال کړى دى د هغه په مخ کې يې مسئوليت لرو. دا د دې نړۍ يو لوى حقيقت دى چې هيڅوک ترې تېښته نه شي کولاى، دلته هره پېښه اصلاً د دې حقيقت يادونه ده:

اهل بينش کو هے طوفان حوادث، مکتب

لطمه موج کم از سيلي استاد نهيں

(۱۹۸۶)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د هنر معجزه

حسن فروغ شمع سخن دور ھے اسد
پہلے دل گداختہ پیدا کرے کوی

زه چي په کومه سيمه کي اوسم د هغې د مرکزي جومات مخکينۍ برخه له ځو میاشتو راهیسي تر رغونې لاندي ده. لومړی په برنډو کي یوازي یو څو ساده دروازې وې چي له هغو څخه په تیریدو خلک مسجد ته ننوتل. اوس هغه په محرابونو بدلې سوې دي او مختهيې د برجونو او گنبدو جوړولو فیصله شوې ده. درې -څلور میاشتې مخکي د ودانۍ رغونه پیل شوې. ما ولیدل چي د برنډې دیوال په څو ورځو کي ونړول شو او په اتو -لسو ورځو کي نوې ودانۍ تر چت پوري ودانه کړای شوه. زما گومان وو چي اوس به د مسجد غولی په دوو -درو اونیو کي له خښتو تش شي خو کله چي کیسه تر برجونو او منارونو ورسیده نو گواکي وخت ودریږد او د کاریگرو لاسونه له کاره تم شول. لومړی به بنای ختلی نه وو چي بیا به دیوال تر چته رسیدلی وو، اوس د یوې -یوې منارې او برج پر تعمیر میاشتې لگیږي. دا زما د سیمې یو کوچنی جومات دی. څرگنده نه ده چي د عالمگیر جومات، معلی کلا او تاج محل پر محرابونو او برجونو به یې جوړوونکو څو ځله د سهار لمر لیدلی وي چي را خیژي.

سو بار جب عقیق کٹا تب نگیں ھوا

هر شی په همدې توگه پر مختگ کوي. شعر هغه هم دی چي یوازي ردیف او قافیو ته لویدلی وي نو هره دویمه میاشت به یو دیوان ترې جوړیږي او هغه هم دی چي په اړه یې ویل شوي:

برای پاکی لفظې شبې بروز آرد
که مرغ و ماهی باشند خفته او بیدار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په لومړي صورت کي که خښتې او مواد کم نه شي نو پایله یې په ورځو کي را ښکاره کېږي خو په دویم صورت کي پایله د خښتو او موادو نه بلکي د زړه له وینو را پیدا کېږي:

رنگ هو یا خشت و سنگ، چنگ هو یا حرف و صوت
معجزه فن کے هے خون جگر سے نمود

دا پېښه یوازي او س مهال نه کېږي چي خلگ د دې دواړو د نتیجو تر منځ توپیر نه شي کولای. انساني تاریخ ډېري داسي پېښې ثبت کړې دي. تر دې وړاندي هم څو ځله داسي شوي چي خلگو د جعفر زټلي او غالب پر ارزښت د هغوی په دیوانو کي د شعرونو په شمیرلو سره د پریکړي کولو هڅه کړې ده او د عیسي علیه السلام په زمانه کي هم خلگو د ده ارزښت د ده د پیروانو له شمیر څخه تاکی. داسي خلگو ته به څوک وو ایي چي:

نگاه تیري فرومایه، هاتهـ هے کوتاه
ترا گنه که نخیل بلند کا هے گناه

(۱۹۸۹)

# دمه نه کوم

هغه هستي له دنیا څخه ولاړه چي وجود یې زموږ لپاره د الهي رحمت سیوری وو. د ۱۹۸۶ د جنوري پر ۱۹ سهار مهال مي پلار وفات شو. د هغه هیله وه چي لا هم له خپلو پښو نه وي لویدلی او مړ شي. الله یې دا هیله پوره کړه. هغه بیده شو، د چا په فکر کي هم نه وه چي راتلونکی سهار به ونه ویني. د شپې له خپل عادت سره سم د تهجد لمانځه ته راکښېنستی خو د ساه په اخیستلو کي یې ستونزه درلوده. موږ ټول هغه ته ورغلو. فکر مو کاوی چي اوس به را سم شي. دی له بسترې سره ولاړ وو، موږ فکر کاوی چي غواړي پریوزي. ما مرسته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ورسره وکړه، ده پر بالنبت سر ولګاوه او په څو شیبو کي له موږ جلا شو.

د ژوند سفر یې د همدې شلمې پیړۍ له پیله شروع کړی وو. شل – دوه ویشت کاله کیدل چي له تصوف سره یې تړاو پیدا کړی وو. او بیا ټول ژوند په وفاداره توګه د ثبات یو تصویر پاتي شو، کوم څه چي یې دین وګڼل هیڅکله یې ایله کولو ته زړه ښه نه کړ. له خپل شیخ سره یې ډېره مینه درلوده او کله –کله به یې په ډېر درد سره دا مسره ویله:

چھوٹے عمرے پریت لگایي هوگیا سي جو هونا

زما او د ده په افکارو کي د ځمکې او اسمان توپیر وو. هغه هڅه کوله چي له خپل فکر سره سم مي قانع کړي، ما هغه ته د قرآن او سنت دلایل ویل. خبره به تر بحث او مناظرې هم رسیده خو د الله شکر دی چي خپل منځي اړیکې مو هیڅکله خرابې نه شوې. ګویا هماغه کیسه وه:

که در نهایت دوري همیشه با اویم

هغه تل له ما سره اوسیده. رښتیا خو دادي چي ما یې د خدمت حق ادا نه کړای شو خو په دې کي شک نه شته چي هغه د خپلې مینې حق پوره ادا کړ.

د هغه پلرنی کسب بزګري وه. د نیکه تر مړینې وروسته یې له طبابت سره ولګیده او بیا په همدې اخته شو. څه چي یې ګټل پر اولاد او کورنۍ به یې ډېر کم لګول، ډېر ځله یې تر خپل شیخ قربان کړل.

د دنیا له هر څه سره یې اړیکه پرې وه، د غم او خوښۍ په هر حالت کي ډاډه وو او په ورځینو چارو به اخته وو. سهار به وتی او اکثر وختونه به ماښام راتلی. دباندي چي به دي لیدی ګومان به دي کاوی چي یوازي له سفر سره یې مینه ده او هیڅ منزل نه لري. ګواکي د حال په ژبه یې ویل:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

به آشیان نه نشینم ز لذت پرواز
گهے به شاخ گلم، گاه بر لب جویم

پر لاره په تلو چي هغه څرنګه له یو چا سره کښېنستی، همدا سي کښېناست او سفریې پای ته ورسېد. بې له شکه موږ هیڅ نه پوهېږو چي سفر به مو کله ختم شي؟ خو په دې پوهېږو چي هرو -مرو به ختمېږي. د دې نړۍ ستر حقیقت همدا دی:

عاقبت منزل ما وادی خاموشان است

(۱۹۸۶)

## د شبلي ښوونځی

حلقه گرد من زنید اې پیکران آب و گل
آتش در سینه دارم از نیاگان شما

د شپې د مطالعې میز ته ناست یم، اې سې د خونې تو له ګرمي له منځه وړې خو د سینې په اوریې زور نه رسېږي، د هغې بخارۍ له کلونو بله ده. ما په ځلونو هڅه کړې چي ځیني سکروټې یې مړو ایرو ته واچوم ښايي ارام تر لاسه کړم، خو ایا په دې سره به د دې لمبو حرارت کم شي؟:

غزلې زدم که شاید بنوا قرارم آید
تپ شعله کم نه گردد زگستن شراره

خو نن دا سکروټې په خپله هم نا ارامه دي او غواړي چي ګرمي یې نورو ته هم ورسېږي:

می کشد شعله سری از دل صد پاره ما
جوش آتش بود امروز به فواره ما

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۱۸۵۷ زموږ د تاریخ هغه کال دی چې د بختیو لمر په کوچنۍ وچه کې په همدې کال راولوید، همدلته په همدې کال پر اسلامي امت یو بل لمر را وخوت. دا د مولانا شبلي د پیدا ایښت کال دی. د سید سلیمان ندوي په وینا چې هغه د مشرق په هنګامو کې پیدا او په ۱۹۱۴ کې د لویدیځ په هنګامو کې له دنیا ولاړ. دا د همده دور دی چې له لویدیځ تمدن سره په لومړي ځل اشنا شوو او په پایله کې یې امت پر دوو برخو وویشل شو. یوې ډلې پر دې ټینګار کاوی چې د خاص فکري مکتب له اصولو او اکابرینو له رایو پرته په دین پوهېدل ممکن نه دي او نه د لویدیځ تمدن علوم دومره مهم دي چې موږ ورته پام وکړو. د دې ډلې له سرلارو د قاسم نانوتوي، رشید احمد ګنګوهي، محمود الحسن دیوبندي، انور شاه کشمیري، حسین احمد مدني، اشرف علي تانوي او د شبیر احمد عثماني نومونه د یادولو دي. دویمه ډله هغه وه چې د دوی په فکر د حق او باطل معیار همدا تمدن او علوم یې دي. د دوی سرلاری هغه بوډا وو چې په اړه یې شبلي نعماني ویلي وو:

پیری سے کمر مین اک ذرا خم
توقیر کی صورت مجسم

شبلي د دې دواړو ډلو تر منځ د یوې بلې دریېمې ډلې بنسټګر دی. د ده د ډلې بنسټیز اصول دوه ول: زموږ لپاره پر مختګ دا دی چې شا ته ولاړ شو تر دې چې هغه مهال ته ورشو چې قرآن نازلېدی او په خپله د خدای رسول انسانانو ته مخاطب وو. او دویم دا چې لکه څرنګه چې شا ته تګ ضروري دی همدا سې باید له نوي مهال سره اشنا شو. سید سلیمان ندوي، ابو الکلام ازاد، ابو الاعلی مودودي، حمید الدین فراهي او امین احسن اصلاحي دا ټول د همدې ډلې مخکښان دي. زه همدې ته د شبلي ښوونځی وایم. اقبال هم تر ډېره له همدې ښوونځي سره تړلی پاتې شو. د هغه رېغ د هغه مهال تر ټولو ښکلی رېغ وو، د ډېر لوړ ادب شاعري یې کوله خو له فلسفې او تصوف سره د دلچسپۍ له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجې زموږ په تاریخ کې تر ډېره غزالي ته ورته دی. خو دی له یوې داسي سرکښې هوسۍ سره بندیوان شو چې پر هغې د وار لپاره به یې غشی په لینده کې ښود نو چې کتل به دې، دې غشي به د نورو سینې څیرلې وې. هماغه کیسه وه:

خدنگ جعبه توفیق امشب در کمانم بود

غزالم در نظر بسیار خوب آمد خطا کردم

سید سلیمان ندوي که څه هم د شبلي ځای ناستی شو خو حقیقت دادی چې هغه له لومړۍ ډلې سره اړه درلوده. هغه دا حقیقت عملاً داسي ثابت کړ چې له مولانا اشرف علي تانوي سره یې بیعت وکړ. د عبد الماجد دریابادي په اړه هم دا فکر دی چې هغه ښایي د همدې ډلې غړی وو. خو د هغه د ژوند داستان همدا دی چې له الحاده راووت او سیده د تانه بون خانقا ته ولاړ. ابو الکلام د همدې زمانې له مخکښانو څخه وو، د هغه لیکنې او وینا یوه بشپړه زمانه متاثره کړې وه. د هغه په راتلو به ښکاریده چې صحراوو خپله پراختیا را نغښتې او د سمندرونو زوریې په وړاندې مات شوی دی خو هغه د علم او عمل له کمښت سره مخ وو. ابو الاعلی عالم هم وو او لیکوال هم. د ډېرو ښو اخلاقو څښتن وو. ده تر ابو الکلام وروسته پر دې لاره داسي تګ وکړ چې خلګو فکر کاوی بس منزل ته په رسیدو به دمه وکړي. دې کې شک نه شته چې دی ډېر وړاندې ولاړ خو بیا هم چې څومره شاته پاتې شو که یې یو څوک پرتله کول غواړي نو د قرآن کریم تر دې ایت (فقد صبغت قلوبکما) لاندې دې د امام فراهي تحقیق او د ده تفسیر سره وګوري. ما هغه په وروستي عمر کې له ډېر نژدې څخه ولید. د ادب له مخې مې نه شوای کولای چې څه ووایم خو زړه مې غوښتل دا عرض وکړم:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بال بکشا و صفیر از شجر طوبی زن

حیف باشد چو تو مرغی که اسیر قفسی

په دې ښوونځي کې چې چاته امام العصر ویل کېدای شي نو هغه یوازي حمید الدین فراهي دی. هغه پر دې ځمکه د خدای له نښو یوه نښه وه. له سید سلیمان ندوي څخه یې واورئ چې د ده په مړینه کې یې لیکلي وو:

" الصلوة علی ترجمان القرآن ( د قرآن د مفسر د جنازې لمونځ ) هغه بېغ دی چې له نن څخه شپږ نیم سوه کاله وړاندي له مصر و سوریې څخه د چین تر دیوالونو د ابن تیمیه د جنازې لپاره پورته شوی وو. حقیقت دا دی چې دا بېغ بیا شوی دی او لېږ تر لږه له هندوستان څخه تر مصر او سوریې پوري دي خپور شي چې د دې زمانې ابن تیمیه د ۱۹۳۰ پر ۱۱ نومبر ( ۱۹ / جمادی الاخری ۱۳۴۹ هق ) له دې نړۍ څخه تللی دی. هغه څوک تللی دی چې د اسلامي نړۍ او سني حالت ته په کتلو یې د بیا پیدا کېدو امکان نه شته. د ختیځ او لویدیځ د علومو یو ترکیب وو، د عربي ادب یو نوموتی پوه او له انګریزي ادبیاتو فارغ وو، د تقوا یو مثال وو، د فضل او کمال مجسمه وه، د فارسي ادبیاتو یو بلبل وو، یو بې جوړې شخصیت وو خو د علم یوه نړۍ وه. د معرفت یو جهان، د علم سمندر، ګوښی وو خو د کمالونو ټولګه وو، د هنر یو بې بېلګي سلطان، د ادبي علومو یوازیني، د عربي ژبې خزانه، د عقلي علومو ناقد، د دیني علومو ماهر، د علوم القرآن له اسرارو خبر، د قرآن په رموزو پوه، له دنیوي دولت څخه بې نیازه، له دنیاوالو څخه مستغني، د انسانانو له تائید، رد او ستاینې څخه بې پروا، د پوهنې په نړۍ کې غرق او د خپلې دنیا پاچا وو. هغه هستي چې بشپړه دیرش کلونه یې یوازي د قرآن د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فهم، تدبر، درس او تدریس لپاره وقف کړل، له بل هر کاره یې لاس اخیستی وو او له هر څه ناخبره وو. له بده مرغه چې د هغه دا پراخه پوهه په ډېره کمه کچه تر نورو نقل شوه. د مسوداتو ستره زیرمه یې پرېښې خو افسوس چې د چاپولو، تړاو ورکولو او تنظیم ورکولو دماغ اوس نه شته. یو څو کتابګوټي یې خپاره شوي خو په عربي دي چې نه یوازې عوام نه پرې پوهېږي بلکې علماء هم ورسره نا اشنا دي. د هغه ژوند زموږ لپاره د باور پانګه وه او د هغه وجود د لیکوالانو لپاره تکیه وه. افسوس چې دا باور او تکیه ولاړه او یوازې هغه تکیه او باور پاتې شو چې چاره ترې نه شته. تر دې هم د زیات افسوس خبره داده چې دا هستي راغله او ولاړه خو دنیاوالو یې ارزښت ونه پېژندی او د ده له علم و پوهې څخه ناخبره پاتې شول:

توث نظیري ز فلک آمده بودی چو مسیح

بازپس رفتی و کس قدر تو نشناخت دریغ"

دا ویاړ یوازې هغې هستۍ تر لاسه کړ چې سفر یې پیل کړ بیا یې په لار کې پرې نه ښود، نو ځکه د دې لارې په لارویانو کې مرتبه هم یوازې ده تر لاسه کړه. امین احسن اصلاحي د همدې نابغه ځای ناستی دی، دی که تر استاد مخته شوی نه دی نو شاته هم نه دی پاتې. حمید الدین چې کوم ځای ته رسېدلی وو اصلاحي ټول عمر د هغه د اسرارو او رموزو په وضاحت کې تیر کړ. د تدبر قرآن په نوم تفسیر د تفسیرونو په کتابونو کې د علم او تحقیق یوه بې جوړې نمونه ده. د ده له قلم څخه که د پنځوسو کلونو د جګړې جریان واورئ نو هغه د عرفي په خبره:

رمح او گوید اگر جنگ و صلح که من

به کشاد گره جبهه خاقان رفتم

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی چي له کومو خلکو سره او سېده په هغوی کي ډېرو کمو د دې ورتیا درلوده چي دی درک کړي. ما د ده په مجلسونو کي په ځلونو لیدلي چي د پېړیو غوتې په څو شیبو کي پرانیزي او وار پر وار مي اعتراف کړی:

طی می شود این ره بد رخشیدن برقی

ما بی خبران منتظر شمع و چراغیم

که وګورو نو د لومړۍ ډلې عمر پوره شوی دی. مثال یې اوس د هغې زړې ودانۍ دی چي د نوې په ودانیدلو سره په خپله ړنګه شي. دویمه ډلې که څه هم اوس عزت او اقتدار ترلاسه کړی خو د تاریخ پریکړه داده چي دا به هم د هغې بلې په څېر یوازي د تاریخ په پاڼو کي پاتېږي. د راتلونکي دور رهبري یوازي د شبلي ښوونځي ته پاتي ده. د تاریخ پر پاڼو اوس د همدې د را ښکاره کیدو تیاري روانه ده:

عالم نو هے ابھي پرده تقدير ميں

ميری نگاهوں ميں هے اس کی سحر بے حجاب

خو دا ښوونځی په خپله په کوم حالت کي دی؟

د سید سلیمان ندوي ځای ناستی ابو الحسن علي دی، مګر دی د هغه په څېر اوس تر ندوه زیات په دیوبند کي دی. ابو الکلام له دې نړۍ یوازي ولاړ. ابو الاعلی چي کوم خلک شا ته پرېښوول په هغوی کي هغه هم دي چي د ده ځایناستي شول او هغه هم چي ادعا کوي دوی د ده د ځایناستي توب لپاره له خلکو بیعت اخلي. د ابو الاعلی له میراث څخه دواړو ډلو ته ډېر څه ورسېدل، خو افسوس د علم او ادب او غوره اخلاقو هیڅ حصه یوې ډلې ته هم ونه رسیده. نو دې بې چاره وو ته بله لار پاتي نه شوه چي له لومړۍ ډلې خیرات وغواړي او بیا –بیا وشړل شي، تر دې چي د شبلي ښوونځي د هرې تیروتنې کفاره ورکړي. په دې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ډله کي ځيني داسي خلک هم شته چي په اړه يې ويل کېداى شي چي يو څه لوستي دي مګر حقيقت دادى چي ارزښت يې تر دې زيات نه دى بلکي د ابو الاعلى د متن شرح دي. عرفي پېړۍ وړاندي ښايي د همدوى په اړه ويلي وو :

قدم برون منه از جهل يا فلاطون شو

که در مايه نه گزيني سراب و تشنه لبي ست

د شبلي ښوونځي وروستۍ نښه امين احسن اصلاحي دى. د ده په شاګردانو او مينه والو کي به يې څومره له دې حقيقت څخه خبر وي؟ له تيرو لسو کلونو څخه مي د همدې احساس اور په سينه کي بلېږي. سکروټې يې په خپلو ايرو کي ډوبېږي خو سړېږي نه:

که آتشي که نه ميرد هميشه در دل ماست

کله مي زړه غواړي چي د ابو الاعلى ځاى ناستو ته ووايم:

دست هر نا اهل بيمارت کند

سوى مادر آکه تيمارت کند

کله هم فکر کوم چي د امين احسن اصلاحي ځاى ناستې ته حلقې ته ووايم:

آن نيست که من هم نفسان را بگذارم

با آبله پايان چه کنم قافله تيز است

وينئ چي د قلم رنګ مي وچ شو، دا لومړي ځل نه دى چي داسي کېږي. هر وخت چي مي د دې کيسې بيانول شروع کړي همدلته په رسېد و ختمېږي. کله الفاظ ملتيا پرېږدي، کله هم په مفاهيمو کي خنډ را منځ ته کېږي، کله هم اوريدونکي بيدېږي او نن ... قلم اين جا رسيد سر بشکست. ښايي دا ماته د دې حقيقت يوه يادونه وي:

سخن از تاب و تب شعله به خس نتوان گفت

(١٩٨٧)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# امين احسن

د اسلام د نوي مهال دويم عالم ومړ.

په ۱۹۳۰ کي چي کله حميد الدين فراهي مړ شو نو د (معارف) ليکوال سيد سليمان ندوي د هغه دور د لومړي عالم ماتم وکړ. تر هغه زيات وکم ۶۷ کاله وروسته نن موږ د فراهي د ځای ناستي امين احسن اصلاحي ماتم کوو. سقراط او افلاطون، ابو حنيفه او ابويوسف، ابن قيم او ابن تيميه چي څرنګه له يوه بل څخه نه شي بېلېدای فراهي او اصلاحي به هم تل په نړۍ کي د يوه وجود دوه نومونه وي:

چون تمام افتد سراپا ناز مي گردد و نياز

قيس را ليلی همی نامند در صحرای من

استاذ امام د پوهي زېرمه، له مسکنت سره د وقار خاوند، مستغني، مينه ناک، د خدای د وروستي پيغام بې ‌ېلګي شارح، په دين او شريعت کي د يوې نوې نړۍ استازی، په ليکنه کي د بېل سبک خاوند او غوره خطيب وو. خبرو يې داسي انداز درلود لکه:

مثل خورشيد سحر فكر كی تابانی ميں

بات ميں ساده و آزاده، معانی ميں دقيق

ما امين احسن اصلاحي په لومړي ځل په ۱۹۷۳ کي وليد، بيا مي بل چا ته و نه کتل. هغه مهال دی زما لپاره "يوه نه پرانيستل شوې دروازه وه" خو ما همت وکړ او هغې بندې دروازې ته کښېنستم.

بر در نكشوده ساكن شد در ديگر نه زد

بيا دا دروازه پرانيستل شوه او داسي خلاصه شوه چي ګواکي د خپل کور دروازه شوه. له هغې ورځې تر ننه چي مي د علم او عمل کومه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شتمني تر لاسه کړې د خداى په مهربانۍ سره مې له همدې دروازې لاس ته راوړې:

ملکت عاشقي وگنج رب

هر چه دارم زيمن همت اوست

په ۱۹۸۷ کي چې مې کله د شبلي د ښوونځي داستان ليکى نو د امام فراهي په يادولو مې ليکلي وو: " امين احسن اصلاحي د همدې نابغه ځاى ناستى دى، دى که تر استاد مخته شوى نه دى نو شاته هم نه دى پاتي. حميد الدين چي کوم ځاى ته رسېدلى وو اصلاحي ټول عمر د هغه د اسرارو او رموزو په وضاحت کي تير کړ. د تدبر قرآن په نوم د تفسيرونو په کتابونو کي د علم او تحقيق يوه بې جوړې نمونه ده. د ده له قلم څخه که د پنځوسو کلونو د جگړې جريان وا ورئ نو هغه د عرفي په خبره:

رمح او گويد اگر جنگ و صلح که من

به کشاد گره جبهه خاقان رفتم."

ما ليکلي وو: د شبلي ښوونځي وروستۍ نښه امين احسن اصلاحي دى. د ده په شاگردانو او مينه والو کي به يې څومره له دې حقيقت څه خبر وي؟ له تيرو لسو کلونو څخه مې د همدې احساس اور په سينه کي بلېږي. سکروټې يې په خپلو ايرو کي ډوبېږي خو سړېږي نه:

که آتشي که نه ميرد هميشه در دل ماست"

اوس دا وروستۍ نښه هم په دنيا کي پاته نه شوه. په ۱۹۹۷ کي چې د ډسمبر پر ۱۵ سهار درې بجې به دى د خپل رب حضور ته حاضرېدى، خاص هماغه مهال د تل لپاره د خپل رب حضور ته ولاړ. ټول عمر يې د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قرآن د اسلوبو او ادعا پر حل تېر شو. او س چي ستونزې پېښې شي نو په خپله به يې د قرآن له مفسره پوښتو خو د هغه نړۍ هم اوس:

بی پرده جلوه ها به نگاهی توان خرید

امين احسن اصلاحي څوک وو؟ له اوس څخه چي څو کاله وړاندي د دې ښار څو دين پلورو غوښتل د هغه ارزښت د ده د معتقدينو له شمېر څخه وټاکي نو زه ده ته ورغلم ورته و مي ويل: زه د خپل ځان په اړه هيڅ نه وايم، زه چي د ويار لپاره څه لرم بس همدا دي چي د امام امين احسن اصلاحي شاګرد يم. تر کومه چي د امين احسن خبره ده نو زه به دومره ووايم چي د هغه د هڅو هدف هيڅکله هغه نه وو چي دا خلک پرې سر ورکوي. دې چټي شيانو ته يې صرف کتل هم له خپل شان سره مناسب نه بلل. په خلګو کي د محبوبيت لاس ته راوړلو چي کومې لارې دي خلګو ته (هنيئا مريئا) دي، که به چا د ده په مجلس کي د هغو يادونه هم وکړه بيا ورته دلته پاتېدل شوني نه وو. هغه چي ټول عمر کوم شعار ورکاوی هغه دا وو چي که له سړي سره خپل سيوری هم پاتي نه شي خو دی به په هيڅ حال کي له حق څخه نه اوړي. هغه په ټولنه کي د فکر او عمل خپرو مرداريو ته دلايل و نه لټول بلکي له دې مرداريو څخه يې د زړه او ذهن د پاکولو کوشش کړی دی. هغه له خلګو سره هرې کندې ته نه شوه کښېږي بلکي هغو لوړو ته يې را بولي چي د خپل شعور له لومړۍ ورځې ورته رسېدلی دی. د هغه نړۍ د پوهي او ديانت نړۍ ده، مذهبي ټګماران او سياسي لوبغاړي د ده په نړۍ کي هيڅ ځای نه شي تر لاسه کولای. هغه په خپل ذات کي يوه هستي او په خپل وجود کي يو سمندر وو. هغه په خپل اقليم کي دومره بوخت دی چي داسي شيانو ته ييخي وخت نه لري. هغه چي ټول عمر په کوم ډګر کي خواري وکړه هغه د پيرۍ او مريدۍ نه، بلکي د پوهي او تحقيق ميدان وو. که څوک غواړي چي د هغه د خواريو پايله ووينې نو د هغه د علم او تحقيق هغه شهکار دي ولولي


© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي دنيا يې د (تدبر قرآن) په نوم پېژني. هغه خو د نن ورځې سړی نه وو، د سبا مېړنی دی او اوس يې وخت ډېر لرې نه دی.

د (تدبر قرآن) د راټولولو کار يې په ۱۹۵۷کي يو وخت را شروع کړ. خو د دې تياري يې له هغه مهاله کوله چي په ۱۹۲۵کي امام فراهي په خپل کور کي ورته وويل: امين احسنه! ورځپاڼې ته ليکنه کوې که به له ما قرآن لولې؟ ده ويل چي هغه مهال زما د يوې ورځپاڼې چلوونکی وم او په ښه تنخا مي کار کاوی. ما له کوم ځنډ پرته وويل چي له تا قرآن وايم. امام فراهي د خپل کور يوې خونې ته اشاره وکړه او ويې ويل: ته به دلته اوسې. ما ادارې ته استعفا ورکړه او يو ځل بيا زده کوونکی شوم او په هماغه خونه کي مېشت شوم. وروسته سيد سليمان ندوي په يوه کالج کي د پروفيسري لپاره د ده نوم ورکړ او د مسئولينو له خوا يې ډاډ وښود چي دی به يې راضي کړي. امين احسن چي خبر شو نو په سخته ګرمي کي په پښو دار المصنفين ته ورغی او سيد صيب ته يې وويل: تا زما نوم وړاندي کړی دی، زه منښه کوم خو له بده مرغه چي زه دا دنده نه کوم. زه امام فراهي د هغه په ژوند کي نه شم پرېښوولای. دی وايي چي سيد صيب سخت حيران شو، هغه هيڅکله دا فکر نه کاوی چي يو بې وزلی زده کوونکی دي دومره لوی وړانديز رد کړي. وروسته هغه په ندوه کي د وينا پر مهال په ډېر تاثر سره دا پېښه ياده کړه او ويې ويل چي وګورئ! زده کوونکي داسي هم وي. په هر حال ما دا خبره وکړه او راغلم، خو ويره مي درلوده چي که استاذ امام په دې ورځو کي دار المصنفين ته راشي نو امکان لري چي سيد صيب يادونه ورته وکړي او هغه زما د لېږلو ژمنه ورکړي. د هغه څېره له وياړه ځليدله. ده وويل چي وروسته را ته معلومه شوه چي استاذ امام هلته تللی وو او سيد صيب له هغه سره خبره هم کړې وه استاذ په ډاډه ورته ويلي وو: ته په امام احسن ولې پسې يې؟ زه اخير دا دومره زيار د چا لپاره کاږم؟



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د فراهي دې زيار رنګ راوووړ، په ۱۹۳۰ کي چي کله د هغه د مرګ وخت را لنډ شو نو هغه امين احسن ورو غوښت. دی دا مهال د ميترا په يوه روغتون کي تر علاج لاندې وو. امين احسن کوټې ته ورننووت نو فراهي يې په ليدلو وويل: امين راغی. امين احسن ويل: هغه په خپله ژبه زما نوم په داسي ډول ادا کړ ګواکي زما نوم نه اخلي، بلکي د معنا طرف ته يې اشاره کوي او د خپلې پوهې او فکر امانت ما ته راسپاري.

امين احسن ټول ژوند د همدې امانت په حق ادا کولو کي تېر کړ. ده به تل ويل: وېرېږم چي د خدای په حضور کي له فراهي سره مخ شم هغه به زما له کاره ډاډه نه وي.

(تدبر قرآن) څه دی؟ دی يې په پېژندنه کي کاږي:

"زه له کوم وياړ پرته وايم چي دا کتاب زما د څلويښت کلنو هڅو پايله ده. ما د خپلې ځوانۍ غوره وختونه د دې کتاب په چمتو کولو کي تير کړي دي او اوس يې پر ليکلو د خپل بوډاتوب د ناتوانۍ دوره تيروم. په دې اوږد مهال کي مي ډېري لوړې-ژورې ليدلي او خواږه و ترخه غورپونه مي تير کړي دي. خو د خپل رب شکر ادا کوم چي هيڅ وخت مي هم له دې کتاب سره د زړه او ذهن اړيکه نه ده پرې شوې. ما چي په دې موده کي هر څه لوستي دي د همدې محور پر شا وخوا مي لوستي دي. کوم فکر چي مي کړی همدې ته په کتلو مي کړی دی، څه چي مي ليکلي دي په يو نه يو ډول له دې کتاب سره تړلي دي. ما د قرآن کريم پر يوه-يوه سورت ډېر وختونه تير کړي، پر يوه-يوه ايت مي فکري مراقبه کړې او د يوه-يوه لفظ يا يوې ادبي او نحوي ستونزې د حل لپاره مي هره هغه ډېره اړولې چي ترې لاندې مي د څه موندلو هيله پيدا شوې او دا راز هم وايم چي هيڅکله مي په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې کار کې د ستړیا احساس نه دی کړی بلکې تل مې ژور خوند احساس کړی دی:

هر زمان از غیب جانی دیگر است

ما چې په تېرو څلویښتو کلونو کې څه لاس ته راوړي دي په هغو کې زما له هغو سره - سره د امام حمید الدین فراهي ۳۰ - ۳۵ کلنې هڅې هم شاملې دي. دا به د ویاړ ځای وای چې ما ویلي وای د دې کتاب هر څه د امام فراهي دي که څه هم حقیقت همدا دی. خو زه په دې ادعا کې ځکه ډېر احتیاط کوم چې هسې نه سبا زما کومه تېروتنه د ده ونه بلل شي. له مولانا څخه زما د استفادې ډول داسې نه دی چې د هر ایت په اړه نظرونه را یاد ېږي بلکې ما له ده څخه پر قرآن کریم د غور اصول زده کړل او د هغه په لاربښوونه مې پوره پنځه کاله د دې اصولو پر تجربه تېر کړل. اوس دې اصولو ته په پام کار کوم. په دې توګه که څه هم دا ویل بې ځایه نه دي چې دا هر څه د استاذ مهرباني ده، خو په دې کې چې له مستقیم اخذ سره یو ځای د نا مستقیم اخذ لویه برخه هم شته نو ځکه وایم چې قوي او مدلله برخه یې د استاذ له علمه وګڼئ او کوم ځای چې درته کمزوري ښکاره شي نو زما کم علمي یې وګڼئ." (۱/ ۴۱)

ده لیکلي دي:

"زه خپل رب شاهد ګڼم وایم چې ما په دې کتاب کې د هیڅ ایت داسې تفسیر نه دی کړی چې زه پکې شکمن وم. کله چې به هم لږ شک درلود ما ورته اشاره کړې ده. همدا راز دا خبره هم کوم چې هیڅ ځای مې دا هڅه نه ده کړې چې یو ایت د هغه له حقیقي مفهوم پرته د خپل کوم نظر یا فکر لپاره استعمال کړم. له قرآن کریم څخه د باندې مې هیڅکله له کوم شي سره د زړه او فکر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړیکه نه ده پاتي شوې. که شوې هم ده، نو هم د قرآن لپاره او د قرآن په رڼا کي. د دې کتاب لوستونکی به ووینې چي کوم ځای زه له استاذ سره اختلاف لرم هغه مي هم بیان کړی دی." (۱/ ۴۲)

دا کتاب په لاهور کي هم لیکل شوی دی او له لاهوره دباندې د ډګروان خانقا ته نژدې په یوه کلي رحمان اباد کي د ونو تر سیورو لاندي هم لیکل شوی دی. هلته چي نه بریښنا وه، نه پنکه او نه د لیکنې لپاره کومه بله اسانتیا. موږ په ځلونو لیدلي دي چي پر پاڼو به خولې تویېدلې خو د لیکوال قلم به روان وو ځکه هغه خبر وو چي (بهر یک گل زحمت صد خار می باید کشید). د قرآن د تفسیر او بیان لپاره هغه د نړۍ هرې ستونزې منلو ته چمتو وو:

طالبان را خستگي در راه نیست
عشق خود راه ست و هم خود منزل ست

امین احسن چي دا کتاب پر قرآن کریم د باور په کوم کیفیت کي لیکلی دی، الفاظ یې د بیانولو وس نه لري. زما په یاد دي چي د سورت رحمان په تفسیر کي چي تر دې ایت (یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان) لاندي دا مسئله راغله چي له عام خیال سره سم چي ملغلرې یوازي په نمکینو اوبو کي پیدا کېږي خو قرآن وایي چي نه په دواړو کي، نو ما ته یې د تحقیق امر وکړ. ما ولیدل چي پر څیره یې د هیڅ ډول شک اثار نه ول، بلکي یو عجیب ډاډ او د ایمان یوه ځلا وه. دا مهال چي هغه څه وویل بنایي هماغسې یې تکرار نه کړای شم خو خبره همدا وه چي په الله قسم! که ملغلرې په خپله هم راشي او راته ووایي چي له نمکینو اوبو راوزي نو زه به ورته ووایم چي تاسو ته په خپل پیدا ایښت کي شک درلوېدلی، د قرآن بیان هیڅکله هم نه شي غلطېدای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی په ۱۹۰۴ کې د یوپي په یوه کلي بهمور کې پیدا شوی دی. د ده یو اکا هغه مهال د مدرسة الاصلاح مدیر وو. د همده په بلنه امین احسن په ۱۹۱۵ کې په همدې مدرسه کې داخل کړای شو. ده تولـه زده کړه د سرای میر اعظم ګړ په همدې مدرسه کې تر لاسه کړه. دا یوه دیني مدرسه وه خو په انګریزي ژبه کې د ده استعداد دومره ښه وو چې ډېر لوړ کتابونه یې پکې مطالعه کولای شوای او انور به یې هم پرې پوهول. د دیني مدرسو زده کوونکي په عمومي توګه د عربي ویلو توان نه لري خو ځوک چې به له امام فراهي سره او سېدل نو بې تکلفه به یې عربي ویلای شوای. مشهور عالم موسی جار الله چې هندوستان ته راغی نو له امام فراهي سره د لیدلو لپاره مدرسة الاصلاح ته هم ورغی. امین احسن یې کوربه وو. په عربي ژبه کې د هغه د خبرو او وینا استعداد چې یې ولید یوه ورځ یې ورته وویل: په عربو کې دې څومره وخت تیر کړی دی؟ امین احسن ځواب ورکړ: ما مست قدمي هاتین قط بلاد العرب. (دا پښې مې هیڅکله عربو ته نه دي تللې) موسی جار الله تر ډېره حیران پاتې وو.

په هغه وخت کې یو وار د محمد علي جوهر او سید سلیمان ندوي په څېر خلګو په شتون کې ځوان امین احسن اصلاحي وینا وکړه. د هغه د وینا کوم اغیز چې وروسته ښکاره شو او د هغې زمانې مشهور وینا وال سید عطاء الله شاه بخاري یې په ستایلو وویل چې وینا وال خو زه هم یم، مګر ته عالم هم یې او وینا وال هم. خلګو ډېر وستایې خو ده انتظار کاوی چې استاذ امام څه وایي؟. ماښام چې درس ته راغی نو یو چا امام فراهي ته یادونه وکړه. هغه تر یو وخته د نورو خبرې اورېدې او بیا یې په خپل ځانګړي انداز وویل: هو، دی خو لوی ابو الکلام ازاد دی. امین احسن ویل چې هغه د ازاد لفظ داسې ادا کړ چې زما ستاینه پکې کمه او تنبیه زیاته وه. زما د استاذ د روزنې ډول همداسې وو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر دې وړاندې امام فراهي د مدرسې په زمانه کې د یوې وینا ستاینه په دې الفاظو کړې وه: دې زده کوونکي ښه وینا وکړه. په دې سره د هغه استاد مولانا عبد الرحمن نګرامي وویل: له هغه سره باید ستا د دې ستاینې یو یادګار وي. فراهي د خپلو تفاسیرو مجموعه ورکړه او پر وې لیکل چې د ښې وینا له وجې او خپل لاسلیک یې پر وکړ.

په ۱۹۲۵م کې دی د استاذ په امر ملایا ته ولاړ نو د درس اندیوال اختر احسن ته یې لیک وکښ چې یوه جمله یې داسې وه: د سمندر د څپڅپاندی پسرلی دی. امام فراهي دا جمله وویله او ویې ویل: امینه! ته خو ادیب یې. ده په خپله ویل چې د زده کړې پر مهال که چا له ده پوښتلي وای چې ته غواړې څه شی شې؟ نو ده به ورته ویلي وای چې ادیب الهند.

دا مهال یې د شاعرۍ ذوق هم درلود. ډېر شوخ طبیعت یې وو او د خپلې مدرسې په یوه استاذ پسې یې ډرې لیک لیکلی وو. مولانا نګرامي ورو غوښت او خبرداری یې ورکړ، یو څه یې جرمانه هم کړ خو تر څنګ یې ورته وویل: له شک پرته چې ښه نظم دې لیکلی وو. مګر دا ذوق یې هماغه مهال مړ شو. ده ویل: ځان مې له شبلي سره پرتله کړ نو فکر مې وکړ چې د هغه په څېر شعر نه شم لیکلای، تر دې وروسته بیا پر دې خوا نه ولاړم.

د مدرسې په دوره کې د سبع معلقات ازموینه وه. سید سلیمان ندوي امتحان اخیست. د امین احسن پر پاڼه یې ور ولیکل: دا د یوه زده کوونکي پاڼه ده، زه به د ندوي لپاره داسې استاذ چیرته پیدا کړم؟.

په مدرسه کې چې چا له ده سره کینه درلوده، هغوی فراهي ته وویل چې د امین احسن له نحوې سره چندان نه لګېږي. ویل یې چې کله درس ته راغلم نو سمدستي استاذ امام وپوښتل چې امینه "لِ" څه صیغه ده؟



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ما جواب ورکړ، معنا مي ورو ښوده نو په غوسه یې خلګو ته وویل چې چا ویل چې د امین نحو نه ده زده؟.

همدا راز یو وخت امام فراهي یو وخت په درس کې له حاضرو خلګو وپوښتل چې په دې درس کې تر ټولو کشر څوک دی؟. خلګو وویل: امین احسن. بیا یې وپوښتل: تر ټولو وروسته چا ګډون کړی دی؟. خلګو وویل: امین احسن. بیا یې وویل: د عیسی علیه السلام یوه وینا ده چې ډېر وروسته راتلونکي به تر لومړنیو مخته شي.

د خپل استاذ د باور یادونه به یې د همده پر طریقه کوله. یو وار یې ویل چې خلګو امام فراهي ته وویل: د عربو نو اوس شاعري ده؟ هیڅ نه ده معلومه چې د اوښې ستاینه کوي که د خپلې معشوقې. امام فراهي وویل: هغه ته چا شعر نه دی ور ښوولی. زما په راتلو یې وپوښتل نو ما هماغه خبره تکرار کړه. استاذ امام وویل چې یو شعر وو ایه. ما د امرء القیس د معلقې لومړی شعر وو ایی: قفا نبک من ذکري حبیب و منزل. امام وویل: ترجمه یې کړه. ما همداسي ترجمه کړ لکه په عمومي ډول چې په مدرسو کې ترجمه کېږي. امام وویل: نه داسي نه ده، داسي یې ژباړه: تم شه، تم شه، ملګرو پر جانان او د جانان پر منزل د اوښکو تویولو باني راکړئ. ما وویل: لاریب، اوس دا شعر شو. ده ویل چې تر دې وروسته مې د خوښې شاعري عربي شاعري شوه.

کله چې به یې په وړاندې د فراهي یادونه کېده نو په سترګو کې به یې ځلا پیدا کیده، په ساعتونو -ساعتونو به یې په اړه ږغېدی خو نه به ترې ستومانه کېدی. ځیني پېښې به یې داسي په زړه پوري اورولې چې فکر به دي کاوی د کومې دیوتا یادونه کوي.

ویل به یې: " سبع معلقات " مو وایی، یو ځای په " لا " نه پوهېدم. ټولې شرحې او د ادیب الهند مولوي فیض الحسن سهارنپوري شرح مې هم وکتله خو د هیچا نظر ډاډ رانه کړ. کتاب مې واخیست او امام

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فراهي ته ورغلم. هغه د مطالعې له خونې دباندې ولاړ وو. ما ستونزه ورته بیان کړه، تر فکر وروسته یې له جیبه پنسیل را وایست او زما پر کتاب یې ولیکل: "لا هي نادرة"، بیا یې وویل: ښاغلې! لکه تاسو چې وایاست کومه شیبه مې مرګ رانه شي، دا همداسې "لا" ده. د ژبې تر پېچلتیا وو د رسیدو دا طریقه یوازې د استاذ په برخه وه.

په وروستیو وختونو کې پر فراهي د هندوستان یوه لوی عالم د هغه پر یوه لیکنه د کفر فتوا ورکړه. په ټوله سیمه کې غوغا خپره شوه. د الاصلاح مدرسې زده کوونکي او استاذان ټول خپه ول. زما لپاره هم یوه لویه پېښه وه. په همدې حالت کې د فراهي په لټه شوم او د هغه د مطالعې د خونې خوا ته ورغلم. ما ولیدل چې دی پر زینو ولاړ وو، همالته مې ورته وویل. زه چې په خپله په کومه پریشاني کې وم له ده څخه مې هم د همداسې غبرګون تمه درلوده. هغه د یو څو شیبو لپاره پر زینو ولاړ پاتې شو، بیا وړاندې راغی ویې ویل: ښه، د چا یادونه چې ته کوې دا خو ما پېژني هم نه. زه حیران پاتې شوم، پر دې فتوا ښایي تر دې غوره تبصره هیڅکله ونه شي. هغه به په جذباتي انداز ویل: فراهي داسې وو، اوس به د ده په څېر شخصیت چېرته پیدا کوئ؟

ده له فراهي څخه قرآن لوستی وو، د قرآن د ژبې هغه خوند یې تر لاسه کړی وو چې شاید ډېرو کمو ته ور نصیب شوی وي. قرآني تړاو د فراهي موندنه ده، خو امین احسن په خپل تفسیر (تدبر القرآن) کې هغه تر داسې ځای پورې رسولی دی چې اوس ترې هیڅوک انکار نه شي کولای. امین احسن د نورو مجتهدینو امامانو په څېر په ژبه، ادبیاتو، فلسفه و حکمت او قرآني علومو پوهېدی او په دې کې تر داسې ځای پورې رسېدلی وو چې نور نو د مخکې تګ تصور پکې ګران دی. بې له شکه چې دی په دې علومو کې د خپل وخت امام وو. د ده د نویو څېړنو په اړه که به چا د پخوانیو حواله وغوښته نو ده به په پوره باور ویل چې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ډاډه او سه لږ وخت وروسته به زه هم له متقدمينو ګڼل کېږم. ما يو ځای ليکلي دي چي ما ليدلي د ده په مجلس کي د پېړيو غوټې خلاصېږي او په وار-وار مي اعتراف کړی:

طی می شود این ره بدرخشیدن برقی

ما بی خبران منتظر شمع و چراغیم

د ده رتبه همدا وه، خو له دې سره-سره که به د ده د تر ټولو ارزښتمنې څېړنې او رايې پر خلاف بل څه حق ورته ښکاره شول نو په وړاندي به يې په داسي توګه تسليمېدی چي حيران به ورته پاتي شئ. د هغه په علمي مدرسه کي زه د شاتنيو صفونو يو زده کوونکی وم. د سورت التوبې د (الاشهر الحرم) مفهوم چي هغه څرنګه بيان کړ زه پرې ډاډه نه شوم. زما ګومان وو چي خبره ډېره ساده ده خو دی چي يې څرنګه بيانوي ډېر خلک پکي نښلي. يو ځل مي ورته لږ په ويره خپل نظر ووايی. ده زما نظر واورېد، پوښتنې يې هم وکړې، بيا د څو شيبو لپاره چوپ شو. بيا يې وويل: ما پر دې ايت په کلونو فکر کړی دی او بيا مي يې په اړه يو نظر خپل کړی دی خو ته سمه خبره کوې. بيا يې په ډېر متاثر انداز کي دا شعر ووايی:

گمان مبر که به پایان رسید کار مغان

هزار باده ناخورده در رگ تاک است

د امام فراهي تر وفات وروسته هغه فکر وکړ چي څرنګه يې قرآن کريم د حميد الدين فراهي په څېر له يوه ستر عالم او څېړونکي څخه ويلی، همدا رنګه به حديث هم د دې فن له يوه ستر عالم څخه وايي. د ترمذي د مشهور شارح عبد الرحمن محدث مبارک پوري کلی له ده څخه ډېر لرې نه وو. د امين احسن پلار دی مولانا ته ور ووست، ده خپله هيله څرګنده کړه نو محدث مبارکپوري وويل: تا خو هر څه لوستي دي،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که غواړې زه به خپل سند درکړم. امین احسن جواب ورکړ چې مولانا! دا د پاچاهانو تاج دی، دا خوارېږې همداسې پر سر اېښوول نه غواړي. سند وړلو ته نه یم راغلی، غواړم له تا احادیث زده کړم. مولانا وپوښتل: څه شی وایې؟. ده وویل: ته د ترمذي شارح یې، هماغه راته ووایه. نو درس شروع شو او بیا به که ګرمي وه او که یخ، امین احسن به په میلونو لار په پښو وهله او په پر له پسې توګه به حاضرېدی.

شوق تو راه می برد، درد تو زاد می دهد

د زده کړې د مهال یوه پېښه به یې په ډېر خوند بیانوله. د ترمذي د عبارت ویلو پر مهال مې یو ځای د (عرف) لفظ په پوره باور سره د "ر" په زیر ووایه. مولانا وویل چې (انا لا اعرف عرِف) مانا زه یې د "ر" په زیر سره نه پېژنم. ما په پوره باور جواب کړ چې (اما انا فلا أعرف عرَف) یعني زه یې بیا د "ر" په زور نه پېژنم. مولانا وویل چې (راجع اللغة). مانا لغت وګوره. د لغتو په کتاب کې مو غالبا د جوهري صحاح خلاص کړ، د استاذ خبره یې سمه بللې وه. زه لږ خړسوم او دی موسک شو بیا یې وویل: (استأنف، وللجواد زلة) یعني وړاندې ځله اصیل اس هم ښوییږي.

د فراهي تر وفات وروسته یې د هغه د کار مخته وړلو لپاره یې د "دایره حمیدیه" بنسټ کېښود. تر همدې لاندې یې د الاصلاح په نوم یوه میاشتنۍ مجله چاپوله. په دې وخت کې یې د امام کتابونه وژباړل او په دومره ښه ډول یې ترجمه کړل چې د مولانا ابو الاعلی مودودي په څېر لیکوالانو هم یې هم په اړه ولیکل: که څوک غواړي چې د عربي ژبې د لوړو علمي عبارتونو اردو ته د ترجمه کولو هنر زده کړي نو دا ژباړې دې ولولي.

په ۱۹۴۱ کې چې مولانا مودودي د الهي حکومت پاڅون وکړ نو استاذ مدرسة الاصلاح، دایره حمیدیه او د امام فراهي د مسوداتو او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

علمي کارونو لپاره په خپل نوم پنځوس زره ځانګړې شوې روپۍ تر شا پریښودې او له ده سره دار الاسلام ته ولاړ. له مودودي سره یې اختلاف هم درلود او ورسره همنظري هم وو. د یو والي په زمانه کي چي ځینو علماوو غوښتل د هغه علم لړ وګڼي نو د امین احسن شاهدي د یوه قاطع دلیل په حیث را ښکاره شوه. وروسته به یې په طنزي ډول ویل چي وروره هغه شاهدي خو ما د ملایانو په مقابل کي ورکړې وه د ځان په مقابل کي خو نه وه. زیات وکم ۱۶ کاله هغه د مولانا تر ټولو باوري ملګری پاتي شو. له هغه سره یې د ګوند علمي او فکري رهبري وکړه او د زندان سختۍ یې هم ورسره وګاللې. ویل یې چي د قرآني مطالبو تحلیل او ویش یې ما د ملتان په زندان کي وکړ. په ۱۹۵۳ کي چي پر مولانا د اعدام حکم وشو نو دی ډېر احساساتي وو. د اختلاف په دور کي چي به هم ده په خپل خاص انداز امیر المؤمنین ویل او پر هغه به یې په تونده لهجه نیوکې کولې نو ما یې ډېر ځله په همدې تونده ژبه کي د مینې یو څپاند سمندر لیدلی دی. افسوس به یې کاوی چي د یوه نژدې ملګري په اړه چي ده دومره لوړ خیالات درلودل په څه ډول ختمو کي نښتی دی. په ۱۹۷۵ کي زه د مولانا مودودي د کور پر مخامخ اوسیدم. دی راغی او تر خوراک وروسته د لاس مینځلو لپاره سرای ته ووت، له ما یې وپوښتل: د مولانا مودودي کور همدا دی؟. ما وویل: هو. ما ولیدل چي بیا - بیا یې دا تکرارول:

کبھی ہم بھی تم بھی تے اشنا تمھین یاد ہو کہ نہ یاد ہو

په ۱۹۵۸ کي د جنوري پر ۱۸ دا اړیکه د امین احسن پر دې الفاظو ختمه شوه:

"زه پوهېږم چي ستا له ملګرتیا په بې برخې کیدو زه څه له لاسه ورکوم؟ خو دا باید په یاد ولرې چي تا زما په څېر د یوه خواخوږي د مشورو قدر ونه کړ نو اوس به د "بدو مشاورینو"

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مشوري منې. ما هیله درلوده چې ستا ملګرتیا به مې مله وي،
خو تا چې یې په دواړو لیکونو کې کوم قیمت غوښتی دی زه یې
نه شم ادا کولای."

د مولانا مودودي پر مرګ یې په ډېر افسوس ویل چې نن هغه کس له دنیا ولاړ چې ما یې په اتفاق کې هم خوند لیدلی وو او په اختلاف کې هم. په کومه ورځ چې دا پېښه وشوه دی زما په کور کې وو، د مولانا د طنزي طبیعت یادونه وشوه نو د پټهان کوټ د زمانې یو څو زړه وړونکې پېښې یې واورولې. په هغو کې یوه لطیفه دا هم وه چې ویل یې ما واده وکړ، زما خسر چودري عبد الرحمان له ما سره لیدلو ته راغلی وو. زه له یو وجې هغه ورځ د مازیګر لمانځه ته نه ورغلم. له مولانا چا پوښتنه کړې وه چې امین احسن نه مالومېږي؟ هغه ورته ویلي وو چې وروره هغه له سهاره په (ان الانسان لفی خسر) کې اخته دی. امین احسن هم په طنزي طبیعت کې ورته سوی وو.

د زندان پر مهال د مولانا مودودي ژامه ماته شوې وه. امین احسن نه پوهېدی چې د مولانا غاښونه مصنوعي دي. یو چا ورته وویل نو دی د غاښونو د تعزیت لپاره مولانا ته ورغی. ظاهرا د ډېر افسوس په حالت کې د خونې په دروازه کې ودرید او بیا یې وویل: مولانا! افسوس چې ما ته نه وه معلومه چې د خوراک غاښونه دي جلا او د ښکارولو دا دي جلا دي.

یو ښاغلی چې د دین د خدمت په لړ کې یې یو وخت ډېره تمه ورته درلوده د کانفرانسونو را بلل شروع کړل. په دې کې به یې د هر فکر علماء راغوښتل او ویناوې به یې په کولې. د دین د خدمت کوم فکر چې له امین احسن سره وو، ښکاره ده چې دې شیانو ته ځای پکې نه وو. هغه ښاغلی د ده بلنې ته هم راغی. امین احسن ترې وپوښتل چې د کانفرانسونو هدف څه دی؟. زه غواړم چې د ټولو فکرونو خلک پر یوه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځای راغونډ شي. د هغه په دې جواب سره امین احسن وویل: د مختلفو خلکو د را ټولولو کار خو اورګاډی له تیرو سلو کلونو راهیسي کوي، د دې لپاره خو تا ته هیڅ اړتیا نه شته.

د لیکوالۍ په میدان کي هم مولانا خاص انداز درلودی، یو وخت له یوه لوی عالم او لیکوال څخه خپه شو نو د هغه لپاره یې د کم لوستونکي خو ډېر لیکونکي جمله استعمال کړه. د مستشرقینو د تحقیق پر اسلوبو یې په انتقاد سره وویل چي له مچمچۍ څخه ګامیښ جوړوي او د ملخ پښې ته د فیل پوست وراغوندي. د فاطمه جناح په ملاتړ چي کوم ایتلاف را منځ ته شو هغه یې د چنګښو تول وبالی. هغه مهال د مولانا مودودي یوه جمله ډېره مشهوره شوه چي یوه لورته یو نر دی چي له نرتوب پرته بله ښیګڼه نه لري او بل لورته یوه ښځه ده چي له ښځینه توب پرته بله نیمګړتیا نه لري. امین احسن پر همدې په تبصره کولو وویل: حیراني ده، په دې خلکو کي هیڅ داسي نارینه نه را ووت چي د یوه داسي نارینه سره سیالي وکړي چي له نارینه توب پرته بل هیڅ کمال نه لري. تر ما چي ګوټ وروسته د کوټ شیر سینګ په شورا کي مولانا مودودي د ګوند د مشر لپاره د ډېرو صلاحیتونو غوښتنه وکړه. امین احسن یې سخت مخالفت وکړ او ټل به یې دا نظر درلود چي د ګوند مشر باید د شورا د پریکړو تابع وي. نو ده له ګوند څخه استعفا ورکړه، په دې سره مولانا مودودي هغه ته په یوه لیک کي ولیکل:

"کولای شې زما دا نظر ناسم وبولې، پر خلاف یې د دلایلو په راټولولو کي ازاد یې ان کولای شې چي تر ټولو بد رنګ ورکړې. خو داسي هیڅ تور راباندي نه شې لګولای چي له وخته مې د مجرم ضمیر په پوښ کي د بدو ارادو پیشو غلې کړې وه چي د فرصت په موندلو د کوټ شیر سینګ په شورا کي راووته. ما ته دا خبره سمه ښکاري، هر وخت مې ویلي دي او د ګوند له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پیله زه ترننه پر همدې خبره ولاړیم. ته حق لرې چې دا ناسمه ثابته کړې، خو له دې وجې د ګوند پریښودو ته هیڅ اړتیا نه شته. ته کولای شې په ګوند کې په پاتې کېدو د شورا ذهنیت د دې پر خلاف هر لورته چې وغواړې په پوره ازادي سره اړولای شې. "

امین احسن یې جواب ورکړ، وې لولئ چې څه یې ورته لیکلي دي، دی لیکي:

" تا د خپلې پیشي د پیدا ایښت تاریخ غلط ښوولی دی، زه له دې ناخبره نه یم چې دا پیشي ستا په پوښ کې له لومړۍ ورځې موجوده وه. یاد به دې وي چې تر ویش وړاندې د اله اباد د شورا په یوه مجلس کې مې د هغې د له منځه وړلو هڅه کړې وه. که دې یاد نه وي نو د هغې شورا جریان وګوره. هغه وخت دا پیشي مړه نه شوه، خو زما او د ګوند د نورو پوهو کسانو په فکر کې پاتې شوه او بیا –بیا مو په شورا کې د دې د ژوند او مرګ خبره را پورته کړه. تر دې چې تر ویش وروسته مو کوم قانون جوړ کړ په هغه کې مو د دې د مرګ وروستۍ پریکړه وکړه. ښکاره ده چې څه وخت د هغې د مرګ پریکړه شوې وه نو شریعت، د زمانې او اسلامي جمهوریت غوښتنو ته په پام شوې وه. علماوو او نورو اهل نظرو هم د دې ملاتړ کړی وو. په دې کې شک نه شته چې ته یې په خپلو اعمالو وخت پر وخت د ژوندي کولو کوشش کوې، خو زموږ قانون یې ژوند ونه مانی. په دې لړ کې چې دې کله هم د قانون مخالفت کړی دی نو په خپلو اقداماتو سره دې د خپل کم درک ثبوت ورکړی چې له امله یې د ګوند ټول پوه کسان په دې نظر شوي چې دا پیشي چې مړه وي ښه ده. خو تا یې مرګ نه شوای زغملای. د هغې د ژوندي کولو لپاره پر له پسې نا ارامه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي. د هغې په مینه کې دې استعفا ورکړه. په ما چې ګوټ کې دې د هغې لپاره د رازدارانو په ملاتړ د سازش پلان جوړ کړ. بیا په کوټ شیر سینګ کې پرې د مسیح ساه ولګیده او دا په ربښتني ډول را ژوندی شوه. ته اوس ماته بلنه راکوې چې زه شورا ته راشم او په شورا کې په پاتیدو د هغې د مړه کولو هڅه وکړم خو زه بخښنه غواړم. یوه پیښې چې ما د کلونو په زحمت سره وژلې وه تا بیا ژوندۍ کړه او اوس یې ستا شورا د پالنې مسئولیت هم اخیستی دی. که زه اوس بیا د هغې په وژلو پسې شم نو معنا یې داده چې زه به تول ژوند تر "ګربه کشي" قربانوم. دا اخیر کوم عزتمن کسب دی؟."

د تحلیل او ارزونې پر مهال یې اسلوب همداسې ول. د (جایزه کمیټې) په جواب کې چې یې مولانا مودودي ته کوم لیک کښلی دی د داسې اسلوبو یوه ښه بیلګه ده. د سوریې سفیر چې دا لیک ولوست نو پر هغه یې په خپل قلم سره ولیکل چې مولانا! دا دې کوم لیک نه دی لیکلی د قاضي پریکړه دې او رولې ده. پر "جماعت اسلامي" د مولانا محمد منظور نعماني صیب تر (فرد قرارداد جرم) عنوان لاندې لیکل شوي نقد ته په جواب کې هم همدا اسلوب کارول شوي دي. د مولانا مودودي د عملي حکمت فکر هم په همدې توګه تحلیل شوی دی. د کورني کمیسیون پر رپوټ هم په همداسې ژبه تبصره شوې ده. د ده دا لیکنې د ده د خاص لیکنیز سبک هغه نمونې دي چې که یې څوک ووایي نو د ده د طنزیه مزاج او جادوګر قلم له ستایلو پرته بله لار نه لري.

ما یې بوډا توب لیدلی دی. هغو کسانو چې له ګوند سره د تړاو په زمانه کې به ورته غوږ وو، نن یې هم ویناوې یادوي. ځیني اوریدونکي یې وینا داسې ښیي لکه په سمندر کې چې وړې -وړې څپې را پورته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي، یا له غرونو یوه چینه را بهېږي او یا یوه ویاله ده چې د غره له سره را بهېږي او د بیابان پر لور روانه ده. د هغه له خولې چې به هر لفظ وتی سیده به زړه ته کښته کېدی. هغه به په یوه پیغمرانه باور سره خبرې کولې او د پخوانیو ویناوالو یاد یې تازه کاوی. د هغه ژبې یو داسې استدلال درلود چې ایمانونه یې غښتلي کول. د ۱۹۵۴ کال د یوې وینا یوه جمله یې د همداسې کیفیت ښه هنداره ده چې که غواړئ زما غاړه په توره را غوڅه کړئ خو دا خبره به هیڅکله را باندې ونه منئ چې د تزکیه نفس په څېر سپېڅلی کار هغو جاهلو ته وسپارم چې په خانقاوو کې په ناسته یې د دین پلورنې کار شروع کړی. یوه مشهور ژورنالیست ویل چې د کراچۍ په ککرۍ میدان کې یې وینا کوله او ما لیکله. د وینا پر مهال یې دا الفاظ وویل: اسلام وایي. لږ ځنډ یې فکر وکړ او بیا یې وویل چې غلط فکر مه کوئ د ویلو حق یوازې له اسلام سره دی. د لفظ او معنا دا سیند په څپو شو او زه په حیرانۍ یوازې او ریدونکی پاتې شوم، دا را څخه هېر شول چې دا باید وهم لیکم.

تل به یې له همداسې باور او د ایمان له همداسې جوش سره د دین بلنه کوله.

په دې لړ کې یوه جالبه او خندوونکې پېښه هم وشوه. په ۱۹۵۱ کې جماعت اسلامي دی نوماند کړ. ده ویل چې ما ډېر ورته وویل چې د دې کار لپاره تر او سه نامناسب کس بېخي مور نه دی زېږولی خو " امیر المؤمنین " ونه منله. زه له مجبوریته راضي شوم، یوه ورځ راته وویل شول چې په غونډه کې باید وینا وکړې. زه ولاړم او خپله وینا مې داسې را پیل کړه چې ورونو او خوندو! پر ما دې د خدای، فرشتو او مومنانو لعنت وي که به زه له تاسو رایه غواړم، زه غواړم دا درته ووایم چې د یوه رایه ورکوونکي په حیث مو مسئولیت څه دی؟. ښکاره ده چې تر دې وروسته یې ما ته په انتخاباتو کې د وینا راکولو حماقت ونه کړ.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ده د ژوند ډېره برخه په همدې ګوند کې تېره شوې ده. کلونه یې همدې فکر ته بلنه کوله. په دې شالید کې دا پوښتنه پیدا کېږي چې د ګوند د تګلارې په اړه یې د خپل ژوند په وروستیو کې څه فکر کاوه؟ ما چې ترې څه اورېدلي او څه مې ځني زده کړي دي د هغو پر بنیاد ویلای شم چې نه یې د دین د نفاذ په اړه هغه مفهوم مانی چې ګوند یې مني او نه یې د دین د غلبې په اړه هغه معنا سمه بلله چې مولانا مودودي یې بیانوي، نه یې هم د جماعت اسلامي په څېر د ګوندونو جوړول سم بلل. نه یې په فکر کې له حکومت پرته د جهاد، امارت، بیعت او سمع و طاعت په څېر چټیاتو ته ځای درلود او نه یې هم د واک غوښتلو سیاست د علماوو لپاره مناسب بالی. د هغه وروستی نظر دا وو چې د علماوو د هر کوښښ هدف باید ذهني او فکري انقلاب وي. عالم چې تر څو عالم وي او غواړي عالم پاتې شي نو تر دې وړاندې باید ولاړ نه شي. دا ټولې خبرې یې د هغه د وروستیو وخت په بیانونو، لیکنو او مجلسونو کې په پوره صراحت سره کړې دي. په دې کې د هر شي په اړه زه کولای شم د ده الفاظ د شاهدۍ په توګه وړاندې کړم.

د امین احسن فکر څه وو؟ هر چا چې یې د لوست لپاره لږ وخت هم پیدا کړی دی پوهېږي چې دا د مذهبي فکرونو په نړۍ کې بلکل یو نوی فکر دی. په دې کې ټول حکومت او ټول واک له قرآن سره دی. له دې قرآنه چې هر لفظ راوزي د قانون حیثیت لري. هر ځای یې د قرآن تله اېښې. ابو حنیفه، بخاري و مسلم، اشعري و ماتریدي، جنید و شبلي او هر یو خپل شیان همدلته تلي. بیا چې د هر چا وزن لږ کم وي د دې فکر په اقلیم کې د پاتېدو هیڅ ځای نه لري. علم او پوهه، فلسفه او حکمت ټول د قرآن په وړاندې لاس تړلي ولاړ دي. د قرآن هر لفظ د عجایبو یو ښار دی او دا عجایب هیڅ ختمیده نه لري. قرآن لومړی محکم ږغېږي او بیا یې تفصیل کوي، که یې په خبرو کې ستونزه پېښېږي نو نوري خبرې یې روښانوي. د هغه (قرآن) د ځانګړي دفتر پر بام او دروازه په غټو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حروفو لیکلي دي چي څوک زموږ په خبرو کي نظم او ترتیب نه مني هغه دې د فتر ته نه شي ننوتلای. د امین احسن ټول ژوند په همدې اقلیم کي تېر شوی دی:

اس کا انداز نظر اپنے زمانے سے جدا
اس کې احوال سے محرم نهي پیران طریق

خو په "پیران طریق" کي هم ناخبره پیدا کېږي. مولانا محمد منظور نعماني صیب لاهور ته راغی نو امین احسن هغه ته وویل چي میرمن مي راته وایي چي ستا په کتابو زه نه پوهېږم خو د مولانا نعماني په کتابو پوهېږم. مولانا نعماني سمدستي وویل چي مولانا! موږ یې د هغې لپاره لیکو او تاسو یې موږ ته لیکئ. کله چي تدبر قرآن بشپړ نو مولانا نعماني خپل یو خوب بیان کړ چي دی امین احسن ته راشي او هلته په زعفراني رنګ د رنګول شویو وریجو پلو پخېږي چي ښه بوی ترې خپرېږي. مولانا نعماني صیب ولیکل چي دی یې په تدبر قرآن سره تعبیروي.

امین احسن ته خدای ښه ښکلی جسم ورکړی وو، ښه ذوق یې درلود او ښې جامې به یې اغوستلې خو بیا یې هم چلند ډېر ساده وو. د هغه یوه پخواني ملګري ویل چي د ګوند له خوا میانوالي ته ولېږل شو. زه ورسره وم، موږ په بس کي ولاړو. د سرګودا په اډه کي چي بس ودرېدی ده ما ته وویل: د غوړو په فکر د تیلو تر خوړلو ښه ده چي تیل تیل وبولو او وې خورو، ورشه یوه ډوډۍ او یو څه پکوړې راوړه.

هغه ملایکه نه وو، انسان وو او نیمګړتیاوې به یې هم درلودې خو د ژوند د معیار لوړولو هیڅ فتنې ته نژدې نه شو. له الله سره یې د توکل یوه داسي اړیکه وه چي د سړي د کست ورسره کېدی. ژبه به یې تل په الهي ذکر لنده وه. مولانا عبد الرحیم اشرف د حج په سفر کي له ده سره وو. هغه یو ځل وویل چي چي هلته په رسیدو د ده ټوله دلچسپي یوازي



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له بیت الله سره وه، داسي ښکارېده چي د دنیا له هر شي سره یې اړیکه پرې شوې ده. د ژوند په سړو او تودو کي تل د خپل رب پر رضا ډاډه وو. د قاهرې په پېښه کي د ابو صالح په څېر د یو زوی پر بایللو چي یې په میثاق کي څه ولیکل احساسات یې ترې څرګندیدای شي، دا مهال یې له ژبې د شکایت هیڅ کلمه ونه وتله. وروستي دوه کلونه چي یې د کومې معذورۍ او بې وسۍ په حالت کي پر بستر تیر کړل زغمل یې اسانه نه وو، خو که بیا یې هم څه ویلي وي دا یې وویل چي که د اخرت تکلیف نه وي، د ژوند هیڅ تکلیف - تکلیف نه دی.

ډېر غیرتمن وو، وقارېږې درلود او بې نیازه شخصیت وو. ایوب خان صیب وپوښتل: مولانا صیب که څه خدمت وي. ده وویل: تا ته چي څه وایم میثاق والو ته یې وایم، پر هغه عمل وکړه همدا خدمت دی. بوټو صیب پیغام را ولیږلی وو چي حکومت غواړي ستا لپاره یو څه وکړي. ده جواب ورکړ: زه د حکومت دندې لرونکي تل ملت پلورونکي بولم ایا اوس په خپله هم داسي وکړم؟ د ضیاء الحق له خوا د همکارۍ ټینګار کیدی خو ده صرف دومره وویل چي ما څه لیکلي هغه تر خپلو کتابتونونو ورسوئ، همدا بس دي. په هر اواز کي یې دا پیغام وو:

مگذر از نغمه شوقم که بیابی در وی
رمز درویشی و سرمایه شاهنشاهي

له ملګرو سره یې ډېر له مهربانۍ او تواضع ډک چلند کاوی. کله چي په رحمان اباد کي وو زه ورغلم نو دشپې همالته پاتي شوم. تر سهار یو څه وخت وړاندي مي احساس کړه چي یو څه لرې یو څوک له نلکې څخه په انډل وهلو ستل له اوبو ډکوي. ما هیڅ فکر نه کاوی چي دا به امین احسن وي. لږ وروسته زما کټ ته راغی او وې ویل چي ما تازه اوبه راکښلې دي، پورته شه او اودس وکړه. هیڅ نه پوهېدم چي څه ووایم او څه وکړم؟

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی ډېر رښتني وو، هره خبره به يې ښکاره کوله او سخت جدي وو تر دې چې د مصلحت له مخې خطرناک بلل کېدای شوای. هر څه يې له تردد پرته ويل، په خپلو ملګرو کې يې د فکر او عمل تضاد نه شوای زغملای. بې کچې مينه ناک وو خو د اخلاص له ژورو چې دا چينه څرنګه را بهېدله په همدې کچه زورېدی هم. خو ليدونکي پوهېدل چې هيڅ بغض، کينه او دښمني نه لري. هماغه کيسه وه:

قهر بهی اس کا هے الله کې بندو په شفيق

زه به يې تر څو په اړه ږغيږم؟ نن چې يې کله ياد وم ييا –ييا فکر کوم چې له امين احسن څخه چې د کم و زيات پنځه ويشت کاله شاګردی کوم ويا ړ لرم، کاش! دا ويا ړ هغه چا تر لاسه کړی وای چې پر ژبه او بيان يې د امين احسن په څېر لاسبري درلودای. دا د زمانې بدمرغي ده چې د دې نابغه د پيژندلو فرصت يې زما غوندي د يوه مات و ګوډ قلم لرونکي ته راکړ چې حال يې داسي دی:

در زبان حرف نمانده ست و سخنها مانده ست

هغه يوازي د دين عالم نه وو، د قانون او اوسني سياست په مسايلو کي هم د ژور نظر خاوند وو، د دې علومو ماهرينو يې په مجلس کي په کښېناستلو يو څه ترې زده کولای شوای. دې شيانو ته د ليد انداز يې د زمانې له خلکو ډېر بيل وو. کله چې بوټو اعدام شو نو په عمومي توګه مذهبي کړيو د اطمنان احساس وکړ. سبا زه رحمان اباد ته ولاړم نو امين احسن خپه وو. ما وپوښتي، لږ ځنډ خاموش وو بيا يې وويل: زما به له بوټو سره څه خواخوږي وي؟ خو کومو احمقانو چې د يوه ملي رهبر د ختمولو دا طريقه را منځ ته کړه هغوی نه پوهېږي چې په دې ډول يې د هيواد په سياست کي د مستقل عناد بنسټ کېښود. په افغانستان کي چي څه وشول، د هغو په بدو اغيزو له پيله پوهېدی، دا اغيزي نن ورځ خلک په سترګو ويني. په الجزاير، ترکيه، مصر او سوريه کي چي يې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اسلامي خوځښتونو په اړه کوم نظر درلود، زموږ مذهبي مشران ښايي هغه وخت پرې پوه شي چې ډېر څه به ډوب شوي وي. له جماعت اسلامي څخه چې پر څه بېل شو هغه اوس د خپل ځان سم ثابتولو لپاره کوم بحث او استدلال ته اړتيا نه لري. حقانيت يې په خپلو هغو خلکو په عمل هم ثابت کړ چې يو وخت د مولانا مودودي په مشاورينو کې د ده غټ مخالفين ول. موږ په خپلو سترګو ليدلي او په غوږو مو اوريدلي چې نن هغوی خپل امير ته هماغه څه وايي چې له نن څخه کلونه وړاندې امين احسن د دوی امير المؤمنين ته ويلي ول.

هغه يو ژوندی انسان وو او د ژوند پېښو ته يې د يوه ژوندي او ځيرک انسان په توګه کتل. په پوهه او عمل کې چې کوم ځای ته رسېدلی وو هلته به لوبې څه ارزښت ولري؟ خو له هيواد سره د مينې حال يې دا وو چې کله به پاکستان او هندوستان د لوبو په ميدان کې سره مخامخ کېدل نو بيا -بيا به يې پوښتنه کوله او تر هغو به نه ډاډه کېدی چې د پاکستان بريا به يقيني شوې نه وه. د غالب، اقبال او شبلي يې ډېره ستاينه کوله. زياتره وخت به يې د هغوی اشعار ويل. طنز مزاجه وو، که به يې د خپلو ناروغيو يادونه هم کوله نو هم به يې پر څېرو موسکاوې خپرولې. مذهبي حماقتونو ته ډېر متوجې وو، کله چې به يې يادونه کېده نو په دې اړه به يې خبرې ډېرې جالبې وې. په لفظ - لفظ کې به يې له تلميح او تعريض څخه يو داسې کلام را پيدا کاوی چې هر د ذوق خاوند به يې له اوريدو بې ساری خوند اخيست. د ده د پخوانيو ملګرو له يوه مذهبي مشر څخه همداسې ځينې خبرې وشوې نو پر هغو د تبصرې لپاره يې داسې جالب اسلوب را منځ ته کړل چې که د خلکو د فساد ويره نه وای نو ما ويل او خلکو به ليدلي وای چې امين احسن ته قدرت د لفظ او معنا تر منځ د تړاو پيدا کولو څرنګه وړتيا ورکړې ده؟ دی له نړۍ څخه نه دی تللی، بلکې:

خاموش ہوگیا ہے چمن بولتا ہوا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

حالي د غالب شاګرد وو. هغه چي خپله ویرنه پر کومو اشعارو پای ته رسولې، ښايي په هغه زمانه کي خلګو د ده زيات تاثر بللی وي. خو وخت ثابته کړه چي غالب هماغه وو چي د حالي سترګو لیدلی وو. ده پر مي اوریدلي او ده پر مي ویلي دي خو د امين احسن او د ده د استاذ حميد الدين فراهي کیسه داده چي:

غالب نکته دان سے کیا نسبت
خاک کو آسمان سے کیا نسبت

(۱۹۹۷)

# شخصیت لمانځنه

دا د ربیع الاول میاشت ده. په دې میاشت کي هغه هستي پیدا شوې ده چي په خپله د کایناتو خالق رحمة للعالمین بللې ده، هغه چي د اخرت تر ورځې د انسانانو لارښود دی، د ځمکي تر هرې ګوښې يې وینا وې خپرې شوې دي، د جوامع الکلم خاوند دی، ټوله ځمکه ورته مسجد ګرزول شوې ده، له دبدبې يې کفر لړزېدی، دی هغه دی چي میزان ورکړل شوی او ورسره توره هم چي په وسیله يې پر خلګو د خدای حجت پوره کړي، پر همده نبوت پای ته ورسېدی، قرآن پر نازل شو، د ده په اړه پر لوح محفوظ دا پریکړه وکښل شوه چي د قیامت تر ورځې د ده له راوړي کتاب پرته د هدايت بل هیڅ بديل نه شي راتلای.

دا هستي په همدې میاشت کي نړۍ ته راغله، په کار خو دا وه چي دا میاشت ټوله په خوښیو لمانځل شوې وای خو عجیبه داده چي صدیق و فاروق، عثمان و حیدر او بلال و ابوذر چي د ده مینه او محبت يې د ټول ژوند پانګه وه نه په دې میشت کي کوم جشن جوړ کړ او نه يې د زوکړې ورځ د میلاد په نوم ولمانځله. دی په نړۍ کي وو، دا ورځ او میاشت یيا -یيا راغلې خو د هغه دشپې او ورځې بوختیاوو هیڅ بدلون ونه کړ.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د اقبال ورځ، د جناح ورځ ... د دې هستۍ په مقابل کې دا خلک دې څوک؟ څو که یې ستایونکي د پیدا ایښت په ورځ خوښي کوي نو د دې سترې او عظیمې هستۍ د پیدا ایښت په ورځ یې ولې نه شي کولای؟، هغه چې:

غبار راه کو بخشا فروغ وادی سینا

زه کلونه په همدې شکونو اخته وم خو الحمدلله اخیر دا غوټه خلاصه شوه. حقیقت را څرګند شو نو معلومه شوه چې زموږ د فکر ټولې نیمګړتیاوې په حقیقت کې زموږ د فکر له لید څخه را پیدا کېږي:

بر چهره حقیقت اگر ماند پرده

جرم نگاه دیده صورت پرست ماست

اصلي خبره داده چې موږ خو دې تر ټولو لوړ و بالی خو د هغو شخصیتونو په کتار کې مو ومانی چې موږ ورسره بلد وو او دی د دې کتار شخصیت نه دی. نو پایله یې دا شوه چې پر ځمکه ټولې ورځې د ده وې خو زموږ لپاره په یوه معلومه ورځ پیدا شوی دی، دی د هرې میاشتې سپوږمۍ وه خو موږ یوازې په ربیع الاول کې ولیده، د خدای په کلیزه کې هر کال د ده په نوم نومول شوی خو زموږ په کلیزه کې د هغه د پیدا ایښت کال ۵۷۰ م دی:

جرم نگاه دیده صورت پرست ماست

موږ غوښتل چې سمندر په یوه څاه کې را غونډ کړو، صحرا په غولي کې را ټوله کړو او له اسمانه یوه کناره جوړه کړو خو د ده ملګرو صدیق و فاروق، عثمان و حید، بلال و بوذر ... سمندر ته د سمندر، صحرا ته د صحرا او اسمان ته د اسمان په نظر وکتل نو ورته څرګنده شوه چې د هغه چا چې په هر زره کې یې باید د یاد شمعې بلې پاتې شي او هغه چې د ورځې په اوږدو کې یې باید نوم د مسجد له منارو څخه وا خیستل شي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ترشان دا لوړه ده چې د يوې ورځې او يوې مياشتې شخصيت ترې جوړ شي. دا ستر شخصيت د يوې ورځې او يوې مياشتې شخصيت نه شي کېدای. هغه د هرې ورځې، هرې مياشتې او هر کال شخص دی ځکه نو نه عيد ميلاد النبي او نه د ربيع الاول جشن ورسره ښايي، بلکې سهار او ماښام "لدلوک الشمس الی غسق الليل" په يوه اواز سره: اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمدا رسول الله.

يه نغمه فصل گل و لاله کا نهي پابند

بهار هو که خزان، لا اله الا الله

(۱۹۹۰)

# دين او بې ديني

د شپاړسمې پېړۍ نيمايي وه چې په لويديځ کې هغه جګړه شروع شوه چې اخير يې د پاپ سپيځلې پاچاهي ختمه کړه. په دې پاچاهي کې هغه د خدای ځای ناستی وو. ده ادعا کوله چې دی پر ځمکه د هر شي پريکړه کوي هغه په اسمان کې هم منل کېږي. پر ده هغه دوران هم تېر شوی وو چې د روم پاچا څلورم هينري درې ورځې او درې شپې لوڅ سر او لوڅې پښې په ډېره عاجزي د ده د کلا پر دروازه ناست وو او بخښنه يې غوښته خو ده دروازه خلاصه نه کړه. د پنځلسمې پېړۍ په اخيري او د شپاړسمې په پيل کې مارټن لوتر دا اقتدار وننګاوه، ايراسمس (Erasmus)، کالوين (Calvin) او زونګلي (Zwingly) د اروپا په نورو برخو کې دا خوځښت مخته بوت. په پايله کې يې يو ستر جنګ پېښ شو چې عوامو پکې د بدلون غوښتونکو ملاتړ وکړ او پاپ ماتې وخوړه. د تل لپاره يې واک ختم شو.

په لويديځ کې د علومو دويم ژوند (Renaissance) د همدې خوځښت په بريا ليتوب کې پر مختګ وکړ. د دې تحريک بريا وې بې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بېلګي دي د فطرت ډېر حقايق يې بې نقابه کړل، انسانانو ته يې بې شميره سهولتونه ورکړل، پر وچه او سمندر يې انسان ته واک ورکړ، انسان ته يې دا قدرت ورکړ چي فضا ته وخېژي او په ځمکه ننوزي. تر دې چي خپلو دې بريالیتوبونو ته انسان هم حيران دی. دی پوهېږي چي طبيعت يې په حيرانوونکې توګه په کنټرول کي دی او خوب يې په حقيقت بدلېږي.

د پاپ پر خلاف دا جګړه او د علومو دويم ژوند دواړه د انسان لپاره وياړونه دي. په دې کي شک نه شته چي د پاپ ادعا باطله وه. په حق دين کي هيڅکله نه کوم پاپ او نه کوم پادري د خدای او بندګانو تر منځ حايلېږي. دا ادعا بايد په هر حال کي باطله شوې وای. چا چي دا باطله ثابته کړه هغوی يو حق ثابت کړ او علوم دويم ځل را ژوندي شول. علم د انسان ستره پانګه ده د موندلو او لاس ته راوړلو لپاره چي يې هر څومره کوښښ کېږي بايد د قدر په سترګه ورته وکتل شي. خو د انسان بدمرغي داده چي په دې جګړه کي د رد رو حياتو يوازي پاپ نه دی رد کړی بلکي د کايناتو دا تر ټولو لوی حقيقت يې هم رد کړ چي دی پر ځمکه د خدای مخلوق دی او په ټولو معاملاتو کي بايد د هغه تابع واوسي او ده ته يې جواب ويونکی دی.

دا حقيقت د کوم دليل پر بنسټ نه دی رد شوی. په دې تېرو څلورو پېړيو کي چي لويديځوالو پر دې موضوع څه ليکلي دي تر دقيقې مطالعې وروسته يې په اړه په ډاډ ويلای شو چي دا حقيقت ړانده تعصب او د نفرت بې مهاره احساساتو رد کړی دی. قلم چي په دې اړه څه ليکلي او ژبې څه ويلي دي د انسان لپاره د شرم خبره ده، د علم او پوهي په دور کي جهالت روا ګڼل شوی دی. حقيقت لټوونکو له حقيقت څخه مخ اړولی، د علم لمانځونکو علم رد کړی دی. دا د دې زماني تر ټولو لويه غميزه ده. که پر دې ځمکه وژاړي او اسمان ورباندي وير وکړي نو هيڅ د حيرانتيا خبره نه ده.

(۱۹۸۷)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# نوې فتنه

په لوېديځ کې د سياست او اقتصاد کاروان د خپل سفر پيل د سمندر پر غاړه له اباد و نويو سوداګريزو ښارونو څخه کړی وو. دا ښارونه له هغو سيمو لرې نه ول چيرته چې د منځنيو پېړيو ځمکه والو او د کليسا د پاپانو راج چلېدی. دا د اوولسمې پېړۍ پيل وو او اوس شلمه پېړۍ هم پای ته نژدې کېدونکې ده. په دې سفر کې سختې مرحلې راغلې دي. دې بدرنګو څېرو د نويو قالبونو د موندنې لپاره ډېرې هڅې کړې دي. د تيارو وختونو چپنه اغوستونکي ځمکه وال د ننني وخت سګريټ په لاس سوداګر او صنعت کاران دي. د پانګې پر خلاف د زيار جګړه د تاريخ په نندارتون کې د عبرت مجسمه ده. دا کاروان چې د دې پېړۍ په پيل کې کوم ځای ته رسېدلی وو، هلته د ادم زوی دوې برخې شوی دی. دماغ يې د کريملين په ساتنځونو کې خوندي کړای شوی دی او تنه يې د دولت په چوپړ کې د ارتقا تر مرحلو تېرېږي. بل لور ته د اروپا سوداګريزو ښارونو د انسان زړه او دماغ بوخت ساتلي دي. د لرغونو وختونو کليوالو دولتونو به پاچا را منځ ته کاوی او پاچا به د کليو د خدايانو ملاتړ کاوه. د نويو ښارونو پانګه پارلمان زېږوي او پارلمان يې بيرته ساتندوی دی. د دولتي واک حرص د بشر په جسد کې د يوه بد روح په توګه حلول کړی دی. د کريملين پر پخو ديوالونو او د نيويارک پر اسمان څکو ماڼيو د همدې فتنې ولکه ده. تو پير يوازې دا دی چې پخوا به دوی د خپلې واکمنۍ اعلان کاوی او نن د واکمنو پر ژبه د دوی امر جاري دی. پاپ نن هم د ايټاليې په اسمان څکو ماڼيو کې ارام ژوند لري خو د لوېديځ په سترو ښارونو کې:

گرجو سے کهي بڑ کي هے بنکو کي عمارات

ختيځ له ډېره وخته را هيسې د دې سيلاب د لارې حيثيت لري. که د هماليا پر څوکه په دريدلو وکتل شي نو له مراکش څخه واخله تر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اندونیزیا پوري یې د تباهۍ اثار لیدل کېږي. او به کښته تللې دي خو تر شا یې لوړې او ژورې پرېښې دي، که تاریخ لیکونکی دا کیسه وکاږي نو د حیرانتیا او عبرت یوه نړۍ به را منځ ته شي. تر درو پېړیو هر اړخیزې غلبې وروسته دا ښامار کور ته را گرزیدلی خو اوس ترې یوه نوې فتنه زیږېدلې ده. د همالیا دیوال یاجوج او ماجوج ماتوي او د خدای بندگان د تاریخ په یوه بل قیامت کې را گیرېږي.

(۱۹۷۹)

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# اساسی اصول

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د دین مأخذ

خدای تعالی د انسان له پیدا ایښت سره سم په هغه کي دوه شیان ځای پر ځای کړل؛ یو دا احساس چي یو پیدا کوونکی مالک لري او بل دا احساس چي کوم عمل ښه او کوم بد دی. پر دې سربېره خدای پاک په انسان کي ډېر نور استعدادونه هم پیدا کړي دي چي که کار پر وشي نو یو څه موده وروسته د انسان په علم او عمل کي څرګندېږي. پورتني احساسات هم دې ته ورته دي.

همدا اصلي دین دی چي خدای له پیدا ایښت سره سم په انسان کي پیدا کړ. په عین حال کي خدای ځیني انسانان د خپل پیغام رسولو لپاره غوره کړل او انسانانو ته یې له دې لارښوونې سره ورولېږل چي هغوی ته زما پیغام ورسوئ. همدغه ډول کسان د نبي او رسول په نوم یادېږي. دوی له خپل راتګ سره سم د انسان په فطرت کي د نغښتي دین ټول باورونه او اصول په څرګند ډول بیان کړل.

دا لړۍ له لومړني انسان ادم علیه السلام څخه پیل او پر محمد صلی الله علیه وسلم پای ته ورسېده. خدای ویلي چي دی د دې لړۍ وروستی کس وو، تر ده وروسته به هیڅ نبي یا رسول رانه شي. ځکه نو نور دین یوازي له ده څخه تر لاسه کېدای شي او ښتنی دین هغه دی چي دی یې یا په خپله خوله د خدای وبولي، یا یې د دین په توګه عملي کړي او یا د ده په مخ کي د دین په ډول تر سره شي خو دی یې مخه ونه نیسي.

له محمد صلی الله علیه وسلم څخه دا دین د هغه په ژوند کي په زرګونو خلکو زده او د ده په مخ کي عملي کړ. وروسته په لکونو نورو خلکو له همدې زده کوونکو څخه زده او عملي کړ چي دا لړۍ هیڅ وخت شلېدلې نه ده. د ده د پیروانو هر نسل دا دین په خپله زده کړ، په ژبه او قلم یې نورو ته وروښود او د عمل له لاري یې نورو ته هم انتقال کړ چي

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اوس تر موږ پورې را رسېدلی او موږ په پوره باور سره ويلای شو چې دا عين په هماغه ډول تر موږ پورې را رسېدلی دی، لکه څرنګه چې محمد صلی الله عليه وسلم په خپل ژوند کې د الهي رسول په توګه د ده منوونکو ته سپارلی وو.

زموږ د دې باور وجه دا ده چې په هر نسل کې د ده د منوونکو دومره لوی شمېر په مختلفو سيمو کې د خولې، قلم او عمل له لارې نورو ته رسولی چې پر دروغو د هغوی د راټولېدو او يا تېروتنې فکر هم نه شي کېدای او دې ته د علم په ژبه اجماع او تواتر ويل کېږي.

ټول هوښياران په دې پوهېږي چې کومه خبره په دې طريقه له يوه نسل څخه بل نسل ته ورسېږي، هغه يقيني وي او دا موږ ته په دوو بڼو رسېدلې:

يو قران او بل سنت.

قران هغه کتاب دی چې مسلمانان يې (هم) قران بولي. خدای دا کتاب د خپلې يوې فرښتې جبريل عليه السلام په وسيله د محمد صلی الله وسلم پر زړه نازل کړ، دا کتاب چې په کومو الفاظو او په کوم شکل نازل شوی وو، رسول الله په هماغه ډول او هماغو الفاظو بيا-بيا خلکو ته واوراوه. د ده منونکو له ده څخه په اورېدو ياد کړ او د چا چې ليکل زده وو هغوی په ليکلې بڼه له ځان سره وساتی. دا په زرګونو کسان ول، په دوی کې چا يو، چا دوه، چا درې يا لس او ځينو بيا مکمل قران ياد او يا له ځان سره په ليکلې بڼه خوندي کړ. وروستنيو هم له دې تګلارې کار واخيست او د مسلمانانو هر نسل همداسي کول. اوس هم په هره کورنۍ کې شته او د نړۍ په لکونو انسانان يې دا مهال هم له لومړي حرف څخه تر وروستي حرف پورې له خپلې حافظې تلاوت کولای شي. د همدې تګلارې نتيجه دا ده چې د خلکو له زرګونو هڅو سره-سره په هغه کې نه پخوا کوم بدلون راغلی او نه اوس پکښې راتلای شي. ځکه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو دا بیخي باوري ده چي دا مهال کوم قران زموږ په لاسونو کي دی، دا ټکي په ټکي هماغه دی چي محمد صلی الله علیه وسلم خپلو منونکو ته پرېیښی وو.

د سنتو کیسه همداسي ده، (ځکه) محمد صلی الله علیه وسلم چي په کوم قوم کي وزېږېدی، د هغوئ ټول خلک د ابراهیم علیه السلام اولاده وه، خدای ده ته امر وکړ چي د ابراهیم علیه السلام د تګلاري پیروي وکړه. د دې تګلاري ځیني شیان هماغسي پاته وو لکه ابراهیم علیه السلام چي خپل اولاد ته خوشي کړي وو، خو ځیني له منځه تللي او په ځینو کي بدلون راغلی وو.

محمد صلی الله علیه وسلم هغه راژوندي کړل، په کومو کي چي لاس وهل شوی وو، هغه یې اصلاح کړل، د خدای په امر یې زیاتونه ورباندي وکړه او بیا یې خپلو پیروانو ته امر وکړ چي په همدې عمل وکړي.

همدغه ډول ټول شیان د رسول الله سنت بلل کېږي. په دې کي ډېری یې تر قران وړاندي شیان دي چي عرب ورسره اشنا وو. له همدې وجي یې قران په داسي ډول یادوي لکه دوی چي ورسره بلد وي، هیڅ ډول پېژندنې او تفصیل ته یې اړتیا نه درلوده.

موږ ته عیني په هماغه ډول رارسېدلي لکه قران چي رارسېدلی دی. د مسلمانانو هر نسل له مخکینیو واخیستل، عمل یې پرې وکړ او راتلونکو ته یې ورسول. د رسول الله له وخته تر ننه دا لړی همداسي دوام لري، ځکه نو سنت هم باوري دي، د ثبوت له مخې د سنت او قران تر منځ هیڅ توپیر نه شته.

(۲۰۱۵)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# اصول او مبادي

ما چي دين په کوم ډول درک کړی، په هغه کي لاندي درې شيان د بنسټيزو اصولو حيثيت لري:

لومړی دا چي قران کريم د حق وباطل لپاره مېزان، فرقان او د هر ډول وحې مُهَيمِن دی. د دې لپاره نازل شوی چي د دين او شريعت په چاره کي د خلکو تر منځ د هر ډول اختلافاتو په اړه پرېکړه وکړي او په نتيجه کي يې هغوی پر کره حق و درېږي. قران کريم د ځان د غه حيثيت پخپله بيان کړی دی، نو پر همدې اساس چي بايد کوم څه د هغه په اړه د اصولو په توګه ومنل شي، هغه دا دي:

لومړی: د قرانکريم متن په بشپړ ډول مشخص شوی چي په مصحف کي ثبت او د مغرب له څو سيمو پرته يې د نړۍ د مسلمانانو غوڅ اکثريت همدا اوس تلاوت کوي او تلاوت يې د هغه قرأت پر اساس دی چي عامه قرأت يې بولي. له دې پرته بل قرأت نه قران دی او نه د قران په توګه وړاندي کېدای شي.

دويم: د قرانکريم دلالت يقيني دی. په دې مانا چي که يو انسان د هغه لاربنوونه ومني، نو په پوره باور به يې د خپل نزول هدف او مدعا ته ورسوي. دا يوازي د کمې پوهي او کم تدبير نتيجه ده چي له کبله يې ځيني وختونه انسان په درک کي پاته راځي. د قران کريم له ژبې او د بيان له اسلوب سره هيڅ تړاو نه لري. هغه هيڅکله د خپل هدف په بيانولو کي پاته نه راځي.

درېيم: د قران کريم هغه ټول آيتونه محکم دي چي له هدايت سره تړاو لري او متشابهات يوازي هغه آيتونه دي چي د اخرت کوم نعمت او يا عذاب يې د تمثيل او تشبيه په ډول بيان کړی وي، يا د خدای د صفاتو، کړنو او زموږ له مشاهدې ورهاخوا د هاغي بلې نړۍ کومه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خبره په تمثيلي اسلوب بيان شوې وي. دغه ډول آيتونه نه مجهول دي او نه يې په مفهوم کې کوم ابهام شته. الفاظ يې هم د څرګندي عربي دي او موږ يې په مانا هم له څه تردد پرته پوهېږو. مګر حقيقت يې په دې دنيا کې نه شو درک کولای، خو څرنګه چې يې درک او نه درک د قران کريم له فهم سره هيڅ تړاو نه لري، ځکه يې نو موږ تعقيبوو هم نه.

څلورم: له قران کريم څخه دباندې هيڅ پټه او ښکاره وحې، ان د خدای هغه رسول هم د ده په حکم کې کوم ترميم او تغيير نه شي کولای چې دا قران پرې نازل شوی دی. په دين کې د هر څه د رد او قبول پرېکړه د هغه د څرګندو آيتونو په رڼا کې کېږي. د ايمان او عقيدې هر بحث له ده پيلېږي او پر ده پای ته رسېږي، هره وحې، هر الهام، هره القا، هر تحقيق او هره رايه د هغه تابع ده. پر ابو حنيفه، شافعي، بخاري، مسلم، اشعري، ماتريدي، جنيد او شبلي ټولو د ده حکومت دی او د هغه پر خلاف د دوی هيڅ شی هم منل کېدای نه شي.

دويم دا چې سنت د ابراهيمي دين هغه تګلاره ده چې رسول الله تر تجديد، سمون او ځينو زياتونو وروسته خپلو پيروانو ته د دين په توګه پرېښې ده. رسول الله ته-په قرانکريم کې د ابراهيمي ملت د پيروي امر شوی دی. دا تګلاره يې هم برخه ده. د ثبوت له مخې د هغې او قران کريم تر منځ هيڅ توپير نه شته. قران کريم د صحابه وو په اجماع او قولي تواتر رارسېدلی او سنت هم د دوی د عملي تواتر او اجماع له لاري راسېدلي دي او د قران کريم په څېر په هر وخت کې د مسلمانانو په اجماع ثابتېږي. په همدې وجه يې په اړه اختلاف او بحث ته اړتيا نه پاتېږي.

درېيم دا چې دين يوازي قرانکريم او سنت دی. له دې پرته نه هيڅ شی دين دی او نه دين بلل کېدای شي. د رسول الله د قول، فعل، تاييد او تقرير هغه آحاد خبرونه چې په عمومي ډول حديث بلل کېږي، په دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره نه په دين کي هيڅ عقيده او عمل نه شي زياتېداى. په هغو کي چي د دين په اړه کوم شيان بيانېږي، هغه په حقيقت کي له قران کريم او سنت سره د تړلي همدي دين تشريح، بيان او عمل په ډګر کي د رسول الله د اسوه حسنه بيان دى. احاديث تر همدې ځايه محدود دي. د دين په توګه له دې دايرې بهر نه کوم شى حديث دى او نه يوازي د حديث پر بنسټ منل کېداى شي. خو په دې دايره کي د ننه حديث پر هر هغه څه حجت دى چي له صحت څخه تر ډاډه کېدو وروسته يې د رسول الله د وينا، کړنې، تاييد او تقرير په توګه مني چي بيا بايد ور څخه سرغړونه ونه کړي، بلکي اړينه ده چي که په هغه کي د ده کوم حکم يا پرېکړه بيان شوې وي، نو په وړاندي يې د تسليمېدو سر ټيټ کړي.

(۲۰۱۰)

# د قران موضوع

يو عام لوستونکى هم په ډېره اسانۍ په دې پوهېږي چي موضوع يې هغه حقايق دي چي د هغو له منلو او په غوښتنو يې د عمل له کولو سره د انسان ابدي نجات تړلى دى. قران همدا حقايق د انساني نفس، چاپيريال او تاريخ په دلايلو ثابتوي، انسان يې منلو ته رابولي، د نه منلو له پايلو يې خبروي او د دې حقايقو غوښتنې تشريح کوي چي له دې پرته پر بل څه بحث نه کوي. په دې کي هم شک نه شته چي (که) قران د خپل دريځ د سپيناوي لپاره د طبيعي نړۍ په اړه کوم څه وايي نو هغه هيڅکله د حقيقت خلاف نه شي کېداى، مګر د دې نړۍ په اړه چي انساني عقل کوم علوم او فنون موندلي او په راتلونکي کي به يې هم کشف کړي، نو قران کريم پر هغو بحث نه کوي. دغه ډول کوم شى يې له سره د بحث موضوع نه ده.

مګر د افسوس ځاى دا دى چي د دې امت په تاريخ کي بيا -بيا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خلک په اصلي بڼه د دې کتاب منلو ته نه دي چمتو شوي. ځکه يې نو لومړی دا خبره دود کړه چې دا خو د خدای کتاب دی، له همدې امله بايد د نړۍ ټول علوم او فنون حتما پکښې وي. تر دې وروسته يې د خپلې دې دعوې د ثابتولو لپاره دا هڅه پيل کړه چې په څه ډول د دې علومو او فنونو مأخذ د قران په ايتونو کې پيدا کړي. پر همدې اساس يې د ژبې، بيان او د کلامي جوړښت هر دلالت ته له پام پرته ځينې وختونه د يوناني فلسفې او هام ورباندې ثابت کړل، کله د ځانګړي وخت د ساينسي مالوماتو په اړه دعوه وشوه چې دا په حقيقت کې د قران له فلاني او فلاني څخه اخيستل شوي، کله بيا د طب، ستور پوهنې او فلکياتو ځينې باورونه ورڅخه ترلاسه کړای شول او ځينې وختونه ورڅخه د اتم بم جوړولو او سپوږمۍ ته د تللو يادونه ورڅخه وايستل شوه.

خلکو دا هرڅه خوارۍ د دې لپاره وکښې چې د دې کتاب په اړه يې بيخي ناسم تصور خپل کړ. دوی په دې ونه پوهېدل چې د نړۍ رب تر دې کتاب وړاندې انسان ته عقل ورکړی دی. لکه څرنګه چې دا کتاب د خدای پېرزوينه ده، همدغسې عقل هم د هغه نعمت دی، په کومو چارو چې د هغه لپاره د عقل لارښوونه کافي ده، له هغو سره د اکتاب هيڅ اړه نه لري او دا کتاب چې پر کومو مسايلو بحث کوي، د هغو په اړه که عقل خپل وجود له ياده ونه باسي، نو د هغه له لارښونې هيڅکله بې نيازه کېدای نه شي.

دا يوازې د قران کريم کيسه نه ده، رسول الله د ځان په اړه هم خپلو پيروانو ته دا حقيقت په ډېرو ښکاره ټکو بيان کړی دی. د عايشې رض روايت دی چې رسول الله خلک د خورما د ونو پر پيوند کولو وليدل، نو هغوی ته يې وويل: دا مه کوئ همداسې سيې دي، په دې کال هغوی ونې پيوند نه کړې چې له امله يې ميوې کمې سوې، خلکو يې هغه ته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یادونه وکړه، نو ده وویل: تاسو په دې ډول چارو تر ما ښه پوهېږئ. زه د دې لپاره راغلی یم چې د خدای دین درته بیان کړم، ما ته یوازې په همدې برخه کې رجوع کوئ.*

که موږ غواړو چې له قران کریم څخه واقعي هدایت تر لاسه کړو نو اړینه ده چې هغه ته یوازې په دیني حقایقو او مسایلو د پوهېدو لپاره رجوع وکړو. د خپل خوب لپاره د کټ جوړولو او زهره و مریخ ته د خپل اواز د رسولو لپاره باید له خدای راکړې عقله کار واخلو. دا یو حقیقت دی چې هغه هیڅکله انسان د خپل صلاحیت په دایره کې ناهیلی کړی نه دی.

قران کریم د دې لارښوونې لپاره نازل شوی چې موږ په دې دنیا کې د خپل رب رضا د کومو شیانو په منلو او کوم شیانو په عملي کولو تر لاسه کولای شو. موږ باید د هغه په ایاتونو کې د خپلې خوښې د مضمون لوستلو پر ځای د ځان خواهشات د هغه پیروي ته اړباسو. الله تعالی په قران کریم کې ځای پر ځای دا خبره واضحه کړې چې له دې کتاب څخه د هدایت تر لاسه کولو لومړنی شرط همدا دی. ممکن یو څوک دا غوښتنه ولري چې د نړۍ ټول علوم او فنون په همدې یوه کتاب کې ووینې، مګر د هغه خواهش دا حقیقت نه شي بدلولای چې په دې کتاب کې یوازې د هغه علم بیان دی چې د انسان د ابدي نجات لپاره اړین دی.

(۱۹۸۷)

# د قرآنونو اختلاف

ما د خپل کتاب میزان د سریزې په اصول او مبادي کې لیکلي دي چې کوم قران په مصحف کې لیکل شوی او د لوېدیځ له څو سیمو پرته غوڅ اکثریت مسلمانان یې له هر ډول اختلاف پرته تلاوت کوي. دلته پوښتنه پیدا کېدای شي چې که قران کریم صرف همدا وي او عامو

* (مسلم، شمېره: ۶۱۲۶ – ۱۶۲۸)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمانانو تل لوستی او نورو ته ورښودلی وي، نو د دوی د علماوو تګلاره ولي بېله ده؟ بالاخره ولي داسي وشول چي د تفسير، احاديثو او فقهې پوهانو د همدې علومو له پيله د قران کريم ګڼو قرأتونو ته يوه درجه ورکړه او چي کوم يو يې خوښ شي، د خپل ذوق او ميلان له مخې ترجيح ورکوي، ان د امام مالک او امام شافعي په څېر ستر فقهاء او محدثين هم دا ويل بد نه ګڼي چي په دوی کي د يوه په اند د نافع او د بل په اند د ابن کثير قرأت راجح دی.

د دې پوښتنې ځواب دادی چي تر دې امامانو ډېر مخکي د مسلمانو علماوو لوی اکثريت دا نظر خپل کړی وو چي له اخبارو احادو څخه تر لاسه کيدونکی علم د عامو مسلمانانو لپاره ضروري نه دی خو علما او خواص بايد په هر حال کي ځان په پوه کړي او که رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې پر نسبت ډاډه شي نو د اخذ او استدلال په لحاظ له هغه علم سره هيڅ توپير نه لري چي په عامو مسلمانانو کي خپور دی او له يوه نسل څخه بل ته نقلېږي. امام شافعي په خپل مشهور کتاب الرساله کي ليکي:

وعلم الخاصة سنة من خبر الخاصة يعرفها العلماء، ولم يكلفها غيرهم، وهی موجودة فيهم او فی بعضهم بصدق الخاص المخبر عن رسول الله بها، و هذا اللازم لاهل العلم ان يصيروا اليه.

(شميره ۱۳۳۰)

د خواصو علم هغه سنت دی چي له خبر څخه يې تر لاسه کوي، علما پرې پوهېږي او عوام پرې مکلف نه دي. دا سنت ټولو پوهانو يا ځينو ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم له لوري د باورور خبر راوړونکي ورکوي او دا هغه علم دی چي دې لور ته بايد ضرور رجوع وکړي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته ځینو ثقه خلکو دا خبرې شروع کړې چې د مثال په ډول دوی د سورت فاتحې دریم نمبر ایت له یوه صحابي څخه د (مالک) پر ځای (مَلِک)، د بقرې لسم نمبر ایت (یکذبون) د ذال په تشدید (یکذّبون) او د نساء دوولسم نمبر ایت (یوصی) د معلومې په صیغه هم اوریدلی دی. علماوو دا خبر په هماغه ډول ومانی لکه رسول الله ته په نسبت چې نور اقوال او افعال منل کېدل. لامل یې بیخي روښانه دی، که دوی د قرآن کریم په اړه دا خبرونه نه وای قبول کړي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اجتهاداتو، پریکړو او د ده د تفهیم، بیان او اسوه حسنه په اړه د حدیثو منلو ته هم له علماوو سره د منلو هیڅ دلیل نه پاتي کېدی، مګر دا چې په کوم نص یې د توپیر دا جواز وړاندي کړی وای.

په قرآن کریم کي بېلابېل قرأتونه د تابعینو علماوو د همدې نظرونو پر بنسټ را منځ ته شول او ډېره زمانه هم نه وه تیره شوې چې په مسلمانانو کي د علم قرأت ماهرین پیدا شول او په دوی کي داسي کسان هم وو چې یوازي پر دې خبره یې اکتفا ونه کړه چې د عربانو له لهجې او اظهار، اخفا، ادغام، امالې، تفخیم، اشمام، اتمام او نورو سره سم دي قرآن ولوستل شي بلکي تر دې وړاندي ولاړل او د علم الخاصه د هغو اخبارونو په مټ یې چې وړاندي یې یادونه وشوه ځینو ته پر ځینو نورو ترجیح ورکړه او خپل یو ځانګړی قرأت یې هم را منځ ته کړ چې د هماغه په نوم مشهور شو لکه څرنګه چې د امام مالک، امام شافعي او د نورو امامانو فقه د دوی په نوم مشهوره ده. د علم قرأت دې ماهرینو ته له همدې امله اصحاب الاختیار ویل کېږي. د دې نتیجه دا شوه او همداسي باید شوي وای چې د علم زده کوونکي د دوی د قرأت د زده کړې لپاره دوی ته ورغلل لکه څرنګه چې خلکو د فقهې او حدیثو د زده کړې لپاره د هغو امامانو ته رجوع کوله. ډېر ځله داسي هم وشول چې هغوی یا تر دوی وروسته شاګردانو یې د هغې زمانې په علمي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مرکزونو لکه مکه، مدینه، کوفه، بصره، دمشق او نورو کي هستوګنه غوره کړه نو د هغه ښار علماء او قاریانو د هغه قرأت په دې ډول ومانه چي په اړه به يې ویل کېدل د دې ښار خلک د فلاني پر قرأت دي. له خلکو څخه مراد علماء او قاریان ول، عام خلک يې هیڅکله هدف نه ول. عام خلک داسي شیان په دې توګه نه ترک کوي او نه يې اختیاروي. همدا وجه ده چي دا حالت به بدلېدی او د هغه ښار علماوو به تر لږ وخت وروسته د یوه بل قاري قرأت غوره کاوی او همدا سبب دی چي له دې علمي مرکزونو دباندي په ټوله اسلامي نړۍ کي نه کوم بل قرأت تر لاسه کېږي او نه د دې ډول ترک و اختیار کوم اثار موندل کېدای شي. له دې حالت څخه یوازي قیروان ښار مستثنی دی، هلته قاضي عبدالله بن طالب د درېیمي هجري پېړۍ په اخیر کي دا امر وکړ چي خلک دي یوازي د نافع پر قرأت قرآن ولولي. * ځکه نو تر دې وروسته په قیروان او د هغه تر اثر لاندي ځینو لویدیځو سیمو کي عام مسلمانان همدا اسي قرأت ویلو ته مجبور شول او نن يې هم وايي. د دې امر لامل ښايي دا وو چي هغه خلک د مالکي فقهې پیروان ول او د امام مالک په اړه مخکي وویل شول چي هغه د نافع قرأت ته ترجیح ورکوله.

په ځینو ورو – وړو کلیو کي هم د علماوو د رسوخ له وجې دا کیسه وشوه. خو دا یو څو محدود ځایونه ول او دا مهال هم ځای – ځای موجود دي. له دې پرته په نوره نړۍ کي عام مسلمانان هیڅکله هم له دې بدلونونو متاثر نه شول او نه يې علماوو د اغیزمنولو کوښښ وکړ. دوا ړه پر خپلو طریقو تلل. په دې توګه په تفسیر، حدیث، فقه او نورو علومو کي د قرآن د مختلفو قرأتونو د استفادې روایت له پېړیو راهیسي له کومې انقطاع پرته دوام لري او نن هم تر ډېره حده موجود دي. علما يې په خپلو مجلسونو، لیکنو، بحثونو او مدرسو کي وايي

* ترتیب المدارک قاضي عیاض بن موسی ۱ / ۴۸۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او قاريان نن هم پر اوو. لسو او تر دې هم پر زياتو قرأتونو د قرآن کريم تلاوت کوي. خو هر څوک وينې چې په عامو مسلمانانو کې د قرآن يوازې يو قرأت مشهور دى. دوى دا قرأت له عامو اصحابو اخيستى دى او د امام شافعي له تعبير سره سم د عوامو يوه نسل بل نسل ته منتقل کړى دى. په دې کې شک نه شته چې دې ته د حفص روايت هم ويل کېږي خو دلته بايد کومه غلط فهمي را منځ ته نه شي ځکه يو شى يوازې قرأت وي او بل په هغه کې د عربانو له لهجې او فني نزاکتونو سره سم لکه اماله، تفخيم، اشباع، اختلاس، صله، اشمام، روم، ترقيق، تغليظ او نورو سره سم يې په ښه توګه ويل چې د کلام په مدعا کې هيڅ فرق نه راولي. په دې قرآن کې همدا دويم شى دى چې د حفص له روايت څخه اخيستل شوى دى او له همدې امله هغه ته منسوبېږي هم. ده له خپل استاذ عاصم څخه دا قرأت زده کړى دى او عاصم د دې فن د مشهور استاذ او تابعي ابو عبد الرحمن السلمي شاګرد وو چې زيات و کم څلويښت کاله يې په کوفه کې دا فني نزاکتونه زده کوونکو ته ښوول. د ده په اړه د اوو قرأتونو لومړني ترتيب کوونکي ابو بکر بن مجاهد په ښکاره ويلي دي چې ده د اختيار له روايتونو هيڅ استفاده نه کوله او هغه قرأت يې وايى چې عثمان غني رضى الله عنه پرې د خلکو د راټولولو هڅه کړې وه. هغه ليکلي دي:

اول من اقرأ بالكوفة القراءة التى جمع عثمان رضى الله عنه الناس عليها ابو عبد الرحمن السلمي. (السبعة فى القرأءات، ابو بكر بن مجاهد ١ / ٦٧)

په کوفه کې تر ټولو مخکې هغه قرأت چې عثمان خلک پرې را ټول کړي ول ابو بکر بن السلمي رواج کړ.

دا هماغه شخصيت دى چې په خلکو کې يې د بېلابېلو قرأتونو انتشار وليد نو خلکو ته يې د خبرداري په ډول وويل:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

كانت قراءة ابي بكر و عمر و عثمان و زيد بن ثابت و المهاجرين و الانصار واحدة، كانوا يقرؤن القراءة العامة، وهي القراءة التي قرأها رسول الله صلى الله عليه وسلم على جبريل مرتين في العام الذي قبض فيه، وكان زيد قد شهد العرضة الاخيرة، وكان يقرئ الناس بها حتى مات. (البرهان، الزركشي ۱/ ۳۳۱)

د ابوبکر، عمر، عثمان، زيد بن ثابت، ټولو مهاجرينو او انصارو يو قرأت وو. هغوی له عامه قرأت سره سم قرآن وايی، دا هماغه قرأت دی چې رسول الله د خپل وفات په کال دوه ځله جبريل امين ته قرآن په اورولی وو، په وروستۍ اورونه کې زيد بن ثابت هم هلته موجود وو. زيد تر خپله مرګه خلګو ته له همدې سره سم قران وايی.

دا هماغه قرأت دی چې نن زموږ په مصحفونو کې ثبت دی. له تاريخ څخه يوه وړه شاهدي هم نه شي وړاندې کېدای چې پر يوه قرأت د ټولو مسلمانانو د را غونډولو لپاره د عثمان رضی الله عنه او حجاج بن يوسف تر کوښښونو وروسته دې دا قرأت کوم عالم په خپل اغيز يا د کوم واکمن يا قاضي د خپل واک پر مهال په خپل زور په مسلمانانو کې د رواجولو هڅې کړې وې. لکه په لويديځ کې چې د نافع د قرأت په اړه وشول. تر اخيري اورونې وروسته رسول الله په خپله او تر ده وروسته يې ځای ناستو دا قرأت رواج کړ او همدا اسې رواج دی. د مسلمانانو قاريانو چې کله خپل خوښ قرأتونه ترتيبول او د دوی محدثينو د علم الخاصة احاديث را غونډول او فقهاوو و مفسرينو يې په مرسته د قرآن مشکلات حل کول، هغه مهال هم عامو مسلمانانو دا قرأت په ټوله دنيا کې وايی. د لومړۍ هجري پېړۍ په اخير کې چې مسلمانان هند ته ننوتل نو همدا تلاوت يې کاوی او د اتمې پېړۍ په اخير کې چې کله جوا، سماټرا، ملايا او د ختيځ نورو ټاپوګانو ته ورسېدل نو هغه وخت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې هم په لاسونو کي همدا قرآن وو او که خدای غوښتل تر اخرته به پاتي وي.

دلته يو څوک دا پوښتنه کولای شي چي له دې حقيقتونو سره که د مسلمانانو علم د علم الخاصة اخبار منلي دي نو د فراهي د مدرسې د علماوو چلند ولي بېل دی؟ زموږ جواب دادی چي د ثقاتو اخبار ردول د يوه عالم لپاره اسان کار نه دی، د دې لپاره نص په کار وو. که د دې مسئلې په اړه د سورت القيامة د اياتونو صحيح مفهوم په پيل کي واضح شوی وای نو د مسلمانانو علماوو، فقهاوو او مفسرينو به هم هغه څه کول چي د فراهي د مدرسې علماء يې کوي. امام حميد الدين فراهي د دې اياتونو صحيح مفهوم واضح کړی دی، نو هغه نص تر لاسه شو چي په استناد يې نن ويل کېدای شي د قرآن د قرأت په اړه که ټول اخبار صحيح هم وي نو د قرآن د ابدي مخاطبينو لپاره د وروستۍ اورونې قرأت نور ټول منسوخ کړي دي. له دې وجې په هيڅ ډول نه شي منل کېدای.* د قرآن امر دی چي تر جمع او ترتيب وروسته کوم قرأت د الله له خوا تائيد شي، مسلمان به تر قيامته د هغه پيروي کوي او هيڅ مسلمان د قرآن له دې حکم څخه د مخالفت جرأت نه شي کولای. قرآن وايي:

لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ * إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ* (القيامة ۷۵ : ۱۶ – ۱۸)

ته د قرآن د ژر اخيستنې لپاره خپله ژبه پر هغه مه چلوه. (دا همدا سي نازلېږي، ډاډه اوسه) د ده را

---

* د بخاري روايت که صحيح دی نو عمر رضی الله عنه هم د ابی بن کعب ډېر قرأتونه په همدې استدلال رد کړي ول، هغه همدا استدلال وړاندي کاوی چي لا ادع شيئا سمعته من رسول الله. زه د قرآن هغه هيڅ شی نه پرېږدم چي له رسول الله مي اوريدلی. (شميره ۴۴۸۱)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غونډول او اورونه زموږ
مسئوليت دی ځکه نو (هغه
وخت) چي څرنګه درته ويل کېږي
د هغه پيروي وکړه.

(۲۰۱۵)

## عام او خاص

د دنيا په هيڅ ژبه کي دا طريقه نه شته چي هر لفظ دي د يوې معنا لپاره او هر اسلوب دي د يوې مدعا لپاره وضع شوي وي. په عمومي توګه دا پر ګڼو معناوو دلالت کوي، نو دا فيصله چي په يو کلام کي دا لفظ د کوم مفهوم لپاره استعمال شوی دی؟ تل پر همدې بنياد کېږي چي د جملې جوړښت، د متکلم عرف، د کلام نظم، سياق و سباق او همداسي نور قراين څه حکم کوي؟ طريقه يې داسي ده چي ذهن ټول احتمالات خپلې مخې تهږدي، کله تر ډېر فکر او تدبر وروسته او کله بيا په لږ فکر خپله پريکړه کوي. د ژبې په اړه حقيقت همدا دی چي په اړه يې امام شافعي په خپل کتاب "الرساله" کي د قرآن کريم د عام و خاص په اړه ويلي دي چي ژبه د ګڼو معناوو احتمال لري. د ژبې خاص او عام چي کله هم د يوه کلام برخه کېږي نو لازمي نه ده چي په هر حال کي دي د هغې معنا لپاره استعمال شي چي ورته وضع شوی دی. د الله کتاب دا ډول نازل شوی دی چي لفظ يې عام وي خو د خاصې معنا لپاره استعمالېږي او لفظ خاص وي خو مراد يې عام وي.* نو نه د خاص په

*الرساله، الشافعي ۲۳۰. دا هماغه خبره ده چي ځيني کسان پرې نه دي پوه شوي او فکر يې کړی دی چي امام شافعي هم پر معانيو د الفاظو دلالت ظني ګڼي، په داسي حال کي چي د ده هدف دا دی چي په ژبه کي تر يوه د زياتو مفاهيمو احتمال شته ځکه نو يوه احتمال ته کتلو بايد ژر فيصله ونه شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړه ویل کېدای شي چي هغه د خپل مدلول لپاره قطعي دی او نه د عام په اړه چي هغه پر خپلو ټولو افرادو لازمي دلالت کوي. د اصولو د امامانو یوه ډله له دې سره اختلاف لري خو حق خبره داده چي په دې اړه د امام شافعي نظر صحیح دی، ځکه چي یوازي لفظ نه بلکي د استعمال ځای یې هم دی چي اورېدونکی یا لوستونکی خپل باوري مفهوم ته رسوي. ما د خپل کتاب میزان په مقدمه اصول او مبادي کي لیکلي دي:

> "په قرآن کي ځای پر ځای دا طریقه کارول شوې چي ظاهري الفاظ یې عام وي مګر د سیاق او سباق دلالت یې په پوره باور سره ښیي چي مراد یې عام نه دی، قرآن د اَلنَّاس لفظ ذکر کوي خو ټوله دنیا څه چي د ېر وختونه یې مراد د ټولو عربو وګړي هم نه وي، د عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ تعبیر غوره کوي خو مراد یې د نړۍ ټول دینونه نه وي، د اَلْمُشْرِكُوْنَ لفظ کاروي خو د ټولو مشرکینو په معنا یې نه اخلي، د اِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ الفاظ راوړي خو د ټولي نړۍ اهل کتاب یې هدف نه وي او د الانسان په لفظ خپله مدعا بیانوي، مګر مقصد یې د ادم ټوله اولاده نه وي. دا د قرآن عمومي اسلوب دي، که ورته پاملرنه ونه شي نو د تشریح او وضاحت پر مهال به د متکلم د کلام هدف بېخي له منځه ولاړ شي او خبره به له یوه ځایه بل ته ورسېږي. له همدې کبله اړینه ده چي په دې معامله کي د قرآن د عرف او سیاق و سباق واکمني یې پر الفاظو په هر حالت کي حاکمه وي." (میزان: ۲۳)

د ژبې نوعیت همداسي دی چي ورته په کتلو د قرآن پوهان او محققین غوښتنه کوي که هدف د متکلم اصل مقصد ته رسیدنه وي نو

---

بلکي باید فکر وشي چي پر یوه خاص ځای هغه کوم مفهوم دی چي د متکلم هدف به وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یوازې پر ظاهري الفاظو په غور نه شي کېدای بلکې باطن ته يې بايد وکتل شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د الهي کتاب همدا خدمت کړی دی او په خپلو وينا وو يې د هغه پټ او تضميني مفاهيم واضح کړي دي چې تر هغو رسېدل هغو کسانو ته ستونزمنه وه چې د لفظ او معنا تر نزاکتونو نه شوای رسېدلای. د امام شافعي ټينګار پر ځای دی چې تاسي بايد د ظاهري الفاظو پر بنياد د رسول له تفهيم او بيان څخه مخ وانه ړوئ. دا د قرآن بيان دی، په دې کي هيڅ شی د قرآن مخالف نه شته. د خدای پيغمبر د الهي کتاب تابع دی، هغه د دې کتاب مدعا بيانوي، هيڅکله هم تغيير او تبديل پکي نه راولي. امام په خپل کتاب کي د دې مثالونه ورکوي او بيا -بيا دا خبرداری ورکوي چې د قرآن د احکامو په اړه رسول الله څه ويلي دي هغه يوازې او يوازې بيان دی. که هغه ونه منل شي نو دا د قرآن پيروي نه ده، د هغه له حکمه سرغړونه ده ځکه متکلم يې هماغه څه غواړي چې د پيغمبر له تفهيم او بيان څخه ښکاري، د رسول د بيان منشاء له قرآن څخه بېله نه ده.

د امام شافعي تر دې خبرې بله ربښتني خبره نه شته! خو د امام د استدلال کمزوري داده چې پر دېرې ځايونو دا نه شي واضح کولای چې د لفظ او معنا کوم تړاو چې دی په بيان سره تعبيروي، هغه په دوی کي څرنګه پيدا کېږي؟ د همدې په پايله کي دی د رسول الله د علم او عمل پر څو داسي روايتونو ډاډمنېږي چې په هيڅ ډول يې بيان نه شو بللای. په داسي حال کي چې د هغو په اړه دا بحث هم کېدای شي چې هغو راويانو د رسول الله صلی الله علیه سلم په مدعا سم سر خلاص کړی او بيان کړی يې دی او که نه؟ د امام شافعي له نظر سره د اختلاف اصلي نقطه همدا ده.

ما په ميزان کي کوښښ کړی دی چې د امام د ريځ په پوره ډول روښانه کړم ځکه چې د اصولو له مخې هغه صحيح دی. کولای شئ د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

میزان د مقدمې د اصولو او مبادي په بحث کې د میزان او فرقان تر سرلیک لاندې ولولئ. له دې ځخه دا حقیقت روښانه کېږي چې د قرآن کریم د احکامو په اړه چې په روایتونو کې څه بیان شوي، هغه د قرآن د الفاظو هغه پټه معنا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو تشریحاتو کې ښکاره کړې ده. د قرآن زده کوونکي دي له دې ځخه د لفظ باطن ته کښته شي او پرې د پوهیدو تربیه دې تر لاسه کړي، له دې ځخه باید د ردولو او یا د قرآن د نسخې لپاره استدلال و نه شي.

(۲۰۱۱)

# حدیث او سنت

نبی علیه السلام دنیا ته قرآن ورکړی دی، له دې پرته چې یې کوم شیان د دین په ډول دنیا ته ورکړي دي، هغه په بنستیز ډول درې دي:

۱) هغه مستقل احکام او هدایات چې ابتدا یې له قرآن ځخه نه وي.

۲) د مستقلو احکامو او هدایاتو شرح، دا که په قرآن کې وي او یا دباندې.

۳) پر دې احکامو او هدایاتو د عمل بېلګې.

دا درې شیان دین دي. د دین په حیثیت یې هر مسلمان مني او لازما عمل په کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د نسبت تر ډاډ وروسته هیڅ مسلمان ترې د انحراف جرأت نه شي کولای. هغه ته همدا ښه ده چې که د مسلمان په حیث ژوند او مرګ غواړي نو له هر ډول تردد پرته دې د دې په وړاندې سر ټیټ کړي.

زموږ علماء د دې درې واړو لپاره د سنت لفظ استعمالوي. زه دا مناسبه نه بولم، زما په اند د لومړي ډول لپاره باید سنت، د دویم لپاره تفهیم او تبیین او د درېیم لپاره د اسوه حسنه اصطلاحات استعمال

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

شي. له دې څخه هدف دا دی چي تر یوه عنوان لاندي د اصل او فرعې له راوړلو چي کومه ګډوډي پیدا کیږي هغه لرې کړای شي.

دا یوازي د اصطلاحاتو اختلاف دی، که نه په حقیقت کي زما او د سلفو امامانو په موقف کي هیڅ فرق نه شته. پر ما نیوکه کوونکي که زما کتاب میزان په دقت وګوري نو دا شی فهمولای شي او د هیڅ غلط فهمۍ ښکار به نه شي، خو دا هیله تري نه لرم. خو د دین سنجیده زده کوونکی د دې ورځ دی چي د خپل دریځ د وضاحت لپاره ورته څو خبرې وکړم:

لومړی، د سنت په ذریعه چي د دین کومه برخه تر لاسه شوې د هغې یوه لویه حصه د ابراهیمي دین پر تجدید او اصلاح مشتمله ده. ټول محققین همدا مني. د دې معنا دا نه ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه کي یوازي جزوي زیاتونې کړې دي، هیڅکله نه! رسول الله پکي د مستقلو احکامو زیاتونې هم کړې دي. که څوک یې مثالونه غواړي نو په میزان کي یې کتلای شي. قرآن هم همداسي دی، د دین د کومو احکامو ابتدا چي له قرآنه شوې په تفصیل یې د میزان څه کم ۳۰۰ پاڼې ډکې شوې دي. زه د هغو د هر یوه شي منل او پرې عمل کول د ایمان تقاضا ګڼم، نو له دې وجې دا تور بالکل بې ځایه دی چي له پخوا د موجودو او معلومو شیانو پرته نوی حکم ورکول، یا په دین کي د نوې خبري اضافه کول زما په ګومان د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا قرآن کریم د کار په دایره کي شامل نه دي.

دویم، د سنتو د معلومولو قوانین څه دي؟ د دې د وضاحت لپاره ما د میزان په مقدمه اصول او مبادي کي د سنتو د تدبر تر اصولو لاندي بشپړ باب لیکلی دی. دا اووه اصول دي، د هغو په مټ هر د علم خاوند د یو شي د سنت والي او یا نه سنت والي پریکړه کولای شي. له همدې اصولو سره سم مي د سنتو یو لیست برابر کړی دی، کمی او زیاتوب

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پکي راتلای شي. د تحقيقي غلطۍ تر وضاحت و روسته په خپله هم کمی او زياتوب پکي راولم، ما هيڅکله دا شونتيا نه ده رد کړې.

دريم، له دې فهرست پرته چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم کومې وينا وې د دين په حيثيت په روايتونو کي نقل شوې دي له هغو څخه ځيني يې ما د تفهيم او تبيين او نوري بيا د اسوه حسنه په عنوانونو کي ځای پر ځای کړې دي. د عقايدو د تعبير کيسه هم داسي ده، په دې اړه چې کوم شيان په رواياتو کي راغلي دي هغه ټول د ميزان د ايمانياتو په باب کي کتلای شئ. دا هم "تفهيم او تبيين" دی. د علمي ډول کوم شيان چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته منسوب دي، د هغو لپاره صحيح لفظ زما په نظر همدغه دی. که له رسول الله څخه ثابت شي نو د دې نوعې هر حکم، هره فيصله او هر تعبير زه حجت بولم او ورسره کوچنی اختلاف هم زما په نظر له ايمان سره منافي دی.

(۲۰۰۹)

# د حديثو نوی تدوين

(په ترکيه کي د حديثو د نوي تدوين په اړه د يوې پوښتنې ځواب)

په حديثو د پوهيدنې لپاره دا حقيقت درک کول لازمي دي چې د دين يوازينی ماخذ د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ذات دی. له ده څخه دا دين په دوو طريقو موږ ته رسيدلی دی: يو قرآن او بل سنت. دا بلکل يقيني دي او د خپل ثبوت لپاره هيڅ ډول تحقيق ته محتاج نه دي. دا مسلمانانو په اجتماعي او د تواتر په ډول له يوه نسل څخه بل نسل ته نقل کړي دي. د دې معنا داده چې د مسلمانانو د هر نسل خلکو له څه اختلاف پرته له مخکينيو څخه اخيستي او وروستنيو ته يې رسولي دي. د رسالت له زمانې څخه واخله بيا تر ننه همدا لړۍ داسي روانه ده.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټول دین همدا دوې طریقې دي او د دین ټول احکام موږ له همدې ځخه اخلو. په دې کي ځیني وختونه ستونزې را منځ ته کیږي، کوم معاملات چي زموږ د اجتهاد لپاره پرېښوول شوي دي په هغو کي هم د لارښوونې اړتیا پیښیږي ځکه نو د دیني علماوو لور ته رجوع کیږي. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خدای پیغمبر وو، ځکه نو د دین تر ټولو لوړی او غټ عالم بلکي د ټولو عالمانو امام هم دی وو. د نورو دیني عالمانو په پرتله د ده یوه ځانګړنه دا وه چي په علم کي یې خطا نه وه ځکه چي د وحې تایید او تصویب ورسره وو. که دا علم یو ځای موجود وي نو هر مسلمان ته ښایي چي په قرآن او سنت د پوهیدو لپاره له هغه ځخه لارښوونه تر لاسه کړي.

موږ نیکمرغه یو چي دا علم موجود دی او د دې علم یوه لویه برخه موږ ته رسیدلې ده. له رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه دا علم د ده اصحابو زده کړی وو، خو د دې علم مخته وړل یو لوی مسئولیت وو ځکه نو ځینو احتیاط وکړ او نورو بیا حوصله وکړه بیان یې کړ. په دې علم کي هغه شیان وو چي دوی د ده له ژبې اوریدلي او یا یې په عملي ډول لیدلي وو، هغه لا هم پکښې وو چي د ده په وړاندې ترسره شوي او ده یې منعه نه وه کړې. همدې ټول علم ته حدیث ویل کیږي. د رسول الله په سیرت او سوانحو د پوهېدلو لپاره دا ډېره لویه ذریعه ده. په دې سره په دین کي د عقیدې و عمل زیاتونه نه شي کېدای، دا د همدې دین تشریح او وضاحت دی او پرې د عمل لپاره د رسول الله د اسوې حسنې بیان دی چي ده د قرآن او سنت په بڼه خپلو پیروانو ته ورکړی دی.

دا تر موږ څرنګه ورسېدل؟ تاریخ وایي چي د حدیثونو په بڼه لوړی صحابه وو خلګو ته ورسول. بیا چي کومو خلګو دا حدیثونه له دوی اوریدلي ول، هغوی نورو ته واورول. دا شفاهي هم نقل شول او ځینو لیکلي هم دي. یو دوه نسله همداسي روان ول، خو وروسته څرګنده شوه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي په بيانولو کي يې ځای پر ځای غلطۍ کېږي او ځيني کسان په ارادي ډول دروغ ورګډوي. دا هغه مهال وو چي د الله ځيني بندګان را پيدا شول او د دې حديثونو څېړنه يې پيل کړه، دوی ته محدثين ويل کېږي. دا ډېر لوی شخصيتونه ول، دوی د هر - هر روايت او د هغو د بيانوونکو تحقيق وکړ. تر کومه چي ممکنه وه غلط او صحيح يې سره بيل کړل او دروغ يې له رښتيا څخه جلا کړل. په دوی کي ځينو داسي کتابونه هم چمتو کړل چي په اړه يې تر ډېره حده په ډاډ ويل کېدای شي چي په دې کتابونو کي نقل شوي حديثونه تر ډېره حده د رسول الله صلی الله عليه وسلم علم دی چي راويانو په خپلو الفاظو کي بيان کړی دی. په علمي ژبه دې ته اخبار احاد ويل کېږي. د دې مطلب دادی چي دا صرف شميرل شويو کسانو بيان کړی دی، د قرآن و سنت په شان دا په اجماع او تواتر نه دي نقل شوي. په عمومي ډول منل شوې چي له دې څخه تر لاسه شوی علم د يقين درجې ته نه شي رسېدلای، له دوی څخه يوازي غالب ګومان تر لاسه کولای شو.

د حديثو د کومو کتابونو يادونه چي وشوه هغه ټول پر خپل ځای مهم دي. مګر د امام مالک، امام بخاري او امام مسلم کتابونه بنسټيز حيثيت لري او مستند ګڼل کېږي. لامل يې دادی چي دا تر ډېري څېړنې وروسته ترتيب شوي دي خو دا معنا نه لري چي د دوی تر تيبوونکو هيڅ تيروتنه نه ده کړې، د دې علم ماهرين پوهېږي چي له هغوی څخه په تحقيق کي غلطۍ شوې دي. پر همدې بنياد هغوی د حديثو کتابونه پر له پسې چڼي. که د يو حديث د بيانوونکو سيرت، عمل، حافظه او تقوا د باور وړ نه وي يا يې تر منځ د ملاقات امکان نه ليدل کېږي، يا د بيان شوي حديث مضمون د قرآن يا سنت خلاف وي، يا د علم او عقل له مسلماتو سره ټکر لري نو په ډاګه وايي چي دا د رسول الله خبره نه شي کېدای، دا په تيروتنه د هغه لور ته منسوبه شوې ده. له حديثونو څخه له اخيستل کيدونکي فهم او وضاحت سره هم همداسي چلند کېږي. علماء

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې اړه خپل نظرونه په همدې توګه وړاندې کوي. دا کار په هره زمانه کې شوی دی. دا اوس په تېره پېړۍ کې علامه ناصر الدين الباني په دې لړ کې ستر خدمت ترسره کړی دی، د حديثو پر زياتره کتابونو يې له نوي سره تحقيق کړی دی او يو ځل بيا يې د هغو د صحيح او سقيم د بېلولو هڅه وکړه. د ترکانو کومو علماوو چې دې خدمت ته اوږه ورکړه په لږ وکم توپير سره له همدې ډول سره تړلي دي. د دوی د فکر او تحقيق پايلې تر اوسه نه دي را ښکاره شوې، ځکه يې نو په اړه نظر نه شي ورکول کېدای. خو د کار د نوعيت په اړه چې يې کوم تفصيلات را ښکاره شوي، په هغو کې ظاهرا کوم د نيوکې ځای نه شته. لوړ چې د حديثو کوم حيثيت بيان شو، هغه ته په کتلو که د دې علم د منل شويو قاعدو له مخې د حديثو جاج واخيستل شي يا له نوي سره مرتب کړل شي، يا يې په هدف د پوهيدنې او يا يې د موقت او دايمي د جلا کولو نوې هڅې وشي په دې کې د نيوکې څه خبره ده؟ د علم او تحقيق دروازه په هيڅ دور او حال کې نه شي تړل کېدای. په دې کار کې که يو څه غلطۍ هم وشي نو د تشويش هيڅ خبره نه ده، نور علماء به يې په خپلو تنقيداتو را ښکاره کړي. علم له دې پرته په بل هيڅ ډول پرمختګ نه شي کولای چې خلکو ته په ازادۍ سره د کار کولو اجازه ورکړل شي. نوې لار په همدې ډول خلاصېږي او پخوانيو که غلطۍ کړې وي نو د هغو سمونه کېږي. د ترکي علماوو هڅو ته دې په همدې نظر وکتل شي، د دې خلکو حوصلې دې لوړې کړل شي چې د مسلمانانو په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د يوې ادارې په توګه دې خدمت ته اوږه ورکوي. د دوی کار که په معيار پوره وو نو يو ستر خدمت به وي او که بې معياره ثابت شو نو په بې ارزښته کېدو به د تاريخ رحم ته پاتې شي. علم ډېر بې رحمانه عدالت لري، ژر يا وروسته خپله پريکړه کوي. په داسې معاملو کې يې بايد د پريکړو په انتظار شو.

(۲۰۱۳)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

# معاصر موضوعات

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# اجتهاد

د اجتهاد اصطلاح له یوه حدیث څخه پیدا شوې ده. د محدثینو په اند دا حدیث منقطع دی خو د دې روایت یوه جمله د اسلامي فقهې د دې اصطلاح لپاره یو ماخذ ده. ویل کېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل یمن ته د عامل په توګه لیږه نو ترې وې پوښتل څنګه به فیصله کوې؟ ده وویل چې کتاب الله ته به رجوع کوم. رسول الله وپوښتل چې که په کتاب الله کې دې ونه موندل؟ ده ځواب ورکړ د پیغمبر سنت به ګورم. نو ده ترې وپوښتل: که هلته هم نه وو؟ معاذ وویل چې "اجتهد رأيي، لا آلو" له خپل نظر سره سم به اجتهاد کوم.

د اجتهد رأيي همدا الفاظ د اجتهاد ماخذ دي. د اصولو علماوو دا اصطلاح تل په هغو حدودو کې استعمال کړې ده چې له حدیث څخه معلومېږي یعني اجتهاد یوازې په هغو چارو کې کېږي چې په اړه یې قرآن و سنت خاموش وي. د هغو کارو په اړه اجتهاد نه شي کېدای چې په قرآن و سنت کې ښکاره بیان شوي دي. لامل یې دا دی چې د قرآن و سنت نصوص د تدبر ځایونه دي خو د اجتهاد نه. علماء د نصوصو د مقصد روښانولو لپاره ورته بیا –بیا رجوع کولای شي او په تاویل کې یې له یخوانیو سره اختلاف هم کولای شي، مګر یو حکم یا فیصله یې په خپل اجتهاد بدل او ځنډولای نه شي.

همدا د اجتهاد دایره ده. له معاذ سره که د رسول الله د خبرو روایت صحیح وي نو په دې روایت کې یې همدا حقیقت واضح کړی دی. لکه چې ځنې پوښتلي یې که په قرآن کې نه وو او په سنت کې هم نه؟ په قرآن او سنت کې که د یوه شي حکم وموندل شي نو مسلمان ترې انحراف نه شي کولای. د ده د ایمان غوښتنه ده چې سمدستي یې ومني. د اسلام



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

معنا هم دا ده چي د الله و رسول اطاعت وکړي. د راشده خلفاوو د ځينو احکامو په پوهيدنه کي د نن زماني ځيني مفکرين تيروتلي دي. حقيقت دادی چي له هغوی څخه يوه هم دا تصور نه شوای کولای چي د خدای يو حکم دي بدل يا هم وځنډوي. خلک چي د ځنډ يا تبديلۍ کوم فکر کوي هغه اصلاً د هغه حکم پټ حکمتونه دي چي خلفاء راشدينو په خپل عمل سره روښانه کړي دي. له دې څخه د احکامو د بدلون يا معطل کولو جواز پيدا کولو پر ځای بايد په قرآن او سنت کي تدبر او د هغو په اسلوبو د پوهيدو طريقه زده کړای شي.

په دې دايره کي دننه اجتهاد د هر مسلمان لپاره د اوبو او هوا په څېر ضروري دی. د دې دروازه هيڅکله نه شي تړل کېدای او حقيقت دادی چي تړل شوې هم نه ده. د ځينو خلکو له دې اصرار سره چي تر څلورمې پېړۍ وروسته دا دروازه بنده شوې ده، خو بيا هم داسي علماء، فقها او د مختلفو علومو او فنونو ماهرين پيدا شوي دي چي په هر دور کي يې اجتهاد کړی او اوس يې هم کوي. الله تعالی انسان ته علم او عقل ورکړي دي. دا نعمت انسان ته د دې لپاره ورکړل شوي چي د خپلو چارو په اړه لارښوونه ترې واخلي. هغه چارې نامعلومې هم کېدای شي او بېلابېلي هم. انسان ړوند او کوڼ نه دی چي د هر څه په اړه به لارښوونه له اسمانه تر لاسه کوي. الله يوازي د هغو چارو په اړه په شريعت کي لارښوونې کړې دي چي د خپل علم او عقل له مخې لارښوونو ته پکي اړتيا لري. د خدای حکم له همدې وجې ډېر محدود دي، ځکه نو اړتيا ده چي اجتهاد وشي. د پرمختګ راز په همدې اجتهاد کي نغښتی دی، له دې پرته ژوند مخته نه شي وړل کېدای. د مسلمانانو د زوال يو سبب دی چي د امت په سطح يې په طبعي علومو کي د تحقيق او په ټولنيزو چارو کي يې د اجتهاد وړتيا له لاسه ورکړې ده. دلته بايد دا خبره واضحه هم کړم چي اجتهاد هيڅ شرايط نه لري. خلک بايد اجتهاد وکړي، که له دوی څخه غلطي وشي نو د نورو په نيوکه به يې اصلاح



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړي. انسان په همدې سره مختته ځي او د لوړې درجې مجتهدين هم د دې عمل په نتيجه کي را پيدا شوي دي. په دې کي شک نه شته چي که د تقليد اصول و منل شي نو د هغو ټولو شرايطو منل لازمي دي چي د اجتهاد لپاره يې بيان کړي دي ځکه چي په دې صورت کي اصل شی په خپله اجتهاد او د هغه استدلال نه بلکي د مجتهد شخصيت دی چي د تقليد مرجع ګڼل کېږي. خو په صحابه او تابعينو کي علماوو او عوامو د خپلو ټولو فيصلو بنياد دليل ګڼلی دی نه مجتهد، بلکي اجتهاد به کتل کېږي چي تر کومې اندازې د علم او عقل په معيارونو پوره دی؟ په دې حالت کي که يو نا مسلمان هم د يوې مسئلې کوم معقول حل وړاندي کړي نو د نيوکې هيڅ خبره نه ده، بايد د ضالة المومن په ګڼلو سره و منل شي. دا يو حقيقت دی چي اوس مهال له سياست، اقتصاد، تمدن او نورو سره تړلي اصول او قوانين د نا مسلمانو په اجتهاد را منځ ته شوي او مسلمانانو منلي دي. يو ښه مثال يې ډيموکراسي، ډيموکراټيک ارزښتونه او له دې سره د تړلو ادارو قوانين دي. د ډيموکراسۍ اصل قرآن ورکړی وو، خو مسلمانانو ورته هيڅ سيستم جوړ نه کړای شو، دا سيستم نا مسلمانو جوړ کړ. خو که له دې سره و کتل شي علما، فقها او اکثر مذهبي ګوندونه دا نظام مني بلکي د پرمختګ لپاره يې د هڅو په لومړۍ کرښه کي دي. قرآن او سنت چي د کومو چارو په اړه پټه خوله دی، د هغو په اړه سم چلند همدا دی او بايد دوام ورکړل شي.

(۲۰۱۱)

# اجماع

د دين يوازيني ماخذ د رسول الله ذات دی. له ده څخه دا دين د ده د اصحابو په اجماع او قولي و عملي تواتر نقل شو او په دوو ډولونو تر موږ را ورسېد: يو قرآن او دويم سنت. تر ده وروسته اوس يوازي موږ له همدې دوو شيانو دين اخيستلای شو، له دې پرته که موږ يو شی د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خدای تر مقصده رسولای شي نو هغه اجتهاد دی. په دې سره موږ د ډېری هغو شیانو په احکامو د پوهیدو کوشش کوو چې مخامخ په نصوصو کې نه دي بیان شوي خو د نوعیت په لحاظ د هغو اطلاقات دي چې د خلګو رایې او فکر ته پریښودل شوي دي. قیاس د همدې یو ډول دی، په قرآن کې د دې لپاره د استنباط لفظ استعمال شوی دی. له دې ځخه چې کوم شیان را منځ ته کېږي تعبیر یې په فقه سره شوی دی. د دې پیل په خپله رسول الله په خپلو اجتهاداتو سره کړی وو. د احاد اخبارو یوه غټه ذخیره یې بیان دی، تر ده وروسته صحابه وو او تابعینو همدا طریقه وساتله خو کله چې د فقهاوو دور شروع شو نو له دې سره یې ځلورم شی هم ور زیات کړ چې د مسلمانانو اجماع ده. تر دې وروسته په عمومي ډول دا منل کېږي چې د اسلامي شریعت ځلورمه مرجع اجماع هم ده.

د دین په سرچینو کې دا زیاتونه یقینا یو بدعت ده. د قرآن او سنت په نصوصو کې د دې لپاره هیڅ بنسټ نه دی ایښوول شوی، د دې د اغیزو ارزونه که وشي نو روښانه به شي چې په دې سره د اسلامي شریعت تلپاتي توب ژوبل شوی دی او له ننني دور سره یې اړیکه (Relevance) ثابتول ستونزمن شوي دي. د کوچنۍ وچې مشهور عالم او داعي مولانا وحید الدین خان لیکي:

"په عمومي توګه فقهاوو اجماع (consensus) د شریعت یوه مستقله سرچینه بللې ده خو دا یو بې بنسټه نظر دی. د شریعت مستقله سرچینه یوازي باوري نص کېدای شي. د قطعي نص په نه شتون کې یو شی د شریعت مستقله سرچینه ګڼل یقینا یوه بې بنیاده خبره ده. له شک پرته اجماع یو ارزښت لري، خو هغه ارزښت یوازي دا کېدای شي چې پر یوه خاصه موکه اجماع د پېښې مسئلې یو عملي حل وړاندي کړي. دا حل لاره موقته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وي، هیڅکله د شریعت ابدي سرچینه نه شي کېدای." (الرساله ۲۰۱۱/۷)

فقهاء چي په کومو دلایلو د اجماع حجتیت ثابتوي که یې څوک په حقیقت پوهیدل غواړي نو د امام شوکاني ارشاد الفحول دي وګوري. هلته به ورته څرګنده شي چي دا څومره بې معنا او بې ربطه دلایل دي. د قرآن مجید یو ایت او یو حدیث داسي دي چي ځینو خلګو ته شک ور اچولای شي خو دلته یې حقیقت بیانوم.

الله تعالی وايي:

وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الۡهُدَى وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ الۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصۡلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتۡ مَصِيرًا

(النساء ۴: ۱۱۵)

او څوک چي د هدایت د لارې تر پوره واضح کیدو وروسته د رسول مخالفت وکړي او د هغو خلګو لار پرېږدي بله غوره کړي چي (پرتا) یې د زړه له اخلاصه ایمان راوړی، دوی موږ هغې لارې ته ور ګرزوو چي دوی خپله پر تللي دي او دوزخ ته به یې ور ننباسو، هغه ډېر بد ځای دی.

د فقهاوو استدلال داسي دی چي د مومنانو د لارې په پرېښودو که بله لار غوره کړای شي نو د جهنم اخطار ورکول شوی دی. د دې ښکاره معنا داده چي د مومنانو د لارې پیروي پر هر کس لازمه ده، ځکه نو که مسلمانان پر یوه نظر سره متفق شي نو له هغه څخه اختلاف نه شي کېدای. پر هر مومن واجبه ده چي د همدې اجماع پیروي به کوي.

دا چي دا استدلال څومره بې بنسټه دی، دا ایت له خپل سیاق سره ووینئ. مخکي د منافقینو له پټو مجلسونو پرده پورته شوې ده، د هغه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په اړه یې ویلي چي څوک د پیغمبر د مخالفت لپاره یوه بېله ډله جوړوي او په دې ډول د ایمان پر ځای د کفر او منافقت لار غوره کوي هغوی به جهنم ته دننه کړل شي. د ایت مخاطبین هغه څوک دي چي د مسلمانانو په ډله کي د همدې منافقینو د پاکولو کوشش یې کاوی، هغوی ته خبرداری ورکړل شوی چي دوی د چا وکالت کوي د هغوی دا مشاقة به یې سیده جهنم ته ورسوي ځکه چي دا د مومنانو لار نه ده او کوم څوک چي د هدایت د لارې تر پوره روښانتیا وروسته د کفر او منافقت لار اختیاروي د هغوی ځای جهنم دی. په همدې ایت کي د همدې کفر او منافقت لپاره د (غیر سبیل المؤمنین) الفاظ راغلي دی. په همدې کي له مومنینو څخه مراد صحابه دي چي په حق تر پوهیدا وروسته یې کله هم د خدای له پیغمبر سره بې وفایي او مخالفت نه دی کړی، بلکي په پوره اخلاص یې د ده متابعت وکړ او کوم امر چي ورکړل شو سر یې ورته ټیټ کړ. د ایمان، اخلاص، اتباع، اطاعت، خبرې منلو او غاړې ایښودو له همدې رویې څخه په ایت کي په (سبیل المؤمنین) سره تعبیر شوی دی. که دا پرېښودل شي او هره لار غوره کړل شي نو هغه (غیر سبیل المؤمنین) ده او پر همدې لار تلونکو ته د جهنم وعید اورول شوی دی. هیڅکله یې معنا دا نه ده چي د مومنانو له نظرونو، اجتهادونو او تعبیرونو سره اختلاف نه دی کړی، یا که دوی په اجماع کوم موقف غوره کړي یا د قرآن او سنت په رڼا کي پر هغه نیوکه وشي نو دا انسان د جهنم مستحق کېږي. حقیقت دا دی چي په ایت کي له دې مسئلې هیڅ بحث نه دی شوی، هلته چي کومه خبره شوې ده هغه یوازې داده چي د هدایت د لارې تر پوره روښانتیا وروسته که څوک د خدای د لیږل شوي لارښود مخالفت وکړي او په مقابل کي یې د خپلې ډلې د جوړولو ګستاخي وکړي نو دا څرګند کفر دی چي له ایمان سره هیڅ اړه نه لري. دا ډول خلک به خدای پر هغه لار پرېږدي چي په خپله یې ځان ته ټاکلې، خدای ویلي چي د دې لارې غوره کوونکي کسان دې جهنم ته د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تلو انتظار باسي. عيني همدا معامله د حديث هم ده، پيغمبر عليه السلام ته منسوب يوه حديث کي راغلي چي ( ان الله لا يجمع امتى على ضلالة ) ياني خداى زما امت پر ګمراهۍ نه را ټولوي. که څه هم دا يو کمزوری روايت دی ځکه نو د حديثو معتبرو کتابونو بخاري، مسلم او موطا نه دی را نقل کړی خو که ومنل شي چي رسول الله خپل امت ته دا زيری ورکړی دی خو ايا د دې دا معنا ده چي له امت څخه هيڅ خطا نه شي کېدای؟ حقيقت دا دی چي د خطا او ضلالت تر منځ د ځمکې او اسمان فرق دی، په حديث کي چي کوم څه ويل شوي هغه له ضلالت سره اړه لري، نه له خطا سره. پر ګمراهۍ د ټول امت را جمع کول رښتيا هم امکان نه لري، د دين په معامله کي د هدايت او ضلالت توپير د اتمام حجت په درجه کي واضح کېدای شي نو عقلا محاله ده چي د امت ټول علماء، مجتهدين او د حل و عقد خاوندان شرک شرک وګڼي او پر هماغه سره را غونډ شي، يا د رسول الله له رسالت څخه انکار وکړي، يا په اخرت کي د جواب له ورکولو منکر شي، يا د لمانځه، روژې، زکات، حج او قربانۍ په څېر احکامو څخه انحراف وکړي. دا ډول مسايل د امت لپاره د بديهياتو حيثيت لري، له دوی څخه پر انحراف اجماع کېدلای نه شي. د دې بر خلاف چي کوم شيان د تدبر او اجتهاد وړ دي د هغوی په پوهيدنه کي غلطي کېدای شي او د امت ټول خلک پر هماغه غلطي را غونډېدای هم شي. په عقل او نقل کي هيڅ داسي شی نه شته چي له امله يې مونږ دا منع وګڼو نو که رسول الله ته منسوب حديث صحيح هم شي نو له الفاظو يې ښکاري چي دا خبره يې پر ګمراهۍ د امت د را ټوليدو په اړه دی او د ګمراهۍ په اړه دا په يقيني ډول ويل کېدای شي چي مسلمانان هيڅکله نه و ر باندي را غونډېږي. د فکر و اجتهاد او د فهم و تدبر يوه تيروتنه له اجماع سره هيڅ اړه نه لري.

(٢٠١١)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# زموږ بلنه

دین د الله تعالی هدایت دی چې لومړی یې د انسان په فطرت کې ایښی او وروسته یې له ټولو ضروري تفصیلاتو سره د خپلو پیغمبرانو په وسیله انسان ته ورکړی دی. د دې لړۍ وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی. نو د دین یوازینۍ سرچینه د ده ذات دی او حق دین هماغه دی چې ده راوړی. *

موږ د نړۍ ټولو انسانانو ته پر دې دین د ایمان او له دې سره سم د انفرادي او اجتماعي ژوند د تزکیې دعوت ورکوو. څوک چې دا دعوت قبول کړي، بدله یې د خدای جنت دی چې پراخي یې د ټولو کایناتو د پراختیا په اندازه ده چې هلته له ژوند سره د مرګ، له خوند سره د درد، له خوښۍ سره د غم، له ډاډ سره د لالهاندۍ، له راحت سره د تکلیف او له نعمت سره د محرومیت هیڅ تصور نه شته. ارام یې تلپاتی دی، خوند یې بې انتها دی، شپه او ورځ یې همیشنۍ دي، روغتیا یې ابدي ده، خوشالي یې بې پناه نه لري. ښایست یې زوال او کمال یې انتها نه لري. الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره په دې کې هغه څه چمتو کړي دي چې نه سترګو لیدلي دي، نه غوږو اوریدلي او نه د یو انسان په زړه کې د دې خیال ور ګرزیدلی دی. *

دا مهال چې کوم کسان دا دین مني هغوی ته هم موږ بلنه ورکوو چې د خدای د دې جنت تر لاسه کولو لپاره دي خپل عمل له خپل ایمان سره سم کړي، د خدای او د ده د بندګانو حقوق دي په پوره دینداري او اخلاص ادا کړي او د چا پر مال، ځان او عزت دي تیری نه کوي. *

---

* الجمعه ۶۲ : ۲

* الاعلی ۷۸ : ۱۴ – ۱۷

* النحل ۱۶ : ۹۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

موږ دوی ته بلنه ورکوو چې په خپل چاپېریال کې دې له خپل توان سره سم یو بل ته د نیکو توصیه کوي او له بدۍ دې منعه کوي. دا د دوی مسئولیت دی چې خدای ورته سپارلی. دا باید پلار د زوی لپاره، زوی د پلار لپاره، میره د ښځې لپاره، ښځه د میره لپاره، ورور د خور لپاره، خور د ورور لپاره، ملګری د ملګري لپاره او ګاونډی د ګاونډي لپاره لنډه دا چې هر کس دې د خپل اړوند کس لپاره دا مسئولیت ادا کړي. که چا ته معلومه شي چې د ده په اړوندو کسانو کې یو چا د حق خلاف لار غوره کړې ده نو ده ته په کار ده چې له خپل علم، استعداد او صلاحیت سره سم دې د هغه د تګلارې بدلولو نصیحت ورته وکړي. *

د دین او دنیا په کومو چارو کې چې د ده جذبات، تعصبونه، ګټې او غوښتنې دی له حق څخه را ګرزوي نو باید پر حق پاتي شي، بلکه که حق و انصاف د شاهدۍ غوښتنه تړې وکړي نو د ځان په قربانۍ سره باید دا غوښتنه پوره کړي. حق دې وایي، حق ته دې سر ټیټوي، د انصاف شاهدي دې ورکوي او په خپل باور او عمل کې دې له انصاف پرته هیڅ شی نه مني. *

که د مذهبي جبر (persecution) ښکار شي نو د تشدد په جواب کې دې د تشدد طریقه نه غوره کوي بلکې صبر دې وکړي *او که شونې وه چیرته چې له دې حالت سره مخ شوی دا سې ځای ته دې تړې ولاړ شي چې په ښکاره پر خپل دین عمل کولای شي. *

اوس مهال د فراهي د مدرسې سترو علماوو د خدای په مرسته حق دین د فقهې، کلام، فلسفې او تصوف له ټولو ګډوډیو جلا کړی او له

---

* التوبة ۹ : ۷۱

* النساء ۴ : ۱۳۵ . المائدة ۵ : ۸

* حم السجدة ۴۱ : ۳۳ - ۳۵

* النساء ۴ : ۹۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

څه کمتوب و زیاتوب پرته یې یوازې د قرآن و سنت پر بنسټ بیان کړی دی. د دې دین خپرول، له دې سره سم خلکو ته روزنه ورکول او د دې په رڼا کې د مسلمانانو د نوي مذهبي فکر جوړول یو ستر جهاد دی. موږ دوی ته بلنه ورکوو چې په خپل ملاتړ، وخت او وسایلو دې په دې جهاد کې زموږ مرسته وکړي. دا د خدای د رښتني دین کومک دی چې مومن ته باید تر دې بل هیڅ شی ګران نه وي.*

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ (الصف ۶۱ : ۱۴)

مومنانو! د الله مرسته وکړئ لکه څرنګه چې عیسی د مریم زوی حواریونو ته ویلي وو: څوک د الله په لار کې زما مرسته کوي؟ حواریونو ځواب ورکړ موږ د الله کومک کوونکي یو.

(۲۰۱۲)

## د مسلمانانو زوال

مسلمانان کم و زیات زر کاله د نړۍ یو ستر طاقت پاتې شوي دي. په پوهه، سیاست او دولت کې یې هیڅ ملت مقابله نه شوای کولای. پر ټوله نړۍ یې حکومت کاوی، دا پاچاهي دوی ته خدای ورکړې وه او خدای ترې واخیسته. د قومونو د عروج او زوال په اړه د خدای قانون دادی چې هغه د سرلوړۍ لپاره څوک غوارې د خپل ازموینې له قانون سره سم یې انتخابوي، کله چې یې یو ځل منتخب کړي نو بیا یې دا حالت هغه مهال بدلوي چې د پوهې او اخلاقو له مخې دوی په خپله ځان په پوره ډول ذلالت ته ور و غورځوي.

---

*التوبة ۹ : ۲۴



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمانان له يوه بل شي سره هم مخ دي، د دوی مرکزي خلګ تل عرب پاتي شوي، هغوی زياتره د اسماعيل اولاد دي او د اسماعيل په اړه خو معلومه ده چي د ابراهيم زوی دی نو پر دوی د دې الهي سنتو اطلاق هم کېږي چي په قرآن کي زياتره د ابراهيم د اولادې په اړه بيان شوي دي. هغه سنت دا دي چي که دا خلګ پر حق پاتي شول نو د ملتونو امامت به تر لاسه کړي او که يې انحراف تري وکړ نو له دې منصب څخه به په لرې کېدو د ذلت او محکوميت په عذاب اخته شي.

مسلمانان چي په کوم عذاب اخته دي دا د نورو د توطيو پايله نه ده لکه زموږ مذهبي او سياسي مشران چي وايي. دا معلوم اسباب لري او د هغو له مخې دا کار شوی دی. د دې تر شا د خدای د زوال او عروج اصول دي. د هغو په رڼا کي دي پرې د پوهيدو کوشش وشي نو د زوال اسباب به بلکل روښانه شي.

دا درې اصول دي:

لومړی، مسلمانانو ته الهي کتاب ورسپارل شوی دی. دا يوازي کتاب نه دی، دا د خدای ميزان دی، د دې لپاره نازل شوی دی چي د دين په برخه کي د حق و باطل ټولي فيصلې پر همدې وتللې شي. مسلمانان خپل ټول اختلافات ده ته وړاندي کړي او دی چي هره پريکړه وکړي له کوم ځنډ پرته ومنل شي. قرآن بايد د دوی د پوهي او عمل مرکز وي. د ايمان، عقيدې، دين او شريعت په ټولو چارو کي به همدا مرجع وي، هر تحقيق، هر فکر او هر نظر به تل د همدې تابع وي، تر دې چي د خدای د پيغمبرانو خبرې به هم د قرآن له مخې منل کېږي. له بده مرغه له تيرو څو پېړيو راهيسي مسلمانانو په خپل علم او عمل کي الهي کتاب ته ځای نه دی ورکړی لکه د اقبال په الفاظو کي د " خوار از مهجوری قرآن شدی " په برخليک اخته شوي دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویم، دنیا د اسبابو کور ده. دا اسباب زیاتره په ساینسي علومو کي د انسانانو له مهارت څخه را پیدا شوي دي. خدای چي خپلې کومې خزانې په ځمکه او اسمان کي ښخې کړې دي، هغه د همدې مهارت په مټ را وویستل شوې. د انسان تاریخ شاهدي ورکوي چي د ده عروج او زوال یوې خوا ته، ان د ده مرګ او ژوند هم په همدې علومو کي تر ډېره حده پر مهارت را څرخي. د اور له موندنې واخله او د اربې له ایجاده واخله بیا د اوس مهال تر حیرانوونکو موندنو پوري دا حقیقت د تاریخ پر هره پاڼه ثبت دی. مسلمانانو له دې علومو سره دلچسپي پیدا کړه مګر ذهین خلګ یې تر ډېره په فلسفه او تصوف کي ونښتل په داسي حال کي چي دې ته هیڅ اړتیا نه وه. فلسفه او تصوف چي د کومو پوښتنو په اړه بحث کوي، د خدای کتاب یې د حتمي حجت په حیث له جوابونو سره نازل شوی دی. په دې علومو د مسلمانانو بوختیدا هغوی له الهي کتاب او ساینس څخه لرې کړل. په مدرسو کي دوی اوس هم د فلسفې او تصوف هغه بحثونه تکراروي چي د (علم لا ینفع) ښه مثال دي. مسلمانانو ته حیراني ده چي دنیا له کومه تر کومه ورسیده او دوی چیرته پاتي دي؟.

دریم، مسلمان له اخلاقي تربیې په شدید غفلت اخته دي. د همدې پایله ده چي درواغ، بې دیانتي، بخل، خیانت، غلا، غصب، سود خوړل، په تول او کچه کي کمي، بهتان تړل، وعده خلافي، په بې ګټې علومو بوختیا، د یوه بل تکفیرول، د قبرونو عبادت، مشرکانه رواجونه، بې ګټې ساتیري او داسي نور جرایم د مسلمانانو په ټولنو کي دومره عام دي چي سړی حیران ورته پاتېږي. د بني اسرائیلو همدا جرمونه ول چي د خدای نبیانو لعنت وربانديو وکړ او د تل لپاره یې د خدای له رحمته لرې کړل. مسلمانان هم دې حد ته رسیدلي دي، که یې انځور کتنه غواړئ نو د انجیل په پاڼو کي یې کتلای شئ. چیري چي عیسی علیه السلام د بني اسرائیلو د علماوو، پیرانو، پوهانو او

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مخورو بد اعمال بیان کړي دي. د مسلمانانو هر دیوال، کوڅه او بازار چیغې وهي: دا مسلمانان دي چې په لیدو یې یهود شرمېږي.

د مسلمانانو د زوال اسباب همدا دي. که غواړي چې له دې انحطاط او زوال څخه ووزي نو نه له جهاد او قتال څخه څه جوړېږي او نه د مبارزې له خوځښتونو. له سرنګاپټم څخه تر افغانستانه د تیرو دوو سوو کالو تاریخ همدا وایي. له دې حالته د وتلو لپاره باید هغه اسباب ختم کړل شي چې له کبله یې دا زوال راغلی دی، که نه دا ذلت او محکومیت به یې تل په برخه وي. د خدای قانون له کومې استثنا پرته پر هر چا تطبیقېږي. دوی چې له نورو سره په جنګیدو له دې حالته د وتلو هڅه کوي نو په حقیقت کې له خدای سره جنګېږي، چا چې پر دوی خپل (اولی بأس شدید) بندګان مسلط کړي دي. دا د خدای عذاب دی. له دې څخه د ژغورنې لارې هغه نه دي چې د دوی مذهبي او سیاسي مشران او د دوی په ګومان مجاهدین یې ورښیي. پر دې لارو په تلو نه دوی په خپلو ملکونو کې د سترو طاقتونو اغیز ختمولای شي او نه له فلسطین و کشمیر څخه یهود او هنود ایستلای شي. دوی دې په قرآن او بایبل دواړو کې د انبیاوو دعوت مطالعه کړي، د خدای پیغمبر که د بابل د محاصرې په وخت کې راغلی وي او که د رومیانو د واکمنۍ پر مهال، هیڅکله یې خپلو خلکو ته دا لار نه ده ورښوولې. هغوی د خپل قوم جرمونه دوی ته ښوول، دوی ییا د نورو جرمونه پلټهي او په ښکاره یې خپلو خلکو ته او رونه خپل هنر بولي. قرآن کریم زموږ په لاسونو کې دی، له پیله تر پایه یې ووایاست. د بابل او روم د واکمنو پر خلاف به د ترټنې یو لفظ هم ونه وینئ، بلکې هر ځای یې د بني اسرائیلو بدی بیان کړې دي. نن باید مسلمانانو ته همدا واورول شي، ځکه خدای چې له اسرایلو سره کومه وعده کړې وه هغه یې له مسلمانانو سره هم کړې، دا چې تاسو خپله وعده پوره کړئ زه به له تاسو سره کړې ژمنه پوره کوم، زما د رحمت انتظار کوئ، خو که پر همدې لارو ځئ نو زه هم پر هغه لار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځم چې پرې روان یم او زما د عذاب قمچینه به مو پر خیټه لګېږي. فاعتبروا یا اولی الابصار!

(۲۰۱۰)

# دیني بنسټ پالنه

دا خبره اوس روښانه ده چې د پاکستان د حکومت لپاره اوس مهال ستره ستونزه دیني بنسټ پالنه ده. زموږ بدمرغي ده چې فکرونو مو اوس تر قلم او ژبې په تیریدو د وژنې، لوټونې او ترهګرۍ بڼه غوره کړې. سیاست، اقتصاد، ټولنه او هر شی یې په غیږ کې اخیستي او زرګونه ماشومان، بوډاګان او ځوانان یې قرباني شوي دي. تاریخ راته وايي چې په داسې حالت کې باید اخیر د جګړې پریکړه وشي او زموږ حکومت به یوه ورځ غالبا همداسې کوي. بیا به دا توبه هم کاږي چې چې په راتلونکي کې به هیڅکله دین د سیاسي موخو لپاره استعمال نه کړو. که دا وخت را ورسېږي نو د بنسټ پالنې د له منځه وړلو لپاره باید دا څو ټکي په پام کې ونیول شي:

لومړۍ دا چې بنسټ پالنه له اسمان څخه نه ده را کښته شوې، دا د هغه دیني فکر فاسد تولید دی چې د شریعت د نفاذ، د جهاد و قتال تر نوم لاندې د کفر، شرک او ارتداد د له منځه وړلو لپاره زموږ په مدرسو کې ویل کېږي او ورته ویل کېږي. بنسټ پالي کسان او ګوندونه له دې څخه الهام تر لاسه کوي او تر یو څه ترمیماتو وروسته یې د خپلو اهدافو لپاره عملي کوي. دا مذهبي فکر چې د قرآن و حدیث پر کومو تعبیراتو ولاړ دی د هغو ناسموالی د نن زمانې مشهورو مسلمانو مفکرینو بیان کړی دی. د علم او استدلال په وړاندې که احتجاج، غالمغال او زور له منځه ولاړ شي نو د دې مفکرینو افکار ذهنونه بدلولای شي. د رواجي مذهبي ذهنیت په وړاندې دا ځوابي غبرګون



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(counter narrative) دی. خو د پاکستان ستونزه داده چي په هغه کي د دين او شريعت د ساتني همدا طريقه رواج ده. په ښه توګه د مخالف فکر د زغم کولتور دلته هيڅکله ونه غوړيد. د دې حالت تقاضا داده چي زموږ پوهان او مخور د مذهبي افکارو د ازادانه بيان په لړ کي هماغه ډول حساس وي لکه د سياسي افکارو په لړ کي چي حساس دي او څوک چي د دې ازاد بيان مخنيوی کوي په ښکاره ورته ووايي چي دا زورزياتی يې د منلو وړ نه دی. که هغوی غواړي چي د خپلو فکري مخالفينو تيروتني ښکاره کړي نو هغوی يې هم بايد د علم او دليل په ژبه بيان کړي. د علم په نړۍ کي جبر او استبداد هيڅ ځای نه لري. پوهان او د حل و عقد خاوندان دي هم په هغه څه د پوهېدو کوشش وکړي چي وړاندي بيان شول. د مسلمانانو په ټولنه کي د سيکولريزم د تبليغ پر ځای د مذهبي فکر په مقابل کي يو اصلاحي مذهبي غبرګون حالت سمولای شي. علامه اقبال د (نويو اسلامي الهياتو) تر عنوان لاندي همدې خبرې ته اشاره کړې وه.

دويم دا چي موږ چا ته اجازه نه ورکوو چي له دوولس کلنو عمومي زده کړو پرته ماشومانو ته په ډاکټرۍ، انجينرۍ يا بله څانګه کي د تخصصي زده کړو ورکولو اداري جوړي کړي. خو د ديني عالم کيدو لپاره داسي هيڅ بنديز نه شته. د دې هدف لپاره زده کوونکي له پيله مدرسو ته ځي، چيري چي يې د راتلونکي پريکړه کېږي. قدرت ښايي هغه ته د ډاکټرۍ، انجينرۍ، ساينس پوه کېدو، شاعرۍ او انځورګرۍ استعداد ورکړی وي خو دا مدرسې يې وړتيا، ذوق او تمايل ته له کتلو پرته هغوی ديني عالمان کوي او د شعور عمر ته په رسيدو د ژوند د نورو څانګو د انتخاب فرصت ورنه يې له لاسه باسي. بيا چي کوم څوک د دين عالمان کوي، له له دوولس کلنو زده کړو د محروميدو له وجې يې شخصيت داسي روزل کېږي چي په خپله ټولنه کي پردی وي. د دې تيروتني پايلې اوس ټول ملت زغمي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نو لازمه ده چي ديني ښوونيزي اداري هم د نورو ځانګړو علومو د ادارو په څېر دې ته پابندې کړل شي چي له دوولس کلنو عمومي زده کړو پرته به هيڅ زده کوونکی په خپلو ادارو کي نه مني.

موږ په ډاډ ويلای شو چي يوازي دا ګام هغه حالت بدلولای شي چي دا مهال د ديني ښوونيزو ادارو له خوا را پيدا شوی دی. خو د دې لپاره اړينه ده چي د عمومي زده کړو نظام چي د ژوند د هرې څانګې د ځانګړو زده کړو لپاره کوم مهارت را پيدا کوي د ديني عالم کيدو لپاره هم بايد دا اساتتيا ولري. د دې لپاره مو وړانديز دادی چي د عمومي زده کړو په څو ټاکلو ادارو کي دي د ساينس او هنرونو په څېر ديني زده کړې هم شاملې شي تر څو هغه کسان چي غواړي ديني عالمان شي، هغوی د خپلو زده کړو له نهم ټولګي څخه همدا لار انتخاب کړي او د دې څانګې د تخصصي زده کړو په ادارو کي د شموليت وړتيا په ځان کي پيدا کړي.

درېيم دا چي د بنسټ پالنې د له منځه وړلو لپاره بايد د ملايانو هغه واک ختم کړل شي چي د منبر او مسجد په واسطه يې زموږ په هيواد کي پيدا کړی دی. علماء په دې پوهېږي چي د جمعې د لمانځه په اړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت دا وو چي د لمانځه امامت او خطبه به د حکومت مشر او د ده ټاکلو چارواکو ورکوله. له دې پرته که بل څوک د دوی د معذرت له وجې د جمعې پر منبر درېږي نو د دوی په اجازه او د دوی د ځای ناستو په حيثيت به درېږي.

تر رسول الله صلی الله عليه وسلم وروسته همدا سنت په همدې ډول وساتل شول، خو وروسته چي چارواکي د خپلو اعمالو له وجې د دې وړ پاتي نه شول نو دوی منبر علماوو ته وسپاری. د دين په نوم د فتنې او فساد اصلي زور له همدې ځايه تر لاسه شو. دا حالت بدليدل غواړي او زموږ چارواکي بايد په بشپړ هوډ سره دا پريکړه وکړي چي د دې لمانځه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

مسئولیت به حکومت اخلي او يوازي پر هغو ځایونو به کېږي چې د حکومت له لوري ورته ټاکل کېږي. منبر به یې د چارواکو لپاره ځانګړی کېږي، په خپله به د دې لمانځه خطبه ورکوي او امامت به یې کوي، یا به د چارواکو په اجازه نماینده دا مسئولیت اخلي. د حکومت په حدودو کې دننه هیڅ څوک پر خپل سر د دې لمانځه لپاره خلک نه شي را غونډولای.

دا پریکړه هم باید وشي چې د عامو لمنځونو لپاره به هم مسجدونه د حکومت په اجازه جوړېږي. هغه به د یوې خاصې ډلې یا فکري مکتب مسجد نه وي، بلکې د خدای مسجد به وي او یوازې د همده عبادت به پکې کېږي. مسجد د مسلمانانو یوه ټولنیزه اداره ده، دا اداره به د افرادو او ډلو کنټرول ته نه ورکول کېږي. نو په کوم ځای کې چې د مسلمانانو حکومت وي باید پر مسجدونو خپل واک وساتي او هیچاته اجازه ورنه کړي چې مسجدونه د خپلو ګوندي ګټو او خاصو افکارو د خپراوي لپاره استعمال کړي او په دې توګه د خدای د عبادت ځایونه د مسلمانانو د بیلتون په مرکزونو بدل کړي.

دې ته سخته اړتیا ده، که غواړي چې څوک د دې اقداماتو ګټورې پایلې ووینې نو هغه هیوادونه دې وګوري چې د مسجدونو د کنټرول لپاره یې همدا طریقه غوره کړې ده.

(۲۰۱۳)

# د بدن د غړو نښلول

په تیرو دوو پېړیو کې چې ساینس کوم پرمختګ کړی دی او د انسانیت لپاره یې کومې اسانتیاوې را منځ ته کړې دي، په هغو کې یو شی دا دی چې د جراحي عملیاتو په وسیله د یوه انسان نیمګړي غړي د بل انسان په روغو غړو بدلولای شي. دا کار په ژوند کې هم کېدای شي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او تر مرګ وروسته هم. دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې ایا د دین او شریعت له مخې دا روا ده چې یو کس په خپل ژوند کې د بدن یو غړی بل ته ډالۍ کړي یا وصیت وکړي چې تر مرګ وروسته یې د بدن غړي بل چا ته ورکړل شي؟

د دې پوښتنې ځواب باید مثبت وي، ځکه په قرآن او حدیث کې ظاهرا داسې کوم شی نه شته چې منع یې ترې ثابته شي خو د هند او پاکستان علماء په عمومي توګه دا کار ناروا بولي. په دې اړه دوې خبرې کېږي:

یوه دا چې انسان د خپل بدن مالک نه دی، ځکه نو حق نه لري چې تر مرګ مخکې د خپلو غړو د ورکړې وصیت وکړي. د انسان بدن تر هغه وخته د ده په واک کې دی چې ژوندی وي، تر مرګ وروسته پر بدن هیڅ حق نه لري چې د هغه په اړه وصیت وکړي او د ده وصیت نافذ هم شي.

دویمه خبره داده چې د انساني لاش درناوی باید پر ځای پاتې شي. ژوندی انسان هغه ته زیان نه شي رسولای، د هغه مسئولیت دی چې د مړه شوي انسان بدن په پوره احترام ښخ کړي. د لاش څیرل، یا کوم غړی ترې بیلول د هغه بې احترامي ده او د دنیا هیڅ اخلاقي نظام یا قانون د دې اجازه نه شي ورکولای.

زموږ په ګومان دا دواړې خبرې د غور وړ دي.

په دې کې شک نه شته چې د هر شي حقیقي خاوند الله دی، مګر له دې سره دا هم حقیقت دی چې الله کوم شیان انسان ته ورکړي دي په الهي حدودو کې د ننه یې د هر ډول تصرف واک لري. لکه چې د عزت، کورنۍ، خپل وطن او دین لپاره ځان قربانولای شي، مال لګولای شي او په دې پوهېږي چې په جنګ کې وژل کېږي، یا یې د بدن غړي له منځه ځي خو د همدې مقاصدو لپاره ځان جنګ ته ورکوي، په اور کې ځان



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

غورځوي او لوی -لوی خطرونه پر غاړه اخلي. قرآن کريم دا اختيارات د نفس او مال په جهاد او د الله په لار کي په انفاق تعبير کړي دي، خپلو پيروانو ته يې ځای پر ځای ترغيب ورکړی چي خپل شيان د دې اهدافو لپاره ولګوي. له دې ښکاري چي قرآن د تصرف دا حق منلی دی.

د انسان د وصيت حق د همدې واک برخه ده. لکه څرنګه چي حق لرو تر مرګ وروسته د خپل مال په اړه وصيت وکړو، همدارنګه حق لرو چي د خپل بدن د تجهيز او تکفين په اړه وصيت وکړو. د خپل بدن د يوه غړي په اړه وصيت له همدې ډلې څخه دی. که لومړي ټول شيان روا وي او د انسان تر مرګ وروسته هم کېدلای شي نو د غړو په اړه وصيت څرنګه ناروا کېدلای شي؟

د لاش بې احترامۍ ته هم بايد له دې زاويې وکتل شي. د دې تړاو له نيت سره دی. د يوه شخص غړو ته زيان رسول جرم دی. قرآن کريم د همدې لپاره د قصاص او ديت احکام ورکړي دي. خو د ناروغ په اجازه يو ډاکټر د هغه لاس او پښه پرې کوي، نو هيڅ کس هغه مجرم نه بولي. د مقتول پر لاش د اسانو ځغلولو او مثلت کولو او د تحقيق و پلټنو په خاطر د هغه د طبي معاينې تر منځ بايد فرق وکړل شي. انسان چي يو اړمن ته د خپل مال د ورکړې وصيت وکړي نو نېکي بلل کېږي، همدارنګه که يو اړمن ته د خپل غړي د ورکړې وصيت وکړي نو بايد نيکي وبلل شي. د دې وصيت عملي کول بې حرمتي ولي وګڼل شي؟.

(۲۰۱۰)

## د سپوږمۍ ليدل

الله تعالی د روژې لپاره رمضان او د حج لپاره ذو الحجه مياشتې ټاکلې دي. دا دواړې قمري مياشتې دي، له دې امله نو له لومړي سره دا بحثونه کېږي چي دا به څرنګه معلومېږي؟ د فلکياتو علم چي نن کوم



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر مختګ کړی دی، تر دې مخکې هم خلک په دې پوهېدل چې قمري میاشتې تر دیرشو زیاتې نه شي کېدای خو عمومي مشاهدې ښوولې چې ۲۹ ورځې هم کېږي. قرآن چې خلکو ته د ټولې میاشتې د روژې نیولو حکم ورکړی دی نو دا اندېښنه موجوده وه چې ځیني کسان به د دې حکم په پلي کولو کې د دیرش ورځو پر پوره کولو ټینګار کوي. نو نبي علیه السلام خبر ورکړ چې که سپوږمۍ ولیدل شوه نو د رمضان میاشت دې شروع کړای شي او په بیرته لیدلو دې یې ختمه کړي. د دې لپاره دیرش ورځې پوره کول اړین نه دي خو که فضا صافه نه وي نو دیرش ورځې پوره کول لازمي دي. د نبي علیه السلام همدا لارښوونې دي چې راویانو په خپلو تصرفاتو داسې بڼه ورکړې چې دا تاثر ترې عام شوی چې نبي علیه السلام خلک د میاشتې لیدلو لپاره د سپوږمۍ لیدلو ته ټاکل. له نیکه مرغه یو روایت په خپله اصلي بڼه هم له رسول الله ﷺ څخه نقل شوی دی.

الشهر تسع و عشرون، فاذا رأيتم الهلال فصوموا، و اذا رأيتموه فافطروا، فان غم عليكم فاقدروا له. (مسلم، شمیره: ۱۰۸۰)

میاشت نهه ویشت ورځې هم وي، نو که مو سپوږمۍ ولیده روژه ونیسئ او که مو بیا ولیده ماته یې کړئ. که فضا پاکه نه وه نو دیرش ورځې پوره کړئ.

دا د عبدالله بن عمر روایت دی. د ابو هریره د روایت په یوه سند کې هم همدا الفاظ راغلي دي. له دې څخه ښکاري چې د میاشتې د معلومولو لپاره د سپوږمۍ لیدل لازم شوي نه دي، بلکې تر سپوږمۍ لیدلو وروسته د روژې شروع کول لازم کړل شوي دي تر څو خلک فکر و نه کړي چې قرآن د ټولې میاشتې د روژې نیولو امر کړی دی، نه د دیرشو ورځو د پوره کولو. نو خبره همداسې را پیلېږي چې الشهر تسع و عشرون (میاشت نهه ویشت ورځې هم وي.)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له همدې وجې د سپوږمۍ ليدلو اړتيا شته، که ديرش ورځې پوره شي نو دا اړتيا نه پاتې کيږي ځکه نو په دې چاره کې زموږ علم بالکل باوري دی. که سپوږمۍ وليدل شي او يا نه، پوهيږو چې تيره مياشت ختمه شوه او راتلونکې شروع شوې ده. د علم پر مختګ همدغه صورت د ديرشو په اړه هم پيدا کړی دی. نن موږ په پوره باور ويلای شو چې پر نړۍ نوې سپوږمۍ څه وخت را خيژي؟ نو که مکه مکرمه مرکز وبولو او د سپوږمۍ د پيدا ايښت له مخې قمري کليزه جوړه کړو او ټولې مذهبي ورځې د هماغې له مخې ولمانځو نو هيڅ منع کوونکی شی نه شته. د دين اصل هدف د مياشتې ټاکنه ده، دا که د سپوږمۍ په ليدلو کيدی نو دين اختيار ورکړی وو او اوس که په يوه بله ذريعه وشي نو پر دې هم هيڅ نيوکه نه شته. د ساعت تر پيدا ايښت وروسته موږ د خپلو لمنځو لپاره لمر لويدو او ختو ته نه ګورو. همدا رنګه د قمري مياشتو د ټاکلو لپاره د سپوږمۍ ليدلو پابندي هم نوره نه پاتې کيږي. دا مسئله يوازې په حديث کې د راويانو له تصرفاتو را پيدا شوې ده. د روايت ټولو طريقو ته که وکتل شي نو دا حقيقت به را ښکاره شي چې د نبي عليه السلام موخه بل څه وه.

(۲۰۰۸)

## مسلمان او نا مسلمان

له اسلام پرته د ټولو اديانو پيروان نا مسلمان بلل کيږي، همدا تعبير د هغو خلکو لپاره هم دی چې هيڅ دين نه مني. دا د تحقير لفظ نه دی بلکې د دې حقيقت څرګندونه کوي چې هغه اسلام منونکي نه دي. په عمومي ډول دوی ته کافر ويل کيږي مګر ما په خپلو کتابونو کې په دلايلو روښانه کړې ده چې د تکفير لپاره اتمام حجت ضروري دی او دا يوازې خدای پوهيږي او خدای يې ښودلای شي چې پر يوه کس يا يوه ډله واقعا اتمام حجت شوی دی او اوس موږ هغه ته کافر ويلای شو.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځکه نو له دنيا څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر تلو وروسته هيڅ فرد يا ډله حق نه لري چي يو کس ته کافر وو اييي.

همدا معامله د هغو خلګو ده چي د اسلام په پرېښوولو يو بل مذهب غوره کړي يا بېخي بې دينه شي. د هغه په اړه هم له دې پرته هيڅ نه شي ويل کېداى چي هغه له مسلمانۍ وتلى دى. د دې وجه داده چي په مسلمانه کورنۍ کي د زېږېدلي په اړه هيڅ نه شي ويل کېداى چي هغه ته د اسلام حقانيت څومره روښانه وو؟. په دې شيانو خداى پوهېږي او د زړونو په حال خبر دى. موږ چي په کوم څه نه پوهېږو پر هغه د حکم کولو جرأت هم بايد ونه کړو. زموږ کار دادى چي که موږ ته خداى د خپل دين يو څه علم راکړى وي نو موږ خلګو ته توحيد او شرک، اسلام او کفر ور وپېژنو او هغوى ته ديني حقايق بيان کړو. له دې پرته د خلګو د کفر او ايمان او د هغوى لپاره د جنت او دوزخ پرېکړي کول زموږ کار نه دى، دا د خداى کار دى او هماغه ته بايد وسپارل شي.

تر دې وروسته د هغو کسانو وار دى چي مسلمانان دي، پر خپله مسلماني اقرار بلکي ټينګار کوي بلکي يوه داسي عقيده يا عمل غوره کړي چي په عمومي توګه د اسلام له لارښوونو سره ضد ګڼل کېږي. يا د يوه ايت يا حديث هغه تاويل وکړي چي د يوه عالم، يا علماوو او يا ټولو مسلمانانو په اند ناسم وي، مثلاً د امام غزالي او شاه ولى الله په شان د سترو علماوو عقيده ده چي د توحيد انتها کمال وحدت الوجود ده، يا د محي الدين ابن عربي نظريه ده چي د ختم نبوت معنا دا نه ده چي د نبوت مقام او کمالات يې ختم شول بلکي معنا يې داده چي که اوس څوک نبي کېږي نو د محمدي شريعت پيرو به وي. يا د شيعه ګانو دا فکر چي که څوک د مسلمانانو مشر کېږي نو د الله له خوا به ټاکل کېږي چي دوى ورته امام وايي او تر نبي عليه السلام وروسته د دې دندې لپاره علي رضى الله عنه له همدې اصولو سره سم د خداى له خوا ټاکل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شوی وو چي ونه منل شو، یا د علامه اقبال په شان د مفکر دا نظر چي جنت او دوزخ ځایونه نه دي بلکي حالتونه دي.

دا او دې ته ورته ټول افکار او باورونه غلط ګڼل کېدلای شي، ګمراهي هم ورته ویل کېدای شي خو د دې وړاندي کوونکي چي له قرآن او حدیث څخه استدلال کوي ځکه نو هغه ته کافر نه شي ویل کېدای. د دې نظریاتو او باورونو په اړه د خدای نظر څه دی؟ د دې په اړه باید تر قیامته انتظار وشي. په دنیا کي د دې نظریاتو وړاندي کوونکي له خپلو نظریاتو سره سم مسلمانان دي، مسلمانان به بلل کېږي او له دوی سره به ټولي چارې په هماغه طریقه کېږي چي د مسلمانانو د ټولنې له یوه فرد سره ترسره کېږي. د علماوو حق دی چي د دوی تیروتنه ورته وښیي، هغوی ته د سمي خبرې د منلو دعوت ورکړي، د دوی په نظریاتو کي چي کوم شی شرک دی هغه ته دي شرک او چي کفر دی هغه ته دي کفر وو ایي او خلکو ته دي هم خبرداری ورکړي مګر د دې خلکو په اړه دا فیصله چي مسلمان نه دی، یا دي د مسلمانانو له ټولنې څخه بیل شي. د دې واک هیڅوک هم نه لري ځکه دا حق یوازي خدای ورکولای شوای او په قرآن او حدیث هر سړی پوهېږي چي خدای دا حق چا ته نه دی ورکړی.

(۲۰۱۵)

# اسلامي تهذیب

د نبي علیه السلام تر بعثت وروسته چي په نړۍ کي کوم تهذیب را پیدا شو بنسټ یې عبودیت یا بندګي وه. معنا یې دا وه چي ټولنه پر خدای ایمان راوړي او له خدای سره بندګي تړاو ته مرکزي حیثیت ورکړي او د ژوند ټولي چارې له همدې سره وتړي. په دې کي ازادي هم یو ارزښت وو، خو تر بندګۍ لوړ نه وو. د دې تهذیب په اخلاقي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ارزښتونو کي کوم ابهام نه وو موجود، له الهي الهامونو يې تصويب تر لاسه کاوی. د دې تهذيب شاعر، اديب، فلسفي، عالم، ساينس پوه او سياستوال ټولو په دې چارو کي واضح موقف درلود او خپل افکار به يې له همدې سره سم وړاندي کول. نو له دې څخه چي کوم تهذيب را منځ ته شو او زيات و کم زر کاله يې د مسلمانانو ټولنيز وجود احاطه کړی وو درې عنصرونه يې درلودل:

د فحشا نه شتون

ټولنيزو رتبو ته درناوی

امر بالمعروف او نهی عن المنکر

د فحشا د مخنيوي مطلب دا وو چي خلګو ته اجازه ورنه کړل شي چي په ټولنه کي بدکاري عامه کړي، نارينه له نارينه وو سره او ښځې له ښځو سره ښکاره جنسي اړيکې پيدا کړي. د همدې اړيکو لپاره را غونډ شي، يا جنسي اړيکې د خلګو په مخ کي ټينګې کړي او يا جنسي اعضا ښکاره کړي.

ټولنيزو رتبو ته د درناوي معنا دا وه چي د پيدايښت په لحاظ ټول انسانان برابر دي مګر په اړيکو کي برابري نه شته. د کشرانو لپاره لويان، د اولاد لپاره مور او پلار، د شاګردانو لپاره استاذ او د ښځې لپاره ميړه په رتبه کي لوړ دي. دوی بايد د ادب ورښوونې حق ولري او په هر حال کي يې بايد درناوی وشي.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر معنا دا وه چي ټولنه د خير و شر له ارزښتونو بې تفاوته پاتي نه شي. په انساني فطرت کي چي کوم شيان د خير په بڼه پېژندل کېږي او ټول انسانيت يې مني هغه دي تاييد کړل شي او کوم شيان چي فطرت شر بولي او ټول انسانيت ترې نفرت کوي له هغو دي په هر حال خلګ بند کړای شي.

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا تهذيب د انسانيت د ښيري ښکلا او جمال وو. د دې زوال د انسانيت زوال دی. د انساني حقوقو، ډيموکراسۍ او د قانون د تطبيق په چارو کې چې نننی انسان څومره حساس دی، کاش! د دې تهذيب د بيا لاس ته راوړلو لپاره هم همدومره حساس وای.

(۲۰۰۸)

## زموږ تعليم

(۱)

د دې هيواد تعليمي نظام پر دوو لويو برخو ويشل شوی دی: ديني مدرسې او د دنيوي زده کړو مرکزونه. اول به ديني مدرسو ته راشو. په دې کې ستره ستونزه داده چې د تقليد پر اصولو ولاړې دي. له لومړۍ ورځې دا پريکړه پکې کېږي چې حنفي به تل حنفي وي او اهل حديث به تل اهل حديث. له خپل فکره دباندې د نورو علماوو د تحقيق په اړه دا فکر بلکل ناسم ګڼي چې هغوی هم صحيح کېدلای شي. د امام ابو حنيفه د مذهب پيرو هيڅکله نه چمتو کېږي چې د محدثينو د مسلک يو نظر سم وبولي او يا يو اهل حديث هيڅکله تيار نه دی چې د امام ابو حنيفه د مذهب يوه نظر ته ترجيح ورکړي. هره ډله ټينګار کوي چې د دوی مذهب له هره پلوه له قرآن او سنت سره موافق دی او دويمې کتنې ته اړتيا نه لري. په دې مدرسو کې هيڅ څوک دې منلو ته تيار نه دی چې د يوې مسئلې په اړه د دوی د اکابرينو تحقيق هم غلطېدلای شي.

له مدرسو څخه پر دې اصولو تر زده کړو تر لاسه کولو وروسته فارغيدونکو خلکو چې په خپل استقامت سره په ټولنه کې کومه خرابي را پيدا کړې له هيچا پټه نه ده. سهار او ماښام وينو چې د دې ملت په جسم کې د ډلو –ډلبازيو وبا خپرېږي او اختلاف تل پر اتحاد برې تر لاسه کړی دی. منبر تل له غوسې په لړزه وي او محراب د خلکو د بې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عزتې په ځای اوښتې دی. د مسجدونو حدود د هیوادونو په سرحدونو بدل شوي او په هغوی کې اوسیدونکي له یوه بل سره هیڅ ډول اړیکو نیولو ته چمتو نه دي. فقهي تعصبونه د دین پر تړاو غالب شوي دي او اوس یې دا خلک د ساتنې لپاره له کوم شک پرته د هر باطل ملګرۍ ته تیار شوي دي. د اسلامي فقهې تدوین او په دې هیواد کې یې نفاذ تل په عمومي توګه د همدې تعصباتو قرباني شوی دی. پر همدې ځایونو محسوسېږي چې دا یوازي فکري مکتبونه نه دي بلکې ملتونه او ولسونه دي چې د خپلو ګټو لپاره له یوه - بل سره لاس او ګریوان دي. اوس مهال چې د دین د نفاذ خبرې ډېرې شوې دا اختلافات نور هم را ښکاره شوي دي.

په دوی کې چې څوک د پراخ لید ادعا کوي د هغوی حال هم دا دی چې که د یوه شخص پر تقلید ټینګار و نه کړي نو دا خبره په هر حال کوي چې له قرآن او سنت څخه په مستقیمه توګه د اخذ دروازه تر څلورمې پېړۍ وروسته بنده شوې ده. د دوی په اند تر قیامته هیڅوک یې باید د خلاصولو جرأت و نه کړي. د دوی په نظر علم د اقوالو را غونډولو نوم دی او تحقیق دې ته وايي چې د یوې ادعا د اثبات لپاره د پخوانیو لس - شل نظرونه را غونډ کړل شي. د یو ایت یا یو حدیث نوې شرحه او تحقیق که څوک وړاندې کړي نو د رد لپاره یې دوی د یوې شیبې ځنډ هم نه شي زغملای. پر یوه لویه تیروتنه صرف له دې امله پټه خوله وي چې پخوانیو ورسره اختلاف نه دی کړی. دوی ته دا شیان معمولي نه ښکاري بلکې د ایمان او عقیدې برخه یې دي.

دا ښاغلي چې د خپلو افکارو کوم دلایل په عمومي ډول وړاندې کوي هغه د عقل او نقل دواړو له مخې بې بنسټه دي. په دوی کې هر کس په دې حقیقت خبر دی چې د دین تر ټولو لومړی ماخذ قران دی. د قرآن په اړه دا خبره بیان ته اړتیا نه لري چې دی په څه ډول له پخوانیو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره وو په هماغه بڼه له موږ سره موجود دی. د ده په یوه حرف او ټکي کي بدلون نه دی راغلی، ژبه يې فصيحه عربي ده، د الفاظو او اسلوبو د معنوي تحقيق لپاره يې ټول ضروري مواد نن مهال هم هغه ډول تر لاسه کېږي لکه د دې امت په لومړۍ پېړۍ کي. تر قرآن وروسته دويم ماخذ حديث او سنت دي، د دې لويه برخه په عملي تواتر تر موږ رسيدلې، د اخبار احاد په بڼه پاتي برخه چي يې زموږ اسلافو د باور وړ ګڼلې را نقل کړې ده. په دې کي هيڅ شی هغوی نه دی پټ کړی، څه چي يې پرېښوول او يا يې غوره کړل د هغو لاملونه يې بيان کړي دي. په دين کي همدا شيان اصل حجت دي او دواړه نن مهال په هماغه ډول موجود دي لکه له پخوانو سره چي وو.

نو پر همدې بنياد هيڅ قوي دليل د دې نظر ملاتړ نه کوي.

تر دې وروسته دوې خبرې کېدای شي: يوه دا چي پر دين د عمل له مخې چي کوم مقام لومړيو تر لاسه کړی وو هغه د نن زمانې خلګ نه شي تر لاسه کولای. دويمه دا چي په فهم او ځيرکتيا کي د لومړنيو رتبې ته څوک نه شي رسېدلای.

په دې کي وروستۍ خبره يوازي ادعا ده چي نه يې په قرآن او حديث کي ثبوت شته او نه يې علم او تجربه تاييدوي. پاتي شوه لومړۍ خبره نو دا د قرآن کريم د نص خلاف ده. قرآن ښکاره ويلي چي د علم په لحاظ په دين کي لومړۍ درجه د السابقون ده، دا چي څرنګه په لومړنيو کي وه په هماغه درجه په وروستيو کي هم شته. په سورت الواقعه کي دي:

وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ * أُولَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ * فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ * ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ * وَقَلِيلٌ مِّنَ

نو وړاندي کېدونکي وړاندي کېدونکي دي. همدوی مقربين دي او د نعمتونو په باغو کي به وي. له پخوانيو يون غټه ټولۍ او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الآخِرِينَ*(۵۶ : ۱۰ - ۱۴) له وروستنيو وړه.

له دې پرته چې د دې تګلارې تاييد وونکي څه وايي هغه يوازې د جذباتو شاعري ده. د علم او استدلال په نړۍ کې هيڅ ارزښت نه لري.

د دې مدرسو په نظام کې يوه بله ستره نيمګړتيا داده چې که څه هم دا ديني مدرسې دي خو په دين کې چې کوم حيثيت قرآن ته ورکول شوی دی په دې مدرسو کې قرآن ته هيڅکله ورنه کول شو. په دين کې دا قرآن پر ځمکه د الله نازل شوی ميزان او د حق و باطل لپاره فرقان دی. د قرآن د دې حيثيت لازمي غوښتنه وه چې د دې مدرسو په نصاب کې يې مرکزي رول درلوداى. له همده څخه تدريس را شروع شوی او پر همده ختم شوی وای. زده کوونکو ترې د علم او فن په هره برخه کې لارښوونه ترلاسه کړې وای. هر څه چې لوستل کېږي د همده په ادعا د پوهېدو لپاره بايد وويل شي. د نحوې و ادب، فلسفې و کلام او فقهې و حديث لپاره بايد معيار وای او د هرشي د رد و تاييد پريکړه بايد د ده د ځرګندو اياتونو په رڼا کې کېدای. د ايمان او عقيدې هر بحث له ده څخه شروع کېدای او پر ده ختمېدلای. طالبانو يې بايد په هر لفظ د پوهېدو لپاره مراقبه کولای او پر اياتونو يې شپې روڼولای. دوی ته ويل کېدای چې پر ابو حنيفه و شافعي، بخاري و مسلم، اشعري و ماتريدي او جنيد و شبلي د ده واکمني چلېږي او د ده پر خلاف د هغوی هيڅ شی هم د منلو وړ نه دي.

په دين کې د قرآن حيثيت همدا دی او همدا حيثيت يې بايد د همدې مدرسو په نصاب کې ترلاسه کړی وای، خو هر د علم خاوند پوهېږي چې په لومړۍ مرحله کې د دې مدرسو زده کوونکي يوازې د حفظ او قرأت لپاره قرآن ته رجوع کوي او په اخيري مرحله کې د جلالين او بيضاوي په څو مخونو کې يې يوازې زيارت کوي. له دې پرته په دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مدرسو کي قرآن ته هيڅ حيثيت نه دی ورکړل شوی. د قرآن کريم په اړه د دې رويې پايله داده چي د فکر و عمل لپاره اوس هيڅ قاضي نه شته او د علمي اختلافاتو په تشو خبرو کي سرګردان دي. هغه سرچينې چي موږ ترې رڼا تر لاسه کولـه په خپله په تياره کي د تار پيپلو له برخليک سره مخ دي او زموږ د مدرسې، ملا او د دې کتاب تر منځ هماغـه اړيکه پاتي ده چي په اړه يې اقبال ويلي وو:

مکتب و ملا و اسرار کتاب

کور مادر زاد و نور آفتاب

د دې مدرسو په نظام کي درېيمه لويه نيمګړتيا داده چي نصاب يې ډېر زوړ او زموږ د علمي او ديني اړتياوو له پوره کولو عاجز دی. له عام فکر سره سم دا نصاب ملا نظام الدين ترتيب کړی دی، يا د پيلواري شريف د ملنګ شاه سليمان له نظر سره سم د دې تخم لومړی ملا فتح الله شيرازي کرلی دی او وروسته په همدې بنه رواج شو. په هر حال زموږ د هغه وخت لاسته راوړنه ده چي د علم لـه اصلي سرچينو سره مو اړيکه پرې شوې وه. قرآن کريم ته چي په دې نصاب کي کوم مقام ورکول شوی دی لوړ مو بيان کړ. حديث کـه څه هم پـه نصاب کي شامل دي خو د دې لپاره چي د دورې کومه طريقـه غوره شوې ده لـه هغې څخـه پر حديثو د تـدبر ذوق نـه استاذ او نـه شـاګرد تـر لاسـه کـولای شي. د جاهلي ادب ارزښت هيڅکله هم په دې نصاب کي ونه منل شو. ځکه نو د قرآن کريم د ژبې او اسلوبو له کمالاتو څخه يې ډېر کم زده کوونکي خبر دي. په دې نصاب کي چي د نحوې او بلاغت کوم کتابونه شامل شوي، په هغو کي منطق زيات دي خو د نطق مراعات ييخي نه دی شوی. له دې وجې کـه لـه کـوم زده کـوونکي سره د دې فنونـو پـه اعلـی مبـاحثو د پوهيـدنې ذوق موجود هم وي نو د دې کتابو تـر ويلـو وروسته نـه پـاتي کېږي. د منطق، فلسفې او علم کلام لپاره چي په دې نصاب کي څه په پام کي نيول شوي



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي تر ګټې یې تاوان زیات دی. حنفي فقه تدریسېږي خو د اسلامي فقهې د تدریس فکر ورسره هیڅکله پیدا نه شو. د اصولو فن زموږ مسلمانانو لپاره د ویاړ یوه پانګه ده، خو د دې لپاره هم هیڅ داسې کتاب په نصاب کې شامل نه کړای شو چې اجتهادي بصیرت پیاوړی کړي. پر دې نصاب دوې پېړۍ واووښتې خو تر اوسه هم په دنیوي علومو کې تر اوسه هم د کوم پرمختګ منلو ته تیار نه شو. په فلسفه، ارواپوهنه، اقتصاد، فضا پوهنه، طبیعیاتو، سیاست او نورو فنونو کې چې نن کومې څېړنې شوې دي تر اوسه یې هم په دې نصاب کې ځان ته ځای ونه موند. د همدې حسن عقیدت اثر به یې وبولو چې صدرا او میبذي* پکې تلپاتی مقام تر لاسه کړی. زموږ مشران دې ته په دومره درنه سترګه ګوري چې هیڅ بدلون پکې روا نه ګڼي. پر نړۍ د نویو علومو واکمني ده خو د دې نصاب شاګردان یې تر اوسه په وجود هم خبر نه دي. په دې دوو پېړیو کې نړۍ ډېر څه ومنل او تر منلو وروسته یې بېرته رد کړل، خو دوی یې نه په منلو خبر شول او نه یې د انکار له کیسې خبر دي.

(۲)

تر دې وروسته د دنیوي زده کړو عامو درسګاوو ته راځو. دلته چې کوم نظام موجود دی له پیله پکې ډېرې نیمګړتیاوې موجودې دي. د دې بنسټ د کوچنۍ وچې برتانوي واکمنو ایښی وو. پنځه څلویښت کاله کېږي چې هغوی تللي دي، سمون خو یې لرې خبره ده حقیقت دا دی چې د هر سهار په راتلو د غلامۍ له دې میراث سره زموږ مینه نوره هم

---

* د درس نظامي دوه کتابونه دي. دا په حقیقت کې د اثیر الدین ابهري د کتاب هدایة الحکمة دوې شرحې دي چې د خپلو لیکوالو په نوم مشهورې شوې دي. د لومړي کتاب لیکوال ملا صدر الدین شیرازي او د دویم لیکوال معین الدین میبذي دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زیاتیږي. له دې وجې دا نظام د پیل له وختونو له خپلو ټولو نیمګړتیاوو سره – سره پر موږ مسلط دی. په دې نظام کې بنسټیزه خبره داده یو لادیني نظام دی. بنسټ یې پر دې اصولو ایښودل شوی دی چې نړۍ له کوم ما بعد الطبیعیاتي اساس پرته هم را منځ ته کېدای شي او د انسان ستونزه د هغه د پیدا کوونکي له لارښوونې پرته هم حل کېدلای شي. د همدې اصولو په واسطه په لویدیځ کې فلسفې، ساینس، ټولنیزو او نورو علومو پر مختګ وکړ او تر اوسه هم په لویدیځ فکر کې د اصل الاصول ځای لري. په دې کې شک نه شته چې په لویدیځ کې ټول اهل فکر له خدایه نه دي منکر شوي، خو له دې سره یو ځای دا هم حقیقت دی چې د هغوی د فکر لومړۍ مقدمه پر انکار ولاړه ده. د دې علومو د تدریس کوم نصاب چې هلته تدریسیږي په هغه کې دا نړۍ له کوم خالق پرته را منځ ته کېدلای او له کوم مدبر پرته چلیږي. انسان پکې خپل تقدیر په خپله جوړوي او په خپله یې پیرته ورانوي. د قانون، سیاست، ټولنې او اقتصاد ټول اصول له (بغیر هدی و لا کتاب منیر) پر اصولو ولاړ دي او نړۍ د همدې اصل په رڼا کې خپلو ستونزو ته حل لټوي. هلته د انسان تاریخ له انسانه شروع کېږي او پر انسان پای ته رسیږي. د الله لپاره نه په پیل کې کوم ځای لري او نه په پای کې. د شپې او ورځې د دې لړۍ په اړه د دې نصاب په روح کې دې خبرې سرایت کړی چې په حقیقت کې همدا ابتدا، انتها، ظاهر او باطن دی. پر همدې بنیاد د دې تعلیم تر لاسه کوونکی له کومې بلنې او هڅونې پرته په خپله دا فکر کوي چې دا ژوند له خدای سره په بې تړاوه کېدو هم مخته تلای شي او د نړۍ نظام له هغه څخه په بې نیازه کیدو هم چلول کېدای شي. که څه هم د دیني لارښوونو تدریس پکې ضروري کړل شوی دی خو له کوم بنسټیز بدلون پرته یې له دې پیرزوینې پرته بله هیڅ ګټه نه ده کړې چې د زده کوونکو ذهنونه د دین او بې دینۍ تر منځ د جګړې میدان ګرزېدلي. د کیکرونې ته چې د انګورو پوښ ور واغوستل شي او د شراب و جام تر کیسې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروسته چې د زمزم د فضايلو له بيان څخه څه تر لاسه کېږي، په دې نصاب کې د دينياتو له پيوند لګونې هماغه څه تر لاسه شوي دي. ښه مثال يې هغه خلک دي چې په عامه اصطلاح پوهان (دانش ور) بلل کېږي. د هغوی ژبه او قلم شاهدي ورکوي چې حق هماغه دي چې د لويديځ امامانو حق ورته وويل او که د قرآن تعبير هم له دې حق سره سم وشي نو د يوه مقدس مذهبي کتاب په حيث د احترام وړ دی. د دوی وجود د تضاداتو يوه ټولګه ده. له خدايه انکار نه کوي، خو د هغه د عبادت لپاره د روژې او لمانځه په اصرار هم نه پوهېږي. له اخرته انکار نه کوي، خو د هغه لپاره د دنيا د ځينو خوندونو پرېښوولو ته هم تيار نه دي. رسالت نه مني خو د رسول احکام هم ورته په اوس مهال کې د عمل وړ نه ښکاري. خپلې غونډې د قرآن کريم په تلاوت را پيلوي خو د ځمکې او اسمان د پاچا قانون تر خپلو قوانينو لوړ ګڼل هم ورته سخت تماميږي. د هغوی هستي يوه هنداره ده چې موږ پکې د دې پيوندکارۍ پايلې په خپلو سترګو ليدلای او عبرت ترې تر لاسه کولای شو. دې تعليمي نظام يې له تنه د دين روح ايستلی دی، د دوی په ظاهره ژوندي ښکاري خو حقيقت دا دی:

مرده ہے، مانگ کے لایے ہے فرنگے سے نفس

د دې نظام لاديني فطرت نه يوازې زموږ د کار په عناصرو کې ذهني ارتداد را پيدا کړ بلکې له دې سره يې هغوی له هغه سيرت او کردار څخه هم بې برخې کړل چې پرته له هغو يو ملت په دنيا کې ژوند نه شي کولای. په دې کې هيڅکله دې ته پام ونه شو چې تعليمي ادارې يوازې د کتابونو د ويلو ځايونه نه دي، بلکې يو ستر مقصد يې دا هم دی چې د ملت له بنسټيز فکر سره سم يې راتلونکې نسلونه په اخلاقي او نفسي لحاظ تربيه کړي. دا هدف هله تر لاسه کېدای شوای چې له نورو تدبيرونو سره هم مهاله په خاص ډول د استاذانو په انتخاب کې دا خبره په پام کې نيول شوې وای چې نه يوازې د خپل مضمون ماهر وي، له دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره د دین په چاره کي د دیني احکامو پابند وي او د هغو لوړو اخلاقو نمونه وي چي دین یې ښوونه کوي. د یو ملت د تهذیب او اخلاقي روزنې لپاره تر دې بله موثره طریقه نه شي پیدا کېدای. د مور تر غېږ وروسته په دې چاره کي ستر رول لرونکی د استاذ شخصیت دی. که دی په رښتنې توګه د یوه فکر منونکی وي او په پوره امانتداري یې له لاربښوونو سره سم ژوند مخته وړي نو یقینا به یې شاګردان ترې متاثر کېږي. زموږ په تعلیمي نظام کي هیڅکله هم دې شي ته ارزښت نه دی ورکړل شوی دی. د همدې پایله ده چي د عزیمت و استقامت، حوصلې او میړانې، نظم و ضبط او صبر وثبات په څېر اعلی صفات اوس موږ د دې ملت په ځوانانو کي نه شو پیدا کولای. امانت، دیانت، مسئولیت پېژندنه، وفا او قرباني د ماضي کیسې ګرزیدلې دي. اوس د لید عفت، د طبیعت حسن، د خیال بلندی، د ضمیر سپېڅلتیا او د ذوق لطافت ډېر کم لیدل کېږي. اوس زموږ پېژندنه بد دیانته، بدکاره، رشوت خواره، ځان پالي او د ټیټو خواهشاتو لرونکي ځوانان دي. زموږ نوی نسل له خپلې ماضي ناخبره دی، له حاله بې پروا دي او له راتلونکي سره بې تړاوه. اخلاقي ارزښتونه ورو –ورو ماتېږي او مادي ګټې د ژوند د اصل حقیقتونو په توګه منل کېږي. همدا فیض دی چي زموږ ځوانان یې له دې تعلیمي نظام څخه تر لاسه کوي، اوس موږ په خلاصو سترګو لیدلای شو چي زموږ د تعلیمي نظام حقیقت:

ایک سازش ہے فقط دین و مروت کے خلاف

(۱۹۸۷)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ټولنيزې ليکنې

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# ږيره او تر پونډيو د جامې کښته کول

نارينه ږيرې پريږدي او نبي عليه السلام هم ږيره درلوده. د ده له پيروانو څخه يې که څوک له ده سره د تړاو په خاطر او د ده د اتباع په مينه کې ږيره پرېږدي نو بايد د فخر خبره وګڼل شي، خو دا د دين کوم حکم نه دی. که کوم څوک ږيره نه لري نو نه شو ويلای چې د فرضو يا واجبو تارک دی، يا يې جرم او ممنوع کار کړی دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم چې په دې اړه څه ويلي دي هغه د ږيرې پريښوولو لارښوونه نه ده بلکې له دې يې منعه کړې چې د ږيرې او بريتو پريښوولو داسې ډول بايد اختيار نه شي چې متکبرانه وي. تکبر يو لوی جرم دی، دا د انسان په چال-چلند، خبرو، لباس، ناسته-ولاړه او هر څه کې ښکاريږي. د ږيرې او بريتو کيسه هم همداسې ده. ځينې خلک ږيرې کوچنۍ کوي خو بريتونه ډېر غټوي. رسول الله دا طريقه نه ده خوښه کړې او داسې خلکو ته يې لارښوونه کړې چې د متکبرينو چم دې نه کوي. که غواړي نو ږيره دې غټه کړي، خو بريتونه دې په هر حال کې کم ساتي.* د انبياء عليهم السلام په وسيله چې کوم هدايت انسان تر لاسه کړی دی د هغه موضوع عبادات دي، د بدن، خوراک او څښاک پاکي او اخلاقي سپېڅلتيا ده. رسول الله چې څه ويلي دي د اخلاقي سپېڅلتيا په خاطر يې ويلي. د ږيرې په اړه د لارښوونې اصل کيسه يې همدا ده خو خلکو د ږيرې لويولو امر وبالی او په دې توګه يې دين ته يو داسې شی ور داخل کړ چې په حقيقت کې هيڅ اړه ورسره نه لري.

تر پونډيو د جامې کښته کولو معامله هم همداسې ده. عربانو په جاهليت کې دا طريقه درلوده چې اوږد کميس به يې اغوست، د پګړۍ شمله به يې تر ملا رسيده او لنګ به يې تر پونډيو دومره کښته وو چې

---

* بخاري، شميره: ۵۸۹۲. مسلم شميره: ۶۰۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر ځمکه به کشېدی. په عربي ژبه کې دې ته اسبال وايي. رسول الله صلی الله علیه وسلم دا بد ګڼلی دی او ويلي يې دي چې الله به د اخرت په ورځ داسې چا ته کتل هم خوښ نه کړي چې لنګ يې پر ځمکه کشېږي او روان وي. * د ازار يا لنګ په اړه ټول روايات له همدې موضوع سره ارتباط لري.

د لنګ په اړه دا خبره تر يوه حده کېدای شي چې د مشرکينو له هغه حالت سره يو ډول مشابهت را پيدا کوي، نو ځکه که يې د ځړولو يا کښته کولو وجه تکبر هم نه وي بايد احتياط وشي. البته دا مشابهت يوازې په لنګ کې کېږي زموږ له پرتوګ او پتلون سره کوم تړاو نه لري.

(۲۰۰۸)

## د ښځې تاديب

نکاح يو تړون دی چې نارينه پکې دا مسئوليت پر غاړه اخلي چې د ښځې او ماشومانو مصارف به په اخلاص سره پوره کوي، شريفانه سلوک به ورسره کوي چې له عقل او فطرت سره برابر وي، پر رحم ولاړ وي او د عدل و انصاف غوښتنې پکې په پام کې نيول شوې وي. همدا راز له ښځې هيله کېږي چې بايد له مېړه سره په موافقت او اطاعت وچلېږي او د مېړه رازونه او عزت خوندي وساتي.

د نورو ټولو تړونونو په څېر د دې تړون غوښتنه هم داده چې که له اړخونو څخه يو يې مخالفت وکړي او له تنبيه، تلقين او زجر سره ـ سره د ځان اصلاح ته تيار نه وي نو بايد مجبور کړای شي. دا کار محکمه هم کولای شي او د کورنۍ مشران هم. قرآن دا حق مېړه ته هم ورکړی دی. ويلي يې دي چې که مېړه د مېړه قواميت وننګوي او سرکښي وکړي نو

* بخاري، شميره: ۵۷۸۳ . مسلم، شميره: ۴۵۵۵

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نارينه د خپل کور د ساتنې لپاره درې لارې لري: لومړی دا چې ښځې ته نصيحت وشي. د دې لپاره په قرآن کې د وعظ لفظ استعمال شوی دی چې معنا يې داده تر يو حده زجر هم کېدای شي.

دويم دا چې يو ځای کېدل دې ورسره پرېښوول شي څو ورته څرګنده شي چې که خپل چلند بدل نه کړي نو پايلې يې تر دې هم بدې کېدای شي.

درېيم دا چې جسماني سزا ورکړل شي.

د دې اخيري ټکي په اړه پوښتنه کېږي چې د حالاتو له بدلون سره سم دولت کولای شي چې که لومړني دوه تدبيرونه کار ونه کړي او د سزا ورکولو نوبت راشي په خپله يې له سزا ورکولو را وګرزوي او کيسه محکمې ته وسپاري؟

زموږ ځواب دادی چې يقينا يې کولای شي، ځکه چې دا د الله تعالی پر حکم د عمل کولو د طريقې بدلون دی، هيڅ حکم پکې نه ځنډول کېږي. د ښځې د اصلاح لپاره که سزا مېړه ورکړي، يا يې د کورنۍ مشران او يا محکمه هيڅ فرق نه کوي. د خدای هدف دادی چې که د کور ساتنې لپاره سزا ورکول ضروري وي نو ورکول کېدای شي. دا د اصلاح کولو يوه لار ده، تر دې ها خوا بل هيڅ هدف نه لري.

(۲۰۰۸)

## د سر پټول

د الله تعالی لارښوونه ده چې مسلمانې ښځې به له خپلو لاسو، پښو او ځيرې پرته د بدن د بلې برخې ښکلا، زيورات او نور د پردو نارينه وو په مخ کې نه ښکاره کوي. قرآن دا لازمي کړې دي. پر سر د ټکري اچولو روايت له همدې سره تړلې دي او اوس د اسلامي تهذيب برخه ګرزېدلې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي. که يې سينګار نه وي کړی هم ورته پاملرنه کېږي. دا رويه هم د قرآن کريم له اشارو را پيدا شوې ده. الله تعالی ويلي دي چي په ټکري سره د سينې او ګريوان د پټولو حکم د هغو بوډيو لپاره نه دی چي د نکاح هيله نه لري، په دې شرط چي د سينګار ښکارونکې نه وي. قرآن لارښوونه کوي چي هغوی دا جامه د نارينه وو په وړاندي غورځولای شي، هيڅ پروا نه لري او دا يې هم ويلي چي د هغوی لپاره ښه خبره داده چي احتياط وکړي او له خپلې سينې پړونی لرې نه کړي. له دې څخه ښکاري چي د سر په اړه هم ښه خبره همدا ده او که سنګار شوی هم نه وي نو ښځې بايد پړونی پر سر کړي. که څه هم دا واجب نه دي خو مسلماني ښځې چي له يوه مذهبي احساس سره ژوند کوي او خدای ته زياتې نژدې وي دا احتياط کوي او هيڅکله نه غواړي چي په لوڅ سر او لوڅو ويښتانو د پردو نارينه وو مخ ته راشي.

(۲۰۰۸)

# د نوکانو رنګول

ښځې خپل نوکان په يو نه يو رنګ رنګوي او اوس مهال يې د رنګولو لپاره بېلابېل رنګونه پيدا شوي دي. د نکريځو برعکس د دې رنګ پنډوالی زيات دی نو ځکه دا پوښتنه پيدا شوې ده چي اودس ورسره کېدلای شي او که نه؟ درې ځوابونه ورکړل شوي دي:

يو دا چي له دې رنګ سره اودس نه شي کېدای، نو ځکه بايد خامخا تر هر اودس وړاندي توی کړل شي.

دويم دا چي تر دې رنګ وهلو وروسته هم لاس لاس وي او هيڅ توپير پکي نه راځي، ځکه نو اودس کېږي. د تويولو اړتيا يې نه شته.

دريېم دا چي د جرابو پر مسح دي قياس شي، ځکه نو که د نوکانو رنګ تر اوداسه وروسته لګول شوی وي د تويولو اړتيا يې نه شته،

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

برسيره دي او دس ورباندي وشي خو که له او دس پرته لګول شوی وي بيا يې تويول ضروري دي.

زموږ په نظر همدا درېيم نظر غوره دی او دا احتياطي تګلاره ده، دا کوم سخت کار هم نه دی او د تزکيې مقصد ته هم نژدې تګلاره ده. نو ښه خبره داده چې ښځې د خپل پروردګار په حضور کې د حاضرۍ لپاره دې ته پام وکړي.

(۲۰۰۸)

# د ښځو سفر

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په منسوبه وينا کې راغلي چې ښځې يې له محرم پرته له سفر کولو منعه کړې دي او ويلي يې دي چې داسې سفر ورته روا نه دی. په ځينو روايتونو کې يې موده يوه، ځينو کې دوې او ځينو کې درې شپې او ورځې بيان شوې ده. دا د سد ذريعه لاربښوونه ده چې معنا يې داده چې له کوم شي منعه شوې ده هغه په حقيقت کې ممنوع نه دی، خو په ممنوعاتو کې يو شي ته د رسيدو ذريعه کېدای شي. مخاطبين يې هم افراد دي، په دې کې له دولت څخه دا غوښتنه نه ده شوې چې يوې ښځې ته له محرم پرته د سفر اجازه ورنه کړي. دا خبره هم ښکاره ده چې داسې لارښوونې له حالاتو سره تړلې دي. په اسلام کې چې د ښځې عفت او عصمت کوم ارزښت لري، هغه ته په پام ضروري وه چې د رسالت په زمانه کې له محرم پرته د سفر ونه کړي. په هغه زمانه کې سفر په پښو يا پر اوښ کېدی. موږ چې اوس تر کومو ځايونو په ساعتونو کې رسېږو هغه ځای ته دوی په هفتو او مياشتو کې رسېدل. مسافرينو به يوازې او په قافلو کې سفرونه کول او له ښاراوو او ځنګلونو به تيريدل. شپې به يې تر شنو اسمانونو لاندې او يا پرديو ښارونو کې په سرايونو کې تيرولې. په داسې حالاتو کې که د


www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښځو خونديتوب ته په پام او له کوم تور څخه د هغوی د ساتلو په هدف هغوی اړ کړای شوې وي چې له محرم پرته سفر ونه کړي نو هر د سليم عقل خاوند يې په حکمت پوهېدلای شي.

اوس مهال د دې بر خلاف په سفر کې حيرانوونکو وسايلو انقلاب را منځ ته کړی دی، د مياشتو سفر په ساعتونو کې کېږي. په اورګاډي، الوتکه او بسونو کې د خونديتوب غير معمولي اقدامات شوي دي. د هوټلونو، سرايونو او نورو نظم هم په بشپړه توګه بدل شوی دی. له نن څخه څو رلس سوه کاله وړاندې خپله خوريا لور يوازې له يوه کلي بل ته لېږل هم له انديښنې ډک وو خو اوس د اروپا او امريکا په سفر کې هم داسې انديښنې نه شته. د حج سفر هم ترا خيري بريده خوندي دی او ښځې د خپلو شناخته ښځو په ملتيا په نهايت محفوظ ډول د حجاز سفر کولای شي او د حج و عمرې مناسک ادا کولای شي. دا حالات غوښتنه کوي چې دا حکم د اوس مهال له سفرونو سره متعلق ونه ګڼل شي او ښځو ته اجازه ورکړل شي چې که د خطر ځای نه وي نو له خپل ضرورت سره سم يوازې او يا د ښځو په ملتيا چې څنګه وغواړي سفر کولای شي، خو دې ته دې توجو وشي چې عزت يې په هر حال کې خوندي پاتې شي او له کورو د وتلو پر مهال ترې غفلت ونه شي. که د الله او رسول منونکې وي نو په دې لړ کې بايد بې پروا نه وي.

(۲۰۰۹)

## د حمل غورځول

د ښځې پر حمل که ۱۲۰ ورځې تيرې شي نو غورځول يې په هيڅ حال روا نه دي. تر دې مودې وروسته د جنين وژل په اصل کې د انسان وژل دي چې د قرآن له مخې د ټول انسانيت له وژلو سره مترادف دي. سزا يې قرآن کريم تلپاتې جهنم بيان کړی دی خو تر دې مخکې د حمل غورځول



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

روا دي. مګر دا روا والی هم مطلق نه شي کېدای، د دې لپاره معقول عذر او حقيقي سبب لازمي دي. په اسلامي فقه کې د غورځونې ۱۲۰ ورځې موده ځکه ټاکل شوې ده چې ماشوم ته انساني شکل د دې مودې تر تيريدو وروسته ورکول کېږي، تر دې مخکې هغه يو حيواني وجود وي او ژوند يې هم حيواني ژوند دی. په ۱۲۰ ورځو کې د هغه حيواني بڼه بشپړېږي او الله يو انساني شخصيت ورکوي. دغه هغه شی دی چې قرآن جنين ته د دويم مخلوق په تبديلولو تعبير کړی دی:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِن سُلاَلَةٍ مِّن طِينٍ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ

(المومنون ۲۳ : ۱۲ - ۱۴)

"موږ انسان له چاڼ شوې خټې پيدا کړی دی، بيا مو په يوه خوندي ځای کې په نطفه بدل کړ، بيا مو نطفه په جنين واړوله، بيا مو جنين په غوښه بدل کړ، بيا مو په غوښه کې هډوکي پيدا کړل، بيا مو پر هډوکو غوښه خپره کړه، بيا مو هغه په يوه دويم مخلوق بدل کړ. نو تر ټولو ښه پيدا کوونکی ډېر برکتمن دی."

لومړی انسان د ځمکې له نس څخه پيدا شو نو هغه مهال هم الله دا طريقه غوره کړه. د قرآن وينا ده چې لومړی د انسان حيواني وجود پيدا شو، بيا په هغه کې د خپل نسل د پيدا کولو وړتيا کښېښوول شوه، بيا برابر کړای شو. په دې توګه چې کوم مخلوق پيدا شو پر دوو ډولونو يې وويشل او بيا يې روح پکې پوه کړ او د ادم و حوا په بڼه يې د خبرو، بيا عقل او شعور صلاحيت ورکړ او له همدې ځايه د يوه نوي مخلوق انسان پيل وشو:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الإِنسَانِ مِن طِينٍ * ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِن سُلاَلَةٍ مِّن مَّاء مَّهِينٍ * ثُمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالأَبْصَارَ وَالأَفْئِدَةَ قَلِيلاً مَّا تَشْكُرُونَ *

(السجده ۳۲ : ۷ - ۹)

" ده د انسان پيل له خاورې وکړ، بيا يې د هغه نسل له ځانګړو سپکو اوبو څخه دوام داره کړ، بيا يې برابر کړ او روح يې پکې پوه کړ (په دې ډول يې) تاسو ته غوږونه، سترګې او زړه درکړل، ستاسو لږ مننه کوونکي دي."

نبي عليه السلام ويلي دي چې د مور په نس کې د انسان د حيواني وجود پيدا ايښت په ۱۲۰ ورځو کې مکمل کېږي، تر دې وروسته روح پکې پوه کول کېږي او د خدای په حکم هغه شخصيت را منځ ته کېږي چې مورېږې انسان بولو. د ده وينا ده:

ان احدكم يجمع خلقه في بطن امه اربعين يوما. ثم يكون في ذلك علقة مثل ذلك. ثم يكون في ذلك مضغة مثل ذلك. ثم يرسل الملك فينفخ فيه الروح.

(مسلم، شميره: ۲۶۴۳)

" ستاسو د هر يوه (لومړنی) پيدا ايښت د مور په نس کې تر څلويښتو ورځو وي، بيا تر دې وروسته په همدومره موده کې په جنين واوړي، بيا په همدومره موده کې د غوښې يوه ټوټه شي، بيا ملکه ورته ليږل کېږي او د ده په امر روح پکې پوه کړي."

د قرآن و حديث د همدې څرګندونو پر بنياد د حمل غورځولو لپاره د ۱۲۰ ورځو موده ټاکل شوې ده.

(۲۰۰۹)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د اولاد بندول

اولاد د خدای په حکم پيدا کېږي، خو د پيدا ايښت چاره يې دا نه ده چې الله تعالی د يو مور و پلار لپاره په څومره شمير کې اولادونه غواړي له اسمانه يې ورته په مستقيمه توګه نازلوي. د اولاد پيدا ايښت د انسان په وسيله، د ده په اراده، پريکړه او اقدام سره ترسره کېږي. د انسان په اړه دا خبره وضاحت ته اړتيا نه لري چې د ده پيدا کوونکي په عقل او شعور، اختيار او اراده نازولی دی. دا دواړه شيان غوښتنه کوي چې تر خپلې هرې پريکړې مخته دې د کار نتيجه او پايلې وارزوي. د علم او عقل په رڼا کې دې هر کار وسنجوي او تر دې وروسته دې اقدام وکړي. په دې بايد د يوه باغوان له مثال څخه پوه شو. الله عز وجل وايي: أأنتم تزرعونه ام نحن الزارعون (دا کښت تاسو زرغونوئ که موږ؟) خبره داده چې باغ او فصلونه تاسو نه، بلکې خدای زرغونوي. خو ايا د دې معنا داده چې باغوان به يوازې تخم شيندي او که به څمکه کلکوي؟ هر څوک مني چې هيڅکله نه، د ده مسئوليت دی چې تر باغ ښوولو مخکې وګوري چې کومه ونه لګوي ايا د هغې کښت، ساتنه او مارکيټ ته يې د ميوې رسونې مصارف او اسباب لري؟ څمکه يې تياره کړې ده؟ د ونو کښينولو پر مهال يې د دوی تر منځ لازمي واټن پرېښی دی؟ په مارکيټ کې يې د ميوو تقاضا شته او که نه؟ او ايا په دې اړه پوهېږي او که يا؟ دې ټولو شيانو ته په پام به پريکړه کوي چې څه شی ولګوي؟ څه وخت يې ولګوي؟ او ايا يو څه کري هم که نه؟. د اولاد بندولو په اړه خلک د روا او ناروا بحث کوي، په داسې حال کې چې د دې ټولو شيانو کتل لکه څرنګه چې د باغوان لپاره اړين دي په همدې توګه د ماشوم د مور و پلار لپاره هم ضروري دي. که باغوان دې شيانو ته ونه ګوري نو نتايج به يې زغمي او که مور و پلار ورته پام ونه کړي هم به يې هرډول نتيجه مني.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زموږ په ټولنه کې يې مثالونه هر ځای ليدل کېږي ځکه نو ضروري ده چې د اولاد پيدا کولو تر ارادې مخته بايد د دې خبرې جاج واخيستل شي چې مورد اولاد راوړلو وړ ده؟ ايا روغتيا يې د دې وړ ده چې د پيدا ايښت او پالنې مسئوليت ادا کړای شي؟ تر دې مخکې چې يې کوم اولاد دی تر يو حده ځنې فارغه شوې ده چې د دويم اولاد ساتنه وکړای شي؟ د خپل وخت او حالاتو له مخې مور و پلار د خپل اولاد د لويولو او زده کړې و تربيې لپاره وخت، فرصت او ضروري وسايل لري که نه؟ که د دې پوښتنو ځواب منفي وي نو اولاد دې بند کړي.

د دې معنا دا نه ده چې زموږ دا پريکړه د خدای فيصلې ځنډولای شي. د ده د حکمت غوښتنه که دا وي چې ماشوم دنيا ته راشي نو هغه ضرور راځي. زموږ دا تدبير د هغه د قانون د پيروي لپاره دی، نه د هغه د يوې فيصلې د رد لپاره. ناروغي د خدای په امر راځي مګر که د روغتيا ساتنې له اصولو مخالفت وشي نو عام قانون دا دی چې ناروغي به راځي. روغتيا د خدای په لاس کې ده مګر که درملنه ونه شي نو عمومي قانون دا دی چې ناروغي زياتېږي. روزي خدای ورکوي خو قانون دا دی چې په هلو - ځلو تر لاسه کېږي. دا نړۍ له اسبابو جوړه ده او انسان ته دا صلاحيت ورکړل شوی دی چې له خپل عقل سره سم دا اسباب استعمال کړي. د خدای په تقدير کې دلته ډېرې چارې شته چې زموږ په ارادو، فيصلو او کړنو پورې اړه لري. عمر فاروق له وبا ځخه د تيښتې پر مهال وويل چې موږ د خدای له تقديره د خدای و تقدير ته تيښته کوو. له رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د اولاد بندولو د يوه تدبير په اړه پوښتنه وشوه نو ده يې هم همدې حقيقت ته پام را اړولی وو. له ابو سعيد خدري ځخه روايت دی چې ده وويل:

ما من کل الماء يکون الولد، و اذا "له هرې نطفې اولاد نه پيدا کېږي، مګر که الله د يو شي پيدا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اراد الله خلق شيء لم يمنعه شيء.
(مسلم، شميره: ۱۴۳۸)

کولو پريکړه وکړي هيڅ شی يې نه شي بندولای."

(۲۰۱۰)

# د فرجو ساتنه

اسلامي شريعت له ميرمنو پرته له بل چا سره د شهوت سړولو اجازه نه ده ورکړې. دا کار الله حرام کړی دی او په سورة المومنون کې يې په وضاحت سره ويلي دي چې د شهوت رفع کولو لپاره چې څوک له دې پرته بله لار انتخابوي نو د الله له حدودو څخه په تجاوز کولو مجرم دی. د رسالت په زمانه کې چې کومو مينځو تر هغه وخته ازادي نه وه ترلاسه کړې له دې حکمه مستثنا وې، خلکو کولای شوای له دوی سره يې هم داسې اړيکې ساتلې وای. الهي وينا ده:

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ *(المومنون ۲۳ : ۵ - ۷)

" او هغه چې د خپلو فرجونو ساتنه کوي خو نه له خپلو ښځو او مينځو، په دې کې ملامت نه دي که له دې پرته يې نور څه وغوښتل نو همدوی تيري کوونکي دي."

د ايت همدا مدعا ده مګر له دې څخه ځينو فقهاوو دا استدلال هم کړی دی چې په دې کې له ښځو او په نکاح شويو مينځو پرته که څوک په بله طريقه شهوت پوره کړي حرام دي ځکه نو د زنا، لواطت او حيواناتو سره د جنسي اړيکو په څېر د موټک (masturbation) مختلف صورتونه هم قطعاً حرام دي. د دوی په اند د زنا، لواطت او له حيواناتو سره د اړيکو نيولو په نسبت د موټک ګناه کمه ګڼلې ده او له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دي ګناوو ښځه د ځان ساتنې لپاره که خلک د خپل ځان سړونې لپاره کار واخلي نو اميد شته چې خداى يې سزا ورنه کړي. زما په اند د عربيت له مخې دا استدلال ډېر کمزروى بلکې ناسم دى. لامل يې دا دى چې په ايت کې له (على) (حافظون) سره مناسبت نه لري، له همدې وجې دلته تر (حفظون) وروسته د "عن الوقوع على احد" يا دې ته ورته الفاظ پټ دي. ځکه نو مستثنى منه د استمنا طريقې نه دي بلکې افراد دي چې يو څوک ورسره جنسي اړيکې نيولاى شي. له دې څخه په ډاګه شوه چې د ايت معنا دا نه شي کېداى چې له ښځو او په نکاح شويو مينځو پرته که د شهوت سړونې کومه طريقه غوره کړل شي ناروا ده بلکې معنا يې داده چې له ښځو او مينځو پرته له بل چا سره جنسي اړيکې روا نه دي. همدا د ايت سم تاويل دى، نو په پوره ډاډ ويلاى شم چې د قرآن مجيد هيڅ صريح نص يا کلي قاعده داسې نه ده چې تر هغه لاندې استمنا باليد حرام او يا مکروه وبلل شي. د حديث مفهوم هم داسې دى. د احاديثو په ذخيره کې هم په دې اړه داسې حديث نه شته چې محدثينو ته د منلو وړ وي. په دې اړه سمه تګلاره هغه ده چې امام ابن الحزم په خپل کتاب (المحلى) کې له دلايلو سره راوړې ده، بيا يې په سند سره ويلي چې حسن بصري، عمرو بن دينار، زياد ابو العلا او مجاهد غوندې ستر علماء هم د موټک د روا والي منونکي وو. همدې ته ورته ځيني شيان يې له صحابه کرامو څخه هم نقل کړي دي.

(۲۰۱۰)

## د جنسي اړيکو حدود

د دين هدف تزکيه ده، دين هيڅکله دا نه خوښوي چې له ښځې سره دې په خوله يا د شا په خوا کې جنسي اړيکې ونيول شي. د الله امر دى چې له ښځو سره دې خامخا اړيکې له هغې لارې ونيول شي چې الله ورته ټاکلې ده. لکه چې وايي: (فأتوهن من حيث امركم الله) (له هغې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لارې ورته راشئ چې الله درته امر کړى دى ). دا شى د فطرت له بديهياتو څخه دى او له دې اړخه له شک پرته د خداى حکم دى. په دې اړه که څوک مخالفت کوي نو په حقيقت کې د خداى له يو واضح بلکې له ډېر واضح حکم څخه مخالفت کوي چې له امله به يې هرو -مرو سزا ويني.

دا ايت چې په کوم ځاى کې راغلى دى قرآن کريم تر دې وروسته د کښت په استعارې سره وضاحت ورکړى دى. استاذ امام امين احسن اصلاحي په خپل تفسير کې ليکي:

" د ښځو لپاره د کښت په استعاره کې يو ساده اړخ دادى چې د کښت په اړه د قدرت قانون دادى چې په ټاکلي موسم او مناسب وخت کې به تخم شيندل کېږي، همدا راز به تخم د کښت په خاوره کې کې شيندل کېږي له کښته دباندې نه پاشل کېږي، هيڅ بزګر د دې قانون مخالفت نه کوي، همدارنګه د ښځې لپاره د فطرت قانون دى چې د حيض په شپو يا بل ځاى کې دې ورسره جنسي اړيکې نه نيول کېږي، ځکه د حيض په شپو کې ښځه تياره نه وي او په بل ځاى کې جنسي اړيکې د تکليف او ضياع سبب کېږي. له دې امله نو د هيڅ سليم الفطرت انسان لپاره د دې کار کول روا نه دي."

(تدبر قرآن ۱ / ۵۲۷)

تر دې وروسته يې د ( فأتوا حرثكم انى شئتم ) ( خپلو کښتونو ته چې څرنګه غواړئ راشئ ) په وضاحت کې ليکلي:

" ... ( په دې کې ) پر يوه وخت دوو خبرو ته اشاره شوې ده. يوه هغه ازادي، بې تکلفي او اختيار چې د باغ مالک يې د خپل باغ يا کښت په اړه لري او دويم هغه بنديز، مسئوليت او احتياط

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې يو باغوان يې د خپل باغ او کښت په اړه بايد ولري. د دې دويم شي لور ته د (حرث) لفظ اشاره کوي او د لومړۍ خبرې طرف ته (انی شئتم) الفاظ. هغه ازادي او دغه بنديز دواړه چې سره ملګري شي نو هغه لورى ته کې چې يو مېړه يې د خپلې ښځې په اړه غوره کول غواړي.

هر څوک پوهېږي چې د ودګنې ژوند ټول سکون د دواړو اړخونو په دې اطمنان کې دی چې د دوی د يو ازيتوب ژوند پر ازاديو د فطرت له څو مهمو بنديزونو پرته بل هيڅ بنديز نه شته. د ازادۍ دا احساس ډېر خوند او ښه کيف لري. انسان چې کله د خپل عيش دې باغ ته داخل شي نو قدرت غواړي چې هغه دې په همدې نشه مست وي خو ورسره قدرت دا حقيقت هم د هغه مخته ايښى دی چې دا ځنګل نه دی بلکې د هغه خپل باغ دی او نه يو دښت دی بلکې د ده خپل کښت دی، له دې وجې که ورته راځي سل ځله دې ورته راشي او له کومه اړخه، کوم مهال او څرنګه چې غواړي ورته را دې شي خو د دې باغ باغوالى او د کښت کښتوالى دې ياد لري. په هيڅ راتګ کې بايد له دې څخه غافل نه شي." (تدبر قرآن ۱/ ۵۲۷)

دا لارښوونې څومره ارزښتمنې دي؟ قرآن کريم د سورت البقرې په هماغه ايت کې د (ان الله يحب الطوابين و يحب المتطهرين) (بې شکه الله توبه کوونکي او پاکي کوونکي خوښوي) په الفاظو بيان کړې دی. د ايت د دې خبرې وضاحت استاذ امام امين احسن اصلاحي داسي کړی دی:

"... د توبې او تطهير پر حقيقت که غور وشي نو څرګندېږي چې توبه له ګناهونو د خپل باطن د پاکوالي نوم دی او تطهير له ښکاره نجاستونو او مرداريو څخه د پاکوالي نوم دی. له دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وجې د دواړو حقيقت يو دی او د مومن دواړه خصلتونه د الله خوښ دي. د دې بر خلاف چې کوم کسان له دې بې برخې دي الله يې نه خوښوي. دلته چې په کوم سياق کې دا خبره راغلې ده دا لاربښوونه ترې تر لاسه کېږي چې کوم خلک د ښځو د ناپاکۍ په زمانه کې له نژدېکت څخه ځان نه ساتي يا په جنسي اړيکو کې د فطرت له حدودو تېری کوي، هغوی د الله په نزد بد دي."

(تدبر قرآن ۱/ ۵۲۶)

(۲۰۱۰)

## نبوي ميرمنې

پر کوم فطرت چې د انسان پيدا ينبت شوی دی د هغه له مخې د کورنۍ اداره له خپلو ښېگڼو سره د يوه نارينه او ښځې د نکاح له اړيکې را پيدا کېږي. د انساني حيثيت له مخې نبي عليه السلام هم په خپل ژوند کې دا اړخ په پام کې نيولی او د يوې ښځې په شتون کې يې له نورو ميرمنو سره د نکاح فکر نه دی کړی. د پنځه ويشت کلنۍ پر مهال يې لومړۍ نکاح له خديجې رضی الله عنها سره وکړه. دې ميرمنې که څه هم اولادونه درلودل او مخکيني دوه ميړونه يې وفات شوي ول خو د خپل پاکوالي له امله په طاهره يادېدله. پيغمبر عليه السلام د ځوانۍ ټوله زمانه د هغې په ملگرۍ کې تيره کړه، شاوخوا پنځه ويشت کلونه يې له هغې سره تير کړي دي. تر دې چې هغه مړه شوه او د کور د سمبالولو مسئوليت يوازې همده ته پاتې شو. په رواياتو کې راغلي چې يوې صحابيې خوله بنت حکيم ده ته وويل چې د خديجې تر وفات وروسته ضروري ده چې واده وکړې. دې وويل:

يا رسول الله، كأني اراک قد "اې د الله رسوله! زه وينم چې د خديجې تر بيلتون وروسته ته

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دخلتک خلة لفقد خدیجة ... افلا اخطب علیک؟ (الطبقات الکبری، ابن سعد ۸ / ۵۷)

محتاج غوندې ښکارې ... زه ستا له لورې د نکاح پیغام یو نه سم؟ "

ده وپوښتل چې ایا څوک شته؟ دې وویل چې که وغواړې نو پیغله هم پیدا کېږي او کونډه هم. ده وویل: پیغله څوک ده؟ دې وویل: ستا د خواږه دوست لور عائشه. او کونډه؟ دې وویل: سوده بنت زمعه چې پر تا یې ایمان راوړی دی او ستا د دین پیرو ده. ده وویل: خبره ورسره وکړه. هغې خبره وکړه نو دواړو ځایونو ومنله. * څرنګه چې دا خبره د رسول الله له لوري شوې وه ځکه یې انکار نه شوای کولای نو یې له دواړو سره نکاح وکړه. خو واده یې یوازې له سوده بنت زمعه سره وکړ چې کونډه او په عمر کې له ده سره برابره وه او د کور په مسئولیتونو ښه پوهېدله. څلور کاله همدا یوه ښځه د ده په کور کې اوسېدله، ان چې د ابو بکر صدیق په هڅونه ده عایشه رضی الله عنها خپل کورته راوستله او پریکړه یې وکړه چې اوس به نو سوده بنت زمعه ته طلاق ورکوي. دا مهال سودې وویل چې زه هغه عمر ته رسېدلې یم چې ښځه له میړه سره د اړیکو هیڅ ډول دلچسپي نه لري ځکه نو زه خپل حقوق عایشې ته ورکوم مګر ته طلاق مه راکوه. د دې هیله وه چې د قیامت په ورځ د ده په میرمنو کې را پورته شي، ځکه نو ده د طلاق اراده پرېښوده * خو په پایله کې یې په عملي ډول یوازې عایشه د ده میرمن پاتې شوه.

د بشري حیثیت له مخې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځې همدا دي، له دې پرته ده په همدغه حیثیت له هیڅ میرمنې سره نکاح نه ده کړې. نو کوم کسان چې پر ده د ګڼو ښځو کولو تورپوري کوي او د ده پر

---

* مسند احمد، شمیره: ۲۵۲۴۱

* طبقات کبری، ابن سعد ۸ / ۵۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاک او سپېڅلي ژوند د مردارېو شيندلو هڅه کوي د هغوی په اړه يوازې همدا ويل کېدای شي چې سينې يې د خدای له وېرې خالي دي.
ځکه پر کوم شخصيت چې په ۲۵ کلنۍ کې چا د تور لګولو جرأت و نه کړای شو، چا چې په ټوله ځواني کې واده له يو داسي ښځې سره وکړ چې کونډه او اولاد لرونکې وه، چا چې د عربو په ټولنه کې چې د ګڼو ښځو لرل عام رواج وو پنځه ويشت کاله له يوې ښځې سره تېر کړل او هېڅکله يې هم د دويم واده فکر و نه کړ، چا چې دويم واده د لومړۍ تر مړينې وروسته له يوې داسي ښځې سره وکړ چې پنځوس کلنه کونډه وه، چا چې په ټول ژوند کې له يوې پېغلې سره واده وکړ او د هغې واده يې هم څو کاله په دې خاطر ځنډولی چې مشره مېرمن چې کور سمبالوي د نه توجو شکايت و نه کړي، د داسي شخص په اړه د يوه ناروغ ذهنيت لرونکي کس دا فکر کولای شي چې پنځوس کلنۍ ته تر رسيدو وروسته يې ناڅاپه ودونو ته پام شو او د خپل خواهش سړولو لپاره يې په خپل جوړ شوي قانون کې ترميم وکړ او تر يوې وروسته يې له بلې ښځې سره نکاح کول شروع کړي ول.

په دې کې شک نه شته چې ده د خپل ژوند په وروستيو اتو کلونو کې تر اتو له زياتو ښځو سره نکاح وکړه او د دې لپاره يو ځانګړی قانون هم نازل شو خو دا نکاح نه د انساني حيثيت له مخې وې او نه د خپل خواهش د تسکين لپاره، بلکې د خدای د وروستي پېغمبر په حيث د خپلو مسئوليتونو د پوره کولو په خاطر يا د خدای په حکم او اشاره شوې وې. د سالم عقل لرونکی انسان چې تعصبات يې يوې خوا ته اېښي وي او په دې مسئله د پوهېدو کوښښ وکړي نو له دې حقيقت څخه انکار نه شي کولای. لاندې تفصيلاتو ته مو پام غواړم:

۱) د بدر او احد په جنګونو کې ډېر مسلمانان شهيدان شول چې د ښځو او يتيمانو ساتنه يې د مدينې په وړوکي حکومت کې يوه ټولنيزه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ستونزه شوه. نو قرآن دې خبرې ته د مسلمانانو پام راواړاوی چې که د يتيمانو خپلوان دا انديښنه لري چې د دوی مالونه، جايدادونه او حقوق به تر پښو لاندې شي او په يوازې توګه يې ساتنه اسانه کار نه دی نو مسلمانانو ته ښايي چې له هغو مندو سره يې نکاح وکړي چې ورته روا دي. دا خبره د الله له خوا شوې وه چې تر ټولو لومړی بايد رسول الله صلی الله عليه وسلم منلې وای، نو ده له درو کونډو ښځو حفصه بنت عمر، زينب بنت خزيمه او ام سلمه بنت ابی اميه سره نکاح وکړه.

۲) قرآن د غلامۍ ختمولو او په ټولنه کې د غلامانو د ارزښت لوړولو لارښوونې ورکړې نو پر دې د عملي نمونې وړاندې کولو لپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل کاکا لور زينب بنت جحش نکاح له خپل ازاد شوي غلام او متبنی زوی زيد سره وکړه. دا يو ډېر غير معمولي او د ګټورو پايلو لرونکی اقدام وو، خو له بده مرغه دواړه سره جوړ نه شول او زيد هغې ته د طلاق ورکولو پريکړه وکړه. د زينب لپاره دا ډېره بده پېښه وه. ځکه هغې لومړی د ټولنيزې اصلاح لپاره له يوه ازاد شوي غلام سره نکاح کول منلي وو او بيا طلاقه کړای شوه. نو د هغې د زړه ساتنې او د متبنی زوی له ښځې سره د نکاح د حرمت جاهلي تصور له منځه وړلو لپاره الله ده ته امر وکړ چې ته ورسره نکاح وکړه. په داسې حال کې چې دا مهال يې څلور ميرمنې نورې هم درلودې. پر دې چې کومو خلکو نيوکه کولای شوای نو د هغو لپاره وويل شول چې ته خاتم النبيين يې ځکه نو بايد دا اصلاح يوازې ته وکړې، تر تا وروسته د دې لپاره بل رسول نه راځي. د زينب او ميړه تر منځ چې يې کوم حالت را منځ ته شوی وو ده هم ترې دا محسوسوله چې بايد همداسې وکړي خو ښکاروله يې نه. الله تعالی خبره ښکاره وکړه او دې لور ته يې د ده توجو را واړوله چې د الله پيغمبر د خپلو مسئوليتونو په سرته رسولو کې د خلکو د غبرګون پروا نه کړي. پر همدې بنياد له زينب سره د نکاح اعلان په خپله الله تعالی په قرآن کريم کې وکړ. په سورة الاحزاب کې دي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولاً (۳۳ : ۷۷)

"او ياد کړه (اې پيغمبره) چې کله تا هغه کس ته ييا - ييا ويل چې الله او تا پرې انعام کړی وو خپله ښځه له ځان سره وساته، له الله ووېرېږه او په خپل زړه کې دې هغه خبره پټه کړې وه چې الله يې ښکاروونکی وو، له خلکو ډاريدلې په داسې حال کې چې الله ډېر حقداره دی چې ته ترې ووډار شې. نو کله چې زيد له هغې (ښځې) سره خپله اړيکه پرې کړه نو موږ هغه تا ته درکړه، ځکه چې پر مسلمانانو د متبنی زامنو د هغو ښځو په اړه کومه تنګي پاتې نه شي چې دوی ورسره اړيکې پرې کړي. او د الله دا امر ترسره کېدونکی وو."

۳) له دې اعلان سره د رسول الله د نکاح او طلاق لپاره الله تعالی يوه مفصله قاعده په همدې سورت کې بيان کړه چې د ګڼو ښځو کولو هغه شرايط چې پر عامو مسلمانانو ايښوول شوي ول د ده لپاره ختم کړل شول، خو له دې سره ځيني داسې بنديزونه هم پر ولګول شول چې عام مسلمانان ترې خلاص دي. دا قانون د سورت احزاب (۳۳) له ۵۰ - ۵۲ اياتونو کې بيان شوی، مهم ټکي يې دا دي:

اول، له زينب سره تر نکاح وروسته که ته غواړې نو د لاندې اهدافو په خاطر نورې نکاحوې هم کولای شې:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

- د هغو حيثيت لرونکو ميرمنو د عزت په خاطر چې ستا د جنګي اقدام په وسيله نيول شوې وي او د رسره بنديانې وې.
- د هغو ښځو د زړه ساتنې لپاره چې له تا سره يوازې د ميرمنتوب اړيکه غواړي او خپل ځان درته ډالۍ کړي.
- له خپلو هغو کاکا لوڼو، ماما لوڼو، عمه لوڼو او خاله لوڼو سره چې له تا سره يې هجرت کړی وي، خپل کور او قريبان يې ستا د ملتيا په خاطر خوشي کړي وي.

دويم، څرنګه چې دا نکاح د يوه ديني مسئوليت د پوره کولو لپاره کېږي ځکه نو له خپلو دې ميرمنو سره په يو ډول د اړيکو ساتلو مسئوليت در له غاړې نه دی.

دريم، له دې ښځو پرته نورې ټولې ميرمنې درته حرامې دي* او که له دې ميرمنو څخه يوه طلاقه کړې پر ځای يې بله نه شې کولای که څه هم ډېره دې خوښه وي.

د دې ښکاره معنا دا وه چې الله تعالی غوښتل چې له هغو ميرمنو سره چې د ده بلنه يې منلې، يا د يوه جګړييز اقدام په پايله کې سخته صدمه ورته رسيدلې يا هم له ده سره د ميرمنتوب د اړيکې هيله لري نکاح کولای شي. دا پر هغو ميرمنو د خدای رحم وو، همدې ته په پام رسول الله له جويريې او صفيې سره د لومړي هدف په خاطر نکاح وکړه. ميمونه د دويمې موخې له امله د ده په نکاح کې راغله او ام حبيبه د دريم مقصد د پوره کولو په وجه د نبوي ميرمنو په کتار کې شامله شوه.

له دې څخه ښکاري چې دا يو خاص ديني مسئوليت وو چې د رسالت د مسئوليتونو په لړ کې پر رسول الله اېښوول شوی وو او ده

---

* د همدې بنديز له مخې له ماريې سره ده نکاح نه شوای کولای او د هغه د مينځې په ډول د ده په کور کې پاتې شوه.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوره کړ. له بشري خواهشاتو سره یې هیڅ تړاو نه درلود، ځکه نو اړینه وه چې له عام قانون څخه یې مستثنا کړي، د سورت الاحزاب کوم قانون چې لوړ ذکر شو هغه د همدې استثنا بیان دی.

(۲۰۱۴)

## د عائشې رضی الله عنها عمر

په عام ډول منل کېږي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د نکاح پر وخت د عائشې عمر شپږ کاله وو. دا نکاح د خدیجې تر مړینې وروسته په مکه کې وشوه. واده یې درې کاله وروسته په مدینه کې وشو. د حدیثو او سیرت په کتابونو کې همداسې څرګندونې راغلې دي. په دې لړ کې روایتونه په بخاري او مسلم کې هم راغلي او په ځینو نورو کتابونو کې هم. په دې کې شک نه شته چې د کلیوالي او قبایلي تمدن د ځینو اړتیاوو پر بنیاد داسې نکاحونې کېږي چې بیلګې یې په خپله ټولنه کې لیدلای شو. دا خبره هم سمه ده چې له بنیادي اخلاقیاتو څخه چې کومې ټولنیزې رویې را پیدا کېږي، هغه په بیلابیلو ټولنو کې د حالاتو او تجربو له مخې مختلفې وي او له هغو څخه یوه معیار ګرزول د نورو اخلاقي حیثیت نه شي ټاکلای. دا ټولې خبرې منل کېدای شي، خو د دې نکاح کیسه داسې نه ده. په دې اړه چې کومه پوښتنه د هر نظر لرونکي په ذهن کې پیدا کېږي هغه دا ده چې د دې نکاح اړتیا څه وه او کومه اړتیا چې نن وه د هغې د پوره کولو لپاره داسې اقدام ولې وشو چې څو کاله وروسته یې هم نه شوای پوره کولای؟ داسې نکاحونې کېږي په منلو کې یې ستونزه نه شته، مګر له څه ضرورت پرته او د ننني اړتیا لپاره چې کلونه وروسته یې پوره کوي د نکاح منل اسانه خبره نه ده. د عائشې د نکاح وړاندیز که د رسول الله له لوري شوی وای نو موږ به ویلي وای چې د الله په اشاره شوی دی. عائشې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې کوم کردار ادا کړ او د علم و حکمت کومه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خزانه چې يې له رسول الله څخه دې امت ته را نقل کړه الله پرې پوهېدی نو ځکه پريکړه وشوه چې دا دې په همدې عمر کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره ځانګړې شي. موږ دا هم ويلای شوای چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا نکاح د خپل دعوتي مصلحت له مخې کړې ده. د عائشې پلار د رسول الله صلی الله عليه وسلم د شپې او ورځې ملګری وو، په قبايلي ژوند کې دوستي د اړيکو په ټينګولو کې غير معمولي کردار ادا کوي. نو ده مناسبه وګڼله چې له خپل يوه ځانګړي ملګري سره دا خپلوي را منځ ته کړي چې د دوستۍ او ملګرۍ دا اړيکه نوره هم ټينګه شي.

په همدې ډول که د دې نکاح وړانديز د ابو بکر صديق له لوري کېدی نو ويل کېدای شوای چې هغه د خپل ځان، لور او کورنۍ لپاره د دې عزت او اعزاز غوښتونکی وو چې کومه هستي دی د خدای د پيغمبر په حيث مني له هغه سره دې د خسرګنۍ اړيکه هم غواړي. د اسما د واده پر مهال هغه دې لور ته ميلان ونه ښود، تر دې وروسته يې همدا يوه لور وه چې د دې په وسيله يې همدا شرف او اعزاز تر لاسه کولای شوای نو ځکه ده دا وړانديز وکړ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل يوه ګران دوست د زړه ساتنې لپاره قبول کړ.

خو موږ پوهېږو چې دا يوه خبره هم نه وه. د عائشې په اړه که د يوې رؤيا له مخې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زړه کې داسې خبره وای نو ضرور به يې ويلي وای، خو د حديثو او سيرت ذخيره په بشپړه توګه له داسې کومې اشارې او بيان څخه تشه ده. د ابو بکر صديق کيسه هم داسې ده. که هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره داسې اړيکه غوښتلای نو د عايشې نکاح يې د مطعم بن عدي له زوی سره ولې کوله؟ په رواياتو کې راغلي چې تر دې وړانديز مخکې هغه خبره شوې وه. له دې سره -سره په دې اړه راغلي چې کله د رسول الله صلی الله عليه


© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وسلم له خوا دا وړانديز هغه ته وشو نو دی حيران شو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خو زما د ماشومانو لپاره د اکا حيثيت لري، له دې حيثيت سره د نکاح وړانديز څنګه کولای شي؟ د ده الفاظ دادي: هل تصلح له. انما هی ابنة اخيه. * (ايا ورته روا ده؟ دا خو د ده د وروړ لور ده.)

روايات په ډاګه وايي چې له عائشې سره د نکاح وړانديز يوې صحابيې خوله بنت حکم کړی دی. دې ميرمنې رسول الله ته وويل چې د خديجې تر وفات وروسته تا ته په کار ده چې واده وکړې. يارسول الله، كأني اراک قد دخلتک خلة لفقد خديجة ... افلا اخطب عليک؟ * د ده په پوښتنه هغې ورته وويل چې که ته غواړې پيغله هم شته او کونډه هم. ده وويل چې پيغله څوک ده؟ هغې وضاحت وکړ چې له پيغلې يې مراد د ابو بکر لور عايشه ده. * د ميرمنې اړتيا د ميرمنې او ميړه د اړيکې لپاره کېدای شي، د ملګرۍ او دوستۍ لپاره کېدای شي، د ماشومانو د ساتنې او کورنيو چارو د سمبالښت لپاره کېدای شي. دا وړانديز که د هوښ او حواسو پر بنياد شوی وي نو د شپږو کلونو يوه نجلۍ دا اړتياوې څرنګه پوره کولای شي؟ ايا له هغې سره د ښځې او ميړه اړيکه نيول کېدای شوای؟ ايا له هغې سره د ميرمنتوب ملګري کېدای شوای؟ ايا هغې د ماشومانو خيال ساتلای شوای؟ ايا کورېې سمبالولای شوای؟ د عايشې له عمر سره پر تړلو روايتونو د پريکړې په اړه له دې قراينو څخه يوه قرينه هم نه شته بلکې بنيادي پوښتنې دي. ايا عقل دا منلای شي چې کوم ضرورت نن دی د هغه د پوره کولو لپاره دې يو داسې وړانديز وشي چې په نتيجه کې يې هغه کلونه وروسته هم نه شي پوره کېدلای؟

---

* مسند احمد، شميره: ۲۵۲۴۱

* الطبقات الکبری، ابن سعد ۸ / ۵۷

* مسند احمد، شميره: ۲۵۲۴۱



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابن خلدون بلکل سم ليکلي دي چې د تاريخي پېښو په روايت کې اصل اهميت د ممکنه پېښېدو دی. دا يوازې له دې وجې نه شي منل کېدای چې په سند کې يې فلانی او فلانی دی او په ګڼو طريقو نقل شوی دی.*

دا مهال چې کوم پوهان پر دې موضوع تحقيق کوي بايد لومړی همدې پوښتنو ته ځواب ووايي. دوی بايد ووايي چې د روايت داخلي تضاد څرنګه له منځه وړل کېدای شي؟ او که له منځه نه شي وړل کېدای نو علم او عقل ولي دا غوښتنه نه کوي چې د شپږو کلونو د نکاح روايت دې و منل شي او د هغو پوهانو نظر هم د غور وړ دی چې وايي تر (بنت ست) وروسته د (بعد العشر) مفهوم د عايشې په خبرو کې پټ وو چې راويانو پرې د پوهيدو کوښښ نه دی کړی؟ دې پوښتنې ته له ځواب پرته که هر تحقيق وشي نو هيڅ معقول انسان ته به د منلو وړ نه وي.

(۲۰۱۲)

# د طلاق حق

نکاح يوازې د دې شي نوم نه دی چې د نارينه او ښځې جنسي اړيکې د قانون په دايره کې راشي. دا يو تړون دی چې له امله يې کورنۍ را منځ ته کېږي. کورنۍ د انسانيت يوه اړتيا ده، له دې پرته د انسان د ژوند، ځان او ټولنې اړتياوې نه شي پوره کېدلای. دا د ښځې په دې پريکړه سره را منځ ته کېږي هغه په مساوي توګه او د يوه ملګري په حيث نه بلکې د يوې ميرمنې په حيث خپل ځان ميړه ته سپاري. د دې معنا داده چې هغې نارينه د دې ادارې د مشر په توګه منلی دی چې د دوی په خپل منځي تړون را منځ ته کېږي. څرنګه چې له دې څخه نارينه ته د ښځې او ماشومانو د ټولو مالي اړتياوو پوره کولو مسئوليت ور له غاړې کېږي په همدې توګه ښځه هم مسئوله ده چې که خدای مه کړه دا

---

*مقدمه ابن خلدون: ۳۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسئوليت ترسره نه شو نو د ييلتون کوم اقدام به له نارينه سره له تفاهم پرته نه کوي. همدا راز که د طلاق نوبت راغى نو دا به طلاق نه ورکوي بلکي د طلاق غوښتنه به کوي. په عامو حالاتو کي همدا غوښتنه کېږي چي هر شريف انسان بايد د تفاهم نه موجودېدو په صورت کي بايد دا غوښتنه ومني، خو که داسي ونه شي ښځه به څه کوي؟ د دې پوښتنې هيڅ ځواب شريعت نه دى ورکړى. بلکي د ژوند د نورو چارو په څېر يې زموږ اجتهاد ته خوشي کړې ده. د رسالت له زمانې ترننه چي کومه طريقه د دې لپاره غوره شوې ده، هغه دا ده چي ښځه په دې صورت کي محکمې ته رجوع کوي. اوس مهال له دې څخه زياتي ستونزې پيدا کېږي. د دې يو حل دا وړاندي شوى دى چي په نارينه دي ومنل شي چي ښځې ته د طلاق حق ورکړي. زموږ په ټولنه کي داسي غوښتنه په خاص ډول د نکاح پر مهال اسانه نه ده. بيا دا شى هغه حکمت هم له منځه وړي چي له امله يې د طلاق حق ښځې ته نه دى ورکړل شوى. ځکه نو زما په اند بايد په دولتي سطح داسي قانون جوړ شي چي د طلاق تر غوښتنې وروسته که ميړه په ۹۰ ورځو کي دننه طلاق ورنه کړي نو له ده سره دي نکاح په خپله فسخ وګڼل شي او د مالونو او جايدادونو په اړه که شخړه وي نو دواړې ډلې دي محکمې ته رجوع وکړي. دويم صورت دا کيداى شي چي اوس مهال کومه نکاح نامه رواج ده په هغې کي دي د طلاق ورکولو د حق متن ختم کړي او لاندي عبارت دي د نکاح نامې په پيل کي وليکل شي:

" دا نکاح په دې شرط ترل کېږي چي که ښځه په ليکلې بڼه د طلاق غوښتنه وکړي نو ميړه به په ۹۰ ورځو کي د طلاق ورکولو مسئول وي. که ميړه داسي ونه کړي نو د دې مودې تر تيريدو وروسته د هغه له لوري ښځه په خپله طلاقېږي. تر دې طلاق وروسته ميړه د رجوع حق نه لري او ښځه مسئوله ده چي له ولور، خوراک او نفقې پرته که کوم مال او جايداد هغې ته ورکړى وي

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او د طلاق پر مهال يې ميړه بيرته وغواړي نو د پريکړې لپاره دې محکمې ته رجوع وشي او يا دې هغه مال ورکړل شي."

که دا طريقه ومنل شي نو د ښځې او کورنۍ له خوا به داسې غوښتنه نه کيږي چې د نکاح پر مهال د بې خوندۍ سبب شي.

نارينه به د ۹۰ ورځو مهلت ولري چې کولای شي په دې موده کې ښځه د خپلې فيصلې اخيستلو ته اماده کولو ته تياره کړي.

طلاق به د ميړه له لوري وي ځکه نو په دې ډول ټول هغه احکام او مصالح پر خپل ځای پاتې دي چې د الله په قانون کې ورته پام شوی دی.

(۲۰۰۸)

## د طلاق ناسمې طريقې

په اسلامي شريعت کې چې ښځې ته د طلاق ورکولو کومې طريقې ښوول شوې دي د هغو له مخې ځوک حق نه لري چې عدې ته له پام پرته ښځه طلاقه کړي، د غوسې په حالت کې يې له خولې د طلاق الفاظ ووزي، پر طلاق شاهد ونه نيسي، ښځه په حيض کې وي او که په طهر کې، ليدلې يې وي او يا نه طلاقه يې کړي. پر يوه وخت د دوو يا درو طلاقو الفاظ يې له خولې ووزي او ويې ليکې ورويې ليږي. دا ټولې طريقې غلطې دي. له دې طريقو څخه هره يوه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه او يا د ده په مخ کې پېښه شوې د سخت خپگان ځرگندونه يې کړې. يو ځل يې وويل: تاسو به د الله له قانون سره لوبې کوئ، په داسې حال کې چې زه مو تر منځ موجود يم؟. *

له دې سره – سره حالت داسې دی چې زموږ په ټولنه کې خلک د طلاق ورکولو پر مهال همدا جرمونه ترسره کوي. د تيرو ديرشو کلونو

* نسايي، شميره: ۳۴۳۰

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په عامه ژوند کې چې څو مره د طلاق پېښې مخ ته راغلې دي له يو – دوو ماسوا طلاق ورکوونکو له دې جرمونو يو نه يو ترسره کړی دی. دا د ډېرې انديښنې خبره ده. خو ايا د دې معنا داده چې خلک په قصدي ډول د خدای د قانون مخالفت کوي؟ د حلال او حرام هيڅ پروا نه لري؟ له خدايه هيڅ نه ويرېږي؟ ايا له دوی سره هيڅ دا احساس نه شته چې يوه ورځ به خدای ته جواب ويونکي وي؟ زما په فکر داسې هيڅ خبره هم نه شته. خلک دا جرمونه له دې وجې نه ترسره کوي چې د خدای دښمنۍ پر غاړه اخلي، بلکې په ناپوهۍ يې کوي. د دې لومړۍ وجه داده چې ډېر شمير يې له دې خبر نه دي چې د خدای په شريعت کې دا شيان منع کړای شوي دي. دويم دا چې علما او فقها د دې جرايمو له وجې خلک متوجې کوي نه، بلکې په داسې طريقو ورکړل شوي طلاقونه نافذوي. درېيم، طلاق ورکوونکی چې وثيقه ليکونکي، نکاح ثبتوونکي يا کوم وکيل ته ورځي او د طلاق اسناد ورباندې ليکي نو هغه هم دې شيانو ته له پام پرته پر يوه وخت درې طلاقونه ليکي او ور سپاري يې. دا چاره دومره عامه شوې ده چې ډېر کم خلک د شريعت له ټاکلو ادابو سره سم طلاق ورکوي.

د دې پايلې ډېرې د افسوس وړ دي. د الله تعالی په قانون کې چې کوم مصالح په پام کې نيول شوي دي هغه ټول له منځه ځي. د رجوع، موافقت او له تباهۍ څخه د کور د ساتنې ټول فرصتونه ضايع کېږي. د ماشومانو، لويانو او دوستانو لپاره د سولې کولو هيڅ لار نه پاتېږي او د کورنيو ترمنځ د جګړو يوه لړۍ را پيدا کېږي. خلک د خپلو کړو د تلافۍ په خاطر علماوو ته رجوع کوي نو هغوی د حلالې مشوره ورکوي چې په اړه يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا ده چې پر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کوونکي او هغه چې په کوي يې، پر دواړو دې د خدای لعنت وي. *لنډه دا چې دوه الفاظ له خولې وزي او د ټول عمر د پښېمانۍ سبب کېږي.

د دې حالت د سمون په خاطر باید لاندې اقدامات وشي:

۱) علما او فقها دې د جمعې په ویناوو، مجلسونو او نصیحتونو او خپلو درسونو کې هر ځای خلک دې تېروتنو ته متوجې کړي، د هغو بدوالی دې ورته بیان کړي. په دې اړه دې په پر له پسې توګه د هغوی مخ ته د رسول الله لارښوونې کښېږدي او ورته ودې وایي چې د طلاق ورکولو سمه لار یوازې دا ده چې په ټول ژوند کې یوازې یو طلاق ورکړل شي او کله چې ورکول کېږي نو په ساړه دماغ دې فکر وکړي، د دوو شاهدانو په شتون کې دې، د عدې په حساب سره او له حیض تر فارغېدو وروسته دې له هغې سره له اړیکو نیولو پرته ورکړي.

۲) د نکاح نامې په څېر دې حکومت یوه معیاري طلاق نامه هم خپره کړي او د نکاح ثبتولو په مرکزونو کې باید کښېښوول شي او خلکو ته دې وویل شي چې د دې په ډکولو سره به طلاق ورکوي. که یې څوک مخالفت وکړي نو سزا دې ورکړي.

۳) علما، فقها او محکمې دې په غلطو لارو ورکړل شویو طلاقونو کې هماغه لار غوره کړي لکه رسول الله چې په داسې مقدمو کې غوره کړې وه. له هغو څخه یې دوې ډېرې ضروري دي.

لومړۍ پېښه د عبدالله بن عمر رضی الله عنه ده. په حیض کې یې خپلې ښځې ته طلاق ورکړ، نو عمر رضی الله عنه رسول الله ته وویل. رسول الله یې په اورېدو سخت خپه شو او ویې ویل: ورته ووایه چې رجوع وکړي، په نکاح کې دې وساتي، تر دې چې پاکه شي، بیرته حیض ورته راشي او بیا پاکه شي. تر دې وروسته که یې خوښه وه ودې ساتي

---

* ابن ماجه، شمیره: ۱۹۳۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او که يې خوښه وه ترليدنې (جماع) وړاندې دې طلاقه کړي. ځکه همدا د هغې عدې پيل دی چې الله تعالی پکې ښځو ته د طلاق ورکولو امر کړی دی.*

دويمه پېښه د رکانه بن عبد يزيد ده. له ټولو روايتونو چې کومه پېښه څرګندېږي هغه داده چې پر يوه ځای يې ميرمنې ته درې طلاقونه ورکړل. بيا پښېمانه شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې خبره وړاندې کړه. ده ترې وپوښتل چې طلاق دې څرنګه ورکړ؟ هغه ورته وويل چې پر يوه وخت مې درې طلاقونه ورکړي دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم وپوښتل اراده دې کړې وه؟ ده وويل چې اراده خو مې د يوه طلاق وه. رسول الله په قسم ترې پوښتنه وکړه او هغه قسم وکړ نو رسول الله وويل چې داسې ده نو رجوع وکړه، دا يو طلاق دی. هغه وويل چې ما خو درې طلاقونه ويلي دي. رسول الله وويل: زه پوهېږم، ته رجوع وکړه دا د طلاقو ورکولو سمه لار نه ده. د الله تعالی لارښوونه ده چې ښځو ته بايد طلاق عدې ته په پام سره ورکړل شي.*

(۲۰۱۰)

---

* بخاري، شميره: ۵۲۵۱، مسلم، شميره: ۳۶۵۷

* ابوداود، شميره: ۲۱۹۶، ۲۲۰۶، ابن ماجه، شميره: ۲۰۵۱، ترمذي، شميره: ۱۱۷۷، احمد، شميره: ۲۳۸۳. دا روايتونه د سند په لحاظ سره ضعيف دي خو ټول په راغونډولو ترېو حده دليل کېدای سي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

# دولت او حکومت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د شریعت نفاذ

ځیني خلک فکر کوي چې ډیموکراسي یا جمهوریت د اسلام لپاره یو پردی فکر دی. د حکومت جوړولو اسلامي طریقه هماغه ده چې طالبانو په افغانستان کې د ملاعمر تر مشرۍ لاندې جوړ کړ. قانون، پارلمان، ټولټاکنې او نور دا ټول د دې مهال خرافات دي. اسلام د خپل نفاذ لپاره د دې شیانو پابند نه دی. په حنفي فقه کې چې د دې شیانو کوم تعبیر شوی دی، هماغه زموږ لپاره سم انتخاب دی. د فقهاوو اجتهادات لیکل شوي او مدون دي، د انفرادي او ټولنیز ژوند په اړه فقهاوو خپل اجتهادات لیکلي او دا ټول د قران، سنت، اجماع او قیاس پر بنسټ لیکل شوي دي او د فقهې او فتاواوو په کتابونو کې موجود دي، همدا باید نافذ شي. د دې لپاره له پارلمان څخه تایید تر لاسه کولو ته اړتیا نه شته. دوی چې کومه طریقه بیانوي داده چې د دولت ټولې ادارې باید د محکمو تر امر لاندې وي او محکمې باید علماوو ته وسپارل شي ځکه چې د اسلامي شریعت ماهرین همدوی دي. دوی وایي چې د تیرو دوولسو پیړیو تاریخ د دې ملاتړ کوي. په عباسي سلطنت کې د قاضی القضات په توګه د امام ابو یوسف تر ټاکل کیدو وروسته هر ځای همدا طریقه غوره شوې وه چې دا طریقه لویدیځ استعمار له منځه یو وړه. اوس مسلمانان ازاد دي، ځکه نو باید حکومتي سیستم له دې شرعي طریقې سره سم مخته یو وړل شي.

په اسلام چې زه څومره پوه شوی یم، د هغه پر بنیاد په پوره ډاډ ویلای شم چې قرآن کریم دا نظر نه مني. د حکومت کولو کومه طریقه چې یې ښوولې هغه ډیموکراسي ده. د قرآن وینا ده: امرهم شورى بينهم (د مسلمانانو چارې د هغوی په خپل منځي مشورو مخته وړل کیږي). عمر رضی الله عنه یې په وضاحت کې وایي: "چا چې د مسلمانانو له رایې پرته له چا سره بیعت وکړ، هغه دې خپل ځان قتل ته را وړاندې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړي." زموږ په تاریخ کې د دې هدف لپاره د پاچاهۍ لار هم غوره شوې او د امیریت هم او زموږ ځیني په دې اند دي چې د حکومت مشر باید خدای ته تسلیم وي. خو د حکومت کولو لپاره د قرآن اصل همدا دی. د خپل نوعیت او فطرت له مخې چې دا اصل د کومو شیانو غوښتنه کوي د اوس مهال یو لوی عالم مولانا سید ابو الاعلی مودودي یې په خپل تفسیر کې بیانوي. دی لیکي:

" اول دا چې ټولنیزې چارې چې د کومو خلکو له حقوقو او ګټو سره اړه لري هغوی باید د بیان بشپړه ازادي ولري او هغوی باید له دې څخه خبر وساتل شي چې د هغوی چارې څنګه دول مختهوړل کېږي؟ او هغوی باید دا حق هم ولري چې که د خپلو چارو په رهبري کې کومه نیمګړتیا او تیروتنه ووینې نو انتقاد او احتجاج وکړای شي او که اصلاح ونه وینې نو مشران بدل کړي. د خلکو خولې بندول او د هغوی د پښو او لاسونو تړل او په بې خبره ساتلو یې ټولنیزې چارې مختهوړل صریحه بې دیانتي ده، چې هیڅوک یې هم د امرهم شوری بینهم د اصولو د پیروۍ په توګه نه شي منلای.

دویم دا چې د ټولنیزو چارو د مختهوړلو مسئولیت چې هر چا ته ورکول کېږي، هغه باید د خلکو په خوښه وټاکل شي او د خلکو خوښه باید په ازاده توګه وي. په جبر او ډار، یا په حرص او تمې، چل او فریب سره تر لاسه شوې رضا په حقیقت کې د خلکو رضا او خوښه نه ده. د یوه ملت رهبر هغه نه دی چې له هرې شونې لارې هڅه کوي چې رهبر شي، بلکې هغه دی چې د خلکو په خوښه رهبر وټاکل شي.

دریيم دا چې مشر ته د مشورې ورکولو لپاره دي هم هغه خلک وټاکل شي چې ملت باور پرې لري، ښکاره خبره ده چې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه خلک هیڅکله هم د ملت رښتني استازي نه شي کېدای چي په ډار اچولو، پیسو شیندلو، دروغو او چل سره د خلکو په بې لارې کولو د ملت د استازیتوب مقام ته رسیږي.

څلورم دا چي مشوره ورکوونکی له خپل علم او ایمان و ضمیر سره سمه مشوره ورکړي او د داسي مشورې ورکولو لپاره باید ازادي هم ولري. چیرته چي دا نه وي او مشوره ورکوونکی د کومې تمې او یا ویرې پر بنیاد د خپلې پوهي او ضمیر پر خلاف مشوره ورکوي، هلته په حقیقت کي خیانت او غداري کېږي، نه د امرهم شوری بینهم پیروي.

پنځم دا چي کومه مشوره د اهل شوری په اتفاق سره ورکول کېږي یا د اکثریت تایید ولري هغه باید ومنل شي. ځکه که یو شخص یا یوه ډله د ټولو بر خلاف د خپلې فیصلې د تطبیق واک لري نو هلته مشوره بې معنا ده. الله تعالی دا نه وایي چي د دوی په چارو کي له دوی مشوره اخیستل کېږي بلکي دا وایي چي د دوی چارې په خپل منځي مشوره مخته ځي. دا لارښوونه یوازي په مشوره اخیستلو نه عملي کېږي، بلکي د دې لپاره اړینه ده چي په مشوره کي اکثریت یا اجماع کومه پریکړه کړې وي له هغه سره سم دي چارې مخته یو وړل شي."

(تفهیم القرآن ۴ / ۵۰۹)

له دې څخه څرګندېږي چي که د حکومت په اړه دین کومه لارښوونه ورکړې هم وي نو د تشریح او تعبیر لپاره به یې همدا لار غوره کېږي. د دیني علوم و پوهان خپل - خپل تشریحات وړاندي کولای شي، حق لري چي خپل اند بیان کړي خو د دوی دا نظر به هله خلکو ته د واجب الاطاعت قانون حیثیت ولري چي د هغوی منتخب استازي یې په اکثریت سره قبول کړي. په نویو حکومتونو کي پارلمان په همدې خاطر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

را منځ ته شوی دی. په دې حکومتونو کې اخیري فیصله همدا کوي او حق یې لري. خلک حق لري چې د پارلمان پر پریکړو نیوکه وکړي او د تیروتنو د اصلاح هڅه یې وکړي، خو د مخالفت او بغاوت حق ترې هیڅوک نه لري. که علما وي او یا محکمه، هیڅ یو هم تر پارلمان لوړ نه دي. هره اداره مجبوره ده چې له پریکړو سره یې له اختلاف سره ـ سره په وړاندې سرتیټ کړي.

که د پارلمان همدا حیثیت ومنل شي نو د اسلامي او سیکولر حکومت تعبیرات هم ارزښت بایلي. داسې شیان شخصي حکومتونو ته اړین ول. زموږ د هڅو مرکزي ټکی د یوه خالص جمهوري نظام جوړول دي. داسې حکومت چې یو ځل را منځ ته شي نو خلک چې یې څومره مسلمان وي اسلام به په هماغه اندازه په د دوی په نظام کې ښکاري. د دې فطري لار همدا ده، له دې په ها خوا کېدو یې نتیجه یوازې منافقت ده چې له تیرې نیمې پیړۍ یې په پاکستان کې تجربه کوو.

د علماوو او مصلحینو دنده همدا ده چې د زده کړې او ښوونې له لارې د خلکو ذهنونه دې ته چمتو کړي. دوی باید له حکومت سره په ګډه او د موعظه حسنه په اسلوب سره دې ته دعوت وکړي، د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ووایي، شکونه یې لرې کړي او په دلایلو سره ورته ووایي چې الله تعالی ولې خپل شریعت را لیږلی دی؟ له ټولنیز ژوند سره یې تړاو څه دی؟ په هغه کې د احکامو بنسټ څه دی او د نن زمانې انسان یې ولې په پوهېدو کې ستونزه لري؟ د تفهیم او تبیین لپاره یې داسې اسلوب غوره کړل شي چې حکمت، معنویت او مقاصد یې خلکو ته روښانه شي او زړه و دماغ یې په پوره ډاډ سره منلو ته چمتو شي. په قرآن کې د دوی مقام دعوت او انذار ښوول شوی دی، دوی خو ساتونکي نه دي چې د ټوپک په زور سره پرې شریعت تطبیق کړي. علما خو یوې خوا ته پرېږده، حکومت هم نه شي کولای چې له زکات او



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لمانځه پرته د دین ایجابي غوښتنې په خلکو د قانون په زور سره ومني. قرآن په دې اړه بالکل واضح دی چې په اخرت کې د ځواب ورکولو په لحاظ چې د اسلام غوښتنې له خپلو منونکو هر څه وي خو دولت ترې یوازې همدا پورتنۍ غوښتنې کولای شي. له دې پرته دوی یوازې د تبلیغ، تلقین او ښوونې و روزنې لار لري چې له دې لارې یې باید د اصلاح هڅې وکړي. علما که له سیاست سره دلچسپي لري نو سیاسي ګوندونه موجود دي په هغو کې په شاملیدو دې پارلمان ته ځان ورسوي او د قانون سازۍ لپاره له ټاکل شویو طریقو سره سم دې د قانون د اسلامي کولو لپاره خپلې هڅې وکړي.

(۲۰۰۹)

# اسلامي حکومت

د انسان په فطرت کې دي چې د حکومت په سیوري کې ژوند مخته وړي. په لومړي ځل حکومت هغه مهال را څرګند شو چې خلکو پریکړه وکړه چې د خپلو قبیلو لپاره سرداران وټاکي. بیا چې همدې سردارانو پر نورو قبیلو د خپلې سردارۍ د منلو لپاره په برید کې بریالي شول او د مفتوحه سیمو خاوندان شول نو په تدریجي توګه پاچاهي را منځ ته شوه. په وروسته زمانه کې همدې پاچاهانو د لویو-لویو فاتحینو په حیثیت لویې پاچاهۍ جوړې کړې او هغه حکومتونه را منځ ته شول چې موږ یې د ساساني، رومي او نورو حکومتونو په نوم پیژنو. دا پاچاهۍ خو اوس له منځه تللې دي، خو پاچاهۍ لا هم څو ځایه پاتې دي او هغه هم زیاترې په قانوني پاچاهیو بدلې شوې دي. له څو ملکونو پرته هر ځای همدا حال دی، په دې استثناوو کې یوه د سعودي عرب پاچاهي ده. دا تر اوسه هم له خپل جلال او شان سره پاتې ده، په دې پاچاهیو کې قانون د پاچا او د هغه د اکابرینو فرمان وي. د خپل تاسیس په لومړۍ ورځ یې پریکړه کړې چې د دوی داخلي قانون به اسلامي شریعت وي. د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سني علماوو اکثریت یې پاچاهي د شریعت خلاف نه بولي او سعودي چې د شریعت کوم تعبیر کوي په ټوله کې ورسره متفق هم دي. د دوی فکر دی چې دا یو اسلامي حکومت دی او له همدې وجې ورسره د وفادارۍ څرګندونه هم کوي. اوس مهال چې د اسلام کوم انقلابي فکر را پیدا شو لنډیزیې دادی چې د صالحینو یو منظم اقلیت یوازې پر خلګو د حکومت کولو حق لري. له خدایه نافرمانه خلګ که حکومت کوي نو په حقیقت کې غاصبین دي. صالحین حق لري چې له دوی څخه خپل دا حق بیرته واخلي. په شیعه تعبیر کې همدا شی د معصومینو د حکومت او فقیه ولایت په څېر تصوراتو کې له وړاندې موجود وو. ځکه نو سني او شیعه علماوو ځای -ځای خپل ګوندونه په همدې هدف را منځ ته کړي. ځیني لوستي خلګ هم په ځینو ملکونو کې د صالحینو له دې منظو اقلیتونو سره یو ځای کېږي او له خپل تعبیر سره سم د اسلامي حکومت د راوستو لپاره هلې -ځلې کوي. ځیني ځایونه دا خوځښتونه بریالي شوي هم دي. د مثال په ډول په ایران کې چې د امام خمیني تر مشرۍ لاندې علما د خپل حکومت په راوستلو وتوانیدل او له تیرو څو لسیزو راهیسې په پوره طاقت سره حکومت کوي. همدا راز په افغانستان کې د پاکستان د حکومت په مرسته د دې ځای د علماوو شاګردانو حکومت جوړ کړ چې د یوولسم ستمبر د پیښې ښکار شو او د واک بیا ځلې تر لاسه کولو لپاره له نړۍ والو ځواکونو سره په جګړه اخته دي.

دلته دا پوښتنه را پیدا کېږي چې اسلام څه غواړي؟ قرآن او حدیث که په غور ولوستل شي نو دا خبره بالکل واضحه ده چې د اسلام اصل مخاطب فرد دی، غواړي چې د ده پر زړه او دماغ خپل حکومت وکړي ځکه نو ده ته امر کوي چې پر خپل ټول وجود د خدای حاکمیت ومني. د هغه خدای چې په څه ډول د انسانانو رب او د انسانانو معبود دی، همداسې د انسانانو پاچاه هم دی، ځکه نو ضروري ده چې له عبادت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره یې اطاعت هم وشي او د کوم څه په اړه چې یې قانون جوړ کړی انسان یې په وړاندې سر ټیټ کړي. په دې کې شک نه شته چې ټولنه هم مخاطبوي، خو هغه مهال چې د ټولنې افراد پر خپل ځان دا حکومت ومني. د دې لپاره نه دې ته اړتیا شته چې د حکومت نوم اسلامي جمهوریت کړل شي، نه کوم تړون ته او نه د قانون مادو ته. فرد چې کله پر خپل ځان دا حکومت ومني نو د هغه په اقتصادي، ټولنیز، تهذیبي او سیاسي حرکاتو کې اسلام په خپله را څرګندېږي. نو په دې توګه که د خدای کوم حکم ټولنې ته متوجې وي له تردد پرته یې تنفیذ او منلو ته تیارېږي.

همدا اسلامي حکومت دی. دا چې په همدې طریقه را منځ ته شي نو د خدای رحمت پر ځمکه سیوری کوي. که نه وي هم باید اندېښنه ونه شي، ځکه چې د اسلام هدف حکومت را وستل نه بلکې د نفسونو تزکیه ده. د اسلام بلنه د خدای د هغې پاچاهۍ لپاره ده چې د قیامت په ورځ د همدې تزکیې په پایله کې تر لاسه کېږي. هغه له جهنم څخه د خلګو د ایستلو او د خدای په ابدي پاچاهي کې د خلګو د داخلولو لپاره راغلی دی، په دنیا کې د خپلو پیروانو د حکومت را منځ ته کولو لپاره نه دی راغلی. کوم خلګ چې د (اخری تحبونها)* لپاره بې تابه دي، د تیري نیمې پېړۍ تجربې یې هم ولیدلې. زما په فکر دوی باید اوس دا حقیقت ومني چې اسلامي حکومت نه په شاهي فرمان سره راځي، نه د علماوو په امیریت سره او نه پر خلګو د خدایي پوځ د کومې ډلې په مسلطولو سره. دا هدف نه دی بلکې پایله ده چې اسلام او اسلامي شریعت ته د خلګو په اخلاص سره را ښکاره کېږي او باید ښکاره هم شي. که په دې توګه دا را ښکاره شي نو هغه حکومت به را منځ ته شي چې په هر مفهوم سره اسلامي حکومت ورته ویل کېدای شي. که د دې

* الصف ۶۱ : ۱۳. (هغه دویم شی چې تاسو یې خوښوئ)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حکومت راوستل هدف وي نو په سیاست کي د وخت ضایع کولو او په جګړه کي د ځان او نورو بې ګناوو خلکو د وژلو پر ځای دي خپل توان پر دوو شیانو ولګولي:

اول دا چي په وعظ او نصیحت، علم او استدلال، تعلیم او زده کړه سره دي لومړی د خلکو په زړه او دماغ کي د دې حکومت د را منځ ته کولو هڅه وشي، تر دې چي د اهل حق و عقد خاوندان هم د اسلام او اسلامي شریعت په اړه همدومره وپوهېږي او ویې مني لکه د اسلام بلونکي چي پرې پوه شوي او منلی یې دی.

دویم دا چي هر ځای دي د ډیموکراټیکو ارزښتونو ملاتړ وشي چي خلک په سیاست او اقتصاد کي د اسلام د غوښتنو پوره کولو لپاره تیار شي او هیڅ استبداد یې په وړاندي خنډ نه شي. د استبدادي قوتونو پر خلاف هلې-ځلې په حقیقت کي د فتنې پر خلاف مبارزه ده او له قرآن سره سم فتنه تر قتل لوی جرم دی او فاعلین یې که پاچا وي، یا آمر د دې وړ دي چي د تل لپاره له دنیا څخه رخصت کړل شي.

(۲۰۱۱)

# اسلام او دولت

په عام ډول ویل کېږي چي د پاکستان بنسټګر غوښتل چي دا د مفتو خدماتو رسوونکی یو اسلامي جمهوري حکومت وي. په وروسته مهال کي هم د پاکستان په اړه همدا تصور پاتي شو. دا مهال چي کومو خلکو د انقلاب او بدلون بیرغ اوچت کړی دی، هغوی هم دا وایي. که د پاکستان عام اولس وپوښتل شي نو د هغوی یو لوی اکثریت هم دا خبره کوي. د جمهوري او مفتو خدماتو رسوونکو حکومتونو مثالونه دا مهال په لویدیځ کي موجود دي، ځکه نو په دې تصوراتو پوهېدل ستونزمن نه دي. خو له اسلامي څخه هدف څه دی؟ د دې یوه نمونه د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سعودي پاچاهي او د ایران پاپائیت دی. که په مستقیمه توګه له همدوی څخه د اسلام د پوهېدو هڅه وشي نو دوی یې نه مني. ځکه نو ضروري ده چې د مسلمانانو له ټولنیز نظم سره د اسلام تړلې غوښتنې دلته بیان کړل شي چې خلک یې په رڼا کې د خپلو رهبرانو د ژمنو او اقداماتو ارزونه وکړي.

غوښتنې دادي:

۱) کوم خلک چې ځان ته مسلمان وايي او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدای اخیري پیغبر بولي، لمونځ کوي، حکومت ته د زکات ورکولو لپاره تیاروي، هغه مسلمان ګڼل کېږي او اسلامي شریعت چې د هغوی لپاره کوم خاص حقوق ټاکلي دي هغه به په هر حال کي ادا کېږي.

د دې مطلب دادی چې د چا رعیت به نه وي بلکي برابر اتباع به وي. د قانون او دولت په سطح به یې تر منځ د امتیاز هیڅ کرښه نه وي. مال او عزت به یې خوندي وي، تر دې چې دولت به تري له زکات پرته نوره مالیه نه اخلي البته که یې خوښه نه وه. د هغه په شخصي معاملاتو یعني نکاح، طلاق، د میراث په ویش، راکړه -ورکړه او همداسي نورو چارو کي یې که کومه شخړه را منځ ته کېږي نو له اسلامي شریعت سره سمه به یې پریکړه کېږي. د شپې او ورځې د لمنځونو، روژې د میاشتې او حج و عمرې لپاره باید ټول اړین وسایل ورته چمتو کړل شي. له لمانځه او زکات پرته به پر دوی د قانون په زور نور ایجابي احکام نه پلي کېږي. پر هغوی به په عدل او انصاف او د (امرهم شوری بینهم) په طریقه حکومت کېږي. ملي شتمنۍ باید د ټولنیزو اړتیاوو لپاره ځانګړې وي، په فردي ملکیت کي به نه ورکول کېږي بلکي په داسي توګه به ساتل کېږي چې کوم خلک په اقتصادي لحاظ وروسته پاتي وي د هغوی اړتیاوې له همدې عوایدو پوره کړل شي. کله چې ومري نو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تجهيز او تکفين يې د مسلمانانو پر طريقه وي، جنازه يې وشي او د مسلمانانو په هديره کي د مسلمانانو پر طريقه ښخ کړل شي.

۲) د جمعې او اخترونو د لمنځو زمينه بايد حکومت برابره کړي. دا لمنځونه بايد يوازي همالته ادا شي چي د حکومت له خوا دې لپاره ځانګړي شوي وي. منبر يې چارواکو ته ځانګړی وي، په خپله خطبه ووايي او لمونځ ورکړي، يا د دوی له خوا يې کوم استازی دا دنده ترسره کړي. د دولت په حدودو کي دننه بايد څوک په خپل سر د دې لمنځونو د ادا کولو واک ونه لري.

۳) د قانون نافذوونکې اداري بايد په اصل کي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اداري وي. د ټولنې صالح افراد دي د دې ادارو د کارکوونکو په حيث وټاکل شي. هغوی ته خلګو ته د ښو بلنه ورکوي او له هغو شيانو دي را ګرزوي چي انسان تل بد ګڼلي دي.

۴) حکومت د خپلو دښمنانو پر خلاف هم بايد پر عدالت ولاړ وي. حق ووايي، د حق شاهدي ورکړي او له حق و انصاف پرته بل هيڅ اقدام ونه کړي.

۵) د حکومت په دننه او دباندي کي که له چا سره ژمنه او تړون شوی وي نو څو چي تړون وي د لفظ او معنا په لحاظ يې بايد په پوره ديانت او اخلاص سره پيروي وشي.

۶) په مسلمانانو کي که کوم څوک قتل، غلا، زنا، په ځمکه کي فساد، قذف او يا نور جرمونه وکړي او محکمه ډاډمنه شي چي د خپل ذات، کورنۍ او ټولنيزو حالاتو په لحاظ د کوم رعايت وړ نه دی هغه سزا ورکړي چي اسلام په اخلاص سره تر مسلمانېدو وروسته د داسي جرمونو کوونکو ته په قرآن کي بيان کړې ده.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۷) نړۍ ته د اسلامي دعوت د رسولو لپاره باید په دولتي سطح زمینه برابره شي. که یې د نړۍ کوم ځواک په وړاندې خنډ شي، یا پر ایمان راوړونکو تشدد وکړي نو دولت یې باید له خپل وس سره سم په وړاندې د خنډونو لرې کولو هڅه وکړي او د دې تشدد مخنیوی وکړي، که څه هم د دې لپاره جګړې ته اړتیا شي. *

(۲۰۱۲)

## د قانون بنسټ

انسان ازاد پیدا شوی دی، له خپل خالق پرته هیچا ته محکوم نه دی. که فرد وي که دولت، هیڅوک حق نه لري چې پر علم او عمل یې کوم محدودیت ولګوي، یا یې د مال او ابرو پر خلاف اقدام وکړي. دا ازادي د انسان فطري حق دی چې خپل خالق ورکړې ده. د انساني حقوقو نړۍ وال منشور همدا حقیقت بیانوي. د نړۍ ټول ولسونه یې مني او په خپلو قوانینو کې یې ضمانت ورکړی چې د دې مخالفت به نه کوي. دا د دې خبرې دلیل دی چې د دې ازادۍ شعور د انسان په فطرت کې ایښوول شوی دی او دی هیڅکله نه غواړي چې کوم فرد، اداره او یا حکومت دې ترې واخلي. نبي علیه السلام د حجة الوداع پر مهال په ډېرو صافو ټکو دې خبرې ته اشاره کړې وه:

ان دمائکم و اموالکم و أعراضکم بینکم حرام کحرمة یومکم هذا فی شهر کم هذا فی بلدکم هذا.

(بخاري، شمیره: ۶۷)

"ستاسو نفسونه، ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه ستاسو تر منځ داسې حرام دي لکه ستاسو د دې ورځې حرمت ستاسو په دې میاشت او ستاسو په دې ښار (ام

* په دې اړه د نورو دلایلو لپاره زموږ کتاب (میزان) مطالعه کړئ.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

القری مکه ) کي."

ایا د انسان دا ازادي او د هغه د ځان، مال او ابرو حرمت مطلق دی؟ د دې پوښتنې ځواب دا دی چې هیڅکله نه، دا هلته یقینا ختمیږي چې کله د نورو حق تلف کړي او یا د چا د ځان، مال او ابرو پر خلاف اقدام وکړي. د انسان اخلاقي شعور او د خدای شریعت دواړه متفق دي چې تر دې وروسته هره ټولنه حق لري چې د هغه دا ازادي تریې واخلي او د ځان، مال او ابرو د دې حرمت له منلو یې انکار وکړي.

د دولتي نظم لپاره د قانون جوړونې بنیاد په حقیقت کي همدا دی. ټول قوانین د همدې حق تلفۍ او ظلم د مخنیوي په خاطر او کوونکو ته یې د سزا په خاطر جوړ شوي دي. د هرې ادارې، هر حکومت او هر پارلمان د قانون جوړولو حق له همدې ځایه شروع او همدلته پای ته رسیږي. د قتل، غلا، زنا، قذف او حرابې مجرمینو ته د سزا ورکولو حکم چې الله تعالی د مسلمانانو ټولنیز نظم ته ورکړی دی، هغه هم پر همدې بنا دی چې زنا، قتل، غلا، قذف او حرابه د ځان، مال او ابرو پر خلاف زیاتوب دی. د راشدینو خلفاوو په زمانه کي چې شراب څښونکي ته د سزا ټاکلو مسئله را پورته شوه نو علي رضی الله عنه د همدې اصولو پر پر بنیاد وویل چې څښونکي ته یې باید هماغه سزا ورکړل شي چې قرآن د قذف جرم لپاره بیان کړې ده، ځکه که شراب وڅښي نو نشه به شي او چې نشه شي نو چټیات به وایي او چې چټیات وایي پر نورو به تور لګوي.* د نکاح، طلاق، میراث او نورو چارو معامله هم داسي ده. دا ټول هغه مهال له حکومت سره تړل کیږي چې کله یو څوک په دې اړه د الله تعالی له خوا ټاکل شوي اصول نه پلي کوي او په دې توګه د حق تلفۍ مرتکب کیږي. په پاکستان کي د دویم واده لپاره

---

* هدایة المجتهد ۲/ ۳۳۲



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د ښځې اجازه او په کم عمر کي پر واده د بنديز قانون پر همدې اصولو ولاړ دی.

د دنيا هر حکومت او هره قانون جوړونکې اداره مکلفه ده چي د خپلو قوانينو جواز له همدې څخه ثابت کړي او خلګ حق لري چي د جوړو شويو قوانينو ارزونه وکړي او که ووينې چي کوم قانون يا اصل له دې اصولو بدل دی نو له منلو يې انکار وکړي. که د مثال په ډول يو حکومت دا قانون جوړ کړي چي خلګ به خپل مذهبي نښانونه لکه صليب، پګړۍ، کرپان او نور نه ښکاروي، يا که ښځې ته طلاق ورکړي نو خامخا به دوی ته د مال دوه برخې حصه ورکوي، يا دا چي ږيره به نه کوچنۍ کوي، نيکر به نه اغوندي، موسيقي به نه اوري، ښځې به نقاب نه اغوندي. يا د دې بر خلاف دا قانون جوړ کړي چي له نقاب پرته به دباندي نه را وزي، له محرم پرته به حج او عمرې ته نه راځي، موټر به نه چلوي، يا فلانی او فلانی کسب به نه کوي، په سياست کي به برخه نه اخلي او رايه نه شي استعمالولای نو يقينا چي له حدودو يې تيری کړی دی. په دې شيانو کي که کوم شی د خدای حکم هم وي نو په پابندی او خلاف ورزي کي يې خلګ د خدای په وړاندي جواب ويونکي دي. د نړۍ هيڅ حکومت په داسي معاملاتو کي خلګو ته کوم امر نه شي کولای. الله تعالی په صراحت سره ويلي دي چي د دين په ايجابي احکامو کي د مسلمانانو ټولنيز نظم چي له هغوی څخه کومه غوښتنه کولای شي هغه لمونځ او زکات دی. د قرآن وينا ده چي تر دې وروسته يې لار خوشي کړي او د قانون په زور يې پرې د ټپلو هڅه ونه کړي. الهي وينا ده:

| | |
|---|---|
| فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ (التوبه ۹:۵) | "بيا که دا خلګ توبه وکاږي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو لاره يې پرېږدئ." |

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا حکم هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شوی وو چې پر ځمکه د خدای حکومت وو.

د دې ایت تر تفسیر لاندې مې لیکلي دي:

"... د دې معنا داده چې د دولت او قانون په سطح د ایمان او اسلام پر غوښتنو د پوره ختلو لپاره له یو مسلمان څخه تر دې زیاته غوښتنه نه شي کېدای. ځکه کله چې خدای خپل پیغمبر ته په خپلح کومت کې د دې اجازه نه ورکوي نو نورو ته څرنګه اجازه ده؟." (البیان ۲/۳۲۵)

(۲۰۱۵)

# اسلام او دولت – یوه ځوابي لیکنه

دا مهال چې ځینو بنسټپالو ګوندونو کوم حالات د اسلام او مسلمانانو لپاره را پیدا کړي دي، د هماغه فکر پایله ده چې زموږ په مذهبي مدرسو کې لوستل کېږي او ورته لوستل کېږي او اسلامي خوځښتونه او مذهبي ګوندونه یې شپه او ورځ تبلیغ کوي. د دې په مقابل کې د اسلام صحیح فکر څه دی؟ دا فکر ما په خپل کتاب میزان کې له دلایلو سره بیان کړی دی. دا په حقیقت کې یوه ځوابي لیکنه (counter narrative) ده او موږ په ځلونو ویلي دي چې که د مسلمانانو په ټولنه کې د مذهب پر بنسټ فساد پیدا کړل شي نو د سیکولریزم بلنه نه بلکې د مذهبي فکر یو ځوابي بیان د حالاتو اصلاح کولای شي. د دې تفصیلاتو لپاره زموږ همدې کتاب ته رجوع کولای شئ، خو کومه برخه چې یې له اسلام او دولت سره تړلې ده، یو لنډیز یې وړاندې کوم:

۱) د اسلام بلنه په حقیقت کې د فرد لپاره ده. غواړي چې پر زړه او دماغ یې حکومت وکړي، کوم احکام چې یې ټولنې ته ورکړي دي د هغه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

مخاطب هم په حقیقت کي هغه افراد دي چي د مسلمانانو په ټولنه کي د اهل حل و عقد په حیث مسئولیت لري. دا فکر بالکل بې ځایه دی چي دولت هم دین لري او د یو تړون له مخې یې د مسلمانولو او په قانوني توګه یې د پابندولو اړتیا ده چي هیڅ قانون به یې د قرآن او سنت پر خلاف نه وي. دا فکر چي چا ورکړی او په تطبیق کي یې بریالي شوي دي، هغوی د اوس مهال په ملي حکومتونو کي د مستقل نفاق بنسټ کښېښود او په هغه کي اوسېدونکو نامسلمانو ته یې دا پیغام ورکړ چي هغوی په حقیقت کي د دویمې درجې اتباع دي چي تر ډېره د یوه خوندي اقلیت ( protected minority ) حیثیت لري او له چارواکو که کوم حق غواړي یوازي د همدې حیثیت له مخې یې غوښتلای شي.

۲ ) په کومو هیوادونو کي چي مسلمانان اکثریت دي هغوی دي یو متحد دولت جوړ کړي. دا له موږ څخه د هر یوه ارمان کېدای شي او د رښتیا کولو لپاره یې هلې - ځلې هم کولای شو. خو دا فکر بېخي بې بنسټه دی چي دا د اسلامي شریعت امر دی چي په مخالفت یې مسلمان ګناهګار ږېږي. هیڅکله نه، نه خلافت کومه دیني اصطلاح ده او نه یې په نړیواله سطح راوستل د اسلام کوم امر دی. تر لومړۍ هجري پېړۍ وروسته چي د مسلمانانو تر منځ جلیل القدر فقها موجود ول او د هغوی سلطنت پر دوو برخو د بغداد عباسي دولت او د اندلس اموي دولت باندي ویشل شوی وو او تر څو پېړیو همداسي وو خو له دې فقهاوو هیڅ یوه هم ونه ویل چي دا د اسلام خلاف کار دی، ځکه چي په دې اړه په قرآن و حدیث کي له سره کوم حکم شته نه. د دې بر خلاف دا خبره ټولو کړې او موږ هم وایو چي د مسلمانانو ټولنیز نظم که یو ځای را منځ ته شي نو له هغه څخه وتل بدترین جرم دی چي په اړه یې رسول الله ویلي دي چي وتونکي به ترې د جاهلیت په مرګ و مري. *

* بخاري، شمیره: ۷۰۵۳ - ۷۰۵۴



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳) په اسلام کي د ملیت بنسټ اسلام نه دی لکه څرنګه چي په عام ډول فکر کېږي. په قرآن و حدیث کي هیڅ ځای هم نه دي ویل شوي چي مسلمانان یو ملت دي او یا باید یو ملت شي بلکي دا ویل شوي دي چي (انما المؤمنون اخوة) یعني مسلمانان په خپل منځ کي ورونه دي. د قرآن په وینا د مسلمانانو تر منځ خپل منځي اړیکه د ملیت نه بلکي ورورۍ ده. دوی پر لسګونو ملتونو، هیوادونو او دولتونو له ویشل کیدو سره ـ سره د ایمان په تړون سره د یوه بل ورونه دي. له دې وجې دا غوښتنه ترې کېدای شي او باید ترې وشي چي د خپلو ورونو له حاله ځان خبر وساتي، په مصیبت کي لاس ورکړي، که مظلوم وي مرسته ورسره وکړي، په اقتصادي او ټولنیزو اړیکو کي هغوی ته ترجیح ورکړي او په هیڅ حال کي یې په وړاندي خپلې دروازې ونه تړي، خو دا غوښتنه او تقاضا ترې نه شي کېدای چي له خپل ملي حکومت او ملي پېژندنې څخه تیر او خامخا یو ملت او یو دولت شي. څرنګه چي دوی بېلابېل دولتونه جوړولای شي، همداسي که پر دین او شریعت د عمل ازادي وي نو په نامسلمانو هیوادونو کي د اتباعو په حیث او د وطن پر بنسټ د یوه ملت په حیث او سېدلای شي. په دې کي هیڅ شی د قرآن او حدیث له مخې ناروا نه دی.

۴) په دنیا کي چي کوم خلک مسلمانان دي او پر خپلې مسلمانۍ اقرار بلکي اصرار کوي، خو داسي یو عمل او عقیده غوره کوي چي د یو عالم، یا علماوو او یا د ټولو مسلمانانو په نظر سم نه وي، دا عقیده او عمل یې غلط بلل کېدای شي، ګمراهي او ضلالت ورته ویل کېدای شي خو څرنګه چي له قرآن او حدیث څخه استدلال کوي نا مسلمان او کافر ورته نه شي ویل کېدای. د داسي عقایدو او اعمالو په اړه د خدای پریکړه څه ده؟ د دې لپاره باید قیامت ته انتظار وشي. په دنیا کي یې پیروان له خپل اقرار سره سم مسلمانان دي، مسلمانان به بلل کېږي او له دوی سره به ټول معاملات هماغسي وي لکه د مسلمانانو د ډلې له یو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فرد سره چي کېږي. د علماوو حق دی چي تیروتنه یې ورته وښیي، د سمې خبرې د منلو بلنه ورکړي، په عقایدو او نظریاتو کي یې که کوم شی شرک او کفر کوي نو شرک او کفر دي ورته ووايي او خلګ دي هم ورته متوجې کړي، خو د هغه په اړه دا پریکړه چي مسلمان نه دی پاتي يا دا چي د مسلمانانو له ټولی باید جلا کړای شي، دا حق هیڅوک هم نه لري، ځکه دا حق یوازي خدای ورکولای شوای او له قرآن و حدیث څخه هر باخبره شخص پوهېږي چي دا حق یې هیچا ته نه دی ورکړی.

۵) شرک، کفر او ارتداد یقینا درانه جرمونه دي، خو د دې سزا یو انسان بل انسان ته نه شي ورکولای. دا یوازي د خدای حق دی. په اخرت کي به یې هم دی سزا ورکوي او په دنیا کي هم. د قیامت معامله دا مهال د بحث موضوع نه ده. په دنیا کي یې بڼه داسي ده چي که الله تعالی په یو ملت کي د خپل عدالت د ظهور پریکړه کوي نو هغوی ته رسول لېږي. دا رسول پر هغه قوم اتمام حجت کوي، تر دې چي له هیچا سره دو مره عذر نه پاتېږي چي د خدای حضور ته یې وړاندي کړي. تر دې وروسته د خدای پریکړه صادرېږي او کوم خلګ چي تر داسي اتمام حجت وروسته هم پر کفر او شرک اصرار کوي هغوی ته په همدې دنیا کي سزا ورکول کېږي. دا یو الهي سنت دی چي قرآن داسي بیان کړی: " د هر قوم لپاره یو رسول دی، بیا چي کله د هغوی رسول راځي نو د هغوی تر منځ په انصاف سره پریکړه کېږي او پر هغوی هیڅ ظلم نه کېږي. " د دې کیسه هماغسي ده لکه اسماعیل علیه السلام په قرباني او د خضر په پېښه کي زموږ مخته راځي. له عامو انسانانو سره هیڅ اړه نه لري. لکه څرنګه چي موږ د یو غریب د مرستې لپاره د هغه له اجازې پرته د هغه په کښتۍ کي سوری نه شو کولای، کوم ماشوم د مور و پلار په نافرمانۍ نه شو وژلای، د خپل خوب پر بنیاد د ابراهیم علیه السلام په څېر د خپل زوی پر غاړه چاړه نه شو ایښودلای، همداسي کوم چا ته د هغه د شرک، کفر یا ارتداد سزا هم نه شو ورکولای. مګر دا چي وحې

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

راشي او خدای د خپل کوم رسول په واسطه په مستقیم ډول امر وکړي. هر څوک پوهېږي چې تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته دا دروازه د تل لپاره تړل شوې ده.

۶) په دې کې شک نه شته چې جهاد د اسلام امر دی. قرآن له خپلو منونکو غوښتنه کوي چې که طاقت ولري نو د ظلم او عدوان پر خلاف دې وجنګېږي. په قرآن کې د دې امر د فتنې د مخنیوي لپاره شوی دی چې معنا یې په زور او جبر سره یو څوک له خپله دینه ګرزول دي. همدې ته په انګریزي کې (persecution) وایي. عالمان پوهېږي چې مسلمانانو ته دا امر د افرادو په حیث نه بلکې د ټولنې په حیث شوی دی. په دې اړه چې کوم ایاتونه په قرآن کریم کې راغلي دي په فردي توګه یې مخاطب نه دي. ځکه نو په دې لړ کې د کوم اقدام حق هم له ټولنیز نظم سره دی. په دوی کې د ننه کوم فرد یا ډله هیڅکله دا حق نه لري چې د دوی له لوري د داسې یوه اقدام پرېکړه وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم پر همدې بنسټ ویلي دي چې د مسلمانانو امیر د دوی ډال دی، جنګ د هغه له شا څخه کېږي.*

۷) اسلام چې د کوم جهاد امر کوي هغه د خدای په لار کې جنګ دی، ځکه نو له اخلاقي حدودو څخه په بې پروایي نه شي کېدلای. اخلاقیات په هر حال کې او تر هر شي وړاندې دي او د جنګ پر مهال هم الله تعالی له هغو څخه د انحراف اجازه هیچا ته نه ده ورکړې. دا خبره قطعي ده چې جهاد یوازې له مقاتلینو (combatants) سره کېږي. د اسلام قانون همدا دی چې که څوک په ژبه برید وکړي نو په ژبه به ځواب ورکول کېږي، که له جنګیالیو سره مالي مرسته وکړي نو له مالي مرستې به را ګرزول کېږي، خو تر څو چې په وسله سمبال جګړې ته نه وي وتلی نه شي وژل کېدلای. تر دې چې که عیني د جنګ په ډګر کې هم

---

* بخاري، شمیره: ۲۹۵۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وسله وغورځوي نو زنداني کېږي به، تر دې وروسته نه شي وژل کېدلای. په قرآن کي چي د جهاد امر په کوم ایت کي ورکول شوی دی، الفاظ یې دادي: "د الله په لار کي له هغو سره وجنګېږئ چي له تاسو سره جنګېږي او زیاتی مه کوئ، ځکه چي الله زیاتي کوونکي نه خوښوي." * رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ پر مهال د ماشومانو او ښځو له وژلو منع کړې ده. * د دې وجه هم داده چي که له جنګ کوونکو سره را وتلي هم وي نو په عمومي توګه مقاتلین یا جنګیالي نه وي، تر ډېره د هغوی حوصلې لوړولای شي او په ژبه یې تشویقوي.

۸) د نن مهال تر لویدیځو مفکرینو پېړۍ وړاندي قرآن اعلان کړی وو چي (امرهم شوری بینهم) (د مسلمانانو ټولنیز نظم به پر مشوره ولاړ وي). د دې ښکاره معنا دا وه چي د مسلمانانو حکومت به د هغوی په مشوره وي. نظام به په مشوره سره را منځ ته کېږي، په مشوره ورکولو کي به د ټولو حقوق برابر وي، کوم چي په مشوره جوړېږي، په مشوره به ماتېدلای هم شي. د کوم شي د را منځ ته کولو لپاره چي مشوره کېږي، د هر شخص رایه به یې د وجود برخه وي. که په اجماع او اتفاق سره پریکړه ونه شي نو د شخړو د حل لپاره دي د اکثریت رایه ومنل شي.

همدې ته جمهوریت یا ډیموکراسي ویل کېږي. امیریت که د کومې کورنۍ وي یا کومې طبقې، ډلې یا ملي ادارې په هیڅ حال کي هم د منلو نه دی، تر دې چي له ټولنیز نظم سره د تړلو دیني احکامو د تشریح او تعبیر په اړه د دیني علومو د ماهرینو دا هم نه. دوی حق لري چي خپل اند بیان کړي خو د دوی دا نظر به هله خلګو ته د واجب الاطاعت قانون حیثیت ولري چي د هغوی منتخب استازي یې په اکثریت سره قبول

---

* البقرة ۲: ۱۹۰

* بخاري، شمیره: ۳۰۱۵، مسلم، شمیره: ۱۷۴۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کړي. په نويو حکومتونو کې پارلمان په همدې خاطر را منځ ته شوی دی. په دې حکومتونو کې اخيري فيصله همدا کوي او حق يې لري. خلګ حق لري چې د پارلمان پر پريکړو نويکه وکړي او د تيروتنو د اصلاح هڅه يې وکړي، خو د مخالفت او بغاوت حق ترې هيڅوک نه لري. که علما وي او يا محکمه، هيڅ يو هم تر پارلمان لوړ نه دي. هره اداره مجبوره ده چې له پريکړو سره يې له اختلاف سره -سره په وړاندې سر ټيټ کړي.

په اسلام کې د حکومت را منځ ته کولو او مخته وړلو همدا يوه روا لاره ده. له دې څخه ها خوا چې په بله هره طريقه حکومت را منځ ته کېږي، يو ناروا حکومت به وي، که څه هم چې د رهبر پر تندي يې د سجدو نښانو نه وي او يا د اميرالمومنين په القابو نازول شوی وي.

۹) که يو ځای د مسلمانانو حکومت وي په عمومي ډول ترې د شريعت د نفاذ غوښتنه کېږي. دا يو ډېر غلط تعبير دی، ځکه له دې څخه دا فهم اخيستل کېږي چې په اسلام کې حکومت ته دا حق ورکړل شوی دی چې هغه د شريعت ټول احکام د زور له لارې پر خلګو نافذ کړي، په داسې حال کې چې په قرآن و حديث کې دا حق د هيڅ حکومت لپاره هم ثابت نه دی. په اسلامي شريعت کې دوه ډوله احکام دي: يو هغه چې فرد ته د فرد په حيث ورکړل شوي دي، دويم هغه چې د مسلمانانو ټولنې ته ورکړل شوي دي. د لومړي ډول احکامو معامله د خدای او بنده تر منځ ده او فرد پکې هيڅ حکومت ته ځواب ويونکی نه دی، بلکې يوازې خپل خدای ته به ځواب وايي. ځکه نو د دنيا هيڅ حکومت هم د روژې نيولو، يا حج و عمرې ته د تللو، ختنه کولو، بريتو کمولو او که ښځه وي د سينې پټولو، سينګار نه کولو او نورو شيانو باندې څوک نه شي مجبورولای. په داسې معاملاتو کې له ښوونې او روزنې او تلقين و نصيحت ها خوا د هيڅ اختيار نه لري، مګر که د چا د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مال، ځان او ابرو د تلف کېدو اندېښنه وي. قرآن په پوره صراحت سره ویلي دي چې د دین په ایجابي احکامو کې یوازې لمونځ او زکات دي چې که یې د مسلمانانو ټولنیز نظم وغواړي د قانون په زور یې عملي کولای شي. د قرآن لارښوونه ده چې تر دې وروسته دوی پابند دي چې لار یې خوشې کړي او هیڅ هم پرې نافذ نه کړي. *پاتې شول دا بل ډول احکام نو هغه حکومت ته ورکړل شوي دي، ځکه چې په ټولنیزو چارو کې حکومت د خلکو استازیتوب کوي. که علما د حل و عقد له خاوندانو پرې د عمل غوښتنه وکړي نو یقینا پر حق به وي او د خپل مقام له مخې باید همداسې وکړي هم. خو دا پر شریعت د عمل بلنه ده، د دې لپاره د شریعت د نفاذ تعبیر سم نه دی.

دویم ډول احکام دا دي:

أ) مسلمانان د خپلو واکمنو رعیت نه بلکې برابر اتباع دي. د قانون او دولت په سطح به د هغوی د لویو او وړو او شریفو او نورو توپیر نه وي. ځان، مال او ابرو به یې خوندي وي، تر دې چې حکومت به ترې د دوی له خوښې پرته له زکاته ماسوا مالیه هم نه شي اخیستلای. د هغوی شخصي معاملات لکه نکاح، طلاق، میراث، راکړه - ورکړه او داسې نورو چارو کې که یې تر منځ شخړه پیدا شي نو له اسلامي شریعت سره سم به یې فیصله کېږي. د شپې او ورځې د لمنځونو، روژې د میاشتې او حج و عمرې لپاره باید ټول اړین وسایل ورته چمتو کړل شي. له لمانځه او زکات پرته به پر دوی د قانون په زور نور ایجابي احکام نه پلي کېږي. پر هغوی به په عدل او انصاف او د (امرهم شوری بینهم) په طریقه حکومت کېږي. ملي شتمنۍ باید د ټولنیزو اړتیاوو لپاره ځانګړې وي، په فردي ملکیت کې به نه ورکول کېږي بلکې په داسې توګه به ساتل کېږي چې کوم خلک په اقتصادي لحاظ وروسته

*التوبة ۹: ۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پاتي وي د هغوی اړتیاوې له همدې عوایدو پوره کړل شي. کله چي ومري نو تجهیز او تکفین یې د مسلمانانو پر طریقه وي، جنازه یې وشي او د مسلمانانو په هدیره کي د مسلمانانو پر طریقه ښخ کړل شي.

ب) د جمعې او اخترونو د لمنځو زمینه باید حکومت برابره کړي. دا لمنځونه باید یوازي هما لته ادا شي چي د حکومت له خوا د دې لپاره ځانګړې شوي وي. منبر یې چاروا کو ته ځانګړی وي، په خپله خطبه ووایي او لمونځ ورکړي، یا د دوی له خوا یې کوم استازی دا دنده ترسره کړي. د دولت په حدودو کي دننه باید څوک په خپل سر د دې لمنځونو د ادا کولو واک ونه لري.

ج) د قانون نافذوونکې اداري باید په اصل کي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اداري وي. د ټولنې صالح افراد دي د دې ادارو د کارکوونکو په حیث وټاکل شي. هغوی ته خلګو ته د ښو بلنه ورکوي او له هغو شیانو دي را ګرزوي چي انسان تل بد ګڼلي دي.

د) حکومت د خپلو دښمنانو پر خلاف هم باید پر عدالت ولاړ وي. حق ووایي، د حق شاهدي ورکړي او له حق و انصاف پرته بل هیڅ اقدام ونه کړي.

ه) د حکومت په دننه او دباندي کي که له چا سره ژمنه او تړون شوی وي نو څو چي تړون وي د لفظ او معنا په لحاظ یې باید په پوره دیانت او اخلاص سره پیروي وشي.

و) په مسلمانانو کي که کوم څوک قتل، غلا، زنا، په ځمکه کي فاسد، قذف او یا نور جرمونه وکړي او محکمه ډاډمنه شي چي د خپل ذات، کورنۍ او ټولنیزو حالاتو په لحاظ د کوم رعایت وړ نه دی هغه سزا ورکړي چي اسلام په اخلاص سره تر مسلمانېدو وروسته د داسي جرمونو کوونکو ته په قرآن کي بیان کړې ده.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

ز) نړۍ ته د اسلامي دعوت د رسولو لپاره باید په دولتي سطح زمینه برابره شي. که یې د نړۍ کوم ځواک په وړاندې خنډ شي، یا پر ایمان راوړونکو تشدد وکړي نو دولت یې باید له خپل وس سره سم په وړاندې د خنډونو لرې کولو هڅه وکړي او د دې تشدد مخنیوی وکړي، که څه هم د دې لپاره جګړې ته اړتیا شي. *

۱۰) د ټولنیز نظم په اړه دا د شریعت احکام دي او له دې تنبیه او تهدید سره ورکړل شوي دي چې کوم خلک خدای منلي او د هغه له نازل شوي قانون سره سم پریکړې نه کوي، د قیامت په ورځ به یې په حضور کې ظالمان، فاسقان او کافران وګڼل شي. * د علماوو او مصلحینو دنده همدا ده چې د زده کړې او ښوونې له لارې د خلکو ذهنونه دې ته چمتو کړي. دوی باید له حکومت سره په ګډه او د موعظه حسنه په اسلوب سره دې ته دعوت وکړي، د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ووایي، شکونه یې لرې کړي او په دلایلو سره ورته ووایي چې الله تعالی ولې خپل شریعت را لیږلی دی؟ له ټولنیز ژوند سره یې تړاو څه دی؟ په هغه کې د احکامو بنسټ څه دی او د نن زمانې انسان یې ولې په پوهېدو کې ستونزه لري؟ د تفهیم او تبیین لپاره یې داسې اسلوب غوره کړل شي چې حکمت، معنویت او مقاصد یې خلکو ته روښانه شي او زړه و دماغ یې په پوره ډاډ سره منلو ته چمتو شي. په قرآن کې د دوی مقام دعوت او انذار ښوول شوی دی، دوی خو ساتونکي نه دي چې د ټوپک په زور سره پرې شریعت تطبیق کړي.

(۲۰۱۵)

---

* په دې اړه د نورو دلایلو لپاره زموږ کتاب (میزان) مطالعه کړئ.

* المائدة ۵: ۴۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د پارلمان برتري

(پر "اسلام او دولت - یوه ځوابي لیکنه" د شویو تنقیداتو په ځواب کې لیکل شوې)

د اسلام او ډیموکراسۍ دواړو لاربښوونه داده چې د پارلمان د پریکړو په وړاندې باید تسلیم شو. د دې معنا داده او له سیاست څخه هر خبر کس دا ترې فهموي چې کومه پریکړه وشي په تطبیق کې به یې ځنډ نه را منځ ته کېږي، پر خلاف به یې غوغا نه کېږي، له هغه سره سم به حکومت چلېږي، د خپلو ملاتړو په زور به یې د عامه نظم په خرابولو پر خلاف غبرګون نه ښوول کېږي، پر خلاف به یې وسله نه پورته کېږي او خلک به بغاوت ته نه هڅول کېږي، تر دې چې که د یوې فیصلې په پایله کې حکومت د یو فرد پر خلاف اقدام کوي نو په صبر سره به زغمل کېږي. زه چې کومه هستي د خدای د پیغمبر په توګه منم هغه راته همدا لاربښوونه کړې ده، د ده وینا ده:

"پر تاسو لازمه ده چې په هر حال کې د اطاعت لاره غوره کړئ، که په تنګي کې یاست که په اساني کې او زړه مو غواړي که یا او که څه هم ستاسو حق تاسو ته نه رسېږي."

(مسلم، شمیره: ۴۷۵۴)

په دې کې صرف یوه استثنا ده او هغه داده چې ماته د خدای د نافرمانۍ امر وشي. په دې حالت کې زه دا پریکړه په عمل کې هم ردولای شم او مسئولیت مې دی چې همداسي وکړم.

زما د ژوند هره شیبه دا شاهدي ورکوي چې ما تل پر دې عمل کړی دی او خپلو ملګرو او شاګردانو ته مې هم د همدې بلنه ورکړې ده. خو دا کس له دې محروم پاتي شوی او نه دی پوه شوی چې د پارلمان له پریکړو سره اختلاف او له ډیموکراتیکو لارو یې د بدلون هڅه هم جرم



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmedghamidi.com
www.al-mawrid.org

دی او په عملي توګه يې د منلو يوه معنا دا هم ده چې علم او استدلال بايد د پارلمان په وړاندې تسليم کړای شي او پارلمان که د خدای له کوم حکم، ثابتو اخلاقي اصولو، فطري قانون او يا د خپل قانون جوړونې د طرز پر خلاف کومه پريکړه وکړي هم بايد ورسره د اختلاف جرأت ونه شي.

په دې کې عجيبه داده چې دا معنا زما له ليکنې په پوره ديانت او پرهيزګارۍ سره له هغې جملې په پټو سترګو اخيستل شوې چې په پوره صراحت سره دا خبرې نفې کوي. ما ليکلي ول:

" خلک حق لري چې د پارلمان پر پريکړو نيوکې وکړي او تيروتنې يې په ډاګه کړي، خو ترې د مخالفت او بغاوت حق هيڅوک نه لري."

زه نه پوهېږم چې د دې کارنامې د ترسره کوونکي پوهه او علم وستايم او که يې امانتداري او رښتنولي؟. اوس خو صرف دا ويلای شم: چه خوش چرا نه باشد.

په هر حال دا روښانه کوم چې د پارلمان هره پريکړه بايد ومنل شي، خو دا زما ډيموکراټيک حق او ديني مسئوليت دی چې که يې تيروتنه کړې وي او يا يې له حدودو تيری کړی وي، يا يې د چا حقوق تر پښو لاندې کړي وي نو له دلايلو سره نقد پرې وکړم. امر بالمعروف او نهی عن المنکر زما د دين او تهذيب له بنسټيزو اصولو څخه دی او ما ته امر شوی دی چې په انصاف سره شاهدي ورکړم او د الله لپاره ودرېږم، که څه هم دا شاهدي زما د ځان، زما د مور و پلار او زما د دوستانو پر خلاف وي. د (امرهم شوری بينهم) د اصولو تقاضا همدا ده چې د شخړو د حل په خاطر بايد د اکثريت رايه قاطعه وبلل شي. دا تقاضا هيڅکله نه کوي چې که صحيح وبلل شي نو د تيروتنې د بيان او وضاحت کوشش به يې نه کېږي. د نړۍ په ټولو قوانينو کې د ترميم حق ځکه منل شوی دی چې هيڅ شی يې هم د اسماني صحيفو په څېر نه دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پوهان مسئولیت لري چي په پر له پسې توګه یې و ارزوي او که یو ځای تیروتنه شوې وي نو د سمولو هڅه یې وکړي. پر اسلام او اسلامي شریعت د عمل کولو په خاطر چي باید کوم څه په پاکستان کي په دولتي سطح شوي وای له بده مرغه نه دي شوي او څه چي شوي دي ډېری یې بې معنا، بې بنسټه او په خپله د قرآن او حدیث د لارښوونو خلاف دي. دا خبره زه له کلونو راهیسي کوم او اوس مي هم همدا ویلي دي. دا له الله، د هغه له رسول او ټولو مسلمانانو سره د هغې خواخوږۍ غوښتنه ده چي ما ته یې لارښوونه شوې ده. له دې څخه باید پر کوم پاکستاني لړزه را نه شي، زما د یوه پخواني او ګران ملګري وینا ده چي زما د جسارت په پایله کي دا لړزه پر ټول ملت راغلې ده.

(۲۰۱۵)

# اسلام او ملت پالنه

(پر "اسلام او دولت - یوه ځوابي لیکنه" د شویو تنقیداتو په ځواب کي لیکل شوې)

د رنګ، نسل، ژبې، تهذیب، ثقافت او هیواد په څېر دین هم د ملت جوړوني له عواملو یو مهم عامل دی. له پېړیو راهیسي مسلمانان له همدې لارې یو ملت ګڼي او که کومه ننګونه وي نو اقلا په وړه وچه کي په پوره جوش او جذبې سره د دین پر بنیاد د ملت پالنې څرګندونه کوي. محمد علي جناح پر همدې بنسټ ویلي وو چي د دې ځان مسلمانان د ټولو نړۍ وال قانون په لحاظ یو جلا ملت دي ځکه چي د نورو ملتونو په وړاندي یې تهذیب، ثقافت، ژبه او ادب، علم او فنون، رواجونه او دودونه، ذهن، قانون، اخلاقي اصول او د ژوند ډول تر دې چي کلیزه او د نوم ښوولو ډول یې بیلي ځانګړني لري.* د نوموړي دا وینا د یوه

---

* قاید اعظم: تقاریر و بیانات ۳ / ۶۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حقیقت بیان وو چې هیڅوک ورسره اختلاف نه شي کولای. ځکه نو ما هم ورسره ونه کړه او په (اسلام او دولت) نومې ځوابي لیکنه کې مې هیڅ ځای ونه ویل چې مسلمانان یو ملت نه دي یا نه شي کېدای.

ما چې څه ویلي دي هغه دادي چې دا د اسلام غوښتنه او د شریعت هیڅ امر نه دی چې د مسلمانانو ملیت اسلام دی، ځکه نو باید ټول مسلمانان یو ملت شي. زما منتقدین چې کومه خبره ردوي هغه ما کړې نه ده او څه چې مې ویلي دي، د هغې د رد لپاره د قرآن او حدیث نصوص تر لاسه کېدای نه شي. ځکه یې نو د یوه دیني حکم د اثبات لپاره د محمد علي جناح پروینا وو، د علامه اقبال پر شعرونو او د پاکستان د خوځښت د پیښو پر بیان بسنه کړې ده.

د وړې وچې مسلمانان یو ملت دي، دا یو بدیهي حقیقت دی. که څوک وو ایي چې د مسلمانانو په مسجدونو کې منارې او ګومبتې وي نو له دې به څوک انکار کوي؟ دا خو حقیقت دی. مګر که وو ایي چې دا د اسلام غوښتنه او د شریعت امر دی چې په مسجدونو کې باید منارې او ګومبتې وي، نو د اسلام د هر عالم مسئولیت دی چې دا خبره رد کړي او خلکو ته وو ایي چې دا یو بې بنسټه فکر دی. مسجد که یوه څالـه وي، که څلور دیوالونه وي چې سر یې د خورماوو په پاڼو او ښاخونو پټ شوی وي، اسلام او شریعت پرې هیڅ اعتراض نه لري.

ما همدا مسئولیت تر سره کړی دی او د خپل ملت هغو ځوانانو ته مې د اسلام صحیح فکر بیان کړی دی چې په دې خبره ترهګریزو فعالیتونو ته هڅول کېږي چې د مسلمانانو په منځ کې عرب، ایراني، پاکستاني او افغاني ملیتونه ناروا دي، د مسلمانانو ملیت اسلام او د خلافت نظام دی چې د اوس مهال ملي حکومتونه پکې هیڅ ځای نه لري، ځکه یې نو باید د خدای ځمکه له وجوده پاکه کړای شي. ما هغوی ته ویلي دي چې ملي دولتونه هیڅ کفر نه دی او د ملت پالنې ټول



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فطري اساسات د مسلمانانو لپاره هم هماغسي د ملت جوړونې بنیاد کېدای شي لکه د نورو ملتونو لپاره. د قرآن له مخې د مسلمانانو تر منځ خپل منځي اړیکه د ملیت نه بلکي اخوت ده. کوم مسلمانان دي د هیوادني ملیت تصور مني او په امریکا، برتانیا، جرمني، فرانسه، هندوستان او پاکستان کي اوسي د شریعت د هیڅ لارښوونې مخالفت نه کوي. د اسلام سرچینې هیڅ داسي لارښوونه نه لري چي په اسلام کي د ملیت بنسټ دین یا اسلام دی. د پاکستان د تحریک پر مهال که د مسلمانانو ټینګار وو چي دوی د هندوانو په مقابل کي یو بېل ملت دي او پر همدې بنسټ په هندوستان کي د یوه بېل هیواد غوښتنه کوي نو دې کي هیڅ د نیوکې وړ خبره نه وه او د پاکستان د جوړېدو تر وروستې په دا بله ورځ چي یې د ځان لپاره د پاکستاني ملیت اعلان وکړ نو هم پرې د دین او شریعت له مخې اعتراض نه شي کېدلای. له سیاسي لیډلوري یو څوک ویلای شي چي د هغه په نظر د مولانا ابو الکلام ازاد او محمد علي جناح په نظرونو کي د یوه دا سم او د بل دا غلط دی، خو له دیني لیډلوري پرې هیڅ اعتراض نه شي کېدلای. له همدې وجې د مولانا ابو الکلام ازاد پر دریځ محمد علي جناح هم هیڅکله له دې زاویې نیوکه ونه کړه. ځکه د محمد علي جناح نظر دا نه وو چي د هیواد پر بنیاد له هندوانو سره د یوه ملت په توګه ځکه نه شي اوسېدلای چي د اسلامي شریعت له مخې ناروا کار دی، ځکه نو د بېل هیواد غوښتنه کوي. د هغه دریځ دا وو چي د اکثریت هندوانو له استبداد څخه د مسلمانانو د تهذیب و ثقافت، اقتصاد، ټولنې او دین د خوندي کولو لپاره د یوه بېل هیواد غوښتنه کوي او د دې غوښتنې بنسټ یې دا دی چي مسلمانان د نړۍ وال قانون له مخې هم یو بېل ملت دي او هر ملت حق لري چي د خپل اکثریت په سیمو کي د جلا هیواد غوښتنه وکړي.

په دې اړه زما دریځ همدا دی. هر څوک حق لري چي نقد یې کړي خو په ډېر ادب هیله کوم چي تر نقد وړاندي دي یو ځل ځان پرې پوه کړي.

(۲۰۱۵)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

# خلافت

## (پر "اسلام او دولت - یوه ځوابي لیکنه" د شویو تنقیداتو په ځواب کي لیکل شوې)

په دې کي شک نه شته چي د خلافت لفظ له تېرو څو پېړیو راهیسي د اصطلاح په ډول کارېږي، خو دا یوه دیني اصطلاح نه ده. دیني اصطلاحات رازي، غزالي، ماوردي، ابن حزم او ابن خلدون نه شي جوړولای او نه هم هر هغه لفظ چي مسلمانان یې په یوه خاص مفهوم سره استعمالوي دیني اصطلاح ګرزي. دیني اصطلاحات الله او د هغه رسول جوړولای شي او هغه وخت د منلو دي چي اصطلاحي مفهوم یې د قرآن و حدیث په نصوصو یا نورو الهامي صحیفو ثابت شي. صوم، صلوة او حج و عمره ځکه دیني اصطلاحات دي چي دا حیثیت ورته الله او رسول ورکړی دی او ځای - ځای یې په اصطلاحي مفهوم سره استعمال کړي دي. د دې بر خلاف خلافت یو عربي لفظ دی او د نیابت، ځایناستي او حکومت و واک په معنا استعمالېږي. دا یې لغوي مفهوم دی او په قرآن و حدیث کي هر ځای له دې لغوي مفاهیمو په یوه مفهوم سره استعمال شوی دی. د قرآن کریم هغه ایاتونه چي خلیفه او خلافت الفاظ پکي راغلي او په ژباړه کي د همدې الفاظو په استعمال سره خلګو ته دا باور ورکول کېږي چي قرآن کریم دا لفظ په یو خاص اصطلاحي مفهوم سره استعمال کړی دی.

تاسو یې په یوه مستند تفسیر کي وګورئ، حقیقت به درته دومره روښانه شي چي د تبصرې لپاره به الفاظ هم و نه لرئ لکه زما له منتقدینو څخه یوه ښاغلي ته چي ورتمام شول. زه دلته د دوو درنو عالمانو ژباړې وړاندي کوم.

۱) د سورت البقرې (۲) دېرشم ایت:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" او کله چې ستا رب ملایکو ته وویل چې په ځمکه کې یو نایب ټاکم." (شاه عبد القادر)

" او کله چې ستا رب فرشتو ته وویل چې په ځمکه کې د یوه نایب پیدا کوونکی یم." (مولانا محمود الحسن)

۲) ص (۳۸) سورت، ۲۶ ایت:

" اې داوده! ته موږ په هیواد کې نایب کړې، نو په خلکو کې په انصاف حکومت کوه." (شاه عبد القادر)

" اې داوده! ته په هیواد کې موږ نایب وګرزولې، نو په خلکو کې په عدالت سره حکومت وکړه." (مولانا محمود الحسن)

۳) نور (۲۴) سورت، ۵۵ ایت:

" الله له هغو خلکو سره ژمنه کوې چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي چې وروستې به یې په هیواد کې حاکم کوي لکه وړاندیني چې یې حاکم کړي وو." (شاه عبد القادر)

" الله له هغو خلکو سره ژمنه کوي چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي چې وروستي به یې په هیواد کې حاکم کوي لکه وړاندیني چې یې حاکم کړي وو." (مولانا محمود الحسن)

په دې ایاتونو کې د "نایب" او "حاکم" الفاظ د (خلیفة) او (استخلاف) ژباړه ده او ترې څرګندیږي چې په خپل منځ کې کوم دیني مفهوم نه لري، مګر دا چې یو څوک ووایي د عربې ژبې هر لفظ چې په قرآن کي استعمال شوی دی دیني اصطلاح ده.

د حدیثو او اثارو حالت هم همداسې دی، په هغو کې هم د خلافت لفظ او د هغه ټول مشتقات په هغو مفاهیمو سره استعمال شوي دي چې پورته بیان شول. تر دې چې د ځای ناستي په معنا د خلیفه لفظ په خپله د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله تعالی لپاره هم استعمال شوی دی. که د (هدایت شوي حکومت) یا (د نبوت پر طریقې حکومت) مدعا هدف وي نو د دې لپاره یوازې دا لفظ بسنه نه کوي، بلکي د (راشده) او (علی منهاج النبوة) په څېر تعبیرات باید ورسره یو ځای شي. زموږ علماوو داسي تعبیرونه مقدر کړي او له خلافت څخه یې یوه اصطلاح جوړه کړې ده. په دې توګه دا د مسلمانانو د سیاسي او ټولنیزو علومو یوه اصطلاح کېدلای شي لکه فقه، کلام، حدیث او د داسي نورو علومو اصطلاحات دي، خو دیني اصطلاح نه شي کېدلای. له الله او رسول پرته هیڅوک یو لفظ دیني اصطلاح نه شي ګرزولای، دا د دوی حق دی او د یو لفظ په اړه دا ادعا چي دیني اصطلاح ده باید د همدوی له لارښوونو ثابته شي. دا د ابن خلدون له مقدمې څخه نه شي ثابتېدلای.

پاتي شوه دا خبره چي په نړۍ کي باید مسلمانان یو حکومت ولري او دا د اسلام امر دی. له قرآن څخه خبر هر کس پوهېږي چي هغه له داسي حکم څخه په مکمل ډول تش دی. په دې اړه دوه حدیثونه وړاندي کېږي: یو دا دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: پر بني اسرائیلو نبیانو حکومت کاوی چي یو نبي به وفات کېدی نو بل به یې ځای ناستی کېدی، تر ما وروسته هیڅ نبي نه شته، امیران به وي او ډېر به وي. پوښتنه وشوه: ته یې په اړه څه حکم کوي؟ ده وویل: له لومړي سره د اطاعت ژمنه پوره کړئ، بیا له هغه سره چي تر ده وروسته لومړی وي.* دویم حدیث دا دی چي که له دوو امیرانو سره بیعت کېږي نو دویم یې ووژنئ.* پر دې دویم حدیث د سند له مخې هم یو څه خبرې شته خو که د تنزل په توګه ومنل شي نو بیا هم له دې حقیقت څخه انکار ناشوني دی چي په دې حدیثونو کي هغه خبره بیخي نه ده شوې چي د ثابتېدو

---

* بخاري، شمیره: ۳۴۵۵، مسلم، شمیره: ۱۸۴۳

* مسلم، شمیره: ۱۸۵۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هڅه تري کېږي. په دې کې چې څه ويل شوي دي دا دي چې که مسلمانان د خپل حکومت لپاره له يو چا سره بيعت وکړي او تر ده وروسته يو بل څوک بغاوت وکړي او خلکو ته د بيعت بلنه ورکړي نو مسلمانان دي پر لومړي بيعت ټينګ پاتي شي. همدا راز دا چې که دويم حکومت اعلان وکړي او يو څه خلک ورسره يو ځای هم شي نو هم دي وو وژل شي.

ښکاره ده چې د دې لاربښوونو معقوليت هر چا ته روښانه دی. له همدې وجې چې کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر وفات وروسته له انصارو څخه يو چا دا وړانديز وکړ چې له انصارو او مهاجرينو دواړو څخه دې يو -يو امير وټاکل شي نو عمر فاروق د همدې اصولو پر بنياد وويل چې دا خو به نو په يوه پوښ کې دوې توري وي. ابو بکر صديق هم پر همدې مهال خلک متوجې کړل چې په يوه هيواد کې دوه اميران نه شي کېدلای. ځکه پايله به يې دا وي چې سخت اختلافات به را پيدا شي، د اصلاح پر ځای به فساد خپور شي او عمومي نظم به ګډ -وډ شي او رسول الله صلی الله عليه وسلم چې خلک پر کوم حال پرېښي ول د هغه ځای به دا بدعت ونيسي چې په يوه هيواد کې به دوه خلک حکومت کوي.*

که د خدای د پيغمبر لور ته د دې روايتونو نسبت صحيح وي نو ده چې څه ويلي دي، همدا ول. له دې روايتونو څخه دا خبره په هيڅ منطق سره نه شي ثابتېدلی چې اسلام خپلو پيروانو ته په دنيا کې د يوه حکومت جوړولو امر کړی دی او که کله د اسلام داعي په امريکا، برتانيا او يا د نړۍ په يو بل هيواد کې د اکثريت خلکو په مسلمانيدلو وتوانېږي نو د دې احاديثو او اثارو له مخې خپل مستقل حکومت نه

* السنن الکبری، بيهقي، شميره: ۱۶۵۴۹ - ۱۶۵۵۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شي جوړولای او که یې جوړ کړي ګناهګار به يي، لکه نن چي تقریبا د پنځوسو هیوادونو مسلمانان دي.

علما باید متوجې چي د خدای په دین کي یوه خبره څومره وي هماغومره باید وساتل شي. هیڅ محدث، فقیه او عالم حق نه لري چي خلګ په یوه داسي خبره مکلف کړي چي خدای نه دي پرې مکلف کړي. ما لیکلي دي او یو ځل بیا یې وایم چي په کومو هیوادونو کي مسلمانان اکثریت دي د هغوی اتحاد د هر کس هیله کېدای شي او د دې لپاره هلې -ځلې هم کولای شي، خو دا فکر چي دا د اسلامي شریعت حکم دی او په مخالفت یې مسلمان ګناهګار بېږي بې بنسټه او خیالي دی.

(۲۰۱۵)

# دولت او حکومت

(پر "اسلام او دولت -یوه ځوابي لیکنه" د شویو تنقیداتو په ځواب کي لیکل شوې)

دولت او حکومت دوه بېل شیان دي. د سیاست د علم په اصطلاح کي دولت د ټولنې سیاسي جوړښت دی او د حکومت لفظ د هغو چارواکو لپاره کارول کېږي چي د دې نظم د ساتلو مسئولین دي. لومړی به دولت ته راشو. اوس مهال په نړۍ کي د درې ډولو نه لري:

لومړی، د عربي ټاپو وزمې دولت چي حدود یې په خپله د کایناتو خالق ټاکلي او د ځان لپاره یې خاص کړی دی. د همده په امر سره پکي د ده د بلنې او عبادت مرکز جوړ شو او په اوومه پېړۍ کي د اخیري رسول په وسیله سره دا اعلان وشو چي (لا یجتمع فیها دینان) "تر قیامته یې نا مسلمان تبع نه شي کېدلای." تر دې وړاندي د څو پېړیو لپاره فلسطین همدا حیثیت درلود. د اسلام او شریعت مخاطبین به دلته هم له خپلو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

مختلفو حیثیتونو سره افراد وي، خو که د داسي دولت په اړه وویل شي چي دین به یې اسلام وي او دلته به حکومت هم د اسلام وي نو دا خبره تر یوه حده د منلو وړ ده او اعتراض پرې نه شي کېدلای.

دویم، هغه دولتونه چي فاتحینو به یې په خپلو فتوحاتو سره حدود ټاکل او پر خلګو به یې حکومت کاوی. په داسي دولتونو کي د شاهي کورنۍ یا چارواکو مذهب او فکر د دولت مذهب او فکر وي. دې ته له پام پرته چي څومره مشروعیت لري؟ په دې اړه که وویل شي چي دا مسلمان، یا کمونیسټ دولتونه دي د منلو وړ خبره ده.

دریيم، د اوس مهال ملي دولتونه چي حدود یې د نړۍ والو تړونونو له مخې ټاکل کېږي او په رامنځ ته کېدو د خپلو اوسیدونکو لپاره د ملیت اساس وي. ځکه نو د رنګ، نسل، ژبې، دین، تهذیب او ثقافت له اشتراک او اختلاف پرته ځان ته هندي، مصري، امریکایي، افغاني او پاکستاني وایي او له همدې لارې خپل ملیت څرګندوي. هیڅوک پکي حاکم او محکوم نه دي، بلکي ټول برابر اتباع دي او په همدې حیثیت سره په حکومت کي ګډون کوي.

د اوس مهال همدا دولتونه دي چي په اړه یې ما لیکلي وو هیڅ دین نه لري. د پاکستان دولت همداسي یو دولت دی. هر څوک پوهېږي چي د عربي ټاپو وزمې په څېر ورته له اسمانه هیڅ فرمان نه دی راغلی چي دا به د مسلمانانو هیواد وي، نه مسلمانانو فتح کړی چي نا مسلمان یې پکي محکوم کړي وي او نه د کوم قرارداد له مخې د دې دولت اتباع ګرزیدلي دي. له پیړیو د همدې ځمکې اوسیدونکي دي لکه مسلمانان او دولت د مسلمانانو په څېر د هغوی حق هم دی. هندوستان د دې اصولو له مخې نه وو ویشل شوی چي د یوې برخې خاوندان مسلمانان او د بلې هندوان دي او د نورو دینونو پیروان به محکوم وي، بلکي پر دې اصولو شوی وو چي د برتانوي هند پر کومو برخو مسلمانان



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اکثریت دي هغوی ته به جلا هیواد ورکول کېږي او نور اقلیتونه به ازاد وي، که یې غوښتل ازادي ساتلای شي او که یې غوښتل له پاکستان یا هندوستان سره یو ځای کېدلای شي. دې ته له پام پرته چې د رعیت اکثره یې مسلمانان دي که هندوان او یا نوري مذهبي ډلې. داسي دولت د اکثریت په زور سره مسلمان، یا هندو او مسیحي ګرزول یو ازي جبر او استبداد دی، داسي څوک یې تایید نه شي کولای چي خپل رب یې ورته امر کړی وي چي په هر حالت کي به پر انصاف دریږي او د حق شاهدي به ورکوي که څه هم د ده د خپلوانو پر خلاف وي. د پاکستان په دولت کي د اوسیدونکو نامسلمانو په حق کي د دې شاهدي ورکول ضروري دي چي د تاریخ پر پاڼو ثبت شي. دا د هماغه حقیقت شاهدي ده چي محمد علي جناح په ۱۹۴۷ د اګست پر یوولسمه قانون جوړوونکي مجلس ته په وینا کي ویلي وو:

"تاسو اوس ازاد یاست. د پاکستان په دې هیواد کي تاسو خپلواک یاست، که مندر ته ځئ، که مسجد ته او یا بل عبادت ځای ته. که له هر مذهب، ذات او عقیدې سره تړلي یاست دولت له تاسو سره کار نه لري. موږ له دې بنسټیزو اصولو سره پیل کوو چي موږ ټول اتباع یو او د یوه هیواد برابر اتباع. د انګلستان اوسیدونکو د وخت په تیریدو سره دا حقایق احساس کړل او له هغو مسئولیتونو او درانه باره یې ځان خلاص کړ چي د دوی حکومت پرې وراچولی وو او دا اور له دې مرحلې په تدریج تېر شول. تاسو ویلای شئ چي اوس هلته رومن کیتولیک دي نه پروټسټنټ، اوس چي کوم څه شته دا دي چي ټول اتباع دي او ټول د لویي برتانیا برابر اتباع. ټول د یوه هیواد مساوي او برابر اتباع دي. زه فکر کوم چي دا خبره باید موږ د یوه هدف په توګه په مخکي ولرو او بیا به وویني چي د وخت په تیریدو به نه هندو -هندو پاتي شي او نه مسلمان -مسلمان. د مذهب له مخې نه،



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ځکه دا د عقايدو معامله ده بلکي له سياسي اړخه او د يوه هيواد د تبع په توګه." (قايد اعظم: تقارير و بيانات ۴/۳۵۹)

په دې اړه دا پوښتنه کېږي چي ايا اسلام ته داسي دولت د منلو وړ دی؟ په دې اړه ما ويلي چي د اسلام دعوت د ټولنې د حل و عقد مشرانو ته دی، که هغوی مسلمانان وي نو د ټولنيز نظم په اړه د احکامو مخاطبين هم دوی دي. د دولت د مسلمانولو هيڅ امر اسلام نه ورکوي، د اسلام منونکي په ملي دولتونو کي د اتباعو په حيث اوسيدلای شي، لکه اوس مهال چي د نړۍ په ډېرو هيوادونو کي اوسي. په دې کي هيڅ شی له اسلام او اسلامي شريعت سره په ټکر کي نه دي.

د اوس مهال د ملي دولتونو په اړه همدا زما نظر دی. تر دې وروسته حکومت ته راځو. د علم او عقل له مخې يې په اړه دوې خبرې کېدلای شي: د دولت لپاره امير يا د حل و عقد د مشرانو ټاکنه د انسان خالق کوي، يا يې د دولت اوسيدونکي. پر رسول الله صلی الله عليه وسلم د نبوت له ختمېدو سره د لومړۍ خبرې امکان هم له منځه ولاړی. پاتي شوه دويمه خبره چي لازمي پايله يې د اکثريت حکومت دی. که دا اکثريت د مسلمانانو وي او پر دې بنياد د يوه دولت واک تر لاسه کوي نو دا يې ډيموکراټيک او انساني حق دی چي که يې دين د ټولنيز ژوند په اړه کومه لارښوونه ورته کړې وي نو خپله هم عمل پرې وکړي او د مسلمانانو ټولي چارې هم د هغه شريعت له مخې رهبري کړي چي خدای د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وسيله را ليږلی دی. محمد علي جناح چي د پاکستان په اړه د اسلام، اسلامي تهذيب او اسلامي شريعت يادونه کوي نو د هغه هدف هم همدا وي.

د اوس مهال له ملي دولتونو سره د شريعت اړيکه همدې ځای ته رسېږي او له همدې لارې را منځ ته کېږي. ما د همدې خبرې د بيان هڅه کړې ده. همدې ته په پام مې د ټولنيز ژوند په اړه د اسلامي شريعت د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

احکامو یو فهرست هم تیار کړی او لیکلی دی چې مسلمانانو ته دا احکام له دې تنبیه او تهدید سره ورکړل شوي دي چې کوم څوک د خدای د کتاب له منلو سره -سره د خدای په نازل شوي قانون پرېکړه نه کوي، د قیامت په ورځ به د الله په حضور کې ظالمان، فاسقان او کافر وګڼل شي. علما زما له تیار کړل شوي فهرست سره په دلایلو اختلاف او زیاتونه پرې کولای شي، خو که د دولت او حکومت په دې فرق تر پوهیدو او د دې فهرست تر لیدو وروسته هم وایي چې ما شریعت یوازې تر فردي ژوند پورې محدود کړی دی یا مې له سیاست، ټولنې، اقتصاد او ټولنیز نظم سره د هغه احکام نفې کړي دي او د دوی دا تجاهل عارفانه نه وي نو په خدمت کې یې له دې پرته بل څه وړاندې کولای شم:

سخن شناس نه‌ای دلبرا خطا این جاست

(۲۰۱۵)

## زموږ مسجدونه

زموږ په ټولنه په اثر کوونکو عواملو کې مسجد ډېر مهم ځای لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه دا سنت را منځ ته کړل چې د جمعې خطبې او امامت به یکې د دولت امیر یا د هغه عُمال ورکوي. له دې پرته که بل څوک د شرعي حجت له مخې د هغوی د معذورۍ په صورت کې د دې لپاره منبر ته خېژي نو د امیر په اجازه او د هغوی په استازیتوب به د رېږي.

دا په حقیقت کې د خدای د وروستي پیغمبر له لوري د دې خبرې اعلان وو چې په اسلام کې د اقتدار مانۍ مسجد ده. دلته نه کوم پاپ شته، نه برهمن بلکې د مسلمانانو د سیاست امام به د دوی د عبادت امام هم وي. د دین او سیاست هر بیلتون د تل لپاره له منځه وړل شوی

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

دی. تر نبي علیه السلام وروسته چي کوم خلافت صحابه وو رامنځ ته کړ په هغه کي دا سنت پاتي وو، خو په وروسته مهال کي چي واکمن د خپلو اعمالو له وجې د خلکو په وړاندي د ریدو وړ پاتي نه شول نو په خپله یې د مسجدونو منبرونه علماوو ته وسپارل. دا زموږ د تاریخ یوه ډېره دردوونکې پېښه ده. په پایله کي یې موږ وینو چي دین له جلال او سیاست له جمال څخه بې برخې شوی دی. هغه چي باید ارزښت یې درلودای بې ارزښته شوي او کوم څه چي بې ارزښته شوي وای دوم‌ره یې سر اوچت کړی چي د ځپلو په هڅه کي یې په زرګونو فتنې سر را پورته کوي. مسجدونه د بېلابېلو ډلو کلاوې دي چي پکي په ناسته یې رهبران پر یوه بل د ډبرو وارونه کوي. د جمعې له منبرونو چي یې کوم واک تر لاسه کړی په نتیجه کي یې د کسبکارو ملایانو یوه داسي ډله را پیدا شوې چي وجود یې د علماوو لپاره د شرم خبره ده. دوی چي د چا پر خلاف خوله خلاصوي نو .... د حق هر داعي د دوی د غشو هدف دی او علم و تحقیق تل د دوی د ډبرو ښکار ګرزېدلی دی. د هر مسجد دروازه د ګوندیزو ګمراهیو لپاره پرانیستې خو د قرآن او سنت د خالص دعوت په وړاندي تړلې ده. یو عالم نه شي کولای چي د الله په کور کي په ناسته د زده کړې او ښوونې هغه مسئولیت تر سره کړي چي د خپل پروردګار له خوا ورته سپارل شوی دی.

زموږ د مسجدونو دا بد حالت له چا پټ نه دی. د دې اصلاح یوازي د هغه سنت په را ژوندي کېدلو سره کېدای شي چي موږ یې یادونه وکړه. زما په نظر په دې اړه باید دا اقدامات وشي:

۱) په دولت کي د اداري واحد مرکز دي د هغه جامع مسجد وي او د اداري واحدو ویش دي دا ډول شي چي د هر واحد جامع مسجد د هغه د ټولي ابادۍ لپاره بسنه وکړي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۲) د ټولو واحدونو لپاره ضروري اداري دفترونه او محکمې دې له دې جامع مسجدونو سره تړلې جوړ شي.

۳) د دولت په پلازمینه او هر ایالت په مرکز کې باید یو مرکزي جامع مسجد وي.

۴) د جمعې د لمانځه وینا او امامت دې په پلازمینه کې د هیواد مشر، په ایالتونو کې والیان او د نورو اداري واحدونو په جامع مسجدونو کې دې ځایي چارواکي وکړي.

۵) له دې پرته دې په نورو ټولو مسجدونو کې د جمعې لمونځ ممنوع اعلان کړل شي.

۶) د مسجدونو چارې باید حکومت پر خپله غاړه واخلي.

۷) هر عالم حق لري چې په مسجدونو کې له خپل فکر سره سم د زده کړې او تعلیم مجلسونه او حلقې جوړې کړي.

(۱۹۸۷)

# امرهم شوری بینهم

د قرآن کریم له مخې د اسلامي دولت لپاره د حکومتي نظام بنسټیز قانون أَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ * دی، د قرآن کریم دا کوچنۍ جمله چې د ژبنیو قوانینو له مخې پر کوم مفهوم دلالت کوي او له دې څخه چې د سیاسي نظام په اړه کومې لاربنوونې تر لاسه کېږي دلته یې بیانوو:

په دې کې لومړی لفظ امر دی چې په عربي ژبه کې په څو معناوو کارېږي، د دا ډول الفاظو په اړه له ژبې او ادب سره اشنایي درلودونکي په دې قانون خبر دي چې هر ځای یې مفهوم د موقع او محل په قراینو

*الشوری ۴۲ : ۳۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

تاکل کېږي. د سورت الشوری په دې ایت کي دا لفظ په کومه معنا استعمال شوی دی؟ د دې تر تشخیص وړاندي به موږ په عربي ژبه کي د هغه بېلابېلي پېژندل شوې معناوې بیان کړو:

د یزید بن الجهم الهلالي په شعر کي د ترغیب او مشورې په معنا استعمال شوی دی:

لقد امرت بالبخل ام محمد　　فقلت لها: حثی علی البخل احمدا

" ام محمد زه بخل ته تشویق کړم نو ما وویل: که بخل ته ځوک تشویقوې نو خپل زوی احمد تشویق کړه."

عمرو بن صبغه الرقاشي بالکل په هماغه معنا کارولی چي موږ ورته د خپل ژوند په عامو مسایلو کي د معاملې لفظ کاروو:

الا لیقل من شاء ما شاء انما　　یلام الفتی فیما استطاع من الامر

" اوس چي ځوک څه وایي ودي وایي، ځوان صرف په هغه معامله کي ملامتېږي چي د ده په وس کي وي."

د ابو صخر الهذلي په شعر کي د حکم او اقتدار په معنا دی:

اما والذی ابکی و اضحک والذی　　امات و احیا و الذی امره الامر

" نو قسم په هغه ذات چي ژړول او خندول یې وکړل، مرګ و ژوند یې را منځ ته کړل او د ده حکم اصلي حکم دی."

صفیې بنت عبد المطلب هغه داسي استعمال کړی چي له حکم او اقتدار سره یې پکي د ټولنزې ادارې مفهوم هم شامل کړی دی:

الا من مبلغ عنا قریشاً　　ففیم الامر فینا و الامار



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" واورئ قریشو ته په زما دا پیغام څوک ورسوي چي دوی زموږ فضل او شرف نه مني، نو ودي وايي نظام ولي زموږ په لاس کي دی او موږ ولي د مشورې وړ بلل کېږو؟."

په قرآن کریم کي هم دا لفظ په دې ډولو معناوو استعمال شوی او هر ځای یې معنا د سیاق او سباق د قراینو له مخې معلومېږي، د سورت الشوری په دې ایت کي د موقع او محل دلالت په ښکاره وايي چي دا د نظام په معنا دی. دا معنا په دې لفظ کي د حکم د مفهوم له پراخولو پیدا شوې ده، کله چي حکم تر ډېرو خلګو تړاو پیدا کوي نو د ځان لپاره حدود ټاکي او اصول و ضوابط را منځ ته کوي. په دې وخت کي یې د سیاسي اقتدار پر احکامو او ټولنیز نظم دواړو اطلاق کېږي. که غور وکړو نو زموږ په ژبه کي د نظام لفظ د همدې مفهوم د تعبیر لپاره کارېږي.

څرنګه چي پر دې سربیره قرآن کریم د غایب ضمیر ته له اضافت پرته تر بل صفت نه دی خاص کړی ځکه به نو د نظام هر اړخ پکي شامل بلل کېږي، ښاري ستونزې، ملي او سیمه ییزې چارې، سیاسي او ټولنیز احکام، د قانون جوړولو اصول، د واکونو اخیستل او ورسپارل، د واکمن ګوښه کول او ټاکل، د ټولنیز ژوند لپاره د دین تعبیر، لنډه دا چي د دولتي نظام ټولي چارې به د دې ایت له بیان شوي قانون سره تړاو لري. د اسلامي دولت هیڅ څانګه به له دې دایرې څخه دباندي او هیڅ برخه به یې له اغیزو خالي نه وي.

تر دې وروسته شوری ده، دا د فعلی پر وزن مصدر دی او د مشورې کولو په معنا دی، په یاد ایت کي دا مصدر د خبر واقع کېدو له امله نور جمله هغه مفهوم نه لري چي په شَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اللهِ * کي دی، کې يې د همدې مفهوم بيان مقصود وای نو غالبا به الفاظ داسي وای: و في الامر هم يشاورون (او له دوی څخه په چارو کي مشوره اخيستل کېږي) په دې صورت کي اړينه وه چي ټولنه له وړاندي پر امير او مامور ويشل شوې وای، امير به يا د الله له خوا ټاکل کېدای، يا به يې په زور واک تر لاسه کاوه او يا به کوم معصوم امام ټاکلای.

په هر حال هغه چي له هرې خوا راتلای او په هر ډول يې امارت تر لاسه کولای صرف په دې مکلف وو چي په ملي چارو کي د کوم نظر تر خپلولو وړاندي له خلګو سره مشوره وکړي، د اجماع او يا اکثريت د رايې د منلو مکلفيت پرې نه شوای لګول کېدای، د رايې د رد او قبول اختيار به له ده سره وو، که ده غوښتي وای نو د يو چا رايه به يې منله او که يې خوښه وای نو له څه مشکل پرته يې ردولای شوای.

خو د أَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ په صورت کي چي د اسلوبو کوم بدلون راغلی د هغو تقاضا داده چي په خپله د امير امارت د مشورې په وسيله را منځ ته شوی وي، نظام د شورا له لارې جوړ شوی وي، په مشوره کي د ټولو حقوق يو ډول وي، د مشورې له مخې چي کومه پرېکړه وشي بيرته په مشوره له منځه يو وړل شي، د کوم څه د را منځ ته کولو لپاره چي مشوره وشي د هر سړي رايه يې د وجود برخه وګرزي، که په اجماع او اتفاق پريکړه ونه شي نو د شخړو د له منځه وړلو لپاره د اکثريت رايه ومنل شي.

د بېلګي په توګه موږ په خپله ژبه کي وايو چي د دې مکان د ملکيت پريکړه به د دې لسو وروڼو په مشوره کېږي، د دې څرګنده معنا داده

*آل عمران ۳ : ۱۵۹ (د ټولنيزې اداري په چارو کي له دوی سره مرسته کوه، بيا چي کله فيصله وکړې نو پر الله توکل وکړه.)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې صرف لس ورونه د فیصلې اختیار لري او په دوی کې د هیڅ یوه رایه پر نورو راحجه نه ده. که هغوی ټول په اجماع یوې نتیجې ته ورسیږي نو ښه تر ښه که نه د دوی د اکثریت رایه به پریکنده وي، خو که دا خبره داسې وشي چې د سرای د پریکړې پر مهال به له دې لسو ورونو سره مشوره کیږي نو د دې معنا له دې پرته بل څه نه شي کېدای چې د پریکړې واک به له دې لسو ورونو پرته د بل چا وي، اصل نظر به هغه ورکوي او نظر به یې عملي کېدونکی وي. البته د نظر تر خپلولو وړاندې هغه ته په کار ده چې له دې لسو ورونو سره هم مشوره وکړي، څرګنده ده چې په دې صورت کې هغه نه د دوی په اجماع مکلف دی او نه د ده لپاره د هغوی د اکثریت پریکړې منل ضروري دي.

څرنګه چې زموږ په نزد د مسلمانانو د ټولنیز نظام اساس أَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ دی، له همدې امله به د هغوی چارواکې او مشران او حکومت و امارت په مشوره وي، دوی به د امارت له تر لاسه کولو وروسته هم دا اختیار نه لري چې په ټولنیزو چارو کې د مسلمانانو د اجماع یا اکثریت رایه رد کړي. د تفهیم القرآن لیکوال مولانا ابو الأعلی مودودي صیب د دې ایت په تفسیر کې لیکي:

" د امرهم شوری بینهم اصل د خپل نوعیت او فطرت له مخې د پنځو خبرو غوښتنه کوي، لومړی دا چې ملي چارې د کومو خلکو له حقوقو او ګټو سره تړاو لري هغوی به د نظر څرګندولو پوره ازادي لري او دوی به په بشپړډول په دې خبر وي چې چارې یې څه ډول پر مخ ځي او د دې پوره حق به هم لري چې که د معاملاتو په مدیریت کې تېروتنه، خامي او نیمګړتیا ووینې نو نقد پرې وکړای شي، د لاریون حق ولري او که نه اصلاح کیږي نو مشران یې رد و بدل کړای شي. د خلکو د خولو په بندولو لاسونو و پښو ته یې د ولچکونو په اچولو او ناخبرو ساتلو د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ټولنیزو چارو چلول څرګنده بې دیني ده چې هیڅوک یې هم د امرهم شوری بینهم د اصولو پیروي نه شي ګڼلای.

دویم دا چې د ټولنیزو چارو مدیریت کوم چا ته سپارل کېږي هغه به د خلکو په خوښه ټاکل کېږي او هغوی به په خپله خوښه کي ازاد وي. د زور، ډار، حرص، تمې، پیسو، چل –ول، دسیسو او مکاریو په وسیله ترلاسه شوې خوښې حقیقي رضا نه ده، د یو ملت سم مشر هغه څوک نه شي کېدای چې په هره طریقه د مشرتوب هڅه کوي بلکي هغه دی چې خلک یې په خپله خوښه او رضا مشر کړي.

دریم دا چې مشرته د مشورې ورکولو لپاره هم باید داسي کسان وټاکل شي چې ملت پرې باور کړی وي او څرګنده خبره ده چې داسي کسان هیڅکله په سمه معنا باور درلودونکي نه شي کېدای چې د پشار، پیسو، دروغو او دسیسو په کارولو او یا د خلکو په بې لارې کولو د استازیتوب مقام ترلاسه کړي.

څلورم دا چې مشوره ورکوونکی له خپل علم، ایمان او وجدان سره سمه مشوره ورکړي او د دا ډول نظر څرګندولو پوره واک ولري، په کوم ځای کي چې دا ډول ازادي نه وي او هلته مشاور د حرص یا وېرې پر بنسټ او یا په فساد کي ښکیلېدو له کبله د خپل علم او ضمیر پر خلاف مشوره ورکړي هلته به په حقیقت کي خیانت او غداري وي نه د امرهم شوری بینهم پیروي.

پنځم دا چې د شورا وړ کسانو اجماع کومه مشوره ورکړي، یا د دوی د اکثریت ملاتړ ولري نو هغه به منل کېږي ځکه که یو شخص یا یوه ډله د ټولو د خبرې تر اورېدو وروسته د خپلې پرېکړې اختیار ولري نو مشوره بې ارزښته کېږي. الله داسي نه


© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وايي چې د دوی په چارو کې ترې مشوره اخيستل کېږي، بلکې داسې وايي چې چارې يې په خپل منځې مشوره پر مخ ځي. دا لارښوونه صرف د مشورې په اخيستلو نه عملي کېږي بلکې اړينه ده چې په مشوره کې په اتفاق يا اکثريت سره کومه پرېکړه وشي چارې له هغې سره سمې پر مخ ولاړې شي." (۵۰۹/۴)

د قرآن کريم دا اصول په عقل او فطرت هم ثابت دي، د مسلمانانو هيڅ وګړی معصوم نه دی. کېدای شي په علم او تقوا کې هغه تر ټولو ممتاز وي، د امارت او خلافت لپاره وړ کېدای شي او خپل ځان لايق بللای شي خو لکه څرنګه چې صرف دا فضيلت د دې خبرې لپاره کافي نه دی چې هغه د مسلمانانو رايې ته له پام پرته د خلافت د سمبالولو هڅه وکړي همدا رنګه د مسلمانانو په مشوره د امارت څوکۍ ته رسېدل هم دا نه لازموي چې نور دی له هرې خطا خوندي دی او دی دا حق لري چې د خپلې شخصي رايې په مقابل کې د پوهانو د اجماع او يا د هغوی د اکثريت رايه رد کړي. رسول الله دا حق له دې امله درلود چې هغه په حقيقت کې يو معصوم شخصيت او د الله استازی وو مګر د تاريخ او سيرت په کتابونو کې د دې هيڅ بېلګه نه شي موندل کېدای چې ده په کومه چاره کې د مسلمانانو د اهل الرايې د اکثريت تر نظر خپل نظر ته ترجيح ورکړې وي.

امير په هر حال يو فرد وي او د فرد د رايې په مقابل کې هر سړی منې چې د يوې ډلې د رايې د صحت او غوراوي امکانات زيات وي، که امير په حقيقت کې له الله ويرېدونکی شخص وي نو دی بايد خپل نظر ته هماغه حيثيت ورکړي چې د اسلامي فقهې يوه وتلي عالم په خپله دې وينا کې ورکړی دی، ده ويلي: موږ خپل نظر صحيح ګڼو خو په هغې کې د تېروتنې امکان شته، د نورو نظر ناسم ګڼو مګر په هغه کې د صحت امکان منو.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او دا هم یو حقیقت دی چي که مشوره ورکوونکي په دې پوه شي چي د دوی د اتفاقي او یا اکثریت رایې منل ضروري نه دي نو لومړی خو به مشورې ورکولو ته چمتو نه شي او که په خوښي یا نا خوښي چمتو هم شي نو په ډېر مات زړه به مشوره ورکوي، تر بحث لاندي مسئله به هیڅکله تر غور او فکر لاندي و نه نیسي، شورا ته به په مات زړه راځي او په ساړه زړه به له هغه ځایه ستنېږي، دوی به هیڅکله له سیاسي نظام او دولتي ادارو سره ذهني او فکري تړاو پیدا نه کړي. قاضي ابو بکر جصاص په خپل کتاب احکام القرآن کي د مشورې ورکولو د دې رواني اړخ په تشریح کولو لیکلي دي:

و غیر جائز ان یکون الامر بالمشاورة علی جهة تطییب نفوسهم و رفع اقدارهم و لتقتدی الامة به فی مثله. لانه لو کان معلوما عندهم انهم اذا استفرغوا مجهودهم فی استنباط ماشووروا فیه و صواب الرأی فیما سئلوا عنه ثم لم یکن ذلک معمولا علیه و لا متلقی منه بالقبول بوجه، لم یکن فی ذلک تطییب نفوسهم و لا رفع لاقدارهم، بل فیه ایحاشهم و اعلامهم بأن اراء هم غیر مقبولة

او روا نه ده چي د مشورې کولو دا امر یوازي د صحابه وو د زړه تر لاسه کولو او مقام لوړولو لپاره وي او یا صرف د دې لپاره وي چي په دا ډول چارو کي امت د هغه پیروي وکړي، په داسي حال کي چي که صحابه پوهېدلای دوی د مشورې په چارو کي د خپل زړه او دماغ د ټولو ځواکونو په لګولو کوم نظر ورکړي نو نه به عمل پرې کېږي او نه به یې په کوم ډول درناوی کېږي، نو په دې سره به د هغوی زړه له کومې خوا تر لاسه کېدی او په څه شي به یې عزت زیاتېدی؟ بر عکس به ویرېدل او فکر به یې کاوه چي د دوی نظر نه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

و لا معمول علیها. فهذا تاویل ساقط لا معنی له. فکیف یسوغ تاویل من تاوله لقتدی به الامة مع علم الامة عند هذا القائل بان هذه المشورة لم تفد شیئا و لم یعمل فیها بشیء اشاروا به. (۲/ ۴۱)

د منلو لپاره دی او نه د عمل لپاره، ځکه نو د مشورتي احکامو دا تاویل بې اعتباره او بې معنا دی او د تاویل دا اړخ چي دا حکم امت ته د رسول الله پر طریقه د تعلیم ورکولو لپاره ورکړل شوی په هیڅ ډول صحت نه شي درلودای، په داسي حال کي چي د ویونکي په نزد به هم دا خبره امت ته معلومه وي چي د دوی مشورې نه ګټه وکړه او نه په کومه معامله کي له هغې سره سم عمل وشو.

دلته کېدای شي ځیني کسان د زکات نه ورکوونکو پر خلاف د ګام اخیستلو او اسامه د لښکر روانېدو په اړه د ابو بکر صدیق تګلاره د دې په رد کي وړاندي کړي، له همدې امله ضروري ده چي د هغې حقیقت هم بیان شي. استاذ امام امین احسن اصلاحي یې په اړه لیکي:

" (د زکات نه ورکوونکو) پر دې پېښه له غور کولو څخه څو حقایق په بشپړ ډول په ډاګه کېږي:

یو دا چي دا د شورا او خلیفه تر منځ کومه معامله نه وه، ابو بکر صدیق رضي الله عنه شورا ته نه وه وړاندي کړې. شورا ته هغه چارې وړاندي کېږي چي له اجتهاد او مصلحتي چارو سره تړاو لري، دا د دین یوه منصوصي مسئله ده. په اسلامي حکومت کي هیڅ داسي ډله د مسلمانو وګړو په تو ګه دا وسېدو حق نه لري چي بیت المال ته د زکات له ورکړې انکار وکړي. دا په اسلامي قانون کي ترسره شوې پریکړه ده، له همدې امله د ابو بکر صدیق



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دنده دا نه وه چي هغه يې شورا ته وړاندي کړې وای بلکي د خليفه په توګه يې مسئوليت دا وو چي په دې اړه قانون نافذ کړي او ده هم داسي وکړل. د دې مثال داسي دی لکه د اسلامي حکومت په حدودو کي چي کومه ډله قتل او لوټمار پيل کړي، نو د خليفه لپاره اړينه نه ده چي د هغې ډلې د ځپلو لپاره له شورا اجازه وغواړي بلکي د هغه دنده داده چي قرآن د دا ډول جګړه مارو لپاره کوم قانون بيان کړی د هغه د عملي کولو لپاره په بشپړ ډول خپل واکونه وکاروي.

دويم دا چي کومو کسانو د امير د دې اقدام په اړه شک وښود هغوی د يوه حديث په فهم کي تېروتي وو، ابو بکر صديق د هغه حديث اجمال په يوه بل حديث سره چي ده له رسول الله اورېدلی وو تشريح کړ او په دې سره هغه خلک ډاډه شول. څرګنده ده چي په هغه زمانه کي د دې خلګو په نزد تر هغه حديث بل کوم حديث لوړه درجه درلودای شوای چي راوی يې ابو بکر صديق وي؟.

درېيمه دا چي ابو بکر صديق وويل: که له دې خلګو سره د جګړې لپاره ما کوم څوک ونه موند نو يوازي به ور سره وجنګېږم، دا د شورا د کومې پريکړې رد ول نه دي بلکي دا د هغه مسئوليت سم اظهار او اعلان دی چي د دين د واضحو او قطعي احکامو د تنفيذ او اجرا په اړه د خليفه په توګه ورته راجع وو. په اسلام کي د الله او د رسول د احکامو نافذولو لپاره د خليفه اصلي دنده همدا ده چي د پلي کولو په لار کي يې خپله قرباني ورکړي که څه هم بل ملګری ونه لري، دی په مصلحتي او اجتهادي چارو کي د اکثريت په مشورو مکلف دی نه د شريعت په قطعياتو کي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا راز د اسامه د لښکر معامله داسي وه چي د هغه ټولي تياری د رسول الله په ژوند کي شوې وې، کسان هم ده ټاکلي وو، بيرغ ونه يې ورتړلی وو ان که د رسول الله ناروغۍ انديښمنو ونکی حالت نه وای خپل کړی نو دا پوځ روانېدی چي په همدې منځ کي رسول الله وفات شو او تر ده وروسته ابو بکر خليفه وټاکل شو. ده په طبعي ډول تر خلافت وروسته خپله لويه دنده همدا وبلله چي رسول الله په خپل ژوند کي د کوم پوځ تياريانې کړې وې او ژر تر ژره يې د هغه د روانېدو هيله درلوده هغه خپل هدف ته ولېږي. د رسول د خليفه په توګه د هغه تر ټولو لوی مسئوليت او په هغه وخت کي د ده لپاره تر ټولو لويه نېکمرغي څه کېدای شي چي د رسول مراد پوره کړي؟. د دې کار لپاره هغه د شورا مشورې ته اړتيا نه درلوده، ځکه د هغه پوځ د لېږلو د پريکړې په اړه ټولي چارې د رسول الله په وړاندي بلکی د هغه په امر ترسره شوې وې. د رسول د ځای ناستي په توګه د هغه کار د رسول د پريکړو نافذول وو، نه بدلول. له همدې کبله چي کله خلکو د هغه مهال د ځانګړو حالاتو پر بنسټ د دې پوځ لېږل د مصلحت خلاف و بلل نو ده په ښکاره ټکو وويل چي رسول الله کوم بيرغ تړلی زه يې پرانيستلو ته چمتو نه يم.

په هر حال دا دواړې پېښې په هيڅ ډول د دې خبرې دليل نه شي کېدای چي خليفه د شورا د پريکړي ردولو حق لري، دا که دليل وي نو د دې خبرې دليل دی چي د الله او رسول د قطعي احکامو د پلي کولو په معامله کي خليفه له شورا څخه د مشورې په تر لاسه کولو مکلف نه دی بلکي د هغه دنده د دوی د احکامو نافذول دي." (اسلامي رياست، مخ: ۴۲)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د أَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ له دې قرآني اصولو سره سم په ټولنيز نظم کې د عامو مسلمانانو د ونډې اخيستلو کومه طريقه چې رسول الله او د هغه خلفاوو د خپل تمدن له مخې خپله کړه هغه پر لاندينيو دوو ټکو بنا وه:

لومړی دا چې مسلمانان به د خپلو باوري مشرانو په وسيله په شورا کې ګډون کوي. په بخاري کې دي:

ان رسول الله قال: حين اذن لهم المسلمون فی عتق سبی هوازن: انی لا ادری من اذن فيکم ممن لم يأذن فارجعوا حتی يرفع الينا عرفاءکم امرکم.

(شميره: ۷۱۷۶)

کله چې مسلمانانو د رسول الله له لاربنوونې سره سم د هوازن د بنديانو خوشي کولو اجازه ورکړه نو رسول الله وويل: زه نه پوهېږم چې په تاسو کې چا اجازه کړې او چا نه ده کړې؟ تاسو ولاړ شئ خپل مشران را ولېږئ چې ستاسو نظر را ته بيان کړي.

دا بوبکر صديق په اړه دارمي روايت کړی دی:

فان اعياه ان يجد فيه سنة من رسول الله جمع رؤس الناس و اخيارهم فاستشارهم فاذا اجتمع رأيهم علی امر قضی به.

(شميره: ۱۶۳)

که به يې په کومه معامله کې د رسول الله سنت و نه موند نو د قوم مشران او مخور به يې را غونډول له هغوی سره به يې مشوره کوله، کله چې به هغوی پر کوم څه متفق شول نو له هغه سره سمه به يې پريکړه کوله.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رسول الله په وخت کي قبايلي مشرانو دا حيثيت درلود، د اوس او خزرج او قريشو مشران د لفظ په هر مفهوم کي د دې قبايلو باوري کسان وو، له شک پرته هغوی دا منصب د ټولنې اکنو په وسيله نه وو تر لاسه کړی او د هغه عصر تمدني حالاتو ته په پام دې ته اړتيا هم نه وه خو له دې سره دا هم يو حقيقت دی چي خلکو د هغوی د ټولنيز مقام او فهم و تجربې له امله په سياسي او اجتماعي چارو کي دوی ته رجوع کوله. د جاهليت په زمانه کي هم هغوی دا باور د قبايلو د خپلواکې خوښې له مخې درلود او تر اسلام راوړلو وروسته يې هم دا حيثيت پر ځای پاتي شو، تر اسلام وړاندي خو يو ځوک ويلای شي چي هغوی د جبر او استبداد له وجې مشران وو مګر د اسلام تر راوړلو وروسته دې هيڅ امکان نه درلود. د هغوی ولسونو او عوامو چي هر وخت غوښتي وای د رسول الله په مخ کي يې پر هغوی خپله بې باوري څرګندولای شوای او که دوی داسي کړي وای نو يقيناً پر خپل ځای نه شوای پاتېدلای.

رسول الله په خپل وخت کي ټولي مهمې پرېکړې د همدې مشرانو په مشوره وکړې او د راشده خلافت پر مهال هم د حل و عقد د اهل په توګه د هغوی دا مقام پر ځای پاتي وو. د عمر رضی الله عنه په زمانه کي د عراق او شام د ځمکو په اړه د يوې شورا جوړېدو د حال په بيانولو قاضي ابو يوسف ليکي:

قالوا: فاستشر، قال: فاستشار المهاجرين الاولين فاختلفوا، فاما عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه فکان رأيه ان تقسم لهم حقوقهم ورأی عثمان وعلی و

دوی وويل: نو ته مشوره وغواړه په دې سره هغه له لومړنيو مهاجرينو سره مشوره وکړه نو د هغوی نظرونه هم مختلف وو. د عبد الرحمن بن عوف نظر دا وو چي د دې خلکو حقوق بايد پر همدوی ووېشل شي، عثمان،



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

طلحة و ابن عمر رضی الله عنهم رأی عمر. فأرسل الی عشرة من الانصار: خمسة من الاوس و خمسة من الخزرج، من کبرائهم و اشرافهم.

(کتاب الخراج، مخ: ۲۷)

علي، طلحه او ابن عمر له عمر رضی الله عنه سره متفق وو. بیا یې له انصارو لس کسان را وغوښتل، پنځه د اوس مشران او پنځه د خزرج.

عمر رضي الله عنه په دې غونډه کې د مشوره کوونکو په وړاندې خپل حیثیت داسې بیان کړ:

انی لم ازعجکم الا لان تشترکوا فی امانتی فیما حملت من امورکم فانی واحد کاحد کم ... و لست ارید ان تتبعوا هذا الذی هوای. (کتاب الخراج، مخ: ۲۷)

ما د دې لپاره تاسو ته زحمت درکړی چې پر ما د چارو کوم امانتي بوج اچول شوی په پورته کولو کې یې را سره مرسته وکړئ، زه ستاسو په څېر یو شخص یم ... او نه غواړم چې په دې معاملاتو کې زما د خواهش پیروي وکړئ.

د دارنګه غونډو جوړولو طریقه دا وه چې لومړی به یوه اعلان کوونکي اعلان کاوه چې الصلاة جامعة یعني خلک دې لمانځه ته را غونډ شي، کله به چې خلک را غونډېدل نو عمر رضي الله عنه به دوه رکعته لمونځ کاوه بیا به یې لنډه وینا وکړه او پر کوم څه چې به مشوره اخیستل کېده هغه به یې وړاندې کړه. د عراق او شام د ځمکو معامله او د نهاوند د جګړې پر مهال د جګړې ډګر ته په خپله د عمر رضي الله عنه د تګ مسئله په همدې غونډو کې ترسره شوه، همدا ډول د پوځ معاشات، د چارواکو ټاکنه، د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

دفتر ترتیب، د نورو قومونو لپاره د تجارت ازادي، له هغه سره تړلې د مالیې او نورو معاملې هم په دا ډول مجلسونو کې حل کېدلې. په طبقات ابن سعد، کنز العمال، تاریخ طبري، کتاب الخراج او دا ډول ځینو نورو کتابونو کې یې تفصیلات بیان شوي دي. بلاذري لیکلي چې د ورځینو چارو لپاره د مشرانو او مخورو یو ځانګړی مجلس جوړېده چې غونډه به یې په نبوي مسجد کې ترسره کېده:

کان للمهاجرین مجلس فی المسجد فکان عمر یجلس معهم فیه و یحدثهم عما ینتهی الیه من امور الافاق.

(فتوح البلدان، مخ: ۴۶۶)

په نبوي مسجد کې د مهاجرینو یوه غونډه کېده عمر رضی الله عنه به هم ورسره وو او دوی ته به یې هغه ټول حالات بیانول چې د هیواد په بیلابیلو ګوښو کې به ده ته رسېدل.

دویمه دا چې په دولت کې به مشرتوب او امامت د موجودو مسلمانانو له بیلابیلو ډلو څخه د هغې ډلې حق وي چې د عامو مسلمانانو د اکثریت ملاتړ ولري، رسول الله تر خپل وفات یو څه وړاندې پریکړه وکړه چې تر ده وروسته به د حکومت په چارو کې د ده ځای ناستی د انصارو پر ځای قریش وي. ده وویل:

ان هذا الامر فی القریش لا یعادیهم احد الا کبه الله فی النار علی وجهه ما اقاموا الدین.

(بخاري، شمیره: ۷۱۳۹)

د واک چاره به له قریشو سره وي په دې کې چې هر څوک ورسره مخالفت وکړي الله به یې پړمخې په اور کې واچوي، څو چې دوی پر دین ولاړ وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

پر همدې بنسټ يې انصارو ته لارښوونه وکړه چې قدموا قريشا و لا تقدموها * (په دې معامله کي قريش مخ ته کړئ او تر هغوی د مخ ته کېدو هڅه مه کوئ) او د خپلې دې پريکړي وجه يې دا بيان کړې:

| | |
|---|---|
| الناس تبع لقريش في هذا الشان مسلمهم لمسلمهم وکافرهم لکافرهم. (مسلم، شميره: ۷۰۱) | خلک په دې چاره کي د قريشو تابع دي، د عربو مومنان د هغوی د مومنانو پيروان دي او کافران يې د کافرانو. |

په دې توګه رسول الله دا مسئله ييخي څرګنده کړه چې د عربو مسلمانان پر قريشو باور لري، له همدې کبله د قرآن کريم د لارښوونې أَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ په رڼا کي د ټولو عربو تر منځ د عام امامت مستحقين له دوی پرته بل څوک نه شي کېدای او د واک لېږد ولو دا پريکړه د کوم نژادي تفوق او يا نسلي ترجيح پر بنسټ نه بلکي د دوی د دې حيثيت له امله شوې ده.

د عربي تاريخ مطالعه کوونکي پوهېږي چې تر رسول الله وړاندي په عربو کي سياسي اقتدار له قريشو سره ووا و د هغوی مشران د عربو مشران بلل کېدل، که څه هم د بدر او احد په جګړو کي د هغوی د مشرانو ډېری کسان ووژل شول خو په مجموعي توګه عربو لا هم پر قريشو باور درلود. په هغو کي چې کومو مشرانو ايمان راووړ ټول يې په مدينه کي را غونډ وو او د دوی ډېری اسلام ته د ښو خدماتو له امله له نورو ممتاز وو. دوی هماغه خلک وو چې د مهاجرينو په اصطلاحي نوم يادېدل او د عامو عربو تر اسلام منلو وروسته د دوی مشرانو په مسلمانانو کي هماغه رسوخ او باور درلود چې د جاهليت په زمانه کي د

*تلخيص الحبير ۲/ ۶۲

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قریشو مشرانو او اکابرو درلود. له همدې امله دې حقیقت د خپل اثبات لپاره نه ټولتیا کنو ته اړتیا درلوده او نه په دې اړه د کومې شخړې او جنجال امکان وو چې د عربو د عامو مسلمانانو باور په هر حال کې له قریشو سره وو او په عربې ټاپو وزمه کې بلې هیڅ ډلې د هغوی د ننګونې توان نه درلود.

په دې کې شک نه شته چې په مدینه کې د اوس او خزرج د مشرانو سعد بن عباده او سعد بن معاذ په مشرۍ په سیمه ییزه ډول د انصارو اثر او رسوخ منل شوی وو او د خپلو دینې خدمتونو له مخې د قریشو تر مهاجرینو په هیڅ ډول کم نه وو، که هغوی هجرت کړی وو نو انصارو بې شرط و قیده هغوی ته د مرستې او ملاتړ په وړاندیز د دوی هر کلی کړی وو. د بدر او احد او احزاب و حنین په جګړو کې له دوی سره ثنګ پر ثنګ د اسلام د دښمنانو پر خلاف وجنګېدل، د مواخات په زمانه کې چې یې د انفاق فی سبیل الله کومې بیلګې وړاندې کړې د تاریخ په پاڼو کې یې د بلې بیلګې وړاندې کول اسانه نه دي. که اسلامي دولت تر مدینې محدود وای نو په یقین سره ویل کېدای شوای چې تر رسول الله وروسته به واک دوی ته لېږدول شوی وای خو د مکې تر فتحې وروسته د اسلام پر لور د عامو عربو رجوع په سیاسي حالت کې ستر بدلون راووست او د قریشو د مهاجرینو په وړاندې د انصارو د سیاسي اثر او رسوخ کوم حیثیت پاتې نه شو. مګر له دې سره -سره هم وېره وه چې د قبایلي روا غیرت، فطري میلان، په دیني خدماتو کې د وړاندې کېدو د جذبې او په مدینه کې د خپل اثر، رسوخ او ډلې په اعتماد به هغوی د اقتدار په جنجال کې ښکېل شي او د قریشو د مهاجرینو د دریځ ننګونې لپاره به میدان ته راشي. که خدای مه کړه دا حالت را منځ ته شوی وای نو منافقینو ترې د ګټې اخیستلو هڅه کوله او د هغه وخت تمدني حالاتو ته په پام له جګړې او وینې تویونې پرته د شخړې حل کولو بل هیڅ صورت ممکن نه وو، نو همدې اندیښنې ته په پام رسول


© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الله په راتلونکي کي د دې ممکنه قضيې پريکړه په خپل ژوند کي وکړه او د انصارو د مشر سعد بن عباده په شتون کي يې په خاص ډول انصارو ته وويل: الائمة من قريش* (تر ما وروسته به امامت د قريشو وي) له همدې امله چي کله د بنو ساعده په سقيفه کي د انصارو مشرانو د خلافت لپاره د خپل حق ثابتولو په غرض ولوله ناکې ويناوې وکړې نو ابو بکر صديق رضي الله عنه د رسول الله د دې وينا په يادولو وويل:

لقد علمت يا سعد ان رسول الله قال: و انت قاعد، قريش ولاة هذا الامر فبر الناس تبع لبرهم و فاجرهم تبع لفاجرهم، قال فقال له سعد: صدقت نحن الوزراء و انتم الامراء. (احمد بن حنبل، شميره: ۲۸)

اې سعده! تا ته ښه معلومه ده چي رسول الله ستا په مخ کي وويل: خلافت به د قريشو وي ځکه د عربو نيکان به د هغوی د نيکانو تابع وي او بدان به يې د بدانو. سعد وويل: ته سم وايې، موږ وزيران يوا و تاسو اميران.

په يوه بل روايت کي د هغه الفاظ دا دي:

لم تعرف العرب هذا الامر الا لهذا الحي من قريش. (احمد بن حنبل، شميره: ۳۹۱)

عرب د قريشو له قبيلې پرته د بل چا له مشرۍ سره اشنا نه دي.

د انصارو د مشر سعد بن عباده له لوري د ابو بکر صديق د دې وينا تر تصديق وروسته د سقيفه بنو ساعده ګډونوالو ته دا حقيقت څرګند شو چي د بحث او غور په جوش کي پر غلطه لار روان وو، په داسي حال

*احمد بن حنبل، شميره: ۱۲۲۴۷، ۱۲۸۳۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کـې چې د دوی د غـور مسـئله صـرف دا وه چـې د عـامو مسـلمانانو د اکثریـت پـر بنسـټ چـې کـومې ډلـې تـه واک لېـږدول شـوی د هغـې د مشرتوب لپاره کوم مشر وټاکل شي؟ د هغوی په مشرانو کې به څوک غوره کوي چې هغه به د مسلمانانو خلیفه وي او پر دوی به یې اطاعت لازم وي، د واک لېږدولـو دا پریکـړه د هغـوی رسـول کـړې او د دې بـر خلاف د دوی لپاره د بلې لارې غوره کول روا نه دي.

راشده خلافت د همدې فیصلې پر بنسټ را منځ ته شو، کله چې د انصارو مشرانو دا پریکړه ومنله نو عمر فاروق د دې باور پر بنسټ چې د قریشي مهاجرینو مشران به نه یوازې د ده د نظر مخالفت ونه کړي بلکې د سقیفې په حالت کې به حتما د ده اقدام درست وګڼي له همدې امله یې د ابو بکر صدیق خلافت اعلان کړ، وروسته یې پر یوه موکه د خپل اقدام همدا سبب بیان کړ او خلکو ته یې خبرداری ورکړ چې په راتلونکې کې دې څوک په دې اړه د قرآن کریم د حکم أَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ پر خلاف د دلیل په توګه د وړندې کولو جرأت نه کوي، ده وویل:

فـلا یغـترن امـرؤ ان یقـول انمـا کانـت بیعـة ابی بکـر فلتـة وتمـت، الا، وانها قد کانت کذلک، ولکـن الله وقی شـرها ولـیس مـنکم مـن تقطع الاعناق الیه مثل ابی بکـر. من بایع رجلا عن غیر مشورة من المسلمین فلا یبایع هو ولا الـذی بایعـه تغـرة ان یقـتلا. (بخـاري،

په تاسو کې دې څوک په دې تېر نه وزي چې د ابو بکر بیعت ناڅاپي ترسره شو او خلکو ومانه، په دې کې شک نه شته چې د هغه بیعت همداسې وو خو الله مومنان د هغه له کومې بدې نتیجې وساتل او په یاد ولرئ په تاسو کې اوس داسې څوک نه شته چې د ابو بکر په څېر غاړې ورته ټیټې شي، له همدې کبله که چا د مومنانو له رایې پرته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

شمیره: ۶۸۳۰)

له یو چا سره بیعت وکړ له هغه او بیعت اخیستونکي دواړو سره دي بیعت نه کېږي، ځکه هغوی دواړه ګواکي په خپل دي اقدام سره ځان قتل ته وړاندي کوي.

د ابو بکر صدیق رضی الله عنه د مړیني پر مهال د مهاجرینو همدا حیثیت پاتي وو، ځرنګه چي د انصارو او عربو بلې کومې ډلې د دوی په وړاندي د اکثریت دعوه نه وه کړې له همدې کبله واک ورسره پاتي وو او د توثیق لپاره یې د عامو مسلمانانو لورته د رجوع کولو اړتیا نه وه، پر همدې بنسټ عمر رضی الله عنه د مهاجرینو د نوي مشر په توګه وټاکل شو او د هغه ټاکنه د مسلمانانو دوو لویو ډلو د انصارو او مهاجرینو مشرانو ومنله چي په دې توګه له څه شخړې پرته د اسلامي اصولو پر بنسټ واک هغه ته ولېږدول شو. د ابن سعد روایت دی:

ان ابا بکر الصدیق لما استعزبه، دعا عبد الرحمن بن عوف فقال: اخبرنی عن عمر بن الخطاب، فقال عبد الرحمن: ما تسألنی عن امر الا و انت اعلم به منی. فقال ابوبکر: و ان. فقال عبد الرحمن: هو والله، افضل من رأیک فیه. ثم دعا عثمان بن عفان. فقال: اخبرنی عن عمر، فقال: انت

د ابو بکر صدیق ناروغي ډېره شوه، د مرګ وخت یې را نژدې شو نو عبد الرحمن بن عوف یې را وغوښت او ورته ویې ویل: ما ته د عمر بن الخطاب په اړه ووایه. عبد الرحمن ځواب ورکړ: ته له ما څخه د یوې داسي معاملې په اړه رایه غواړې چي ته تر ما ښه پرې پوهېږې. ابو بکر وویل: که څه هم (دا سمه ده خو ته خپل نظر ووایه) عبد الرحمن بن عوف وویل: په الله قسم !دی تر هغه څه هم پورته



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اخبرنا به. فقال: علی ذلک یا ابا عبدالله فقال عثمان: اللهم علمی به ان سریرته خیر من علانیته و انه لیس فینا مثله.

(الطبقات الکبری ۳ / ۱۹۹)

دی چې تا یې په اړه وویل، بیا یې عثمان را وغوښت او هغه ته یې وویل: د عمر په اړه را ته ووایه. عثمان ځواب ورکړ چې ته یې تر موږ ښه پېژنې. ده وویل: اې ابا عبدالله! له دې سره-سره (غواړم ستا نظر معلوم کړم) عثمان وویل: بې شکه زه پوهېږم چې باطن یې تر ظاهر ډېر ښه دی او په موږ کې د ده په څېر بل څوک نه شته.

ابن سعد وايي، ده پر دې دوو سربیره د مهاجرینو او انصارو له ټولو مشرانو څخه مشوره وغوښته:

و شاور معهما سعید بن زید ابا الاعور و اسید بن الحضیر و غیرهما من المهاجرین و الانصار فقال اسید: اللهم، اعلمه الخیرة بعدک، یرضی للرضی و یسخط للسخط، الذی یسر خیر من الذی یعلن و لم یل هذا الامر احد اقوی علیه منه.

(الطبقات الکبری ۳ / ۱۹۹)

او ده پر دې دوو ښاغلو سربیره له ابو الاعور سعید بن زید، اسید بن الحضیرا و د مهاجرینو او انصارو له نورو مشرانو سره هم مشوره وکړه. اسید وویل: بې شکه زه هغه تر تا وروسته له ټولو غوره گڼم، هغه د خوشالۍ پر ځای خوشاله او د خپگان پر ځای خپه وي، باطن یې تر ظاهر غوره دی، د خلافت بوج تر ده بل څوک ښه نه شي پورته کولای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ابن سعد تر دې وروسته ویلي چې ځینو کسانو د ابو بکر صدیق له نظر سره مخالفت هم وکړ، خو ده قناعت ورکړ. بیا یې عثمان ﷺ را وغوښت او ورته ویې ویل:

اکتب: بسم الله الرحمن الرحيم. هذا ما عهد ابو بكر بن ابى قحافة فى اخر عهده بالدنيا خارجا منها و عند اول عهده بالاخرة داخلا فيها حيث يؤمن الكافر و يوقن الفاجر و يصدق الكاذب. انى استخلفت عليكم بعدى عمر بن الخطاب فاسمعوا له و اطيعوا.

(الطبقات الكبرى ۳ / ۲۰۰)

ولیکه: د رحمان او رحیم الله په نوم، دا د ابو بکر بن ابی قحافه وصیت دی، دا یې هغه مهال کړی چې دنیوي ژوند یې ختمېدونکی ووا و ترې روان وو، د اخرت ژوند یې پیلېدونکی ووا و ور روان وو، هغه مهال چې کافر ایمان راوړي، فاجر باوري کوي او دروغجن رښتیا وایي. ما عمر بن الخطاب ستاسو خلیفه ټاکلی نو د هغه خبره واورئ او اطاعت یې وکړئ.

د هغه دا خط ټاپه شو، د هغه له امر سره سم عثمان ﷺ د عمر بن الخطاب او اسید بن سعید په ملګرتیا دباندي راووت او خلکو ته یې وویل:

اتبايعون لمن فى هذا الكتاب؟ فقالوا: نعم.

(الطبقات الكبرى ۳ / ۲۰۰)

ایا تاسو له هغه چا سره بیعت کوئ چې په دې کتاب کي دی؟. دوی وویل: هو!.

د ابن سعد په روایت کي دي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

فاقروا بذلک جمیعا ورضوا به و بایعوا ثم دعا ابو بکر عمر خالیا، فاوصاه بما اوصاه به. (الطبقات الکبری ۳ / ۲۰۰)

ټولو اقرار وکړ، راضي شول او له عمر ؓ سره یې بیعت وکړ. بیا ابو بکر عمر یوازې ور وغوښت او څه نصیحت چې یې غوښت هغه یې ورته وکړ.

کله چې عمر ؓ زخمي او د مرګ وخت یې را نږدې شو نو هم دا حقیقت پر خپل ځای پاتې وو چې د عامو مسلمانانو د اکثریت اعتماد پر مهاجرینو وو، نو له اسلامي قانون سره سم د مسئلې نوعیت هغه مهال هم دا وو چې د اکثریت ملاتړ درلودونکې ډلې به خپل مشر غوره کاوه. مسئولیت پېژندونکو کسانو له عمر ؓ غوښتنه وکړه چې: الا تعهد الینا الا تؤمر علینا * (ایا ته زموږ لپاره وصیت نه کوې؟ ایا ته زموږ لپاره خلیفه نه ټاکې؟) مګر ده دا بو بکر صدیق په څېر د شورا له غړیو څخه د مشورې په اخیستلو په خپله د خلیفه ټاکلو پر ځای دا چاره د قریشو د مهاجرینو شپږو مشرانو ته وسپارله او هغوی ته یې وویل:

انی قد نظرت لکم فی امر الناس فلم اجد عند الناس شقاقا الا ان یکون فیکم. فان کان شقاق فهو فیکم و انما الامر الی ستة: الی عبد الرحمن و عثمان و علی و الزبیر و طلحة و سعد. (الطبقات

ما ستاسو پر عمومي مشرتوب غور کړی او دې نتیجې ته رسېدلی یم چې د خلافت په معامله کې خلک هیڅ اختلاف نه لري مګر دا چې تاسو اختلاف وکړئ، نو که کوم اختلاف وي هغه به ستاسو تر منځ وي ځکه نو دا مسئله تاسو شپږو عبد الرحمن،

* الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۳۴۳

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

| | |
|---|---|
| الکبری ۳ / ۳۴۴) | عثمان، علي، زبير، طلحه او سعد ته سپارل کېږي. |

د هغه د دې خبرې مطلب دا وو چې د خلګو په نزد له تاسو پرته بل څوک د امارت وړ نه دی، له همدې کبله که تاسو په خپل منځ کې پر چا اتفاق وکړئ نو هغوی به د رسره اختلاف ونه کړي. تر دې وروسته يې وويل: قوموا فتشاوروا فأمروا احدكم. * (ځئ مشوره وکړئ او له خپل منځ څخه يو امير کړئ) خو څرنګه چې ويره وه شر خوښوونکي به فتنه جوړه کړي او يا به دوی مشوره له اړتيا پرته ډېره اوږده کړي له همدې امله يې انصارو ته چې د اقليت له امله د دې مسئلې غړي نه وو هغوی يې پرې څارونکي کړل. ابن سعد د انس بن مالک په حواله وايي:

| | |
|---|---|
| ارسل عمر بن الخطاب الى ابي طلحة الانصاري قبيل ان يموت بساعة فقال: يا ابا طلحة، كن فى خمسين من قومك من الانصار مع هؤلاء النفر اصحاب الشورى فانهم فيما احسب سيجتمعون فى بيت احدهم فقم على ذلك الباب باصحابك فلا تترك احدا يدخل عليهم و لاتتركهم يمضى اليوم الثالث حتى يومروا احدهم. | عمر بن الخطاب تر وفات لږ وړاندې ابو طلحه انصاري ور وغوښت، هغه راغی نو ورته ويې ويل: ابو طلحه! د خپل قوم انصارو پنځوس کسان درسره واخله، د دوی د مشورې ځای ته ورشه زه فکر کوم دوی به په خپل يوه کور کې را غونډ شي، ته له خپلو ملګرو سره ورشه پر دروازه ودرېږه، مه څوک دننه ورپرېږده او مه هغوی ته د امير د ټاکلو لپاره تر درو ورځو زيات وخت |

*الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۳۴۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(الطبقات الکبری ۳ / ۳۶۴) ورکوه.

عمر رضي الله عنه هغوی ته د انصارو د حل و عقد د خاوندانو په اړه لارښوونه وکړه:

احضروا معکم من شیوخ الانصار ولیس لهم من امرکم شئ. (الامامة و السیاسة، ابن قتیبه: ۲۸)

د انصارو مشران ځان ته را بولئ، خو دوی ستاسو په مشرتوب کي هیڅ برخه نه لري.

د بخاري او ابن سعد دواړو روایت دادی چي دوی ټول را غونډ شول نو عبد الرحمن بن عوف دړو ته د دړو په حق کي د تیرېدو مشوره ورکړه، نو زبیر د علي په ګټه او طلحه او سعد د عثمان او عبد الرحمن په ګټه تر خپل حق تېر شول. بیا هغه علي او عثمان ته وویل چي دوی دي دد ې معاملې فیصله هغه ته وسپاري، هغوی دواړه راضي شول نو ده علي رضي الله عنه ته وویل:

ان لک من القرابة من رسول الله صلی الله علیه وسلم والقدم. و الله علیک لئن استخلفت لتعدلن و لئن استخلف عثمان لتسمعن و لتطیعن. (الطبقات الکبری ۳ / ۳۳۹)

ته په دین کي د وړاندیتوب او له رسول الله سره د خپلوۍ شرافت لرې الله شاهد کړه چي که خلافت تا ته وسپارل شي نو ته به د عدالت کولو ژمنه کوې او که عثمان خلیفه وټاکل شو نو ته به د هغه د خبرې اورېدو او اطاعت چلند خپلوې.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کله چې علي ﷺ اقرار وکړ نو همدا خبره یې عثمان ﷺ ته وکړه، هغه هم راضي شو نو ویې ویل: عثمانه! خپل لاس راکړه. هغه لاس ورکړ نو علي او نورو خلکو ورسره بیعت وکړ.*

د علي ﷺ د ټاکنې په اړه دوه نظره کېدای شي مګر د نظرونو دا اختلاف د کومو بنسټیزو اصولو په اړه نه دي، صرف په دې اړه دي چې ایا د قریشو ټول مشران د هغه د ټاکنې پر مهال را غونډ شول او دی یې د خپلې ازادې خوښې له مخې وټاکه؟ که په دې کې زور زیاتي هم ونډه درلوده؟. دا بحث زموږ له موضوع سره تړاو نه لري، له همدې کبله که دې ته پام هم ونه شي نو دا حقیقت پر خپل ځای ثابت دی چې د راشده خلافت د واک په ټوله زمانه کې اقتدار په هر حال د اکثریت ملاتړ درلودونکې ډلې یعنې د قریشو له مهاجرینو سره وو او د هغوی لویو مشرانو په خپل منځي مشوره د عامه مشرتوب لپاره مختلف کسان ټاکل. دا هم یو حقیقت دی چې د څلورو خلفاوو د انتخاب لپاره جلا - جلا طریقې نه دي غوره شوې بلکې له اصولي پلوه صرف د یوې طریقې پیروي شوې ده، هغوی ټول د اکثریتي ډلې له مشرانو وټاکل شول او ټاکنه یې د ټولو ډلو د مشرانو په وسیله وه. توپیر صرف دومره دی چې کله هغوی پر عمر ﷺ متفق شول نو ابو بکر صدیق هغه پریکړه په خپله نافذه کړه، مګر عمر ﷺ د هغوی رایه مختلفو خو په شپږو لویو مشرانو کې محدوده کړه. هغه دا پریکړه په خپله اعلان کړه او له شپږو څخه د یوه د انتخاب مسئولیت یې دوی ته وسپاره.

(۱۹۹۰)

---

*بخاري، شمیره: ۳۷۰۰، الطبقات الکبری د ابن سعد ۳ / ۳۳۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

# اقتصادي مسايل

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د سود مسئله

که څوک چا ته پور ورکړي او پر هغه ګټه ترې وغواړي نو سود ده. په دې او کرایه کي په ښکاره کوم توپیر نه لیدل کېږي، خو که په غور وکتل شي نو ښکاري چي کوم شیان په کرایه ورکول کېږي نو وجود یې خوندي پاتي وي او استعمالېږي، خو روپۍ په داسي ډول نه شي استعمالېدلای. تر لګول کېدو وروسته باید دویم ځل تر لاسه کړای شي، نو ځکه که پر دې باندې د زیاتوب غوښتنه وشي ظلم دی. د سود او کرایې تر منځ دا توپیر ډېر باریک دی او انسان یې په پوهېدو کي تېروتنه کوي، ځکه نو الله تعالی د انبیاوو په وسیله انسان ته شریعت ورکړ او ورته ویې ویل چي پر پور زیاتوب غوښتل ناروا دي. سود له همدې وجې تل په هر شریعت کي ممنوع بلل شوی دی. قرآن په پوره صراحت سره ممنوع ګڼلی او هیڅ اختلاف پکي نه شته. اوس مهال چي د بانک کاری کوم ډول دود دی په اړه یې دا بحثونه را پورته شوي دي چي دلته بانک د کوم کاروبار لپاره قرض ورکوي، له ګټې یې بیرته خپله حصه غواړي. نو سود چي د کوم علت له مخې حرام کړل شوی دی ایا په بانکي نظام کي له منځه نه شي وړل کېدای؟ دا استدلال د مصر او سوریې ځینو علماوو هم کړی دی او د هندوستان یوه درانه عالم مولانا وحید الدین خان یې هم په (فکر اسلامي) کتاب کي تایید کړی دی. زما په فکر دا استدلال معقول کېدلای شي خو د دې لپاره ضروري ده چي بانکونه په خپل نظام کي لاندیني اصلاحات راولي:

لومړی، د کوم کاروبار لپاره چي پیسې ورکړل شوې دي او هغه له یو وجې ودرېږي، نو د ګټې غوښتنه هم باید له هماغې ورځې بنده شي. بانک تر دې ورځې وروسته یوازي د اصلي قیمت غوښتنه وکړي. په دې سره به دا معامله د قرض پر ځای د اصلي خوندي سرمایې (principal-secured financing) وي چي نیوکه پرې نه شي کېدلای.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دویم، که روپۍ د غیر کاروباري اړتیاوو لپاره ورکړل شوې وي او اصلي پانګه زیانمنه شي نو د بیرته ادا کولو پر مهال دې تر اصلي پانګې د زیاتو پیسو غوښتنه نه کېږي.

که دا اصلاحات را وستل شي نو بانکي نظام به ډېر منصفانه شي، خو بیا هم دوې پوښتنې شته:

یوه دا چې ځینې خلک سود نه اخلي، خو د ځاني او کاروباري اړتیاوو لپاره قرض اخلي او پر هغو سود ورکوي، حکم یې څه دی؟

دویمه دا چې حکومتونه په عمومي توګه د بجټ کولو مختلف پلانونه جوړوي او د خپلو اړتیاوو لپاره له خلکو پور اخلي او بیا پرې ګټه هم ورکوي. د دې حکم څه دی؟ ایا دا هم ممنوع او حرام دي؟

د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې ویل کېدای شي چې پر سود ورکوونکي کومه نیوکه نه شي کېدای، ځکه چې سود د اکل الاموال بالباطل د اصولو له مخې حرام شوی دی او سود ورکوونکی د چا مال په باطله طریقه نه خوري، بلکي د خپلې روا ګټې یوه برخه د قرض په بدل کې قرض ورکوونکي ته ورکوي. د سود پر موضوع په قرآن کریم کې تر یوه ډېر ځله بحث شوی دی، خو هر ځای وګورئ چې هیڅ ځای یې د سود ورکوونکو غندنه نه ده کړې، بلکې هغوی یې مظلوم بللي او که تنګلاسي وي نو د اصلي پانګې د ادا کولو لپاره یې د وخت ورکولو امر کړی دی. کوم خلک چې یې حراموي د هغوی استدلال د قرآن کریم کوم ایت یا د هغه اشاره او اقتضا نه ده، بلکې یو حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سود خوړونکي او سود ورکوونکي لعنت ویلی دی. د حدیث الفاظ دي: لعن النبی صلی الله علیه وسلم ... اکل الربو وموکله.* دلته د ورکوونکي یا ورخوړونکي لپاره د موکل لفظ راغلی

---

* بخاري، شمیره: ۵۳۴۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

دی. د لغت له مخې سود ورکوونکي ته هم ویل کېدای شي او د سودي کاروبار د کوونکو استازي ته هم چې هغوی ته ګیراکان پیدا کوي او له قرض غوښتونکو پر ټاکلي وخت سود ترلاسه کوي. که په ګته د پور معاملې د یوه مستقل کاروبار بڼه غوره کړي نو د داسي استازو شتون ضروري دی، له دوی پرته سودي کاروبار مخته نه شي تلای. که په حدیث کي همدا خلګ مراد وي نو هیڅ شک نه شته، ځکه دا په ګناه کي مرسته کول دي. د سودي کاروبار کوونکو کاریګر خلګ چې سودي اسناد ورته چمتو کوي او پر هغو شاهدان وي هم تر دې حکم لاندي دي. د اوسني بانکي نظام عمله هم همدا کار ترسره کوي. خو سودي قرض اخیستونکي په هیڅ ډول هم د تعاون علی الاثم تر حکم لاندي نه شي راتلای. دا حکم پر هغه عمل کېدلای شي چې د ګناه د کوونکو له خوا او یا د ګناه په پایله کي د ګډون لپاره وشي. سودي قرض اخیستونکي د سود خوړونکو د ګټې لپاره نه، د خپلو ځاني او کاروباري اړتیاوو لپاره له هغوی قرض اخلي. دا که مرسته وي نو تر هغه زیاته مرسته نه ده چې د نن وخت علما او صالحین یې په بانکونو کي د خپلو پیسو په جمع کولو سره کوي. که سود په دولتي سطح ممنوع او هر ډول سودي کاروبار بند کړل شي نو دوی د قانون د مخالفت له وجې مجرمین بلل کېدای شي. که په حدیث کي د همدې یادونه وي نو بیا به له همدې سره تړلې ګڼل کېږي چې سودي کاروبار په نبوي زمانه کي ممنوع کړل شوی وو.

د دویمې پوښتنې ځواب دادی چې د بجټ او اوسني پلانونه د عامو سودي معاملاتو په څېر نه دي، وجه یې داده چې د دې پلانونو په وسیله حکومتونه د قرض ورکوونکو پر شرایطو نه بلکي په خپلو شرایطو قرض اخلي. بله لا دا چې د ګټې فیصدي هم خپله ټاکي او په خپله یې کموي او زیاتوي. دا که څه هم په عیني شکل هماغه شی نه دی چې له یو چا قرض واخیستل شي او هغه ته یې له غوښتنې پرته له یو څه ګټې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره وړ ادا کړي خو ورته نږدې دی. سود چې د کوم تيري په خاطر ممنوع کړل شوی دی، په دې معامله کې يې تر ډېره حده مخه نيول کېږي. متقيانو ته ښايي چې له دې هم ډډه وکړي، خو عام خلک په خاص ډول يتيمان، کونډې او متقاعد مامورين چې په کاروبار کې د خپلې پانگې پر غرقيدو ويرېږي، که د خپلو مهمو اړتياوو لپاره له دې پلانونو گټه واخلي نو هيله ده چې ملامت به نه وي.

(۲۰۱۱)

## بيمه

بيمه يا انشورنس د ضمانت يو ډول تړون دی چې خلک پکې ټاکلی مقدار پيسې په قسط وار شکل د دې لپاره ادا کوي چې که يې مال او ځان ته تاوان ورسېدی نو د خلکو له ټولو شويو پيسو به د ټاکلو اصولو له مخې د دې تاوان جبران کېږي. دا پيسې هيڅکله بيرته نه ورکول کېږي، بلکې کوم خلک يا اداره چې دا مسئوليت اخلي هغوی ته د ضمانت د تړون گډونوال دا حق هم ورکوي چې د دې خدمت په بدل کې د دوی پيسې چې څنگه وغواړي هماغسې يې استعمالولای شي.

دا يو ډېر غير معمولي پلان دی چې د تاوان د دفعې او په ستونزمنو حالاتو کې د خلکو د مرستې لپاره جوړ شوی دی. پر گټه يې اوس هر ځای اعتراف شوی دی. د قبيلې، ورورگلوۍ او نورو جوړښتونو له ختميدو وروسته دا يو ډېر غوره متبادل دی چې اوس مهالي اقتصاد نړۍ ته وړاندې کړی دی. په ښکاره هيڅ بدوالی نه لري، خو په عمومي توگه يې علما حراموي. د دوی له خوا په دې اړه لاندېني اعتراضات کېږي:

۱) د بيمې ادارې چې د تاوان پر مهال کومې پيسې ورکوي هغه په عمومي ډول تر ورکول شويو قسطونو زياتې وي. دا سود دی او سود



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په اسلامي شریعت کې ناروا دی. بیا دا اداري خپل مالونه هم په سودي کاروبار کې بندوي او یو څه حصه یې هغو خلکو ته هم رسېږي چې د تاوان د دفعې لپاره یې روپۍ ورکړې وي.

۲) بیمه اخیستونکي په ځلونو د ډېرو لږو پیسو په مقابل کې د مرګ، یا نورو پېښو پر مهال ډېرې پیسې ترلاسه کوي. دا قمار دی چې اسلامي شریعت حرام کړی دی.

۳) بیمه چې د کوم شي لپاره کېږي وجود یې ثابت نه دی، د عقد محل هم واضح نه دی او بیمه کوونکي په دې هم نه پوهېږي چې تر کومه او څومره قسطونه به ورکوي؟ د فقهاوو په اصطلاح کې دې درو سرو شیانو ته غرر، غبن او جهالت ویل کېږي چې معامله ناروا کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم له داسې معاملو منعه کړې ده.

که فکر وشي دا درې سره نیوکې بې ځایه دي.

لومړی، د دې لپاره چې کومې پیسې په قسط وار ډول ادا کېږي هغه کوم قرض نه وي. د خپلې مرستې په ژمنه سره یې د نورو مرستې ته ورکوي، ځکه نو هیڅکله بیرته نه اخیستل کېږي. د بیمې اداري چې یې په سودي کاروبارونو کې استعمالوي نو د استعمال د حق له مخې یې کوي چې بیمه اخیستونکي یا کوونکي پکې هیڅ ډول مسئولیت نه لري. بیمه چې د کومې معاملې لپاره کېږي او هغه را منځ ته شي نو هر څه چې ترلاسه کېږي د تړون له مخې د نورو له پیسو ورکول کېږي. د بیمې حقیقت همدا دی او له همدې زاویې باید ورته وکتل شي.

دویم، قماریو ډول لوبه او قسمت ازموینه نه ده. په قمار کې شریک خلک د یوه بل د تاوان د جبران لپاره د مرستې هیڅ ډول نظم نه لري. د دواړو حقیقت بېل دی او د دین احکام په لږو ورته والي نه بلکې د شیانو پر حقیقت تطبیقېږي او همداسې باید وشي هم.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د رېیم، د غرر، غبن او جهالت په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونې د سد ذریعه حیثیت لري او په راکړه -ورکړه کې د شخړو د مخنیوي لپاره دي. بیمه د راکړې -ورکړې کومه معامله نه ده. دا د خپل منځي مرستې یو تړون دی چې مسئولو افرادو او ادارو ته یې د دې خدمت په بدل کې د ټولو شویو پیسو د استعمال حق ورکول کېږي. دې حقیقت ته یې له پام پرته په اړه حکم کول په هیڅ ډول مناسب نه دي.

(۲۰۱۰)

# د میراث ویش

د میراث د ویش قانون د قرآن کریم په سورت النساء (۴) کې بیان شوی دی. همالته الله تعالی هغو خلکو ته د تلپاتي عذاب وعید اورولی چې دا قانون بدل کړي او یا ترې په قصدي توګه مخالفت وکړي. دا وعید که څه هم د هغو ټولو الهي احکامو په اړه دی چې الله تعالی په خپل کتاب کې په ښکاره ډول بیان کړي دي، خو د میراث د ویش تر قانون وروسته یې سمدستي ذکر کول دا ښیي چې له دې قانون څخه مخالفت خلکو ته څومره ګران تمامېدلای شي. الهي وینا ده:

تِلْكَ حُدُودُ اللهِ وَمَن يُطِعِ اللهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَمَن يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ * (النساء ۴: ۱۳ - ۱۴)

"دا د الله ټاکل شوي حدود دي، (تر دې مخته مه ځئ) او (په یاد ولرئ چې) څوک د الله او رسول اطاعت وکړي هغوی به داسي باغونو ته داخل کړل شي چې ترې لاندي به ویالې بهېږي، تل به پکښې وي او همدا ستره بریا ده. او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي او د هغوی



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

له حدودو مخته ولاړ شي، داسي
اور ته به واچول شي چي تل به
پکښي پاتي وي او د هغوی لپاره
رسوا کوونکی عذاب دی."

دا وعید دومره سخت دی چي که څوک پر اخرت ایمان ولري نو په لوستلو به یې وربېږدي، خو د زیات افسوس خبره ده چي مسلمانان بالکل د یهودانو د جسارت په څېر دا قانون بدلوي هم او په عملي ډول تري مخالفت هم کوي. دا حقیقت دی چي په دې اړه کومې سرغړونې کېږي، هغه د خدای پر خلاف تر ښکاره بغاوته رسیدلې دي. ښځې یې له میراث څخه بې برخي کړې دي، چیرته چي دا قانون تر یوه حده نافذ دی نو هلته له محکمو څخه د ځان خوندي کولو لپاره له ناروا لارو پشار پرې راوړي او په هغوی له میراثه د لاس خیستلو اسناد لاسلیکوي. چیرته چي د ښځو او نارینه وو برخې برابري نه دي د هغو د برابرولو جسارت کوي، یوازي مشر زوی د میراث حقدار بولي، په کلیو کي په خاص ډول د ګډ کورني جایداد طریقه غوره کېږي، د یتیمانو حق خوري او لنډه دا چي هر هغه کار کوي چي د خدای له قانون څخه بغاوت ورته ویل کېدای شي.

د دې حالاتو غوښتنه داده چي له مسجدونو څخه متوجې کړای شي، له منبرونو ورته نصیحت وشي، د راډیو، ټلویزونونو او اخبارونو له لارې یې پام را واړول شي، د زده کړې او ښوونې په ادارو کي ورته وویل شي چي د دنیا ژوند او مال یې یوه غولوونکې پانګه ده. د قیامت په ورځ د خدای په پاچاهي کي د برخې موندلو پر ځای دا تاسو څه شی انتخاب کړي دي؟ د قرآن په وینا چي خپلو نسونو ته سکروټې کښته کوئ، دوی ته دي وویل شي چي ابدي دوزخ یو معمولي شی نه دی. له دې څخه ځان وساتئ او خپل میراث په پوره امانت سره له هغه قانون



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

سره سم وويشئ چي الله تعالى تاكلي دى. رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي چي چا د يوه بالښت په اندازه ځمکه په ناروا غصب کړه نو د قيامت په ورځ به يې په غاړه کي وراچول کېږي. *

د ميراث د ويش دا قانون څه دى؟ موږ يې تفصيلات په خپل کتاب ميزان کي بيان کړي دي، دلته يې يوازي د يادوني په خاطر په څو نقطو کي لنډيز رااخلو:

۱) که مړى قرضدار وي نو تر ټولو اول به يې له ميراث څخه قرض ادا کېږي، که يې بيا کوم وصيت کړى وي هغه به پوره کېږي، بيا به ميراث ويشل کېږي.

۲) د وارث په حق کي وصيت نه شي کېداى مګر که د هغه حالات يا کوم خدمت او ضرورت د خاص حالت تقاضا وکړي.

۳) د مور و پلار، ښځي او ميړه تر حصي ورکولو وروسته د مړي د ميراث وارثان د هغه اولادونه دي، که مړى کوم زوى ونه لري او په اولاد کي يې دوې يا تر دې زياتي لوڼې وي نو د پاتي ميراث دوې برخې به هغوى ته ورکول کېږي. که يوه نجلۍ وي نو نيمايي د هغې حق دى. که د مړي په اولاد کي صرف هلکان وي نو ټول مال به پر دوى ويشل کېږي، که په اولادونو کي نجوني او هلکان دواړه وي نو د يوه هلک حصه به له دوو سره برابره وي او په دې صورت کي به هم ټول مال پر دوى تقسيمېږي.

۴) د اولاد په نه موجوديت کي د مړي ورونه او خوندې د اولاد پر ځاى درېږي، که مور و پلار او ښځه و ميړه وي نو د دوى د حصو تر ورکولو وروسته به هغوى د مړي وارثان وي. د ښځو او نارينه وو لپاره

---

* بخاري، شميره: ۳۱۹۸، مسلم، ميره: ۴۱۳۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د هغوی حصې او پر دوی د میراث ویشلو طریقه هماغه ده چې پورته د اولاد لپاره بیان شوه.

۵) که مړی اولاد ولري یا یې اولاد نه وي او خوندې او وروڼه ولري نو په مور و پلار کې به هر یوه ته د میراث شپږمه برخه ورکول کېږي، که یې خوندې او وروڼه نه وي او صرف مور و پلار د مړی میراث وړی نو د میراث یوه دریمه یې د مور او پاتې دوې دریمې یې د پلار حق دی.

۶) که مړی نارینه وي او اولاد ولري نو میرمنې ته به یې د میراث اتمه برخه ورکول کېږي، که اولاد ونه لري نو د میراث د یوې څلورمې حق لري، که مړی ښځه وي او اولاد نه لري نو نیم میراث یې د میړه دی او که اولاد ولري نو میړه ته به یې څلورمه برخه ورکول کېږي.

۷) د دې وارثانو په نه موجودیت کې که مړی وغواړي نو یو څوک د میراث وارث ګرزولای شي، خو کوم څوک چې یې وارث ګرزولی که هغه د خپلوانو له ډلې یو ورور یا یوه خور ولري نو د څلورمې برخې حق حقدار دي او که یې خوندې او وروڼه تر یوه زیات وي نو هغوی ته د یوې دریمې تر ورکولو وروسته به پاتې ۶ / ۵ یا دوې دریمې هغه ته ورکول کېږي.

(۲۰۱۰)

# د وصیت حق

د میراث د ویش کوم قانون چې په قرآن کریم کې بیان شوی دی، هلته په وار - وار ټینګار شوی چې دا ویش تر هغه وصیت وروسته دی چې مړی یې د چا لپاره کوي. په دې اړه دوې پوښتنې کېږي:

د وصیت لپاره کوم حد ټاکل شوی دی ؟ او که څومره چې وغواړي همدومره په وصیت کې یو چا ته ورکولای شي؟

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## ایا وصیت د هغه چا په حق کي هم کېدلای شي چي میراث وړي؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب دادی چي د قرآن په الفاظو کي د کوم تحدید لپاره ځای نه شته. الله تعالی په اطلاق سره ویلي چي دا ویش د مړي د وصیت تر پوره کولو وروسته دی. د ژبې او بیان د یو قاعدې له مخې پر دې اطلاق هیڅ ډول بندیز نه شي لګول کېدای. په دې اړه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته منسوب کوم روایات نقل شوي دي هغه ښېخي له دې سره تړاو نه لري. یوه صحابي یې په مخ کي دا خواهش ښکاره کړی دی چي غواړي تر مرګ وروسته ټول مال د الله په لار کي خیرات کړي. ده ورته ویلي چي دا زیات دي، که له چا سره مال وي نو خپل وارثان دي اړمن نه پرېږدي. هغه د دوه نیمې برخې او بیا د نیم مال ورکولو پوښتنه کړې. ده ورته ویلي چي دا ډېر دی.* هر څوک پوهېدلای شي چي دا په یوه خاص حالت کي د یوه خاص سړي پر پریکړې د ده تبصره ده او له هیڅ ډول قانوني تحدید سره تړاو نه لري.

د دویمې پوښتنې ځواب دادی چي د وارثانو په حق کي په خپله الله تعالی وصیت کړی دی. د الله د وصیت په وړاندې کوم مسلمان د خپل وصیت د وړاندې کولو سپین سترګي نه شي کولای. د دوی په اړه دا خبره قطعي ده چي د خپلوۍ پر بنیاد یې په اړه وصیت نه شي کېدلای، خو د همدې وارثانو په حق کي د هغوی د یوې اړتیا له مخې وصیت کول پروا نه لري. مثلا د یو چا یو زوی په زده کړو بوخت وي او نور زامن یې کارونه لري او په زده کړو بوخت زوی یې لا تر اوسه پر خپلو پښو د دریدو نه وي، یا په زامنو کي یو چا د مور او پلار ډېر خدمت کړی وي، یا یو څوک اندیښنه لري چي د میرمنې تر وفات کیدو وروسته به د پوښتنې څوک ونه لري نو له دې څخه د یوه په اړه وصیت کولای شي. دا وصیت لکه څرنګه چي د ملګرو او دوستانو په اړه د خیرات په هدف

* بخاري، شمیره: ۲۷۴۲ . مسلم، شمیره: ۱۶۲۸



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېدلای شي، همداسي د وارثانو په حق کي هم کېږي، هیڅ مشکل نه لري.

(۲۰۰۸)

## د یتیم لمسیانو وراثت

د لمسیانو په میراث کي د نیکه او د نیکه په میراث کي د لمسیانو د برخې صریحه یادونه په قرآن کریم کي نه شته، خو ځرنګه چي د اولاد او ابا الفاظ د عرف او لغت له مخې دوی ته هم شاملېږي، ځکه نو فقها تل پر دې متفق پاتي شوي چي که له بلا واسطه اولاد او بلا واسطه مور و پلار څخه کوم یو نه وي نو کومه حصه چي دوی ته ټاکل شوې هغه به بالواسطه اولاد او بالواسطه مور و پلار ته ورکول کېږي. د اولاد په اړه داسي هم کېدلای شي چي یو یا څو اولادونه د سړي په ژوند کي ومري او یو یا څو اولادونه یې تر مرګ وروسته ژوندي وي. د فقهاوو اجتهاد دادی چي په دې صورت کي کوم زامن مړه شوي د هغوی اولاد ته د نیکه میراث نه رسېږي، د اکاګانو په شتون کي تړې محرومېږي، مګر که یې نیکه په اړه وصیت وکړي. اوس مهال ځینو علماوو ویلي چي د فقهاوو دا اجتهاد سم نه ښکاري. لمسی د اولاد درجه لري، ځکه نو باید د زوی تر مړینې وروسته هغه حصه تر لاسه کړي چي پلار یې په ژوندوني تر لاسه کوله. زما په نظر همدا رایه سمه ده. زه به دلته هغو نیوکو ته ځواب ووایم چي مولانا سید ابو الاعلی مودودي په خپل کتاب (تفهیمات) کي پر دې نظر کړې دي، نیوکې دادي:

۱) د قرآن له مخې چي چا ته د میراث حصه ورکول د مړي د خپلوي له وجې ورکول کېږي، د خپلوان د ځای ناستي په صفت ورته نه ورکول کېږي. ځکه نو د نیکه له میراث څخه یتیمو لمسیانو ته د میراث ورکولو دا وړاندیز د ځای ناستي توب یو ناسم نظر د اسلام د میراث په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قانون کي ور داخلوي چي په قرآن کريم کي هيڅ ثبوت نه لري. بلهلا دا چي د اصولو په توګه د ځای ناستي توب تر منلو وروسته يې د اولاد تر اولاد پوري محدودي، چي په اړه يې هيڅ معقول دليل نه شي وړاندي کېدلای.

۲) د قرآن کريم له مخې ميراث د هغو خلګو حق دی چي د مورث د وفات پر مهال ژوندي وي، خو دا وړانديز هغه خلګ هم د ميراث حقدار ګرزوي چي د هغه په ژوند کي وفات شوي دي.

۳) قرآن د ځينو خپلوانو برخې په قطعي ډول بيان کړې دي چي کمی او زياتوالی پکي نه شي کېدلای، خو پر دې وړانديز د عمل په پايله کي په خپله د قرآن په ځينو ټاکلو حصو کي کمی او په ځينو کي زياتوب کېږي.

د لومړۍ نيوکې ځواب دادی چي لمسيانو ته دا حصه له دې وجې نه ورکول کېږي چي هغه د وارث په حيث د خپل پلار ځای ناستی دی، بلکي له دې وجې ورکول کېږي چي د پلار تر وفات وروسته په هماغه حيثيت سره نيکه ته نژدې شوی لکه پلار يې. ځکه نو په دې لحاظ د پلار ځای ناستی دی. که يې پلار ژوندی وای نو د اولاد په سلسله کي همدی خپل پلار ته نژدې وو. اوس هغه په دنيا کي نه شته نو د هغه پر ځای لمسی ورته نژدې دی او له همدې وجې په ميراث کي برخه لري. د پلار په ژوند کي هم د نيکه لپاره د اولاد په څېر وو او تر مرګ وروسته يې هم د اولاد په څېر دی. تر مرګ وروسته چي کوم توپير را منځ ته شوی دی هغه دادی چي نيکه ته په نژدې کيدو کي هم د پلار ځای ناستی شوی. دا په هغه معنا ځای ناستي والی نه دی لکه مولانا صيب چي سنجولی. دا مړي ته په نژدېکت کي ځای ناستي توب دی چي د مولانا د بيان له مخې د ميراث د اسلامي قانون بنسټ دی. که د مړي په اولاد کي لاندي هيڅوک نه وي نو خور او ورور په همدې حيثيت سره د

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اولاد ځای ناستي کېږي او د قرآن له مخې له هغې طریقې سره سم هماغه برخه ترلاسه کوي چي لمسیان یې ترلاسه کوي او د اولاد په شتون کي ورته تاکل شوې ده. د ځای ناستي توب لپاره د سورة النساء (۴) اخیري ایت قطعي نص دی. د اولاد تر اولاد پوري د محدودولو وجه یې داده چي د میړه یا میرمنې تر وفات کیدو وروسته د هغوی هیڅ وارث په هیڅ درجه کي هم میړه یا میرمن کېدلای نه شي چي مړي ته په نژدېکت کي یې ځای ناستي شي.

د دویمې نیوکې ځواب دادی چي لمسیانو ته کومه حصه ورکول کېږي، هغه د پلار حصه نه ده چي د وارث په حیثیت سره یې د هغه زوی ته ورکول کېږي، بلکي په خپله د همده حصه ده چي پر دې بنیاد ورکول کېږي چي د پلار تر مړینې وروسته دی د هغه پر ځای دی او په هماغه حیثیت سره نیکه ته نژدې دی. له دې څخه د قرآن دا اصول هیڅ نه زیانمنېږي چي میراث د هماغو خلکو برخه ده چي د مورث د وفات پر وخت ژوندي وي. یتیمو لمسیانو ته په میراث کي د حصې ورکولو وړاندیز هم هغه څوک برخمن کوي چي د مورث د وفات پر وخت ژوندي وي.

دریمه نیوکه له دې غلط فهمۍ څخه را پیدا شوې ده چي په لمسیانو کي به د میراث د ویش همدا طریقه هغه وخت هم غوره کېږي چي له اولادونو څخه څوک موجود نه وي. مولانا یې په یوه مثال سره وضاحت کړی دی، دی لیکي:

"... فرض کړئ چي د یوه سړي دوه زامن ول او دواړه یې په ژوند کي وفات شول. یوه زوی یې تر شا څلور اولادونه پرېښوول او دویم یو اولاد. د قرآن له مخې دا پنځم لمسی د ولایت په حق کي برابر دی، ځکه نو د نیکه په میراث کي باید دې ټولو ته برابره حصه ورکړل شي، خو د ځای ناستي توب پر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اصولو د هغه په جایداد کي اته انې یوه لمسي ته رسېږي او پاتي
ثلورو لمسیانو ته یوازي دوې -دوې."

(تفهیمات، ابو الاعلی مودودي ۳ / ۱۸۲)

د دې نیوکې ځواب دادی چي دا ضروري نه ده. په دې صورت کي
هماغه طریقه غوره کېدلای شي چي دا مهال غوره کېږي، یعني ټولو
لمسیانو ته برابره حصه ورکړل شي.

د دې بیان په خپله په قرآن کي شته. هغه یوه وارث ته د نورو وارثانو
په شتون کي په یوه طریقه سره او په نه شتون کي په بله طریقه سره د
حصې ورکولو لارښوونه کړې. ځکه که نو اولاد موجود وي نو له مور و
پلار څخه د هر یوه حصه ۶/۱ده. که اولاد نه وي او ورور و خوروي
همدا حصه یې ده. خو که د مړي وارث یوازي مور او پلار وي نو د مور
حصه یوه پر درې او د پلار دوې پر درې. د کلاله خپلوانو معامله هم
همداسي ده.

له هغوی څخه که ثوک وارث کړل شي او هغه یو ورور یا خور ولري
نو له دوی څخه د هر یوه برخه ۶ / ۱ده، خو که ورور او خور تر یوه زیات
وي نو ټول به په یوه پر درې کي شریک وي او مساوي حصې به ورکول
کېږي. له دې وجې دا اړینه نه ده چي د لمسیانو لپاره په دواړو طریقو
کي پر یوه ټینګار وشي. دا په ټوله کي یوه اجتهادي چاره ده. په هر حال
په دې کي چي هره طریقه غوره کړل شي د قرآن ټاکل شویو اصولو و
قوانینو او انصاف ته به نژدې وي.

(۲۰۱۱)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

# جهاد او سزاوي

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# جهاد او قتال

د جهاد معنا په یو هڅه کې د ټول توان مصرفول دي. لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې دا تعبیر د عامو هڅو لپاره هم راغلی، همداسې د قتال في سبیل الله یا د الله په لار کې د جګړې لپاره هم استعمال شوی دی. په قرآن کریم کې یې دوه صورتونه بیان شوي:

د کفر پر خلاف جګړه،

د ظلم او تیرې پر خلاف جګړه.

د لومړي صورت تړاو له شریعت سره نه دی، بلکې د الله د اتمام حجت له قانون سره اړه لري چې په دې دنیا کې تل د هغه په مستقیم امر او د هغو هستیو له خوا عملي کېږي چې د رسالت دنده لري. د انسانیت په تاریخ کې دا مرتبه محمد صلی الله علیه وسلم ته ورکړل شوې ده. د دې قانون له مخې چې ده او اصحابو یې د کفر پر خلاف کومې جګړې کړې دي هغه یوازې جګړې نه وې، بلکې د خدای عذاب وو چې له الهي سنتو سره سم او د خدای د پریکړې په حیث لومړی د عربو پر مشرکینو، بیا پر یهودو او نصاراوو او تر دې وروسته له عربي ټاپو وزمې څخه دباندې پر ځینو قومونو نازل شو. نبوت پر همدې ختم کړل شو، ځکه نو د خلکو په وړاندې یوازې د هغوی د کفر له وجې جګړه کول او په پایله کې یې مفتوحین وژل یا جزیه ترې اخیستل او یا یې تر لاس لاندې ساتلو حق هم د ده او د ده د صحابه وو تر وفات وروسته د تل لپاره ختم شوی دی. نو اوس تر قیامته هیڅوک هم په دنیا کې پر یو ملت له دې وجې برید نه شي کولای او نه له محکوم شویو څخه جزیه اخیستلای شي.

دویم صورت د شریعت حکم دی. اوس د مسلمانانو لپاره د جهاد او قتال یوه لار پاتې ده او هغه د ظلم او عدوان پر خلاف جګړه ده. په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اسلامي شريعت کي جهاد په همدې هدف ترسره کېږي. دا نه د نفسي خواهشاتو لپاره دی، نه د مال او دولت لپاره، نه د هيوادونو د لاندي کولو لپاره، نه د مشهورتيا او نوم لپاره او نه د بلې دښمنۍ او تعصب لپاره. د انسان ځان غوښتنه او نفسانيت له دې جهاد او قتال سره هيڅ اړه نه لري. دا د الله تعالی جګړه ده چي د هغه بندګان يې، د ده په امر او د ده له لارښوونې سره سم د ده په لار کي کوي. دوی په دې جنګ کي يوازې د الاتو حيثيت لري. دوی په دې کي خپل هيڅ هدف نه لري، يوازې د خدای غوښتنې پوره کوي او په دې توګه د هيڅ انحراف جرأت نه کوي.

د دې چي کوم قانون په قرآن کي بيان شوی دی، مهمې مادې يې دادي:

۱) د جهاد او قتال حکم مسلمانانو ته د جماعت په حيث شوی دی. په قرآن کي چي يې څومره اياتونه راغلي په فردي توګه يې مسلمانان مخاطب نه دي. د حدودو او تعزيراتو په څېر د دې اياتونو مخاطب ډله ده. ځکه نو په دې لړ کي د کوم اقدام کولو حق له ټولنيز نظم سره دی، په دوی کي دننه هيڅ فرد يا ډله دا حق نه لري چي پر خپل سر داسي يو اقدام وکړي.

۲) په قرآن کريم کي دا امر په حقيقت کي د فتنې د مخنيوي لپاره شوی دی چي په ظلم او جبر سره يو څوک له مذهبه د اړولو په معنا ده او همدې ته په انګريزي کي (persecution) وايي. د ځان، مال او عقل پر خلاف د تيري ټول ډولونه تر همدې لاندي دي. نو ظلم او تيری چي په هره بڼه وي پر خلاف يې جهاد کېږي.

۳) جهاد پر مسلمانانو تر هغو نه فرض کېږي چي د دښمن په مقابل کي يې جګړېيز قوت يوه خاص حد ته ونه رسېږي. ځکه نو ضروري ده چي د جهاد او قتال د دې مسئوليت ترسره کولو لپاره بايد هغوی نه

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يوازي خپل اخلاقي وجود پياوړی کړي، بلکي خپل جګړييز ځواک هم تر هغې کچې ورسوي لکه قرآن چي د رسالت په زمانه کي مسلمانان د هغه وخت له حالاتو سره امر کړي وو او د دوی د دښمنانو په وړاندي يې د دوو او يوه نسبت را منځ ته کړی وو.

۴) په جهاد کي برخه نه اخيستل يوازي هغه مهال جرم دی چي يو مسلمان په نفير عام کي پر کور پاتي شي. هغه مهال بې له شکه د نفاق په څېر ستر جرم بلل کېږي. که دا صورت نه وي نو جهاد يو فضيلت دی چي د تر لاسه کولو جذبه به يې بايد هر څوک ولري. خو حيثيت يې د فضيلت د درجې دی، له هغو فرايضو څخه نه دی چي په نه ترسره کولو يې يو څوک مجرم کېږي.

۵) جهاد له اخلاقي حدودو څخه په بې پروا کېدو نه شي کېدلای. اخلاقيات په هر حال کي او تر هرشي وړاندي دي او د جنګ پر مهال هم الله تعالی ترې د انحراف اجازه هيچا ته نه ده ورکړې. تر دې حکم لاندي مهمه لارښوونه چي قرآن بيان کړې پر ژمنه دربدل دي. غدر او د ژمنې ماتول الله بد ګناهونه بللي. که يو معاهد قوم پر مسلمانانو ظلم کوي نو له تړون څخه په خلاف ورزي يې مرسته نه شي کېدلای. همدا راز کوم خلګ چي جنګ ته راونه وزي او د جنګ پر مهال بې پرې پاتيدل غواړي د هغوی پر خلاف هم د اقدام کولو اجازه نه شته. جهاد يوازي د مقاتلينو (combatants) پر خلاف کېدلای شي.

(۲۰۰۹)

## د طالبانو استدلال

نړۍ چي د خدای کوم پوځ د طالبانو په نوم پېژني، په تېرو لسو کلونو کي هغوی دومره بې ګناه انسانان وژلي دي چي اوس يې شمېرل هم اسان نه دي. دوی تېنګار کوي چي دا هرڅه د خدای لپاره او د خدای

www.javedahmedghamidi.com www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د احکامو په پیروي کې کوي. پر ملالې یوسفزۍ تر بزدلانه حملې وروسته یې هم خپل دا موقف یو ځل بیا بیان کړ. د دې لپاره د قرآن او حدیث ځیني حوالې ورکوي او د نبوي مهال ځیني پېښې د دلیل په توګه وړاندې کوي. لکه څرنګه چې دلته خلک تر ډېره له دیني علومو خبر نه دي، ځکه نو اندېښنه ده چې له دې شیانو به متاثر شي. د همدوی لپاره ځیني حقایق بیانوم.

۱) په دې کې شک نه شته چې جهاد د اسلام حکم دی. قرآن له خپلو منونکو غوښتنه کوي چې که وس ولري د ظلم او تیري پر خلاف دې وجنګېږي. په قرآن کې د دې لاربنوونه په حقیقت کې د فتنې د مخنیوي په خاطر شوې ده چې په جبري توګه له دین څخه د یو چا د ګرزولو معنا ورکوي او دې ته په انګریزي کې persecution وایي. پوهان پوهېږي چې مسلمانانو ته دا امر په انفرادي توګه نه بلکې په ډلییزه توګه شوی دی. په دې اړه چې په قرآن کریم کې کوم ایاتونه راغلي په انفرادي توګه یې نه مخاطبوي. پر همدې بنا په دې اړه کوم اقدام د دوی له ټولنیز نظم سره دی او په دوی کې د ننه هیڅ فرد یا ډله په خپل سر داسي اقدام نه شي کولای. له همدې وجې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې د مسلمانانو امیر د دوی ډال دی، جنګ د هغه له شا څخه کېږي.*
طالبان چې څه کوي هغه د دې اصل اطاعت دی او که یې مخالفت؟ هر څوک پرې په لږ فکر کولو سره پوهېدای شي.

۲) اسلام چې د کوم جهاد امر کوي هغه د خدای په لار کې جګړه ده، له دې وجې له اخلاقي حدودو څخه په بې پروا کیدو نه شي کېدای. اخلاقیات په هر حال کې او تر هر شي وړاندې دي او د جنګ پر مهال هم الله هیچا ته له هغو څخه د انحراف اجازه نه ده ورکړې. دا بالکل روښانه ده چې جګړه یوازې له مقاتلینو یا جنګیالیو (combatants) سره

* بخاري، ۲۹۵۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کېږي. د اسلام قانون همدا دی چې که څوک په ژبه برید وکړي په ژبه سره به ځواب ورکول کېږي، که څوک له جنګیالیو سره مالي مرسته وکړي نو له مرستې کولو به را ګرزول کېږي، تر څو چې یې وسله نه وي اخیستې او جګړې ته نه وي راوتلی نه شي وژل کېدای. ان تر دې که عیني د جګړې په ډګر کې وسله وغورزوي نو بندي کېږي به او بیا نه شي وژل کېدلای. د قرآن کریم په کوم ایت کې چې د جهاد حکم ورکول شوی دی، هغه دادی: " د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جګړه کوي او تېری مه کوئ، ځکه الله تیري کوونکي نه خوښوي." * رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ پر مهال د میرمنو او ماشومانو له وژلو منعه کړې ده. ** د دې وجه داده چې که له جنګیالیو سره راوتلي هم وي نو په عمومي توګه جنګیالي نه دي، تر ډېره حده د هغوی حوصله لوړولای شي او په ژبه یې تشویقولای شي.

د خدای شریعت همدا دی خو طالبان څه کوي؟ د مولانا حسن جان، ډاکټر سرفراز نعیمي او ډاکټر محمد فاروق خان په څېر علما هیڅکله هم د طالبانو پر خلاف جنګیدلو ته نه ول وتلي. ملاله یوسفزۍ یوه معصومه نجلۍ ده چې هیڅکله یې د دوی پر خلاف ټوپک پورته نه کړ. له دې سره ـ سره دوی ټینګار کوي چې دا ټول واجب القتل ول. ایا یوازې له دې وجې چې د دوی د مخالفت جرأت یې کړی وو؟ په دې کې شک نه شته چې که د مسلمانانو واک وي نو مجرم ته سزا ورکولای شي. دا خبره هم پر ځای ده چې په دې کې د ښځې او نارینه هیڅ توپیر نه کېږي. قرآن بالکل په صافو ټکو وایي چې که ښځه غلا وکړي او که نارینه، دواړو ته به سزا ورکول کېږي او یو ډول سزا. د زاني او زانیې په اړه هم همدا لاربښوونه ده. خو د کومو خلکو یادونه چې وشوه هغوی کله

---

* البقرة ۲ : ۱۹۰

** بخاري، شمیره: ۳۰۱۵ ، مسلم، شمیره: ۱۷۴۴

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د طالبانو تر واک لاندې وو او په اسلام کې چې د کومو جرمونو سزا قتل ټاکل شوې، له هغو يې کوم جرم ترسره کړی وو؟ قرآن په ډېرو صافو ټکو سره وايي چې د مرګ سزا له قتل او فساد فی الارض جرمونو پرته نه شي ورکول کېدای. په دوی کې کوم يوه قتل کړی وو؟ يا د چا په مال، ځان او ابرو په پسې کېدو يې په ځمکه کې فساد کړی وو؟ حقيقت دادی چې طالبان په خپلو د همدې جرمونو کوونکې دي او شپه او ورځ پرې اعتراف هم کوي.

۳) شرک، کفر او ارتداد يقينا درانه جرمونه خو د دې سزا هيڅ انسان بل انسان ته نه شي ورکولای. دا د خدای حق دی، په اخرت کې به يې هم دی سزا ورکوي او په دنيا کې هم. اوس پر قيامت بحث نه کوو، په دنيا کې يې لار داده چې الله يو قوم ته خپل رسول لېږي، هغه پرې اتمام حجت کوي، تر دې چې له هيچا سره معقول عذر نه پاتېږي. تر دې وروسته د خدای پريکړه صادرېږي او کوم خلک چې تر دا ډول اتمام حجت وروسته هم پر کفر او شرک اصرار وکړي هغوی ته په دې نړۍ کې سزا ورکول کېږي. دا يو الهي سنت دی چې قرآن په دې توګه بيان کړی دی: " د هر قوم لپاره يو رسول دی، بيا چې کله د هغوی رسول راځي نو د هغوی په منځ کې په انصاف سره فيصله کېږي او پر هيچا ظلم نه کېږي." *

دا سزا په عمومي توګه په هغه طريقه سره ورکول کېږي لکه د نوح، هود، صالح، لوط، شعيب او نورو قومونو ته چې ورکړل شوه. خو که رسول ګڼ ملګري ولري او له خپل قوم څخه تر هجرت وروسته يو ځای واک هم ولري نو بيا دا سزا د رسول او د هغه د ملګرو په تورو سره ورکول کېږي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه همدا دويمه تګلاره غوره شوه. د ده له منکرينو څخه لومړی معاندين ووژل شول، تر

* يونس ۱۰ : ۴۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې وروسته د عامو منکرینو د قتل عام امر وشو. د دې سزا اعلان په نهم هجري د حج اکبر په ورځ وشو. حکم یې د قرآن کریم په سورت التوبه کې داسي راغلی: "کله چي (تر حج اکبر وروسته) حرامې میاشتې تېري شي نو دا مشرکین چي مو هر ځای وموندل ویې وژنئ او (د دې هدف لپاره) هغوی ونیسئ، تري را چاپېر شئ او په هره مورچه کي ورته کښېنئ. بیا که دوی توبه وکړي، زکات ورکړي او لمونځ ادا کړي نو لاره یې خوشي کړئ." *

دا د خدای عذاب وو چي د عربو پر مشرکینو نازل شو، کله چي داسي عذاب نازلېږي نو په هغه کي د ښځو او ماشومانو لپاره هم کومه استثنا نه وي او هغوی هم داسي هلاکېږي، لکه د نوح، لوط، شعیب علیهم السلام پر قومونو چي عذاب راغی او هلاک شول. لکه په روایتونو کي چي راغلي دي چي کله سریې لېږل کېدلې او خلګو پوښتنه وکړه چي هلته خو د مشرکینو ښځې او ماشومان هم دي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چي هغوی هم له دوی څخه دي. **
دا هماغه خلګ ول چي په اړه یې رسول الله لارښوونه کړې وه چي که دا وخت ایمان راوړي او وروسته بیرته مرتد شي نو د همدې سزا ورډ دي او غاړې به یې غوځېږي. ***

له اتمام حجت سره - سره د دې خلګو په سزا کي تر نهمې هجري ځکه ځنډ وشو چي معاند نه ول، ځکه نو هیله وه چي د توبې او اصلاح توفیق به تر لاسه کړي او له سزا به خوندي شي. د دې بر خلاف چي کوم خلګ له انکار سره پر دښمني او کینه راغلي ول هغوی ته دا وخت ورنه کړل شو. په هر شوني فرصت کي ووژل شول. ابو رافع، کعب بن اشرف،

---

* ۹: ۵.

** بخاري، شمیره: ۳۰۱۲، مسلم، شمیره: ۱۷۴۵

*** بخاري، شمیره: ۳۰۱۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

عبدالله بن خطل، د ده مینځې او د بدر و احد له زندانیانو عقبه بن ابی معیط، نضر بن الحارث او ابو عزه او نور تهول په همدې خاطر ووژل شول. د ځینو منکرینو وینه له همدې وجې حلاله کړل شوې وه.

دا د خدای پریکړه وه چي د رسولانو له خوا تر اتمام حجت وروسته لازما نافذېږي. قرآن د همدې په اړه ویلي دي چي د خدای د دې سنت بدلون به و نه وینئ. *

دا بالکل هماغسي پېښې دي لکه د اسماعیل علیه السلام قرباني او د خضر په کیسه کي چي ورسره مخ کېږو، له موږ انسانانو سره هیڅ تړاو نه لري. لکه څرنګه چي موږ د یوه غریب له اجازې پرته د هغه په کښتۍ کي سوری نه شو کولای، د چا اولاد په نافرمانه لیدلو وژلای نه شو، د خپل کوم خوب له وجې د ابراهیم علیه السلام په څېر د خپل زوی پر غاړه چاړه نه شو ایښودلای، همدا راز دا کار هم نه شو کولای. مګر دا چي وحې راشي او خدای مستقیما دا امر وکړي. هر څوک پوهېږي چي تر رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته د دې دروازه د تل پاره تړل شوې ده.

طالبان چي د خپلو اقداماتو د جواز لپاره کومې پېښې وړاندې کوي هغه همداسي پېښې دي. دوی د ځان لپاره د خدایي معاملاتو د عاملو سپین سترګي کوي. د خدای پر ځمکه تر دې بل لوی جرم نه شته، هر مومن بنده باید له دې څخه پناه وغواړي.

(۲۰۱۲)

---

* بني اسرائیل ۱۷ : ۷۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د رسولانو اتمام حجت

دا نړۍ د ازمويني لپاره جوړه شوې ده او لازمي پايله يې جزا او سزا ده چې د قيامت ورځ ورته ځانګړې شوې. لکه څرنګه چې ساينسي حقايق په لابراتوار کې د تجربې له لارې ثابتېږي، پر همدې معيار د دې نړۍ د ثابتولو لپاره الله څو ځله په دې نړۍ کې يو وړوکی قيامت را منځ ته کړی دی. د دې لپاره چې کومه طريقه غوره شوې هغه دا وه چې الله به د کوم قوم لور ته غوښتل خپل رسول به يې ور لېږی چې هغه به پرې اتمام حجت کاوی، بيا به يې له بشپړ انصاف سره په دې نړۍ کې پريکړه کېدله. د دې ډول داسې وو چې منونکو به نجات تر لاسه کاوی او پر منکرينو به د خدای عذاب راتلی چې په نتيجه کې به له ځمکې محوه کېدل او يا به د تل لپاره له ذلت سره د محکوميت په عذاب اخته کېدل. د نوح قوم، عاد و ثمود، د لوط د قوم او نورو قومونو کومې کيسې چې په قرآن کې راغلې دي د همدې عذابونو بيان کوي.

د قرآن وينا ده چې د رسولانو له خوا له اتمام حجت پرته دا عذاب پر هيڅ قوم هيڅکله نه دی راغلی. لکه چې وايي: (وما کنا معذبين حتى نبعث رسولا)* (موږ هيڅکله سزا نه ورکوو، څو يو رسول ونه ليږو.) په دې اړه دا پوښتنه کېدلای شي چې دا اتمام حجت څرنګه وي؟ د قرآن له څرګندونو ښکاري چې د دې لپاره درې شيان ضروري دي:

اول، په دنيا کې د خدای رسول موجود وي او يوه قوم ته پر ځان د ايمان راوړلو بلنه ورکړي. دويم، قوم ته دومره وخت ورکړل شي چې که خلک وغواړي راشي رسول ووينې او د هغه له خولې په مستقيمه توګه د خدای پيغام واوري.

---

* بني اسرائيل ۱۷ : ۱۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

درپېیم، له رسول او د هغه له ملګرو سره د خدای ملاتړ په داسې ډول د دوی مخته را ښکاره شي چې په اړه یې بل څه نه شي ویل کېدای.

الله تعالی ویلي دي چې تر دې وروسته د هیچا لپاره د خدای په حضور کې د وړاندې کولو لپاره کوم عذر نه پاتېږي: (لئلا یکون للناس علی الله حجة بعد الرسل)* که ممکنه وه منونکو ته، که نه ملایکو ته امر کېدی چې د منکرینو پر خېټه د عذاب چلاخه وچلوي.

نبي علیه السلام هم د خدای رسول وو او د خدای پر ځمکه د دې کوچني قیامت د را وستلو لپاره مبعوث کړل شوی وو. ځکه نو د ده له خوا تر اتمام حجت وروسته د ده ملګرو ته هم امر وشو چې د ده پر منکرینو د خدای د عذاب فیصله نافذه کړي.

د عربو مشرکینو په اړه ویل شوي:

فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُواْ الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

(التوبة ۹ : ۵)

"کله چې حرامې میاشتې تېرې شي نو دا مشرکین چې هر چېرې و مومئ قتل یې کړئ او (د دې هدف لپاره) هغوی ونیسئ، محاصره یې کړئ، په هره مورچه کې ورته کښېنئ. که بیا توبه وکاږي او لمونځ ادا کړي، زکات ورکړي نو لاره یې خوشې کړئ. یقینا الله بخښونکی دی، مهرباني یې تلپاتې ده."

همدا راز د عربو د اهل کتابو په اړه ویل شوي دي:

* النساء ۴ : ۱۶۵



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ
(التوبة ۹ : ۲۹)

"له هغو اهل کتابو سره هم وجنګېږئ چي نه پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان لري، نه د الله او رسول له خوا حرام شوي حراموي او نه حق دين د خپل دين په توګه مني، (له دوی سره وجنګېږئ)، تر دې چي په خپلو لاسونو جزيه ورکړي او محکوم شي."

د دې اياتونو له سياق او سباق څخه ښکاري چي د دې حکم د عربو د خاورې تر مشرکينو او اهل کتابو ځانګړی وو، خو موږ وينو چي د نبي عليه السلام له ملګرو څخه چي کوم خلک د ده ځای ناستي شول، هغوی له عربي ټاپو وزمې دباندي له ځينو قومونو سره هم هماغسي چلند وکړ چي په دې اياتونو کي د عربي اهل کتابو لپاره ذکر شوی دی. ښکاره ده چي دا يوه اجتهادي پريکړه وه چي هم سمه بلل کېدای شي او هم غلطه. زما په اند د صحابه وو دا پريکړه بالکل پر ځای وه، د دې دليل دا دی چي وړاندي د رسولانو د اتمام حجت لپاره کوم شيان ضروري وبلل شول، هغه ټول د دې قومونو په اړه هم له هره لحاظه پوره شول. تفصيل يې دا دی:

۱) رسول الله صلی الله عليه وسلم په دنيا کي موجود وو او خپل استازی يې د دې قومونو لور ته پر خپل ځان د ايمان راوړلو له بلنې سره ولېږی. د نبوي مهال له تاريخ څخه خبر هر کس پوهېږي چي ده يې مشرانو ته ليک وليکی او خبردار يې کړل چي دی د خدای رسول دی او د ده له خوا تر دعوت وروسته او س د دوی لپاره په دنيا او اخرت کي د سلامتۍ يوه لار پاتېږي چي اسلام ومني. دا خط د حبشې پاچا نجاشي، د مصر پاچا مقوقس، د فارس پاچا خسرو پرويز، د روم پاچا قيصر، د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بحرين امير منذر بن ساوي، د يمامه امير هوذه بن علي، د دمشق امير حارث بن ابی شمر او د عمان پاچا جيفر ته وليږل شو. په مضمون کې يې ډېر توپير نه شته، قيصر ته ليږل شوی ليک يې دلته نقلوم. له دې څخه معلومېږي چې دا ليک په کوم اسلوب او څومره ښه ډول ليکل شوی دی. ده کښلي ول:

بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد عبد الله و رسوله الی هرقل عظيم الروم. سلام علی من اتبع الهدی. اما بعد، فانی ادعوک بدعاية الاسلام. اسلم تسلم، يؤتک الله اجرک مرتين. فان توليت فان عليک اثم الاريسيين، و يا اهل الکتاب، تعالوا الی کلمة سواء بيننا و بينکم الا نعبد الا الله و لا نشرک به شيئا و لا يتخذ بعضنا بعضا اربابا من دون الله، فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مسلمون. (بخاري، شمیره: ۷)

" د الله په نوم چې سرتر پايه رحمت او مهرباني يې تلپاتې ده. د الله د بنده او رسول محمد له لوري د روم امير ته. پر هغه چا دې سلامتي وي چې د هدايت پيروي وکړي. تر دې وروسته تا ته د اسلام د منلو بلنه درکوم، مسلمان شه نو خوندي به پاتې شي. الله به درته د دې دوه چنده بدله درکړي. خو که دې مخ وګرزاوی نو د ولس ګناه هم ستا پر غاړه ده. اې اهل کتابو! د هغې بلنې خوا ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ برابره ده، دا چې له الله پرته به د هيچا عبادت نه کوو او نه به ورسره شريک نيسو او نه به له موږ څخه يو څوک له الله ماسيوا په خدايي نيسو. که دوی اعراض وکړي نو ووايه چې تاسو شاهد اوسئ چې موږ مسلمانان يو. "



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

۲ ) دا ليکونه له حديبيې تر راتلو وروسته په اوومه هجري محرم کې وليکل شول. نبي عليه السلام تر دې وروسته کم و زيات څلور کاله په دنيا کې پاتې شو. په دې وخت کې يې تبوک ته هم سفر وکړ چې د روميانو له خوا د بريد د ويرې له وجې ترسره شو. دا کمه موده نه ده، د دې قومونو خلکو او مشرانو که غوښتي وای نو له ده سره يو ځای کېدای شوای او د خدای پر ځمکه يې د هغه وروستی رسول په خپلو سترګو ليدای شوای.

۳ ) د خدای د ملاتړ کوم ظهور چې د بدر، احد، احزاب او خيبر په جګړو کې د عربي ټاپو وزمې د مشرکينو او اهل کتابو لپاره وشو او په پايله کې يې د هغوی لپاره سزا اعلان کړه، دا هر څه د هغو قومونو لپاره هم هغه وخت وشول چې د قرآن له څرګندو وړاندوينو سره سم د مکې قريش له خپل ټول قوت سره - سره مغلوب شول، مشران يې ووژل شول، مکه فتحه شوه، د خدای د لومړني کور سرپرستي ترې واخيستل شوه، د عربو خلک ډله - ډله په اسلام کې داخل شول، دين حاکم شو، د خدای شريعت نافذ شو او په عربي ټاپو وزمه کې بل دين واکمن پاتې نه شو. بيا يوازې دا هم نه، کله چې د هغو قومونو پر خلاف هم اقدام وشو نو پاچاهۍ يې د ريګونو په څېر وپاشل شوې هغه چې مشرانو ته يې ويل شوي ول چې د خدای د رسول له خوا تر اتمام حجت وروسته خامخا مغلوبېږي. له دې پرته يې د خدای پر ځمکه پاچاهي نه شي پاتېدای.

دا ټول د تاريخ نه رديدونکي حقايق دي چې د هغې زمانې د خلکو په وړاندې را څرګند شول. صحابه وو چې څه وکړل پر همدې بنسټ يې وکړل. هغوی به په خپله بلنه کې خامخا د هغوی پام دې ته را اړاوی، د دوی په اړه دا بدګوماني نه شي کېدلای چې دې ته له پام پرته يې د کوم فرد يا ډلې پر خلاف اقدام کاوی.

(۲۰۱۴)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د شريعت سزاوې

په اسلامي شريعت کي چي کوم احکام د مسلمانانو ټولنيز نظم ته ورکول شوي دي، په هغو کي د يو څو جرمونو سزاوې هم دي چي الله ټاکلې دي. دا سزاوې څه دي؟ تفصيل يې ما په خپل کتاب (ميزان) کي د (حدودو او تعزيراتو) په بحث کي وړاندي کړی او کومو شيانو چي د زيات وضاحت غوښتنه کوله، هغه مي په دې کتاب او (برهان) کي تر بيلابيلو عنوانو لاندي بيان کړي دي. د دې بحثونو لنډيز دلته هم را اخلو:

۱) دا سزاوې يوازې د پنځو جرمونو لپاره ټاکل شوې دي: زنا، قذف، غلا، قتل و جراحت او فساد فی الارض. په عام ډول فکر کېږي چي د شراب څښلو، ارتداد او د نبوي سپکاوي سزاوې هم په شريعت کي په همدې طريقه ټاکل شوې دي. موږ په دلايلو سره واضحه کړې ده چي دا فکر بې ځايه دی. د دې جرمونو لپاره په شريعت کي هيڅ سزا نه ده ټاکل شوې. دا ټول اجتهادي معاملات دي او په اړه چي يې هر ډول فکر وشي سم دی.

۲) د فقهاوو عام نظر دا دی چي د قصدي قتل مجرم که د مقتول وارثان معاف کړي نو د مسلمانانو ټولنيز نظم يې هم په بخښلو مکلف دی.

زما په اند دا نظر سم نه دی. په همدې کتاب کي مي د (قصدي قتل سزا) تر عنوان لاندي د هغو ټولو اياتونو په تحليل کولو سره ويلي دي چي په دې صورت کي يوازي د قصاص فرضيت ختمېږي، جواز يې له منځه نه ځي. ځکه نو ټولنه او حکومت بشپړ حق لري چي د جرم ډول او د مجرم حالاتو ته په پام که وغواړي پر قصاص ټينګار کولای شي او د مقتول د وارثانو له خوا له ورکړل شوي رعايت څخه انکار وکړي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۳ ) د سورت المايدې ( ۵ ) په ۳۳ - ۳۴ اياتونو کې چې د محاربې او فساد في الارض کومې سزاوې بيان شوې دي، هغه يوازې تر لار وهلو پورې خاصې نه دي بلکې د هغو ټولو مجرمانو لپاره دي چې له قانون څخه په بغاوت کولو د خلکو د ځان، مال، ابرو او د عقل و رايې پر خلاف جګړه کوي. ځکه نو که قتل په تر هګرۍ، زنا په جبري زنا او غلا په ډاکې اچولو بدل شي، يا ځينې خلک بدکارۍ خپل کسب وګرزوي، يا په ښکاره بد معاشي شروع کړي او يا د خپلې بې لارۍ، بد معاشۍ او جنسي بې لارۍ له مخې د عزتمنو د عزت او ابرو لپاره خطر شي، يا د دولتي نظم پر خلاف را پورته شوي وي، يا په اختطاف، ويره اچولو او داسې نورو درنو جرمونو کې د حکومت لپاره په امن راوستلو کې خنډ وي نو دا ټول د فساد في الارض مجرمين دي او محکمه د جرم ډول او د مجرم حالاتو ته په پام چې هره سزا مناسبه بولي ورکولای يې شي.

۴ ) د وژنې سزا له قتل او فساد في الارض پرته په هيڅ جرم کې نه شي ورکول کېدای. الله په بشپړ صراحت سره ويلي دي چې له دې دوو جرمونو پرته نه فرد کولای شي او نه حکومت چې څوک قتل کړي.

۵ ) ديت د هر مهال او هرې ټولنې لپاره د اسلام واجب الاطاعت قانون دی، خو په ډول او نورو ټولو چارو کې يې په اړه د قرآن لارښوونه داده چې ( معروف ) يعنې د ټولنې له دود سره سم. له دې حکم سره سم هره ټولنه د خپل دود پابنده ده. لکه څرنګه چې زموږ په ټولنه کې د ديت کوم قانون له وړاندې موجود نه دی ځکه نو د حل و عقد مشران اختيار لري که وغواړي د عربو قانون دې عملي کړي او که وغواړي له خپلو حالاتو او ګټو سره سم دې بله لار غوره کړي. د اسلام او اسلامي شريعت له مخې پر دې هيڅ اعتراض نه شي کېدلای.

۶ ) زاني او زانيه که واده وي، يا پېغله د زنا شرعي حد هماغه سل درې دي چې د قرآن په سورت النور ( ۲۴ ) کې بيان شوي دي. په دې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

کي شک نه شته چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله زمانه کي د زنا ځینو مجرمینو ته د رجم یعني سنګساری سزاوې هم ورکړې وې، خو دا سزاوې د سورت المایده (۵) د محاربې د ایت له مخې د زنا بالجبر او بدمعاشو مجرمانو ته ورکول شوې وې چي په سورت نور (۲۴) کي د زنا د عامو مجرمینو له بیان شوې سزا سره هیڅ اړه نه لري.

۷) د زنا او غلا کومې سزاوې چي په قرآن کي بیان شوې دي، دا د هغو جرمونو وروستی سزاوې دي او یوازي هماغو مجرمینو ته ورکول کېږي چي په اخیري درجه کي ترې دا جرم ترسره شي او د خپلو حالاتو له مخې د هیڅ رعایت وړ نه وي. له دې څخه مهم شی د هغوی دیني شعور دی. دا سزاوې د هغو خلکو لپاره نه دي چي نا مسلمان دي، یا د پیدایښت له مخې مسلمان دي مګر د دیني شعور په لحاظ د نا مسلمانو په حکم کي دي. ځکه له دې جرمونو څخه هدف یوازي د جرم مخنیوی نه دی، بلکي هغوی ته د خدای د عذاب خوند ور څکل او د نورو لپاره عبرت ګرزول دي، هغه چي په پوره شعور سره یې ځان خدای او رسول ته وسپاری، له هغو سره د اطاعت ژمنه وکړه، د هغوی دین یې ومانی او تر دې وروسته د غلا او زنا په څېر جرمونو کي تر دې حده ککړ شول چي خدای ترې پرده لرې کړه او کیسه تر محکمو ورسېده.

۸) د زنا د سزا لپاره چي د څلورو شاهدانو کوم شرط قرآن بیان کړی دی هغه د رضا زنا لپاره دی، نه بالجبر. ځکه نو که کومه ښځه پر خپل ځان د دې جرم د شکایت لپاره راځي نو قاذفه نه بلکي فریاد کوونکې ده. قانون یې باید فریاد واوري او پر چا چي تور لګېدلی دی، د هغه جرم چي په هر ډول ثابت شي باید په هماغه ډول سزا ورکړل شي، مګر دا چي له پلټنو په خپله د ښځې په اړه ښکاره شي چي دې تور لګولی دی او تورن بې ګناه دی.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

۹) له رضا زنا پرته د اسلامي شریعت جرمونه په هغو تولو طریقو ثابتېږي چې د اخلاقي قانون په چوکاټ کې د جرم د ثابتولو نکو طریقو په حیث منل شوي دي. حالات، نښې، طبي معاینه، د ګوتو نښانونه، ډي این اې، د شاهدانو شاهدي، د مجرم اقرار، قسم، قسامه او داسې نور شواهد د دې جرمونو په ثبوت کې هماغسې د منلو وړ دي لکه عام جرمونه. په قرآن و حدیث کې هیڅ شی داسې نه شته چې د دې پر خلاف وړاندې کړای شي.

(۲۰۱۵)

# د نبوي سپکاوي سزا

## (۱)

د نبوي سپکاوي کوم قانون چې په پاکستان کې نافذ دی، په قرآن او حدیث کې هیڅ ماخذ نه لري. دلته دا پوښتنه را پیدا کېږي چې نو دا قانون له کومه اخیستل شوی دی؟ د دې په ځواب کې ځیني علما وايي چې د سورت المایدې (۵) له ۳۳ - ۳۴ ایاتونو اخیستل کېدای شي. د دوی وینا ده چې د مایدې په دې ایاتونو کې چې الله تعالی د محاربې او فساد فی الارض کومه سزا بیان کړې نو د هغه د رسول توهین یا سپکاوی هم د دې محاربې یو ډول دی. ایاتونه دا دي:

إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ

"کوم خلک چې له الله او رسول سره وجنګېږي او په ځمکه کې د فساد خپرولو هڅه وکړي، د هغوی سزا همدا ده چې په عبرتناک ډول ووژل شي، یا په دار وځړول شي، یا یې لاسونه او پښې په بې ترتیبه توګه پرې شي او یا



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ * إِلاَّ الَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُواْ عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ *(۵ : ۳۳ - ۳۴)

وشړل شي، دا په دنيا کې د هغوی لپاره رسوايي او په اخرت کې د دوی لپاره غټ عذاب دی، مګر د هغو لپاره نه چې ستاسو په ولکه کې تر راتلو وړاندې توبه وکړي. نو (پر هغوی تېری مه کوئ او) په ښه توګه پوه شئ چې الله بخښونکی دی، د هغه رحم تلپاتې دی."

د دې قانون د ماخذ په اړه له نورو څرګندونو سره سم زما په اند دا هم مازې يوه وينا ده.

لومړی، په ايت کې د (يحاربون) لفظ دی. د دې لفظ غوښتنه دا ده چې په ايت کې بيان شوې سزا به هغه مهال ورکول کېږي چې کله مجرم له سرکښۍ سره پر توهين کولو ټينګار وکړي، فساد خپور کړي، له دعوت، تبليغ، نصيحت او بيا -بيا خبرداري سره را ونه ګرزي بلکې په مقابل کې ودرېږي. که دا کس له دې توره انکار وکړي، يا د خپلې خبرې وضاحت وکړي او پرې ټينګار ونه کړي نو د دې لفظ په هيڅ مفهوم سره دې ته محاربه يا په ځمکه کې فساد نه شي ويل کېدای.

دويم، که تر اقرار او اصرار وروسته هم مجرم د قانون منګولو ته تر لويدو مخکې توبه او رجوع وکړي نو د قرآن وينا ده چې پر هغه د دې حکم اطلاق نه شي کېدلای ځکه ويلې يې دي چې توبه کوونکو ته دا سزا نه ورکول کېږي. له دې څخه دا خبره هم ښکاري چې پر پرېکړه تر عمل وړاندې بايد د توبې او اصلاح بلنه ورکړل شي او په بيا -بيا بايد متوجې کړل شي چې که د خدای او رسول منونکی وي، خپل عاقبت دې نه بربادوي او د هغو په وړاندې دې تسليم شي، که مسلمان نه وي نو د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مسلمانانو د احساساتو احترام دي وکړي او له دې بد جرمه دي ځان وساتي.

د ربیم، د ایت له مخې دا ضروري نه ده چې باید ووژل شي. په دې کې دا ګنجایش هم شته چې که د جرم نوعیت او د مجرم حالاتو دا غوښتنه کوله نو محکمه ورته تر دې کمه سزا ورکولای شي. لکه ویل شوي دي چې داسي مجرمان دي وشړل شي.

اوس مهال چې کوم قانون نافذ دی په هغه کې دې هیڅ خبرې ته پام نه دی شوی. یوازې د شاهدي پر بنا سزا ورکوي او اقرار و انکار ته هم پکې اهمیت نه دی ورکړل شوی چې ایت یې غوښتنه کوي. سرکښي او اصرار هم پکې ضروري نه دي، د دعوت، تبلیغ او په نتیجه کې یې د توبې او اصلاح لپاره هم هیڅ ځای نه دی پرېښی، د دې قانون له مخې له قتل پرته بله سزا هم نه شي ورکول کېدای. که علما د دې قانون لپاره د محاربې ایت ماخذ وبولي او ورسره سم ترمیم ته تیار شي نو تر دې بله ښه خبره نه شته. د دې په نتیجه کې به هغه ټولې نیوکې ختمې شي چې پر دې قانون کېږي. قرآن په دې اړه ښېخي واضح دی چې د مرګ سزا یو چا ته په دوو صورتونو کې ورکول کېږي: یو هغه چې یو څوک یې وژلی وي، بل هغه چې په هیواد کې فساد خپور کړي او د خلکو ځان، مال او ابرو ته خطر پېښ کړي. که د محاربې له ایت سره سم ترمیم پکې وشي نو د قرآن دا غوښتنه به پوره شي. د دې تر څنګ به قانون تر ډېره حده له هغه نظر سره هم همغږی شي چې د اسلامي فقهې جلیل القدر عالم امام ابو حنیفه او ستر محدث امام بخاري ورکړی وو. زما په اند په دې اړه همدا نظر حق ته ډېر نژدې دی. په پاکستان کې احناف اکثریت دي خو د حیرانتیا خبره ده چې د قانون جوړولو پر مهال یې د امام صیب قول په بشپړه توګه له پامه غورځولی دی. پر دې بنا دا یو حقیقت دی چې اوسنی قانون هم د قرآن، هم د احادیثو او د حنفي علماوو د نظر مخالف



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی. د دې بدلول ډېر ضروري دي، ځکه په ټوله نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو د بدنامۍ لامل کېږي.

(۲)

د نبوي سپکاوي کومې پېښې چې را نقلېږي د هغو پر حقیقت هم باید غور وشي. ابو رافع له هغو خلکو څخه وو چې د خندق په غزا کې پر مدینې د قبایلو په برید کې یې لاس درلود. د ابن اسحاق په الفاظو: (فیمن حزب الاحزاب علی رسول الله صلی الله علیه وسلم.) د کعب بن اشرف په اړه مورخینو لیکلي دي چې د بدر تر غزا وروسته مکې ته ولاړ، د قریشو پر مړیو یې ویرنې وویلې چې د انتقام هڅونه پکښې وه، د مسلمانو ښځو د نومونو په اخیستلو یې عشقي شعرونه ولیکل او مسلمانان یې وزورول. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکومت کې په اوسیدو یې د ده پر خلاف د خلکو د پارولو هڅه وکړه، تر دې چې له ځینو روایتونو سره سم یې په چل سره د ده وژل غوښتل. عبدالله بن خطل رسول الله د زکات را ټولولو لپاره ولېږی، له هغه سره یو بل انصاري او یو مسلمان خادم هم ول. په لاره کې یې مسلمان خادم قتل کړ او مرتد شو وتښتېد. * له دې سره - سره پر دې درو د خدای د رسول له اتمام حجت سره پر تکذیب پاتي شول او الله خپل دا قانون په قرآن کې ځای پر ځای بیان کړی دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مستقیم مخاطبین د عذاب ښکار کېږي. که پر دښمني راشي نو وژل کېدلای هم شي.

له دې څخه ښکاري چې دا یوازې د توهین مجرمان نه ول، بلکې دا ټول جرمونه یې ترسره کړي ول چې له همدې امله ووژل شول. عبدالله بن

* السیرة النبویة، ابن هشام ۳ / ۲۴۸ ، ۴ / ۴۴ - ۴۷ ، سیرت النبی، شبلي نعماني ۱ / ۲۵۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خطل يو قاتل مجرم وو، د ده په اړه پر همدې بنا حکم وشو چې که د کعبې په پردو کې هم پټ وي و دې وژل شي.

د همدا سې مجرمينو يادونه په سورت الاحزاب کې شوې ده. د خداى له پيغمبر څخه د مسلمانانو د ګرزولو، د بدګومانۍ پيدا کولو او د مسلمانانو د اخلاقي چاپيريال د له منځه وړلو لپاره به يې د هغوى د کورني ژوند په اړه افسانې جوړولې، بهتانونه به يې لګول او شرمناکې پيښې به يې جوړولې، له نبوي ميرمنو سره به يې د نکاح کولو هيلې ښوولې، په مسلمانانو کې به يې د ويرې خپرولو کوشش کاوى او په بيلابيلو اوازو به يې د هغوى حوصلې ځپلې. کله چې به مسلمانې ميرمنې د شپې مهال د اړتياوو لپاره وتلې نو دوى به په پسې ول او که به پر دې و نيول شول نو داسې بانې به يې کولې چې موږ د فلانۍ رنډۍ فکر پر کړى وو او غوښتل مو دا خبره ترې معلومه کړو. د دوى په اړه دا ټول شيان له قرآن څخه هم ښکاري او په روايتونو کې يې هم بيان شوى دى. * له همدې وجې وويل شول چې مسلمانې ښځې دې په ټيکرې کې دباندې وزي چې له رنډيو سره يې فرق وشي او د دوى د ځورولو لپاره داسې بانې پيدا نه کړي. همدا راز يې وويل چې دا اشرار دې متوجې شي که له دې کارو را ونه ګرزي په عبرتناک ډول به ووژل شي:

لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡمُرۡجِفُونَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ لَنُغۡرِيَنَّكَ بِهِمۡ ثُمَّ لَا

"که دا منافقين تر دې وروسته هم له دې حرکتونو را ونه ګرزي او هغه هم چې په زړونو کې يې مرض دى او هغه هم چې په مدينه کې

* جامع البيان، ابن جرير الطبري ۱۰ / ۳۳۲، تفسير القرآن العظيم، ابن کثير ۳ / ۵۱۸، الکشاف زمخشري ۳ / ۵۶۹



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً* مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً*(۳۳ : ۶۰ -۶۱)

دروغ خپروي نو موږ به يې پر خلاف تا را پورته کړو. بيا به په مشکله له تا سره دلته پاتې شي. لعنت به پر شوی وي، هر ځای چې موندل کېږي و به نيول شي او په عبرتناکه توګه به ووژل شي."

له دې پرته چې نوري کومې پېښې بيانېږي، که څه هم د سند له مخې د پام وړ نه دي، خو که بيا هم شوې وي نو د هغو نوعيت هم بايد همداسې واخيستل شي چې د منکرينو له ښکنځلو د هغوی د دښمنۍ له پوره توګه څرګندېدلو وروسته د رسولانو د تکذيب هغه قانون پر دوی نافذ کړل شو چې په قرآن کريم کې د الهي سنت په توګه ياد شوی دی. د ځينو مقتولينو د وينې بخښلو وجه همدا وه. (لايقتل مسلم بکافر)* د همدې بيان دی. علما په دې حقايقو خبر دي، خو له دې سره –سره تېنګار کوي چې له دې پېښو دوی د نبوي سپکاوي قانون اخلي.

ښايي يو څوک له هغې پېښې څخه هم استدلال وکړي چې د عمر رضی الله عنه په اړه بيانېږي چې د رسول الله د پريکړې نه منلو له وجې يې د يو چا سر پرې کړی وو. زموږ علما دا پېښه پر منبرونو بيانوي او خلک هڅوي چې د نبوي سپکاوي له کوونکو سره همداسې چلند وکړي، خو حقيقت دا دی چې د احاديثو لومړی، دويمه او ان درېيمه درجه کتابونه هم له دې پېښې خالي دي. ابن جرير طبري هر ډول تفسيري روايتونه نقلوي، خو هغه هم دا پېښه د اعتبار وړ نه ده بللې. دا يو غريب او مرسل روايت دی چې ځينو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کې

*بخاري، شميره: ۱۱۱. (د دې منکرينو په قصاص کې به کوم مسلمان نه وژل کېږي)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

نقل کړې دی. خو کوم کسان چې د احادیثو په علم پوهېږي هغوی وېلي دي چې له ابن عباس سره تړلی سند یې بالکل نه دی سیي او د ابن مردوي او ابن ابی حاتم په سندونو کې یې ابن لهیعه راوي ضعیف دی.* په دې اړه دا خبره هم بالکل غلطه ده چې مفسرین د سورت النساء (۴) د ۶۵ ایت په شان نزول کې دا پېښه نقلوي. د نساء دا ایت که څه هم کوم شان نزول ته اړتیا نه لري، خو بیا هم چې کومه پېښه امام بخاري او نور محدثین د دې په شان نزول کې نقلوي او په عمومي توګه یې مفسرین هم بیانوي د دې بالکل بر خلاف ده او داسې ده چې د زبیر رضی الله عنه له یوه صحابي سره پر اوبو اختلاف شو. کیسه رسول الله ته راغله، هغه وویل چې زبیر دې خپل کښت اوبه کړي نوري اوبه دې هغه ته ور پرېږدي. په دې سره انصاري دستي وویل چې یا رسول الله، له دې وجې چې زبیر ستا د عمه له خوا ورور دی؟ دا د بشپړې بې انصافۍ او د خپلوۍ پالنې تور او سخته ګستاخي وه. ویل شوي دي چې د ده د مخ رنګ بدل شو، خو د خپلې خبرې له زیاتې توضیح پرته یې هیڅ ونه ویل او ویې ویل: د کښت تر کولانو اوبه ودروه او بیا یې هغه ته ور پرېږده.**

د علماوو دا غوره انتخاب د ستایلو وړ دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عفوې، تیریدنې او رحمت دا روایت یې له پامه غورځولی دی. په داسې حال کې چې بخاري او مسلم کې شته او د عمر فاروق د سر غوڅولو ضعیف روایت په هر ځای کې شوق سره بیانوي.

(۳)

د نبوي سپکاوي د سزا په اړه د جمهورو فقهاوو رایه د دې سزا په اړه د قرآن او حدیث پر کوم حکم ولاړه ده؟ د دې پوښتنې ځواب دادی

---

*تفسیر القرآن العظیم، ابن کثیر ۱/ ۶۸۱

**تفسیر القرآن العظیم، ابن کثیر ۱/ ۶۸۰



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چې هیڅکله نه. د مسلمانانو لپاره د دې بنسټ ارتداد او د ذمیانو د ژمنې ماتول دي. فقها دا وايي چې که مسلمان نبي علیه السلام ته سپکاوی وکړي نو مرتد کېږي او د مرتد سزا قتل ده. همدا راز که نا مسلمان ذمي دا کار وکړي نو د هغه لپاره د عقد ذمه ختمېږي او له دې وجې هغه هم وژل کېږي. د دې وجه دوی دا بیانوي چې د سورت التوبې (۹) په ۲۹ ایت کې د نا مسلمانو اهل کتابو په اړه حکم شوی دی چې که د مسلمانانو تر لاس لاندې او سیدو ته تیار نه وي نو ودې وژل شي. نو که یو ذمي د رسول الله په اړه د بنکنځلو او سپکاوي لار خپلوي نو د دې معنا دا ده چې سرکښي کوي او تر مسلمان حاکمیت لاندې او سیدو ته نه دی تیار. * په اسلامي فقه کې د دې استدلال پیل په غالب گومان د ابن عباس له دې نظر څخه شوی دی:

ایما مسلم سب الله و رسوله او سب احدا من الأنبیاء، فقد کذب برسول الله صلی الله علیه وسلم، وهي ردة یستتاب، فان رجع والاقتل، وأیما معاهد عاند فسب الله او سب احدا من الأنبیاء وجهر به، فقد نقض العهد فاقتلوه. (زاد المعاد، ابن قیم ۴ / ۳۷۹)

"که کوم مسلمان د الله، یا رسول او یا بل نبي سپکاوی وکړي، نو د رسول الله د دروغجن بللو گناه یې کړې. دا ارتداد دی چې باید د توبې کولو غوښتنه ترې وشي، که رجوع وکړي نو پرې دې ښوول شي او که نه ودې وژل شي. همدا راز که له نامسلمانو معاهدینو څخه کوم څوک پر دښمنۍ راشي او یا د الله او د هغه د رسول ښکاره سپکاوی وکړي، نو د عهد ماتولو مجرم دی او هغه هم ووژنئ."

* د دې تفصیلاتو لپاره وگورئ: المحلی، ابن حزم ۱۳ / ۲۳۴

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

د فقهاوو په اند د دې سزا بنسټ همدا دی، خو پر قرآن او حدیث له فکر کولو څخه ښکاري چې د صحابه وو تر دورې وروسته دا بنیاد د تل لپاره له منځه تللی. ما په خپلو کتابونو (میزان) او (برهان) کې په بشپړه ډول روښانه کړې ده چې د ارتداد سزا تر هماغه خلکو خاصه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې په مستقیمه توګه اتمام حجت وکړ او پر ده تر ایمان راوړلو وروسته بیرته کافران شول. د هغوی په اړه د خدای پریکړه همدا وه چې که پر کفر پاتې شي هم یې سزا مرګ ده او که تر ایمان راوړلو وروسته بیرته کافران شي هم به وژل کېږي. نبوي وینا ده چې (من بدل دینه فاقتلوه) * (که څوک خپل دین بدل کړي، نو ویې وژنئ) له همدې سره تړاو لري. د دوی لپاره دا سزا له الهي سنت سره سمه ټاکل شوې وه چې په قرآن کریم کې د رسولانو د مستقیمو مخاطبینو په اړه بیان شوې. تر نبوي مهال وروسته له پیدا کېدونکو مسلمانانو سره هیڅ تړاو نه لري. د عهد ماتولو کیسه هم دې ته ورته ده. اوس مهال هیڅ ذمي نه شته او نه څوک ذمي کېدلای شي. د سورت التوبې (۹) ۲۹ ایت د اتمام حجت د قانون فرع دی چې وړاندې یې یادونه وشوه. د حق د منکرینو پر خلاف جګړه او په پایله کې یې پر مفتوحینو د جزیې ټاکلو او محکومولو حق هم د تل لپاره له منځه تللی دی. تر قیامته هیڅوک هم پر یو قوم په دې هدف برید نه شي کولای او نه پر کوم مفتوح د جزیې ټاکلو سپین سترګي کولای شي. ** د مسلمانو دولتونو نا مسلمان اتباع نه په حقیقت کې مباح الدم دي، نه ذمیان دي او نه تر کوم امان لاندې ژوند کوي چې د پورته کېدو په صورت کې یې د وژلو امر ورکول کېدای شي. دا ټول شیان اوس د ماضي کیسې دي چې په هیڅ صورت پرې استدلال نه شي کېدای.

---

* بخاري، شمیره: ۳۰۱۷

** د دې دلایل مې په تفصیل سره په خپل کتاب میزان کې د جهاد د قانون تر عنوان لاندې ذکر کړي دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تر دې وروسته يوازې دوه صورتونه پاتېږي: د اسلام او مسلمانانو مصلحت ته په پام قانون جوړ کړل شي او د تعزير په ډول ځيني سزاوې وټاکل شي. دويم دا چې د سورت المايدې (۵) ۳۳ - ۳۴ اياتونه د قانون جوړونې د بنسټ په توګه ومنل شي. د همدې دويم صورت په اړه موږ وويل چې که د مايدې همدا اياتونه د قانون جوړونې بنسټ شي نو دا درې شيان به لازما په پام کې نيول کېږي او د قرآن الفاظ يې هم غوښتنه کوي:

۱) د سپکاوي کوونکي ته د توبې او اصلاح کيدو بلنه ورکړل شي چې که د خداى او رسول منونکى وي نو خپل عاقبت دې نه بربادوي او د هغو په وړاندې دې تسليم شي او که يې منونکى نه وي نو د مسلمانانو د جذباتو احترام دې وکړي او له دې جرمه دې لاس واخلي.

۲) پر خلاف به يې يوازې هغه مهال قضيه پرانيستل کېږي چې توبه او رجوع ونه کړي، له سرکښۍ پر سپکاوي ټينګ پاتې شي، فساد ته مخه کړي، له دعوت، تبليغ او خبرداري سره - سره را ونه ګرزي بلکې په مقابل کې ودرېږي.

۳) په سزا کې د کمې راتلو ګنجايش دې پرېښوول شي چې د جرم نوعيت او د مجرم حالاتو ته په پام تر قتل د سختې سزا پر ځاى کمه سزا هم ورکول کېداى شي.

(۲۰۱۱)

# د قصدي قتل سزا

د مذهب او اخلاقو له مخې د انسان ژوند تل خوندي دى. الله تعالى په خپل کتاب کې په څرګنده ويلي چې څوک دې يو انسان نه وژني، دا تر شرک وروستهستره ګناه ده. د قرآن وينا ده چې بني اسرائيلو ته همدا حکم له دې ټينګار سره شوى وو چې د يوه انسان قتل د ټول انسانيت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

قتل دی. په تالمود کې همدا فرمان په لږ زیاتونه او کمبوت سره نن هم موجود دی. په سورت المایده کې قران د همدې حواله ورکوي:

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ (۵ : ۳۲)

"(د انسان) همدا (سرکښي) ده چې له امله مو ږ (موسی ته شریعت ورکړ او په هغه کې مو) بني اسراییلو ته دا فرمان ولیکی چې که چا یو انسان وواژی، له دې پرته چې هغه قتل کړی وي او یا یې په ځمکه کې فساد کړی وي نو لکه ټول انسانیت چې ووژني."

له دې فرمان څخه ښکاري چې د انسان ژوند په دوو صورتونو کې اخیستل کېدای شي: یو دا چې یو څوک قتل کړي، دویم دا چې له ټولنیز نظم څخه بغاوت وکړي او د بل په ځان، مال او ابرو پسې وي. په ځمکه کې د فساد کولو تعبیر په ایت کې د همدې مفهوم لپاره استعمال شوی دی. له دې پرته هر قتل یو ناحقه قتل دی، که یې هر څوک کوي د اسلام او اسلامي شریعت له مخې هم د الله مجرم دی، هم د مقتول د وارثانو او هم د دولت او ټولنې.

الله د خپل ځان په اړه ویلي چې د دې جرمونو کوونکي د ده په حضور کې د هیڅ رعایت وړ نه دي، د هغوی ایمان او عمل ټول له منځه ځي او د تل لپاره به په جهنم کې اچول کېږي. په سورت نساء کې دي:

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ

"د هغه چا سزا جهنم ده چې یو مسلمان په قصدي ډول ووژني،



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (۴ : ۹۳)

تل به پکې وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او د هغه لپاره يې يو ستر عذاب تيار کړی دی."

دويمه ډله د مقتول وارثين دي. د قرآن وينا ده چې الله تعالی هغوی ته د قاتل پر ژوند بشپړ اختيار ورکړی دی، ځکه نو د دنيا هيڅ محکمه او حکومت د هغوی له خوښې پرته له هغه سره کوم رعايت نه شي کولای. محکمه او حکومت دواړه مسئوليت لري چې که د مقتول وارثان پر قصاص ټينګار وکړي نو مرسته به ورسره کوي او هغوی چې هر څه غواړي بايد په پوره قوت سره يې په ټکي په ټکي عملي کړي. په سورت بني اسرائيل کې دي:

وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلاَّ بِالحَقِّ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلاَ يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا (۱۷ : ۳۳)

"خدای چې کوم نفس ته خوندیتوب ورکړی، ناحقه يې مه وژنئ او (په ياد ولرئ چې) څوک چې په مظلوم ډول قتل شي د هغه ولي ته موږ اختيار ورکړی دی. نو هغه دې په قتل کې له دې وجې تېری نه کوي چې مرسته يې شوې ده."

تر دې وروسته د مسلمانانو ټولنه ده چې استازيتوب يې حکومت کوي. د دې په اړه د خدای لارښوونه داده چې د مقتول قصاص پرې فرض دی. له دې وجې دوی پابند دي چې که د دوی د واک په سيمه کې څوک قتل وکړي نو د قاتل لټون وکړي، ويې نيسي او له قانون سره سم يې قصاص کړي. د دې لپاره ورته لارښوونه شوې ده چې په قصاص کې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

مساوات په نظر کي ونيسي او د يو چا تولنيزه رتبه بايد هيڅکله په دې لار کي د کوم رعايت لامل نه شي. لوړ او کښته، امير او غريب، شريف او خوار، غلام او بادار ټول په دې چاره کي سره مساوي دي، د هغوی تر منځ هيڅ توپير نه شي کېدلای. الهي وينا ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالأُنْثَى بِالأُنْثَى... وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ*

(البقرة ۲ : ۱۷۸ - ۷۹)

"مومنانو! (په تاسو کي) چي کوم خلک قتل کړل شي د هغوی قصاص پر تاسو فرض شوی دی، داسي چي که قاتل ازاد وي نو په بدل کي يې هماغه ازاد، که غلام وي نو په بدل کي يې غلام، که ښځه وي په بدل کي يې ښځه... او اې د عقل خاوندانو ستاسو لپاره قصاص کي ژوند دی، تر څو د الهي حدودو اطاعت وکړئ."

دا فرضيت يوازي هغه مهال ختمېږي چي د مقتول وارثين د نفس په بدل کي د نفس غوښتنه ونه کړي او له مجرم سره نرمي کولو ته تيار شي. تر دې وروسته د محکمې او حکومت اختيار دی که غواړي پر قصاص دي ټينګار وکړي او د مقتول د وارثانو له خوا ورکړل شوي رعايت څخه دي انکار وکړي او که يې غوښتل نو د جرم نوعيت او د مجرم حالاتو ته په پام دي رعايت تاييد کړي او قاتل ته دي امر وکړي چي د مقتول وارثانو ته دي له قانون سره سم ديت ورکړي. د سورت بقرې (۲) ۷۸ ايت نمبر ايت چي وړاندي نقل شوی دی، وړاندي يې پکي ويل شوي دي:

فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَلِكَ

"نو بيا چي له چا سره د هغه د ورور له خوا رعايت وشي نو له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تَخۡفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٌ

قانون سره سم به منل کېږي او د هر شي وینه چي بهول شوې وي، په ښه توګه به ادا کېږي. دا ستاسو د پروردګار له خوا یو ډول رعایت او پر تاسو پېرزوینه ده."

که غور وشي بالکل په هماغو اسلوبو کي د رخصت بیان دی لکه د روژې په ایاتونو کي چي راغلي دي چي پر مومنانو روژې فرض شوې دي، خو که څوک مریض یا مسافر وي نو روژې پرېښوولای شي. په دې صورت کي پاتي شوې روژې به وروسته پوره کوي. مثلا وګورئ، هلته ویل شوي: "مومنانو! پر تاسو روژې فرض شوې دي." دلته ویل شوي دي چي "مومنانو پر تاسو قصاص فرض شوی دی." هلته ویل شوي چي "بیا څوک مریض یا مسافر وي." دلته ویل شوي چي "د چا لپاره د هغه د ورور له خوا رعایت وشي." هلته ویل شوي چي "په نورو ورځو کي دا شمېر پوره کړئ." دلته ویل شوي چي "له قانون سره سم دي د دې رعایت پیروي وشي." د قرآن زده کوونکي ایاتونه یو د بل په مقابل کي سره ایښوولای شي چي د دواړو جملو جوړښت څومره سره ورته دی او په دواړو کي له رعایت څخه د ګټې اخیستلو اجازه ورکړل شوې ده، لازمي شوې نه ده. څرنګه چي هلته مسلمانان پابند نه دي چي د سفر یا مرض په حالت کي روژه خامخا پرېږدي، همدارنګه دلته هم حکومت او ټولنه چي قصاص پرې فرض شوی دی هیڅکله د دې پابند نه دي چي که د مقتول وارثانو د رعایت کولو پریکړه کړې وي نو خامخا یې ومني. د هغوی له خوا تر رعایت وروسته د قصاص فرضیت ختم شوی دی، جواز نه. له دې وجې حکومت او ټولنه بشپړ حق لري چي د جرم نوعیت او د مجرم حالاتو ته په پام کولای شي چي پر قصاص ټینګار وکړي او ورکړل شوی رعایت ونه مني.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د قرآن ادعا همدا ده چي همدې ته په پام يې په البيان کي داسي ژباړه شوې ده:

" مومنانو (په تاسو کي چي) څوک قتل کړل شي د هغوی قصاص پر تاسو فرض شوی دی. داسي که قاتل ازاد وي نو په بدل کي به يې هماغه ازاد، که غلام وي په بدل کي به يې هماغه غلام، که ښځه وي نو په بدل کي به يې هماغه ښځه. بيا چي د چا لپاره د هغه د ورور له خوا رعايت وشي (نو تاسو يې منلای شئ، خو که دا ومنل شي) نو له قانون سره سم به عملي کېږي او د هر څه وينه چي توی شوې وي په ښه توګه به ادا کېږي. دا ستاسو د پروردګار له خوا يو ډول رعايت دی او پر تاسو د هغه پېرزوينه ده. بيا چي تر دې وروسته څوک تېری وکړي نو د هغه لپاره (د قيامت په ورځ) دردناکه سزا ده. او ستاسو لپاره په قصاص کي ژوند دی عقلمندو، تر څو د الهي حدودو پابند پاتي شئ."

(البقرة ۲ : ۱۷۸ - ۷۹)

له دې څخه ښکاري چي قرآن پر دې بالکل ټينګار کوي چي د مقتول له وارثانو پرته له قاتل سره هيڅ ډول رعايت نه شي کېدلای، خو پر دې خبره يې هيڅ اصرار نه دی کړی چي که هغوی نرمي کولو ته تيار شي نو د هغوی پر ښوول ضروري دي. دا ډېر حکيمانه توپير دی. که پر دويمه خبره ټينګار وشي نو د ټولنې حق خوړل کېږي او هماغه حالت را منځ ته کېږي لکه د ريمنډ ډيوس او شارخ جتويي په قضيو کي چي موږ ورسره مخ يو او که پر لومړۍ خبره ټينګار ونه شي نو د وارثانو حق خوړل کېږي او هغه حکمت له منځه ځي چي په دې ټول قانون کي ورته پام شوی دی چي د مقتول د وارثانو د انتقام جذبه سړه کړل شي او د هغوی زخمونه دي داسي مرهم کړل شي چي که کومه نرمي وښيي نو د قاتل او د هغه پر کورنۍ به يې دا يو احسان وي چي د ښو پايلو تمه ترې کېدای شي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

زموږ فقهاوو همدلته تیروتنه کړې چې دې توپیر ته یې پام نه دی کړی او د قتل په څېر د روند جرم یې له ټولنې سره په بې تړاوه کولو د قاتل او مقتول د ولیانو تر منځ یوه قضیه ګرزولې. د قصاص او دیت قانون د فقهاوو پر همدې نظر ولاړ دی. په دې قانون کي باید ژر تر ژره له سره ترمیم وشي چي له الهي کتاب سره موافق شي. موږ د خپل ایمان او عقیدې له مخې د قرآن او سنتو پابند یو، خو هیڅکله یې د یوه خاص تعبیر د منلو پابند نه یو. له علماوو مو غوښتنه داده چي دې ټکو ته پام وکړي، دا د خدای د دین معامله ده او له هر ډول تعصباتو پرته باید ورته وکتل شي.

(۲۰۱۳)

## د شاهدۍ قانون

د جرم د اثبات لپاره قرآن کریم د ځانګړې طریقې پیروي لازمه نه ده ګرزولې ځکه نو دا بیخي باوري ده چي په اسلامي قانون کي جرم په هغو ټولو طریقو ثابتېږي چي د اخلاقیاتو په قانون کي په منل شوي ډول د جرم ثابتولو د طریقو په توګه منل شوې وي او په اړه یې عقل تقاضا کوي چي باید په دې سره ثابت شي ځکه نو د حالاتو، قراینو، طبي څېړنو، عدلي طب، ګوتو د نښو، شاهدانو په شاهدي، مجرم په اقرار، قسم، قسامه او دا ډول نورو شواهدو سره چي په څه ډول په نوره نړۍ کي جرم ثابتېږي د اسلامي شریعت جرایم هم بالکل په همدې طریقه ثابت بلل کېږي. رسول الله همدا حقیقت په خپله دې وینا البینة علی المدعی و الیمین علی المدعی علیه * کي د البینة په لفظ بیان کړی. ابن قیم لیکي:

* ترمذي، شمیره: ۱۳۴۱ ... دلیل وړاندي کول د دعوه کوونکي مسئولیت دی او قسم به هغه څوک کوي چي له دعوې منکر دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

البينة فى كلام الله و رسوله و كلام الصحابة اسم لكل ما يبين الحق فهى اعم من البينة فى اصطلاح الفقهاء حيث خصوها بالشاهدين او الشاهد و اليمين.
(اعلام الموقعين ۱/ ۱۳۱)

بينة د الله، رسول او صحابه وو په كلام كې د هر هغه شي نوم دى چې حق واضح كړي، د فقهاوو تر اصطلاح يې مفهوم ډېر پراخ دى ځكه دوى يوازې تر دوو شاهدانو او يا يوه شاهد او قسم پورې ځانګړى كړى.

له دې څخه يوازې دوه صورتونه مستثنا دي، لومړى دا چې يو ثوک پر داسې شريفه او پاک لمنې ښځې يا نارينه د زنا تور ولګوي چې ټولنيز حيثيت يې بيخي منل شوى وي. په دې صورت كې قرآن تېنګار كوي چې په هر حال به څلور عيني شاهدان راولي، له دې څخه د كمو شاهدانو په صورت كې به يې دعوه ونه منل شي، په دې معامله كې حالات، قراين او طبي معاينه ټول د منلو نه دي. كه يو ثوک د ښه دريځ خاوند نه وي نو د جرم ثابتولو لپاره دا ټولې طريقې غوره كېدلاى شي خو كه د يوه عزتمن او پاک لمنې شخص په تو ګه منل شوى وي نو اسلام همدا غواړي چې كه له ده څخه كومه تېروتنه وشي نو بايد پرده پرې واچول شي او په ټولنه كې رسوا نه شي ځكه نو په دې حالت كې څلور عيني شاهدان غواړي او كه تور لګوونكى داسې ونه كړي نو حتما د قذف مجرم بلل كېږي. قرآن وايي:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ * إِلَّا

او كوم كسان چې پر پاک لمنو ښځو تور لګوي او څلور شاهدان را نه ولي نو هغه اتيا درې ووهئ او بيا يې هيڅكله شاهدي مه منئ، همدا خلک فاسقان دي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ*
(النور ۲۴: ۴، ۵)

مګر څوک چې تر دې وروسته توبه وباسي او ځان اصلاح کړي نو الله غفور او رحیم دی.

دویم دا چې که په کومه ټولنه کې بد لمنې ښځې وي نو له هغو څخه د ځان خلاصولو لپاره د قرآني حکم له مخې همدا کافي ده چې څلور مسلمان شاهدان را وبلل شي او هغوی د دې خبرې شاهدي ورکړي چې فلانۍ واقعا په زنا روږده حرفوي زانيه ده. که هغوی په محکمه کې له پوره مسئوليت سره دا شاهدي ورکړي چې موږ يې د حرفوي زانيې په توګه پېژنو او محکمه تر کره کتنې وروسته د هغوی شاهدي مني نو دې ښځو ته

سزا ورکولای شي. الهي وينا ده:

وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا
(النساء ۴: ۱۵)

او ستاسو په ښځو کې* چې کومې بد کارۍ کوي د هغوی په اړه له خپلو ځانونو څلور شاهدان را وغواړئ، که هغوی شاهدي ورکړي نو په کورونو کې يې تر هغه وخته بندې کړئ چې هغوی مړې شي او يا الله ورته کومه لار را وباسي.

له دې دوو استثناوو پرته اسلامي شريعت د جرم ثابتولو لپاره هيڅکله محکمه په ځانګړې طريقه نه مکلفوي، له همدې امله د

*يعني کومې مسلمانې ښځې چې په بد کارۍ روږدې وي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

حدودو جرمونه وي او که له دې پرته د کوم جرم شاهدي زموږ په اند دا د قاضي په پريکړه پوري اړه لري چي د چا شاهدي او مني او د چا نه مني؟ په دې کي د ښځې او نارينه تخصيص نه شته، که ښځه په خپل بيان کي له څه مشکل پرته کره شاهدي ورکوي نو صرف له دې امله به نه رديږي چي بله ښځه يا نارينه ورسره نه شته، که د نارينه په شاهدي کي کومه پيچلتيا او ابهام وي نو يوازي به له دې امله نه منل کيږي چي نارينه دی، که محکمه د شاهدانو د وينا او نورو حالاتو او اسنادو پر بنسټ داډه تر لاسه کوي چي مدعا ثابته ده نو حتما به يې ثابته بولي او که مطمينه نه وي نو له شک پرته دا حق لري چي د لسو نارينه وو د شاهدۍ له منلو هم انکار وکړي. د نا مسلمانو د شاهدۍ هم دا حالت دی.

دلته بايد ووايو چي په دې اړه زموږ د فقهاوو نظر بيل دی، ابن رشد په خپل مشهور کتاب بداية المجتهد کي ليکي:

واتفقوا على انه تثبت الاموال بشاهد عدل ذكر و امرأتين لقوله تعالى: فرجل وامرأتن ممن ترضون من الشهداء. واختلفوا فى قبولهما فى الحدود. فالذى عليه الجمهور انه لا تقبل شهادة النساء فى الحدود، لا مع رجل ولا مفردات، و قال اهل الظاهر: تقبل اذا كان معهن رجل و كان النساء اكثر من واحدة فى كل شىء على

ټول فقهاء پر دې متفق دي چي په مالي چارو کي دعوه د يوه عادل نارينه او دوو ښځو په شاهدي ثابتيږي، دليل يې د الله دا وينا ده: (که دوه نارينه نه وي نو ستاسو له خوښو کسانو څخه يو نر دوې ښځې) خو د حدودو چاره اختلافي ده، د جمهورو مذهب دادی چي د ښځو شاهدي په هيڅ حالت کي هم منل کيدای نه شي. له نارينه وو سره يو ځای شاهدي ورکړي او که يوازي، ظاهريان د دې بر خلاف وايي چي که تر يوې

www.javedahmadghamidi.com
www.almawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ظاهر الآية. و قال ابو حنيفة: تقبل فی الاموال و فيما عدا الحدود من احکام الابدان مثل الطلاق و الرجعة و النکاح و العتق و لا تقبل عند مالک فی حکم من احکام البدن. و اختلف اصحاب مالک فی قبولهن فی حقوق الابدان المتعلقة بالمال، مثل الوکالات والوصية التی لا تتعلق الا بالمال فقط. فقال مالک و ابن القاسم و ابن وهب: يقبل فيه شاهد و امرأتان و قال اشهب و ابن الماجشون: لا يقبل فيه الا رجلان. و اما شهادة النساء مفردات، اعنی النساء دون الرجال، فهی مقبولة عند الجمهور فی حقوق الابدان التی لا يطلع عليها الرجال غالبا مثل الولادة و الاستهلال و عيوب النساء.

(۳۴۸/۲)

زياتې او کوم نارينه ورسره وي نو د ايت د ظاهري مفهوم پر بنسټ به يې شاهدي په ټولو معاملاتو کي منل کېږي. د امام ابو حنيفه په نزد يې په دې صورت کي شاهدي يوازي په مالي چارو او له حدودو پرته په نورو بدني احکامو لکه طلاق، رجوع، نکاح او د مرييانو په ازادولو کي منل کېږي. امام مالک يې په هيڅ ډول بدني احکامو کي نه مني، له مال سره په تړلو بدني حقوقو لکه وکالت او هغه وصيت په هکله چي يوازي له مال سره تړلې وي مالک او د هغه ملاتړي اختلاف لري. اشهب او ابن ماجشون په دې معاملاتو کي يوازي د دوو نارينه وو خو مالک، ابن قاسم او ابن وهب د يوه نارينه او دوو ښځو شاهدي مني، پاتي شوه صرف د ښځو شاهدي نو د جمهورو په نزد صرف په هغو بدني حقوقو کي منل کېږي چي په عمومي ډول نارينه پرې نه شي خبرېدای لکه د ښځو عيوب، زيږون او د ولادت پر مهال د ماشوم ژړا.

www.javedahmadghamidi.com
www.almawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فقهاوو چې خپل دا دريځ د سورت البقرې له کوم ايت څخه اخيستی هغه دا دی:

وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء أَن تَضِلَّ إْحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى

(البقرة ۲: ۲۸۲)

او تاسو (د پور پر اسنادو) خپل دوه نارينه شاهدان کړئ او که دوه نارينه نه وي نو ستاسي د خوښې له کسانو يو نارينه او دوې ښځې شاهدانې کړئ څکه که يوه تېره وزي نو دويمه به يې ورياده کړي.

زما په اند له دې ايت څخه د فقهاوو استدلال له دوو وجو د نقد وړ دی، يو له دې امله چې دا ايت د پېښو له شاهدۍ سره هيڅ تړاو نه لري بلکي د اسنادو له شاهدۍ سره تړلی دی. هر عاقل پوهېږي چې د اسنادو د شاهدۍ لپاره شاهدان موږ غوره کوو او د پېښو په شاهدي کي د شاهد موجوديت يوه تصادفي چاره ده، که موږ کوم سند ليکلای او يا په کومه معامله کي مو اقرار کړی وي نو دا زموږ اختيار دی چې څوک وغواړو شاهد يې کړو مګر د زنا، غلا، وژنې، ډاکې او دا ډول نورو جرايمو پر مهال چې هر څوک پر موکه موجود وي هغه به شاهدي ورکوي. د شاهدۍ د دې دوو شکلونو تر منځ توپير دومره واضح دی چې په هغو کي يو د بل لپاره د قياس بنسټ نه شي کېدای. دويمه دا چې د ايت په اسلوبو او سياق و سباق کي د دې هيڅ ګنجايش نه شته چې له قانون او محکمې سره تړاو ورکړل شي. په دې کي محکمې ته په خطاب کولو دا خبره نه ده شوې چې که دا ډول کومه دعوه درته وړاندې شي نو له مدعي څخه د دې نصاب په اندازه شاهدان وغواړئ، د دې مخاطبين په قرض د راکړې – ورکړې کوونکي دي او هغوی ته لارښوونه شوې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي که دوی تر ځانګړې مودې دا ډول کومه معامله کوي نو اسناد دي وليکي او له شخړو او تاوان څخه د ځان ساتنې لپاره دي هغه شاهدان غوره کړي چي د ښو اخلاقو درلودونکي، باوري، معتبر او ايماندار هم وي او د خپلو حالاتو و بوختياوو له مخې په ښه ډول دا دنده پوره کولای هم شي.

همدا وجه ده چي په دې کي اصلاً د نارينه وو د شاهد ګرزولو او که دوه نارينه نه وي نو له يوه نارينه سره د دوو ښځو د شاهدانو ګرزولو لارښوونه شوې چي که په کور کي ميشته دا ميرمن د محکمې په فضا کي له کوم مشکل سره مخ شي نو له پيچلتيا او ګډ –وډی څخه د شاهدۍ د ژغورنې لپاره به يوه بله ور سره مرسته وکړي. څرګنده ده چي د دې دا معنا نه ده او نه کېدای شي چي په محکمه کي به دعوه هغه مهال ثابتېږي چي لږ تر لږه دوه نارينه يا يو نارينه او دوې ښځې يې په اړه د شاهدۍ لپاره راشي. دا يوه ټولنيزه لارښوونه ده* چي که يې خلک پلې کړي نو له شخړو به يې وساتي. دوی بايد د خپل ځان د ښيګڼې لپاره ورته پام وکړي مګر دا د دعوو د پريکړو لپاره د شاهدۍ کوم نصاب نه دی چي محکمه يې په پلې کولو مکلفه وي. د دا ډول ټولو لارښوونو په اړه په خپله د قرآن وينا ده:

ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰ أَلَّا تَرْتَابُوا

(البقرة ۲ : ۲۸۲)

دا لارښوونې د الله په نزد ډېري پر انصاف بنا، د شاهدۍ ښه برابروونکې او دې ته ډېر نژدې دي چي تاسو شک ونه کړئ.

---

* که وګورو د قرآن کريم د نورو احکامو په څېر دا لارښوونه هم داسي له فطرت سره برابره ده چي په دنيا کي هره ورځ په لکونو اسناد ليکل کېږي، خو ښځې پکي ممکن په زرو کي يوه هم شاهده نه ټاکل کېږي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

په دې اړه علامه ابن قيم په خپل کتاب اعلام الموقعين کي ليکي:

فهذا في التحمل و الوثيقة التى يحفظ بها صاحب المال حقه لا في طريق الحكم و ما يحكم به الحاكم فان هذا شيء و هذا شيء. (١/ ١٣٢)

دا د شاهدی د منلو او هغه لاسوند په اړه دی چي په وسيله يې د مال څښتن خپل حق ساتي، د محکمې پريکړې له دې سره هيڅ تړاو نه لري ځکه دا له يوه بله بيل شيان دي.

دا مهال ځينو کسانو د فقهاوو د دې دريځ په هکله د سورت النور له څلورم او سورت النساء له پنځلسم ايت څخه په ترتيب سره په اربعة شهداء او اربعة منکم باندی استدلال کړی او داسي بيان يې وړاندي کړی چي اربعة مونث دی او د عربي قانون له مخې يې بايد معدود مذکر وي ځکه نو له اربعة شهداء څخه مراد حتما څلور نارينه دي، په دې کي ښځې نه شي شامليدای. دا ظاهرا د عربي قواعدو پر بنسټ يو دليل دی مګر حقيقت دادی چي ممکن د علم او استدلال په نړۍ کي له عربيت څخه دومره نا اشنا شی به بل هيچا نه وي ليدلی. په دې ژبه خبر بل هر سړی پوهيږي چي دا قاعده صرف يوازي دا نه ده چي له درو څخه ترلسو که معدود مذکر وي نو عدد به يې مونث وي بلکي دا هم ده چي که معدود يو داسي اسم وي چي د مذکر او مونث دواړو لپاره استعماليږي نو عدد به يې حتما مونث وي. په سورت الأنعام کي د ازواج عدد د همدې اصولو له مخې ثمانية راغلی دی:

ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِّنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ الأُنْثَيَيْنِ (الأنعام ٦:

اته جوړې دوې له پسونو او دوې له اوزو، ووايه! ايا نرينې حرام کړي او که يې ښځې؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

(۱۴۳)

همدا راز په سورت المجادله کې دي:

مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلاَثَةٍ إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ وَلاَ خَمْسَةٍ إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ (المجادلة ۵۸ : ۷)

هيڅکله داسې نه شي کېدای چې درې کسان پټې خبرې وکړي او څلورم يې دی نه وي، يا پنځه پټې خبرې کوي او شپږم يې دی نه وي.

د اربعة منکم په څېر دلته د ثلاثة او خمسة محدود د قرينې له امله حذف شوی يعني ثلاثة نفر، څرنګه چې نفر د مونث او مذکر دواړو لپاره کارېدونکی اسم دی ځکه نو په دې ايت کې عدد مونث راوړل شوی دی. د دې اسلوب بېلګې په لاندينيو احاديثو کې هم شته:

و طعام الاثنين يكفى الاربعة.*

اذا كان ثلاثة فلا يتناجى اثنان.**

ما من مسلم يشهد له ثلاثة الا وجبت له الجنة.***

رُفِعَ اَلْقَلَمُ عن ثلاثة عن النائم حتى يستيقظ.****

*دارمي، شميره: ۲۰۵۰ (د دوو خوراک د څلورو لپاره کفايت کوي.)

**مسلم، شميره: ۵۶۹۴ (که درې کسان وي نو دوه دې يې پټې خبرې نه کوي.)

***ترمذي، شميره: ۱۰۵۹ (د چا په هکله چې درې مسلمانان شاهدي ورکړي د هغه لپاره جنت واجبېږي.)

****ابوداود، شميره: ۴۳۹۸ (له درو کسانو قلم پورته شوی له بيده څخه تر هغه وخته چې را ويښېږي.)

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

په دې احاديثو کې هم اربعة او ثلاثة عددونه مونث دي مګر د ژبې او بيان په اسلوبو يو خبر سړی ويلای شي چې له دې څخه مراد صرف نارينه دي او يا دا چې ښځې پکې څه ډول شاملېدای شي؟.

همدا راز دې خلګو يو دليل دا وړاندې کړی چې د سورت البقرې په ۲۸۲ * کې د شاهدۍ پر مهال د ښځو د بې لارې کېدو يا دونه ده او په دې سره يې په شاهدۍ کې د شک احتمال پيدا کېږي، ځکه نو د رسول الله د دې وينا له امله چې ادرءوا الحدود بالشبهات ** (که شک وي حدود مه جاري کوئ) د دوی د شاهدۍ له امله تعزيري سزا ورکول کېدای شي مګر د حد سزا په هيڅ حالت کې نه شي ورکول کېدای. که غور وکړو دا دليل هم بيخي باطل دی، اول له دې امله چې که ښځې د شاهدۍ پر مهال بې لارې شي او محکمه احساس کړي چې په دې سره يې شاهدي اغيزمنه شوې نو په کومه ځانګړې قضيه کې چې دا حالت پيښ شوی هلته يې شاهدي ردولای شي مګر له دې څخه په څه ډول دا نتيجه را ووتله چې د قانون په کتاب کې دې د تل لپاره دا ماده وليکل شي چې د ښځو شاهدي نو ره نه شي منل کېدای؟ هغوی ويريدای شي او موږ هم دا احتمال منو خو د دې په مقابل کې ايا دا احتمال قوي نه دی چې دوی به له ويرې پرته په پوره اعتماد سره محکمې ته خپله شاهدي وړاندې کړي.

قرآن ويلي چې هسې نه دوی وو پرېږي، دا سې يې نه دي ويلي چې هغوی به په هر حالت کې او حتما ويرېږي، احتمال په هر حالت کې يو احتمال دی، د کوم منطق له مخې يې په يقين او باور اړوو چې بيا يې پر

* دا ايت په همدې بحث کې وړاندې نقل شوی دی.

** التلخيص الحبير د ابن حجر ۴ / ۵۶ همدا مضمون د ترمذي په ۱۱۴۲۴ او د ابن ماجه په ۲۵۴۵ شميره کې د ادرءوا الحدود عن المسلمين ما استطعتم او ادفعوا الحدود ما وجدتم له مدفعا په الفاظو هم بيان شوی دی.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بنسټ عمومي قانون جوړ وو؟. دويم له دې امله چې د ادرءوا الحدود بالشبهات معنا نه داده او نه کېدای شي چې که شک وي نو صرف د حدودو مخه دې ونيول شي بلکي داده او همدا کېدای شي چې که شک وي نو د سزا مخه دې ونيول شي.

دلته د حد لفظ د فقهي اصطلاح له مخې نه بلکي د مطلقې سزا لپاره کارول شوی، د رسول الله دا وينا د اخلاقي قانون پر هغو منل شويو اصولو ولاړه ده چې کله شک وي نو جرم نه ثابتېږي ځکه نو مجرم ته کومه سزا هم نه شي ورکول کېدای له همدې امله که دا بناغلي وايي چې د ښځې په شاهدي تعزير نافذېدای شي نو د دې معنا داده چې جرم پرې ثابتېږي، خو که جرم ثابتېږي نو حد ولې نه ثابتېږي؟ او که د دوی نظر دا وي چې د ښځې په شاهدي کې حتما شک پاتي وي نو جرم نه ثابتېږي، نو بيا به د کومې ګناه تعزير ورکوي؟.

د جرم په هکله دا يېخي ثابته ده چې هيڅکله په لس، شل، نوي او نهه نوي سلنه نه ثابتېږي، هغه تل يا په سل فيصده ثابتېږي او يا يېخي نه ثابتېږي ځکه نو دا يېخي بې معنا خبره ده چې د جرم د ثبوت او نه ثبوت تر منځ يو حالت ومنل شي او بيا وويلو چې که جرم دومره ثابت وي نو حد به پلي کېږي او که دومره ثابت وي نو تعزير به ورکول کېږي.

د جرم ډول او د مجرم حالاتو ته په پام يقينا په سزا کي توپير راتلای شي مګر ايا د ثبوت ډول هم د دې توپير بنسټ کېدای شي؟. روغ عقل يې په پوره سختۍ ردوي او انساني فطرت يې په بشپړ ځواک له منلو انکار کوي.

۱۹۸۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# حدود او تعزیرات ... څو مهم بحثونه

په اسلامي شریعت کې د جرایمو د سزا په اړه چې موږ په خپل کتاب میزان کې کوم نظر بیان کړی له هغه څخه ښکاري چې دا یوازې پنځه جرمونه* دي چې په شریعت کې یې سزا ټاکل شوې ده، له دې پرته د نورو ټولو جرایمو معامله د اسلامي دولت د چارواکو پریکړې ته سپارل شوې، د حدودو او تعزیراتو په اړه شریعت همدومره دی چې موږ یې هلته بیان کړی وو. له دې پرته هیڅ شی شریعت نه دی، مګر په دې اړه د دودیزو افکارو له مخې دا څلور پوښتنې کېدای شي:

یوه دا چې ایا په شریعت کې د شراب څښلو اتیا درې سزا نه ده ټاکل شوې؟.

دویمه دا چې ایا په شریعت کې د ارتداد لپاره د قتل سزا نه ده ټاکل شوې؟.

دریمه دا چې ایا له شریعت پرته په نورو جرایمو کې د واک خاوندان کوم مجرم ته د مرګ سزا هم ورکولای شي؟.

څلورمه دا چې ایا په دې نورو جرایمو کې کوم چا ته د بند سزا ورکول کېدای شي؟.

لاندې به موږ د همدې پوښتنو په اړه خپل نظر په تفصیل سره بیان کړو.

## شراب څښل

د لومړۍ پوښتنې ځواب دادی چې د شراب څښلو دا سزا عمر فاروق رضي الله عنه د خپل خلافت پر مهال د یو مسلمان واکمن په توګه د هغوی د

* یعني زنا، قذف، قتل و ټپ، جګړه او غلا.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

نظر د خاوندانو په مشوره ټاکلې ده، د دې سزا تاریخ دادی چې د رسول الله په زمانه کې به څوک په دې جرم ونیول شو هغه به عموما په څپېړو، لغتو، بوټونو، لښتو، درو او نورو وهل کېدی. ابو بکر صدیق رضی الله عنه د دې لپاره رسما څلویښت درې سزا وټاکله او کله چې عمر رضی الله عنه د خپل خلافت پر مهال

ولیدل خلک له دې جرم څخه لاس نه اخلي نو په اتیا درو یې بدله کړه. ابن رشد لیکي:

فعمدة الجمهور تشاور عمر الصحابة لما كثر في زمانه شرب الخمر، و اشارة علي عليه بان يجعل حد ثمانين قياسا على حد الفرية، فانه كما قيل عنه رضي الله عنه اذا شرب سكر و اذا سكر هذى و اذا هذى افترى.

(بداية المجتهد ۲ / ۳۳۲)

په دې اړه د جمهورو مذهب له صحابه کرامو سره د عمر رضی الله عنه پر مشوره بنا دی، دا مشوره هغه وخت وشوه چې کله د ده په زمانه کې خلکو ډېر شراب څښل او علي رضی الله عنه مشوره ورکړه چې د قذف پر حد د قیاس له مخې دې د دې سزا هم اتیا درې شي. ویل کېږي چې د دې په استدلال کې یې وویل: کله چې شراب وڅښي نو بې هوښه کېږي، کله چې بې هوښه شي ځټیات وایي او کله چې ځټیات وایي نو پر نورو تهمت لګوي.

له دې څخه څرګنده شوه چې دا هیڅکله شریعت نه شي کېدای، پر دې ځمکه تر قیامته یوازې محمد رسول الله دا حق لري چې هغه کوم شی شریعت وګڼي او کله چې د هغه له خوا کوم شی شریعت وبلل شي نو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بیا پکې صدیق او فاروق هم هیڅ ډول بدلون نه شي راوستلای، که دا شریعت وای نو نه به ابو بکر صدیق په څلوېښت درې بدلې کړې وې او نه عمر فاروق څلوېښت په اتیا. په دې صورت کې دې یوه هم دا حق نه درلود، له همدې امله دا بېخي باوري ده چې که رسول الله د شراب څښلو مجرمینو ته سزا ورکړې نو د شارع په توګه یې نه ده ورکړې بلکې د مسلمانو اکمن په توګه یې ورکړې او ترده وروسته خلفاوو هم د دوی لپاره د څلوېښتو او اتیا درو سزا د همدې حیثیت له مخې ټاکلې ده. موږ په پوره ډاډ سره وایو چې دا کوم حد نه بلکې صرف تعزیر دی چې که د مسلمانانو اجتماعي اداره وغواړي ساتلای یې شي او که د خپلو حالاتو له مخې وغواړي پکې بدلون او تغیر راوستلای شي.

## ارتداد

د دویمې پوښتنې ځواب دادی چې د ارتداد د سزا دا مسئله صرف د یوه حدیث په مفهوم د نه پوهېدو له امله را پیدا شوې، هغه حدیث بخاري د ابن عباس په روایت داسې نقل کړی دی:

من بدّل دینه فاقتلوه. ځوک چې خپل دین بدل کړي ویې وژنئ.

(شمیره: ۳۰۱۷)

دا (روایت) زموږ فقهاء په عمومي توګه یو عام حکم ګڼي او د دوی په نزد پر هغو ټولو کسانو پلي کېږي چې د رسول الله له وخته تر قیامته د دې ځمکې پر مخ په کوم ځای کې اسلام پرېږدي او کفر غوره کوي، د دوی په وینا هر هغه مسلمان چې په خپله خوښه کفر غوره کړي د دې حدیث له مخې به حتما وژل کېږي. په دې اړه د دوی تر منځ صرف دومره اختلاف دی چې تر قتل وړاندې به د توبې وخت ورکول کېږي او که نه او که ورکول کېږي نو موده یې باید څومره وي؟. البته د احنافو فقهاوو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ښځه ترې مستثنا کړې ده، له دوی پرته نور ټول فقهاء پر دې متفق دي چې په اسلامي شریعت کې د هر مرتد سزا ښځه وي او که نر قتل دی.

مګر د فقهاوو دا نظر د نقد وړ دی، بې شکه د رسول الله دا حکم ثبوت لري خو زموږ په نزد دا کوم عام حکم نه وو بلکې یوازې تر هغو کسانو ځانګړی وو چې ده پرې مستقیما خپل حجت تام کړ او د هغوی لپاره په قرآن کریم کې د مشرکینو اصطلاح کارول شوې ده.

لاندې د خپل نظر تفصیل بیانوو:

پر دې ځمکه هر سړی په دې حقیقت خبر دی چې په دنیا کې انسان د اوسېدو کوم فرصت تر لاسه کړی هغه د کوم حق پر بنسټ نه بلکې صرف د ازموینې لپاره دی، د نړۍ رب چې تر څه وخته غواړي چا ته موکه ورکوي او کله چې د ده له علم سره سم د ازموینې دا موده پوره کېږي نو د مرګ فرشته له اسمانه راځي او هغه له دې ځایه د ده حضور ته وړاندې کوي. الله له خپل علم او حکمت سره سم دا موده د عامو انسانانو لپاره د خپلې خوښې په اندازه ټاکي، مګر هغه کسان چې رسول پکې را پاڅېږي او د ده په وسیله مستقیم دعوت ور رسېږي څرنګه چې پر هغوی تر وروستي بریده حجت بشپړېږي له همدې امله که هغوی د حجت تر اتمام وروسته هم ایمان را نه وړي نو د دوی په اړه د الله دا قانون په قرآن کریم کې په پوره صراحت سره بیان شوی چې نور پر ځمکه د ژوند حق له لاسه ورکوي، هغوی دې ځمکې ته د ازموینې لپاره را استول شوي وو او څرنګه چې د رسول تر اتمام حجت وروسته دا ازموینه تر وروستي بریده پوره کېږي ځکه نو په عمومي ډول د الله قانون همدا دی چې تر دې وروسته د ژوند کولو دا حق ترې اخیستل کېږي او د مرګ سزا پرې نافذېږي.

له دې قانون سره سم د رسول پر مستقیمو مخاطبینو د مرګ سزا په داسې توګه نافذېږي چې که رسول او د هغه ملګري د حجت تر بشپړولو

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

وروسته په کوم دار الهجرت کې سياسي اقتدار تر لاسه نه کړای شي نو د الله عذاب د وريځو او توپان په شکل څرګندېږي او د رسول قوم د مرګ په خوب ويدو وي. له قرآن کريم څخه ښکاري چې عاديان او ثموديان د نوح، لوط او نورو قومونه په همدې ډول له منځه يو وړل شول خو که د دې بر خلاف رسول په کومه سيمه کې سياسي واک تر لاسه کوی نو د قوم تر مغلوبيت وروسته يې د هر فرد لپاره د مرګ سزا ټاکل کېږي چې رسول او د هغه ملګري يې پرې نافذوي. څرنګه چې له رسول الله سره د دويم شکل عذاب راغی له همدې امله الله امر وکړ چې که په مشرکينو کي ثوک د نهم هجري د حج اکبر تر ورځې بيا هم ايمان را نه وړي د هغوی لپاره به په همدې تاريخ د عرفات په ميدان کې اعلان کېږي چې د ذو الحجې له نهمې د محرم تر وروستۍ نېټې وخت لري، که تر دې وروسته هم پر خپل کفر ټينګ شي نو د مرګونې سزا دا قانون به پر دوی هم نافذ شي. الله وايي:

فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُواْ الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (التوبة ۹ : ۵)

کله چې حرامې مياشتې تېرې شي نو دا مشرکين چې هر ځای ومومئ ويې وژنئ، ويې نيسئ، کلابند يې کړئ او هر ځای ورته کمينونه ونيسئ خو که دوی له کفر او شرک څخه توبه وباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي نو خوشې يې کړئ بې شکه الله غفور او رحيم دی.

د همدې قانون وضاحت رسول الله داسې کړی دی:

امرت ان اقاتل الناس حتی — ماته امر شوی چې له دې خلکو

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يشـــهدوا ان لا الـــه الا الله و ان محمدا رسول الله و يقيموا الصلاة و يؤتوا الزكاة فاذا فعلوا عصموا مني دمـائهم و امـوالهم الا بحقهـا و حسابهم على الله.

(مسلم، شميره: ۱۲۹)

سره تـر هغـو وجنګېږم چې د لا الـه الا الله او محمد رسول الله شاهدي ورکـړي، لمـونځ وکـړي او زکـات ورکړي، کلـه چې يې داسي وکړل لـه مـا يې خپلې وينې او مالونـه خوندي کړل مګر په خپل حق سره، پاتي شو باطني حساب نو هغـه د الله مسئوليت دی.

لکـه څرنګـه چې مـوږ وويـل دا قـانون يـوازي تـر هغـو مشـرکينو ځانګړی وو چې رسول الله پرې مخامخ حجت پوره کړ، لـه هغوی پرتـه نور تر قيامته له بل قوم يا فرد سره هيڅ تړاو نه لري ان هغه اهل کتاب چې د رسول الله په زمانه کي موجود وو قرآن په ښکاره ډول ترې مستثنا کړي دي. په سورت التوبه کي چې کوم ځای د مشرکينو لپاره د قتل دا سزا بيان شوې هلته يې د اهل کتابو پـه اړه ښکاره ويلي چې کـه هغـوی محکوميت ومني او جزيه ورکړي او د مسلمانانو پـه دولت کي د يـوه ښاري په توګه ژوند کول وغواړي نو هيڅ تيری به نه پرې کيږي. الهي وينا ده:

قَاتِلُواْ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَلاَ بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلاَ يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَلاَ يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُواْ الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ (التوبة ۹ : ۲۹)

له هغو اهل کتابو سره جګړه وکړئ چې نـه پـر الله او د اخـرت پـر ورځ ايمان راوړي، نه هغه څه حراموي چې الله او رسول يې حرام کړي او نـه د حق دين پيروي کوي، له دوی سره تر هغو جګړه وکړئ چې پـه مغلوبيدو جزيـه ورکړي او خوار وي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

زموږ په دې بحث سره که د الله دا قانون په پوره توګه واضح کېږي نو د هغه دا لازمي تقاضا هم څرګندېږي چې که په دې مشرکينو کې کوم څوک تر ايمان وروسته بيا کفر غوره کوي نو هغه په حتمي ډول د دې سزا مستحق وو، هغه کسان چې د کفر لپاره يې د مرګ سزا ټاکل شوې وه که هغوی د ايمان په راوړلو خپل لومړني حالت ته ورګرزي نو لازمه وه چې د مرګ دا سزا هم پرې له څه شک پرته پلې شي، دا هماغه ارتداد دی چې رسول الله يې په اړه ويلي: **من بدل دينه فاقلتوه.**

د رسول الله په دې حکم کې «من» په هماغه ډول د رسول الله د وخت تر مشرکينو ځانګړې دی لکه په امرت ان اقاتل الناس کې چې الناس تر هغوی پورې خاص دی، څرنګه چې د رسول الله د دې وينا اصل په قرآن کريم کې له خپل خصوص سره موجود دی نو بايد فرع يې هم حتما خاص وي.

زموږ د فقهاوو تيروتنه داده چې دوی دالناس په څېر په قرآن کې له خپل اصل سره د تړلو او د قران و سنت د خپل منځي ربط له مخې د دې حديث په مطلب د پوهېدو پر ځای هغه عام ګڼلی او د هر مرتد سزا يې مرګ ګڼلې ده او په دې توګه يې د اسلام په حدودو او تعزيراتو کې يوه داسې سزا اضافه کړې چې په اسلامي شريعت کې يې هيڅ وجود ثابت نه دی.

## د مرګ سزا

د دريمې پوښتنې ځواب دادی چې د قرآن کريم له مخې د مرګ سزا د نفس او فساد فی الارض له جرم پرته هيچا ته نه شي ورکول کېدای، قرآن ويلي (کله چې) بني اسرائيلو ته شريعت ورکړل شو نو پر هغوی هم دا خبره لازمي شوې وه چې:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفۡسًا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٍ فِي الأَرۡضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا (المائدة ۵ : ۳۲)

چا چې څوک د بل نفس او په ځمکه کې د فساد له کولو پرته قتل کړ نو ګواکې ټول انسانان يې ووژل.

دا د قرآن کريم څرګند هدايت دی ځکه نو له دې دوو جرمونو پرته هيڅ فرد او حکومت دا حق نه لري چې د يو چا ژوند واخلي.

## د بند سزا

د څلورمې پوښتنې ځواب دادی چې د بند سزا صرف سزا نه ده بلکې يو ډېر بد جرم دی چې انسان د خپل ځان په وړاندې ترسره کړی دی، له همدې امله د مسلمانانو له هيڅ حکومت څخه موږ دا توقع نه لرو چې د خپلو حدودو او تعزيراتو په کوم قانون کې دا سزا هم شامله کړي.

په دې کې شک نه شته چې د دې نړۍ د څرګند انساني تاريخ په هر دور کې زندانونه، کلاوې، برجونه او توري کوټې موجودې وې، تر مسيح ناصري نولس پېړۍ وړاندې د يوه رسول يوسف عليه السلام د زندان کيسه په بايبل او قرآن دواړو کې بيان شوې ده. د اتمې پېړۍ ستر فقيه ابو حنيفه او بيا د ديارلسمې پېړۍ يو وتلی عالم او محقق ابن تيميه چې څه ډول په زندان کې مړه شول د هغو کيسې هم د تاريخ په پاڼو کې خوندي دي خو تر اتلسمې پېړۍ وړاندې بنديخانې عموما د انتظارګاوو په توګه کارېدې، مجرمينو به تر ډېره د دعوې د څېړنې، مرګ، درو او دا ډول نورو سزاوو د نفاذ لپاره انتظار کاوه. دا تصور چې د جرم په سزا کې يو څوک دوه، څلور، لس او يا پنځلس کاله بندي شي په دې تېرو درو پېړيو کې دومره عام شوی چې اوس د ډېرو جرايمو سزا په همدې بڼه ورکول کېږي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

که څه هم په اروپا کې د څورلسمې پېړۍ د پيل پر مهال زندان ته ورته ځينې ادارې لکه فلورنس کا ولي ستن موجودې وې، همدارنګه چې د ۱۵۵۷ پر مهال په لندن، ۱۹۹۶ پر مهال په ايمسټردام، ۱۷۰۴ پر مهال په روم او ۱۷۷۳ پر مهال د بلجيم په لرغوني ښار غنت کې کوم اصلاح ځايونه جوړ شوي وو هلته کم و زيات همدا تصور موجود وو خو عمومي فکر دا دی چې د نوي ماډل لومړی زندان د ۱۷۹۰ پر مهال په فلاډلفيا کې د وال نټ استريټ په نوم جوړ شو او ورپسې د لوېديځ تهذيب له غلبې سره د نړۍ په هر ګوټ کې هغه زندانونه را منځ ته شول چې نن پکې زندانيان تر کلونو کړېږي او له جرم و سزا څخه نا خبره ماشومان خپل پلرونه د اوسپينزو تمبو شا ته ويني او د خپلې ځوانۍ عمر ته رسېږي. دورې د څو شيبو لپاره پر شا وارېږي، لاس صرف په يوه ګوزار غوڅېږي، صليب د ټول بدن په کړولو له روح سره د هغه اړيکه پرېکوي او د قتل بېلابېلې بڼې د دې دنيا هره معامله د تل لپاره ختموي خو دا هغه سزا ده چې په وسيله يې په انسان کې د هغه پټ اصل شخصيت کلونه په عذاب اخته کېږي، د هغه ناسته -ولاړه، خوراک -څښاک، ويښېدل او بيدېدل ان ځارا ګښت د بل په حکم وي، هغه د يوه ګيلاس اوبو، يوې ګولۍ ډوډۍ، پان يوې بيړۍ، سګريټ يوه دوګ لپاره د نورو خولې ته ګوري او ډېر ځله د دې شيانو لپاره د خپل ځان عزت له لاسه ورکوي. هغه د خپلې مور مينې، د پلار شفقت، د اولادونو ګرانښت او د ميرمنې الفت ته ليوال وي او د خپل ځان پر هغو غوښتنو هم پښا ر راوړی چې د نړۍ رب د روژې په روزونکې مياشت کې هم پرې دا ډول بنديز نه دی لګولی، د هغه ژوند په حقيقت کې د لا يموت فيها و لا يحی انځور وي.

پر دې سربېره دا سزا يوازې مجرم ته نه بلکې ټولو متعلقينو ته هم ورکول کېږي، په دې کې ډېر زورېدونکی حالت د هغه د ميرمنې لپاره وي که يې مېړه لس -دوولس کاله زنداني کېږي نو په دې موده کې چې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هغه له کومو رواني، ټولنيزو، اقتصادي او اخلاقي ستونزو سره مخ کېږي او صرف د يوه مجرم د ميرمن کېدو له امله ورسره لاس او ګريوان وي د دې اندازه يوازې هغه وفادارې ميرمنې کولای شي چې کوم وخت په دې مصيبت اخته شوې وې او دا حالت د تنکيو ماشومانو هم وي. دوی چې څو کاله پر له پسې خپل پلار د اوسپينزو تمبو شا ته ويني او کوم روحيات خپلوي د دې اټکل هر د عقل څښتن په ډېره اسانۍ کولای شي، د درو سزا، د لاس غوڅول، اعدام او دار يوه پېښه ده چې د مجرم لپاره هره ورځ نه وي خو د دې سزا په نتيجه کې چې د درنو ديوالو شا ته له ترلي پلار سره د هرې ليدنې پر مهال چې د دې ماشومانو په ذهن کې کوم احساس پيدا کېږي له دې سره څرنګه د هغوی په شخصيت کې د توازن پيدا کېدو هيله کېدای شي؟ که هغوی له ټولنې دا پوښتنه وکړي نو يقينا به پر حق وي چې د پلار په شتون کې له هغه څخه د محروميت کومه سزا چې دوی ته ورکړل شوې د دې لپاره بالاخره کوم جواز شته چې د اخلاقياتو د قانون له کتاب څخه د دوی مخ ته وړاندې کېدای شي؟.

او دې ته هم پام وکړئ چې تر تاديب او تنبيه وروسته هره ټولنه همدا غواړي چې مجرم اصلاح شي، د دې لپاره که تر ټولو کوم شی اغېز درلودای شي هغه ښه ملګرتيا ده خو حالت دا دی چې د دې سزا په وسيله مجرم د ټولنې، کورنۍ ان د خپلوانو د اصلاح له هر دعوت او خير له هر تحريک څخه په بېلېدو کلونه - کلونه د مجرمينو په ملګرتيا کې داسي ساتل کېږي چې که په هغه کې د اصلاح کوم خواهش وو نو د تل لپاره له منځه ځي. په دې ټوله موده کې هغه د جرم په نړۍ کې ژوند کوي، د جرمونو خبرې اوري، هر څه ته د جرم په نظر ګوري او شپه و ورځ د جرم اسباب او عوامل د يوه ژوندي محرک په توګه خپل مخ ته ويني. موږ نه پوهېږو چې د هغه تر خوشي کولو وروسته ټولنه ترې څه هيله درلودای شي؟.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دې ته مو هم باید پام وي چې د درو، لاس غوڅولو او دا ډول نورو طریقو په وسیله تر تادیب او تنبیه وروسته موږ نه شو ویلای چې کوم مجرم به څه وخت د ځان لپاره د خیر لاره غوره کړي؟ د ده په ژوند کې دا پېښنه هر وخت کېدای شي، د عقل حتمي تقاضا همدا ده چې که هغه دا توفیق تر لاسه کوي نو د هغه لپاره سمدستي د ځان بدلولو او د ټولنې د یوه مسئول فرد په توګه د ژوند کولو فرصتونه هر وخت موجود دي، مګر په ټولو سزاوو کې همدا یوازینۍ سزا ده چې قانون یې وخت ټاکي. حال دا چې د تعین لپاره یې له هغه سره د ټاکنې هیڅ وسیله نه شته.

د دې سزا همدا مفسدات دي چې له امله یې الهي شریعت په کور کې د مجرم د بندي کولو او یا له سیمې څخه د شړلو سزا روا بللې چې که دی وغواړي هلته خپل اهل و عیال هم ورسره بوولای شي، مګر د دې شریعت د حدودو او تعزیراتو په قانون کې د کلونو بندي کولو د سزا تصور موجود نه دی.

(۱۹۹۳)

## دیت ته یوه کتنه

په قرآن کریم کې چې د دیت کوم قانون بیان شوی دا مهال یې په اړه دا دوې پوښتنې د بحث موضوعات دي: یوه دا چې ایا په شریعت کې د دیت کوم مقدار ټاکل شوی او ایا له هغه سره سم د نارینه په مقابل کې ښځینه هم د ښځې دیت نیمایي دی؟.

دویمه دا چې د دیت حقیقت څه دی؟، ایا دا د هغه اقتصادي زیان بدل دی چې د مجرم له لوري د وژل شوي وارثانو او ژوبل شوي ته رسېږي، که د ځان او غړي قیمت دی؟ او یا له دې پرته بل د رپیم شی؟.



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې هغو اياتونو ته پام وکړئ چې د دې قانون په اړه قرآن کريم بيان کړي دي، په سورت النساء کې دي:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَئًا وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ أَن يَصَّدَّقُواْ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةً فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللهِ وَكَانَ اللهُ عَلِيمًا حَكِيمًا

(النساء: ۹۲)

او هيڅ مسلمان ته روا نه ده چې بل مسلمان ووژني، مګر که تيروتنه ترې وشي او که څوک د دې ډول غلطۍ له امله کوم مسلمان ووژني نو پر هغه لازمه ده چې يو مسلمان له مريتوب څخه ازاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته ديت ورکړي، مګر دا چې هغوی يې وبخښي. که وژل شوی ستاسو د کوم دښمن قوم غړی خو مسلمان وي نو له مريتوب څخه د يوه مسلمان ازادول کفايت کوي او که د کوم معاهد قوم غړی وي نو وارثانو ته به يې ديت هم ورکول کېږي او تاسو به يو مسلمان مريي هم ازادوئ، څوک چې مريي ونه لري نو دوې مياشتې به پر له پسې روژه نيسي. دا د الله له خوا پر دې ګناه د توبې طريقه ده او الله عليم او حکيم دی.

د سورت النساء په دې ايت کې د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ الفاظ راغلي، راجحه دا ده چې دا د حذف شوي خبر مبتدا وبلل شي يعني فَعَلَيْهِ

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَ دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ. په دې ایت کې د دیت لفظ نکره دی، د اسم نکرې په اړه را ته معلومه ده چې د خپلې معنا د تشخیص لپاره د لغت، رواج او کلام د سیاق له دلالت پرته بل څه ته اړتیا نه لري. د بیلګې په توګه الله په قرآن کریم کې ویلي: إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً * (الله تاسو ته امر کوي چې یو غویی حلال کړئ) په دې ایت کې د بقرة لفظ نکره دی، له همدې امله دا بیخي یقیني ده چې یهودو ته د هماغه حیوان د حلالولو امر شوی وو چې د هغه لپاره د عربو په ژبه او عرف کې د بقرة لفظ کارېږي او که دوی هر غویی حلال کړی وای نو یقینا د فرمان مراد پوره کېدی. ګواکې د عربیت له مخې که متکلم یو واجب شی د اسم نکرې په بڼه ذکر کوي نو معنا به یې دا وي چې موږ ته یې په دې معامله کې د عرف یا دود د پیروۍ امر کړی دی، څرنګه چې اسم نکره پر عموم دلالت کوي له همدې امله که د کلام په سیاق کې کوم مانع نه وي نو د دې نوم ټول مسمیات یې له څه تعین او تخصیص پرته د اطلاق په دایره کې داخل بلل کېږي، نو په دې ایت کې د دیت معنا داده: هغه شی چې د دیت په نوم پېژندل شوی او د دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ د الفاظو حکم چې پر کوم مراد دلالت کوي هغه له دې پرته بل هیڅ شی نه دی چې د مخاطب په عرف کې د کوم څه نوم دیت دی هغه دې د وژل شوي وارثانو ته وسپارل شي.

قرآن کریم چې په سورت البقرة کې کوم ځای د قصدي قتل حکم بیان کړی، هلته یې دا خبره د معروف د لفظ په صراحت سره بیان کړې ده:

فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ

نو چا ته چې د خپل ورور له لوري بخښنه وشوه نو له معروف سره سم دې یې پیروي وشي او هر ډول

* البقرة ۲: ۶۷



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دیت دې په ښه ډول ادا کړای شي. (البقرة ۲ : ۱۷۸)

د نساء او بقرې له دې ایاتونو څخه معلومه شوه چې په قصدي او خطايي قتل دواړو کې د قرآن حکم همدا دی چې د ټولنې له دود او دستور سره سم دیت دې ورکړل شي. رسول الله ﷺ په خپل وخت کې په همدې عمل وکړ، په دې اړه چې روایاتو کوم بیان کړی هغه د عربي دستور وضاحت دی، په هغو کې هیڅ شی هم د رسول الله ﷺ حتمي حکم نه دی.

د دیت په اړه د عربو دستور څه وو؟ د جاهلیت په دوره کې د موجودو شاعرانو د کلام او عربي تاریخ له مطالعې معلومېږي چې په پیل کې له یوې قبیلې سره د څرګند نسبي تعلق درلودونکي شخص دیت لس اوښان وو. د قبیلې د حلیف او د مینځې د زوی دیت د صریح* د دیت او د ښځې دیت د نارینه وو د دیت په پرتله نیمایي وو.

د الاغاني لیکوال د اوس او خزرج تر منځ د یوه جنګ د پېښو په بیانولو لیکي:

وکانت دیة المولی فیهم وهو الحلیف خمسا من الابل و دیة الصریح عشرا. (۳/ ۴۱)

او په دوی کې د مولی یعني حلیف دیت پنځه اوښان او د صریح دیت لس اوښان وو.

د «المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام» لیکوال جواد علي لیکلي:

واما اذا کان القتیل هجینا فتکون

او که به وژل شوی د مینځې زوی وو نو دیت یې د صریح په پرتله

---

* دا لفظ د هر هغه چا لپاره د یوې اصطلاح په ډول کارېدی چې له یوې قبیلې سره به یې باوري نسبي تړاو درلود.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ديته نصف دية الصريح. و تكون دية المرأة نصف دية الرجل.

نيمايي وو او د نارينه په مقابل کي د ښځې ديت نيم ورکول کېده.

(۵/ ۵۹۲)

ځينو قبايلو د خپل شرافت پر بنسټ دوه چنده ديت تر لاسه کاوه او ځينو به د سخاوت و کرم له مخې نورو ته دوه چنده ديت ورکاوه، په المفصل کي دي:

روى ان الغطاريف، وهم قوم الحارث بن عبدالله بن بكر بن يشكر، كانوا يأخذون للمقتول منهم ديتين ويعطون غيرهم دية واحدة اذا وجبت عليهم. وكان لبني عامر بن بكر بن يشكر، وهم من الغطاريف ايضاً وقد عرف عامر المذكور بالغطريف ديتان ولسائر قومه دية. وورد ان بني الاسود بن رزن كانوا يؤدون في الجاهلية ديتين ديتين.

ويل کېږي چي غطاريف يعني د حارث بن عبدالله بن بکر بن يشکر د قوم کسانو د خپل وژل شوي دوه ديتونه اخيستل او که به پر دوی د نورو ديت واجب شو نو يو ديت يې ورکاوه. د بني عامر بن بکر بن يشکر لپاره چي مشر يې عامر غطريف بلل کېده دوه ديته او د نور قوم لپاره يو ديت ټاکل شوی وو. همدارنګه په روایاتو کي دي چي بنو اسود بن رزن د جاهليت په زمانه کي نورو ته دوه چنده ديت ورکاوه.

(۵/ ۵۹۳)

جواد علي ليکي:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

و لم يكن هذا التحديد عن ضعف و انما هو رغبة منهم فى الافضال على ذوى القتيل.

(المفصل ۵ / ۵۹۳)

د دوه چنده دیت ورکولو دا قانون د ضعف له امله نه بلکې د هغوی له لوري د وژل شوي پر وارثانو د احسان له مخې وو.

د پاچاهانو دیت زر اوښه ټاکل شوی وو چې دية الملوک بلل کېده، قراد بن حنش الصاردي د بنو فزاره په ستایلو وایي:

و نحن رهنا القوس ثمت فوديت بألف على ظهر الفزارى اقرعا

"او موږ لېنده ګرو کړه نو د فزاري له مال څخه پوره زر اوښان په فديه کې ورکړل شول."

بعشر مئين للملوک سعى بها ليوفى سيار بن عمرو فاسرعا

"زر اوښان چې د پاچهانو دیت دی، د ورکړې لپاره یې سیار بن عمرو هڅه وکړه او دا مسئولیت یې له څه ځنډ پرته پوره کړ."

د رسول الله ﷺ تر زوکړې څو کاله وړاندې په دې دود کې یو ناڅاپي بدلون راغی، ویل کېږي چې د رسول الله ﷺ نیکه عبد المطلب نذر منلی وو چې که الله ده ته لس زامن ورکړي نو یو به یې د قربانۍ په توګه حلالوي. کله چې الله د ده هیله پوره کړه نو ده غوښتل په خپل نذر وفا وکړي، د زامنو تر منځ د انتخاب لپاره نوم اچونه وشوه چې د عبدالله نوم وخوت. عبد المطلب هغه د قربانۍ د ځای پر لور روان کړی وو چې خلکو هغه را وګرزاوه او د زوی په بدل کې یې د اوښانو حلالولو مشوره ورکړه. لکه څرنګه چې موږ وویل هغه مهال دیت لس اوښان وو، ځکه نو د لسو اوښانو او عبدالله تر منځ نوم اچونه وشوه. هر ځل د عبدالله نوم را ووت ان تر دې چې د اوښانو شمېر سلو ته ورسېد، کله



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

چي په دې وار نوم اچونه وشوه نو د اوښانو په نوم شوه. په روایاتو کي دي چي تر دې پېښي وروسته په عربو په ځانګړي ډول قریشو کي دیت سل اوښان وټاکل شول. ابن عباس رضي الله عنه وايي:

كانت الدية يومئذ عشرا من الابل وعبد المطلب اول من سن دية اللفظ مأة من الابل فجرت فى قريش و العرب مأة من الابل. (الطبقات الكبرى د ابن سعد ۱/ ۸۹)

هغه مهال دیت لس اوښان وو، تر ټولو لومړی عبد المطلب سل اوښان وټاکل چي په قریشو او عربو کي د دیت همدا مقدار دود شو.

زهير بن ابى سلمى په خپله معلقه کي د دیت همدا مقدار بیان کړی دی، د عبس او فزاره په جګړو کي د دیت په توګه د درو زرو اوښانو ورکولو له امله ده د عربو د دوو مشرانو هرم بن سنان او حارث بن عوف په ستایلو ویلي:

تعفى الكلوم بالمئين فاصبحت ينجمها من ليس فيها بمجرم

" د څو سوو اوښانو په وسیله به ټپونه له منځه ولاړ شي، نو څوک چي بې ګناه وو په تقسیم سره دا اوښان د دیت په توګه ورکړل شول."

د زهير له دې شعر څخه معلومېږي چي د عبس او فزاره د وژل شویو دیت په قسطونو ورکول شوی دی، په الاغاني کي دي:

فكانت ثلاثة الاف بعير فى ثلاث سنين. (۱۰/ ۲۹۷)

درې زره اوښان وو چي په درو کلونو کي ورکړل شول.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

زهير په همدې معلقه کې ویلي چې په دیت کې عموما افال یعني د واړه عمر اوښان ورکول کېدل، دی وایي:

فاصبح یحدی فیهم من تلادکم مغانم شتی من افال مزنم

" ستاسو له میراثي مال څخه بیلابیل غنیمتونه چې د افال یعني ښه نسل بشپړ بچیان دي د مقتولینو وارثانو ته لیږل کېږي."

د افال د تخصیص په اړه د معلقات شارح زوزني لیکي:

خص الصغار لان الدیات طعطی من بنات اللبون و الحقاق و الاجذاع. (شرح المعلقات د الزوزني، مخ: ۸۰)

شاعر د تیټ عمر اوښان په ځانګړې ډول د دې لپاره یاد کړي دي چې په دیت کې دوه کلن، درې کلن او څلور کلن اوښان ورکول کېدل.

په عربو کې د ټپونو دیت هم دود وو، د عربي لغت له مطالعې ښکاري چې د جاهلي عربو په ژبه کې د ارش او نذر الفاظ پر نورو معانیو سربیره د دې لپاره هم کارول کېدل. په لسان العرب کې دي:

اصل الارش الخدش ثم قیل لما یؤخذ دیة لها: ارش و اهل الحجاز یسمونه النذر. (۶/۲۶۳)

د ارش اصل زخم یا ټپ دی خو بیا د هغه مال لپاره هم وکارول شو چې د ټپونو په دیت کې ورکول کېدې، حجازیانو د دې لپاره د نذر لفظ کاراوه.

لکه څرنګه چې مو وړاندې وویل د عربو همدا دستور رسول الله د قرآن له لارښوونې سره سم په خپل وخت کې نافذ کړی، په دې اړه ځینو روایاتو په ډاګه دا خبره کړې چې رسول الله د دیت دود هماغه ډول پر



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

خپل حال پریښود لکه څرنګه چې د ده تر رسالت وړاندې په عربي ټاپو وزمه کې دود وو. پورته چې مو د دیت په مقدار کې د بدلون په اړه د ابن عباس کوم روایت نقل کړ، په هغه کې دی وایي:

فجرت في قريش و العرب مأة من الابل و اقرها رسول الله ﷺ على ما كانت عليه. (الطبقات الكبرى د ابن سعد ١ / ٨٩)

په قریشو او نورو عربو کې د دیت همدا سل اوښان دود شول او رسول الله ﷺ هم پر خپل حال پریښودل.

په یوه بل حدیث کې چې د لغتو امامان یې عموما د معلقه لفظ د نظیر په توګه وړاندې کوي او د الفاظو له معمولي تغیر سره په مسند احمد کې هم نقل شوی دا خبره په

دې ډول بیان شوې ده:

كتب بين قريش و الانصار كتابا فيه: المهاجرون من قريش على رباعتهم يتعاقلون بينهم معاقلهم الاولى.

(لسان العرب ١١١ / ٤٦٢)

رسول الله د قریشو او انصارو تر منځ د معاهدې په توګه یوه لیکنه وکړه او دا خبره هم پکښې وه چې د قریشو مهاجرین به پر خپل پخواني حالت پاتې وي او د دوی تر منځ به د دیت معاملې د پخوا په شان وي.

د یمن (جنوبي عرب) په سیمه کې قانون دا وو چې د مرګ او ژوبلې په بیلابیلو شکلونو کې به د دیت مقدار د واکمن له خوا ټاکل کېده، کله چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې دا سیمه د اسلامي واکمنۍ برخه شوه نو ده د هغې سیمې د مشرانو په نوم خپل یوه لیک کې د دوی لپاره د دیت

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هماغه مقدار وټاکی چې د ده په خپله سیمه کې دود وو. په المفصل في تاریخ العرب قبل الاسلام کې دي:

وقد عرفت الدیة عند العرب الجنوبین کذالک ولم تحدد فی القوانین وانما ترک امر مقدارها الی الملک. (۵ / ۵۹۴)

په جنوبي عربو کې هم دیت دود وو، خو څرګند قانون یې نه درلود بلکې د مقدار چاره یې د واکمن پریکړې ته پرېښودل شوې وه.

د یمنیانو په اړه د رسول الله لیک* دادی:

ان من اعتبط مؤمناً قتلاً عن بینة فانه قود الا ان یرضی اولیاء المقتول: وان فی النفس الدیة ـ مائة من الابل ـ وفی الانف اذا اوعب جدعه الدیة، وفی اللسان الدیة، وفی الشفتین الدیة، وفی البیضتین الدیة، وفی الذکر الدیة، وفی الصلب الدیة، وفی العینین الدیة، وفی الرِّجل الواحدة نصف الدیة، (وفی الید

چا چې په ناحقه کوم مسلمان وواژه او جرم یې ثابت شو نو بدل به ترې اخیستل کېږي، مګر که د وژل شوي وارثان د دیت په اخیستلو راضي شي. په دې صورت کې به د یوه نفس، بشپړې پزې، ژبې، شونډانو، خوټو، جنسي الاتو، شا او دواړو سترګو دیت سل اوښان وي. د یوه لاس او یوې پښې دیت به نیم وي، کوم زخم چې تر دماغه ورسېږي یو ثلث او کوم زخم چې تر ملا ورسېږي په

* د تېونو په دیت کې چې دې لیک کوم تناسب بیان کړی که غور وشي نو د عدل او انصاف له مخې وروستی ټکی دی، د دولت د چارو مسئولین باید په دې اړه د قانون جوړولو پر مهال ورته پام وکړي.

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

الواحدة نصف الدية*) و فى المامومة ثلث الدية، و فى الجائفة ثلث الدية، و فى المنقلة خمس عشرة من الابل، و فى كل اصبع من اصابع اليد و الرِّجل عشر من الابل، و فى السن خمس من الابل، و فى الموضحة خمس من الابل: و ان الرجل يقتل بالمرأة و على اهل الذهب الف دينار.

(نسائی، شمیره: ۴۸۵۷)

هغه کي به هم يو ثلث وي. همدا راز چي کوم ټپ هډوکی خراب کړي په هغه کي به پنځلس اوښان ورکول کېږي. د لاس او پښې پر هره ګوته لس، پر غاښ پنځه او په کوم زخم کي چي هډوکی لوڅ وي په هغه کي به هم پنځه وي، د ښځې په بدل کي به نارينه وژل کېږي او څوک چي سره زر ورکولای شي د هغوی لپاره به ديت زر ديناره وي.

له دې بحث څخه دا حقيقت په بشپړه ډول ثابت شو چي اسلام د ديت په معامله کي نه د تل لپاره ځانګړی مقدار ټاکلی او نه يې زموږ لپاره د ښځې و نارينه، مريبي و ازاد او کافر و مومن د ديتونو تر منځ توپير را باندي لازمي کړی. د ديت قانون تر اسلام وړاندي په عربو کي دود وو، قرآن کريم په قصدي او خطايي دواړو قتلونو کي له هماغه سره سم د ديت ورکولو امر کړی دی. د قرآن د دې حکم له مخې ديت د هر وخت او هري ټولنې لپاره د اسلام لازمي قانون دی، مګر د هغه د مقدار نوعيت او نورو چارو په اړه د قرآن لارښوونه همدا ده چي د معروف يعني ټولنې د دود او دستور پيروي وشي. رسول الله او خلفاء راشدينو په خپل وخت کي د عربو له دستور سره سم د ديت پريکړي وکړې، د فقهې او احاديثو په کتابونو کي چي د ديت کوم مقدار بيان شوی دا له هماغه دستور سره

* دا الفاظ د سنن نسايي د همدې ليک له يوه بل روايت څخه اخيستل شوي دي.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

سم دی. د عربو دود د هغوی د تمدني حالاتو او کولتوري روایاتو پر بنسټ ولاړ وو، د زماني خوځښت د تاریخ په کتاب کي د ځورلسو پېړیو پاڼې اړولې دي، د مدني حالاتو او کولتوري دودونو تر منځ د ځمکې او اسمان توپیر را منځ ته شوی دی، دا مهال نه مور او ښان ورکولای شو او نه په دې وخت کي د اوښانو له مخې د دیت ټاکنه هوښیاري ده. د عاقلې ډول بیخي بدل شوی او د خطایي قتل هغه بڼې را منځ ته شوې دي چي هغه مهال یې تصور هم ممکن نه وو. د قرآن کریم لارښوونې د هر وخت او هرې ټولنې لپاره دي ځکه یې نو په دې لړ کي د معروف د پیروۍ امر کړی دی، د قرآن له دې حکم سره سم هره ټولنه د خپل دود او دستور په پیروۍ مکلفه ده، څرنګه چي زموږ په ټولنه کي له پخوا د دیت کوم قانون نه شته ځکه نو زموږ چارواکي اختیار لري چي که وغواړي د عربو دا دود دې پر ځای وساتي او که یې خوښه وي نو دې ته دي بل شکل وټاکي. دوی چي هر شکل غوره کوي ټولنه یې مني نو بیا هماغه زموږ لپاره معروف بلل کېږي. پر معروف یا دود د ولاړو قوانینو په اړه دا هم بیخي څرګنده ده چي د حالاتو او زمانې د بدلون له امله پکي تغیر راتلای شي او که د ټولنې چارواکي وغواړي نو د خپلو ملي ګټو پر بنسټ یې له سره تنظیمولای شي. د حنفي فقهې یو وتلی عالم ابن عابدین په خپله رساله نشر العرف کي لیکي:

اعلم ان المسائل الفقهية، اما ان تكون ثابتة بصريح النص وهى الفصل الاول و اما ان تكون ثابتة بضرب اجتهاد ورأى، وكثير منها ما يبنيه المجتهد على ما كان فى عرف زمانه بحيث لو كان فى زمان

باید وپوهېږو فقهي مسایل یا په صریح نص ثابتېږي چي دا لومړی قسم دی او یا په اجتهاد و رایه ثابتېږي، د اجتهاد او رایې پر بنسټ ډېری مسایل هغه دي چي له امله یې مجتهدین په خپله زمانه کي له دې مخې اجتهاد



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

العرف الحادث لقال بخلاف ما قاله اولا. و لهذا قالوا فی شروط الاجتهاد: انه لا بد فیه من معرفة عادات الناس فکثیر من الاحکام تختلف باختلاف الزمان لتغیر عرف اهله و لحدوث ضرورة او فساد اهل الزمان بحیث لو بقی الحکم علی ما کان علیه اولاً للزم منه المشقة و الضرر بالناس و لخالف قواعد الشریعة المبنیة علی التخفیف و التیسیر و دفع الضرر و الفساد.

(رسائل ابن عابدین ۱۲۵)

کوي چي که د نوي عرف په زمانه کي وای نو خپل پخوانی نظر به یې بدل کړی وای. دوی د اجتهاد په شرایطو کي دا شرط هم بیانوي چي په دې کي د خلکو د عادتونو پېژندل ضروري دي ځکه د زمانې له بدلون سره ډېر احکام بدلېږي چي دا ګڼ لاملونه د رلودای شي، د بیلګي په توګه د عرف بدلون، د ضرورت تقاضا او یا د خلکو په حالاتو کي له دې امله د کومې خرابۍ ویره چي که پخوانی شکل باقي پاتي شي نو د دوی لپاره به د زیان او تکلیف سبب وګرزي او زموږ د هغو شرعي قواعدو خلاف به وي چي پر اسانۍ او د ضرر پر مخنیوي بنا دي.

پاتي شوه دویمه پوښتنه یعني دا چي د دیت حقیقت څه دی؟ نو په دې اړه عموما دوه نظرونه دود دي. یو دا چي دا د نفس قیمت دی او دویم دا چي د مجرم له لوري د وژل شوي وارثانو او یا ټپي ته کوم مالي زیان رسېدلی د هغه بدله ده. زموږ په اند دا دواړه نظرونه د نقد وړ دي. څوک چي یې د نفس قیمت ګڼي د هغوی نظر صرف پر مغالطه ولاړ دی. په جاهلي عربو کي د قتل پېښي د انتقام، قصاص او دیت په بڼه فیصله کېدې. لکه څرنګه چي له ترتیب څخه ښکاري انتقام د عربو په نزد اصلي موخه وه هغوی پر دې باور درلود چي د وژل شوي روح د مرغه په

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

بڼه الوزي او تر څو چي يې بدل وانه خيستل شي نو په غرونو او رغونو کي د اسقوني اسقوني (ما اوبه کړئ، ما اوبه کړئ) ناروپه وهلو لالهانده ګرزي. په دوی کي ځيني په دې باور وو چي په قبر کي هغه وژل شوی ژوندی وي چي بدله يې وانه خيستل شي او که د چا بدل وانه خيستل شي هغه مري، په قبر کي يې تياره خپرېږي. د خپلو همدغو باورونو له امله يې انتقام ته ترجيح ورکوله او ديت څه چي قصاص ته هم د کوم مجبوريت پر بنسټ تيارېدل، ام شمله وايي:

فيا شمل! شمِّرْ و اطلب القوم بالذی

اصبت و لا تقبل قصاصاً و لا عقلًا

"نو اې شمله! پورته شه، چمتو شه له خپلو دښمنانو د هغه مصيبت بدله واخله چي تا ته رسېدلی او ګوره قصاص و ديت په هيڅ حالت کي مه قبلوه."

عباس بن مرداس السلمي د خزاعه قبيلې يوه کس عامر د انتقام اخيستلو ته په پارولو وايي:

ولا تطمعن ما يعلفونک انهم    آتوک على قرباهم بالمثمل

"او دوی چي تا ته د کوم ديت تمه درکوي هغه ته هيڅ توجو مه کوه ځکه دوی له خپلوی، سره -سره وژونکي زهر درته راوړي."

د اسلام تر منلو وروسته هم په دې اړه د دوی احساسات يو څه سخت وو، د دې اندازه د مسور بن زياده له هغو اشعارو کېدای شي چي د خپل پلار تر وژلو وروسته يې د مدينې د والي سعيد بن العاص له لوري د اوو ديتونو د وړانديز په ځواب کي ويلي، دی وايي:

ابعد الذی بالنعف نعف کويکب    رهينة رمس ذی تراب و جندل



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

" ایا تر هغه چا وروسته چې د کویکب غره په لمن کې د خاورو او ډبرو تر منځ ښخ شوی."

اذکر بالبقیا علی من اصابنی و بقیای انی جاهد غیر مؤتل

" ما ته نصیحت کېږي چې کوم ظالم ما ته دا غم رسولی پر هغه زړه وسوځوم، زما زړه سوی له دې پرته بل څه کېدای شي چې زه د بدل په اخیستلو کې هیڅ لټې ونه کړم.

فان لم انل ثأری من الیوم او غد بنی عمنا فالدهر ذو متطول

" زما د اکا زامنو! که ما نن یا سبا خپل انتقام وانه خیست نو څه وشول؟ د زمانې عمر ډېر اوږد دی."

فلا یدعنی قومی لیوم کریهة لئن لم اعجّل ضربة او اعجّل

" که زه له څه تم کیدو پرته پر دښمن ګوزار ونه کړم او یا د هغوی تر ګوزار لاندې را نه شم نو زما قوم دې ما هیڅ جګړې ته نه ورغواړي."

انختم علینا کلکل الحرب مرة فنحن منیخوها علیکم بکلکل

" تاسو یو ځل پر موږ د جنګ سینه ایښې نو واورئ! موږ هم پریکړه کړې چې موږ به هم پر تاسو د هغه د سینې له ایښودو پرته ارام نه شو."

یقول رجال ما اصیب لهم اب و لا من اخ: اقبل علی المال تعقل

" ما ته هغه کسان دیت وړاندې کوي او د مال منلو ته مې هڅوي چې پلار او ورور یې هیڅکله د وژونکي د تیغ ښکار نه دي ګرزېدلي."

د همدې احساساتو نتیجه وه چې دوی دیت پیغور باله او دې ته یې د وژل شوي کس د وینو خرڅولو په سترګه کتل. د بنو نصر بن قعین د یوه شاعر ربیع بن عبید شعر دی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

أذواب! اني لم اهبک و لم اقم　للبيع عند تحضر الاجلاب

" اې ذوابه! ما نه ستا قتل بخښلی او نه مې د عکاظ په بازار کې د خرڅولو او را نيولو پر مهال ستا وينه خرڅولو (ديت اخيستلو) ته وړاندې کړې."

مګر څرګنده ده چې دې د ديت له حقيقت سره هيڅ تړاو نه درلود، صرف له جذباتي تعبير سره يې تړاو درلود او د وينو او وژنو په پېښو کې د دا ډول احساساتي تعبيرونو مثالونه مونږ شپه او ورځ وينو. پر همدې بنسټ د ديت د حقيقت تعين په خبره د پوهېدو ښه بېلګه نه ده، چا چې دا درک غوره کړی غالبا يې دې لور ته نه دي کتلي چې د انسان ځان او غړي تر هر قيمت لوړ دي. هيڅ مور و پلار، وروڼه او زوی د دې فکر له مخې ديت منلو ته نه شي چمتو کېدای چې د خپل وژل شوي، ورور او يا پلار د وينې قيمت تر لاسه کوي. که دا نظر ومنل شي نو نتيجه به يې دا وي چې د ديت قانون پر کوم مصلحت بنا دی ټولنه به يې له ګټو بې برخې شي.

پاتې شول هغه کسان چې ديت د مالي زيان بدله ګڼي نو هغوی غالبا د دې دريځ خپلولو پر مهال پر دې غور نه دی کړی چې د يوه شي د حقيقت لپاره اړينه ده چې هغه يې په ټولو لويو او وړو اجزاوو کې موجود وي. هر چا چې د ديت قانون په سرسري ډول هم مطالعه کړی دی په هر حالت کې به و مني چې ديت يوازې د نفس په وژلو کې نه بلکې د بدن د ټولو غړو لکه پزې، غوږو، سترګو، ژامې او غاښونو په له منځه تلو کې هم ټاکل شوی دی. څرګنده ده چې په دې کې د ډېرو غړو له منځه تګ د مالي زيان سبب نه ګرزي، بالفرض که ژامه، غاښ، د لاس او يا پښې يوه ګوته له منځه ولاړ شي نو په دې سره څه مالي زيان رسېږي؟. که د ديت ټول قانون ته په پام غور وشي نو دا خبره په ډاګه کېږي چې نورو ډېرو لاملونو ته له پام پرته صرف د دې داخلي تضاد له



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."
www.javedahmadghamidi.com
www.almawrid.org

املـه دا نظر پر ځای نه شي بلل کېدای. کـه د دیت د حقیقت پـه اړه دا دواړه نظرونه سم نه وي نو بیا په واقعیت کي د دیت حقیقت څه دی؟. د دې پوښتني په ځواب کي اړینه ده چي عربي روایاتو تـه رجوع وشي، د جاهلي عربو په شاعرۍ کي د دیت مضمون څو ځایه بیان شوی دی. د وژني او ویني تویوني پېښي د هغوی په ژوند کي دومره عـامې وې چي د ثـأر، قصـاص او دیـت مضـامین ګـواکي د دوی د شـاعرانو د ذهـن ازمویني لپاره تل حاضر وو. په دې کي شک نه شته چي هغـوی پـه خپلو اشعارو کي عموما د دیت منونکو تـه پیغور ورکاوه او هغـوی یې غـچ اخیستلو ته هڅول خو له دا ډول احساساتي شالید پرته چي کله هغـوی د دیت پر موضوع څه وایي نو په عمومي توګه د دوی لـه بیان څخه د دیت حقیقت هم په ډاګه کېږي. پـه داسي ځایونو کي هغـوی د دیت لپـاره د غرامـه یـا د دې متـرادف لفـظ مغـرم کـاروي. پـه عربـي ژبـه کـي دا لفـظ بالکل په هماغه معنا کارېږي پـه کومـه معنا کي چي پـه (پښـتو) کـي د تاوان یا جرماني لفظ استعمالېږي. لکه څرنګه چي زمـوږ پـه ژبـه کـي د هر هغه مال لپـاره چي د کـوم جرم د سزا پـه توګـه لـه مجرم څخـه اخیسـتل کېږي د تاوان یا جرماني لفظ کـارول شـوی همدا رنګـه د عربـي جاهلیت په ژبه کي د دې لپاره د غرامه لفظ کـارول کېدی. لکـه څرنګـه چـي مـوږ وویـل د دیـت لـه حقیقت څخـه د تعبیـر لپـاره عربـي شـاعرانو همـدا لفـظ کارولی، زهیر بن ابی سلمی وایي:

ینجمها قوم لقوم غرامة ولم یهرقوا بینهم ملء محجم

"اوښان یې د تاوان په توګه په قسطونو یوه قوم بل قوم ته ورکول په داسي حال کي چي ورکوونکو په اخیستونکو کي یوه ډکـه لپـه ویني هم نه وې بهولې."

د دیت پـه اړه همدا مفکـوره وروسته هـم پاتي وه، د امـوي زمانې د یوه شاعر عجیر السلولي یو شعر دی:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

یسرک مظلوماً و یرضیک ظالماً ویکفیک ما حلمته عند مغرم

"که ته مظلوم وې نو ستا د انتقام په اخیستلو دي خوشاله کوي او که ظالم وې نو له تا سره په ملګرتیا دي خوشاله کوي او د دې ظلم په نتیجه کي د تاوان (دیت) ورکولو پر مهال چي ته پر ده هر بوج اچوې دی یوازي د هغه لپاره کافي دی."

له دې څخه معلومه شوه چي دیت نه د مالي زیان بدل دی او نه د وژل شوي د وینې بیه، د خپل حقیقت له مخې یوازي غرامه یعني تاوان یا جرمانه ده چي په قصدي قتل کي له قصاص څخه تر تیریدو وروسته او په خطایي قتل کي په هر صورت کي مجرم ته راجع کیږي.

(۱۹۸۷)

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# بیلابیل موضوعات

www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# د خدای پرېکړې

د رسولانو له لوري تر اتمام حجت وروسته که رسولانو او پیروانو ته یې د ځمکې په کومه برخه کې واک په لاس ورشي، نو د خدای پرېکړه ده چې د دوئ د منکرینو لپاره دوه صورتونه دي: منکرینو کې که مشرکین وي، نو وژل کېږي به او که په یو نه یو ډول د توحید منونکي وي، نو به محکومېږي. په بقره، انفال او توبه* کې چې الله تعالی د کوم قتال او عربي مشرکینو د عام وژنې امر کړی هغه د همدې پرېکړې نفاذ دی.

د دې له شریعت او احکامو سره هیڅ تړاو نه شته. موږ په میزان کې لیکلي:

"دا یوازې قتال نه وو، بلکې د الله تعالی عذاب وو چې تر اتمام حجت وروسته د الهي سنت موافق او د خدایي پرېکړې په توګه لومړی پر عربي مشرکینو، بیا پر یهودو او نصاراوو او وروسته له عربو بهر پر نورو قومونو نازل شو. نو دا خبره بیخي روښانه ده چې د حق د منکرینو خلاف د جنګ په نتیجه کې پر مفتوحینو مالیه لګول، محکومول او تر لاس لاندې کول لو حق نور د تل لپاره ختم شو. تر قیامته هیڅوک اوس د نړۍ پر یوه قوم د دې هدف لپاره برید نه شي کولای او نه پر مغلوب شوي قوم د جزیې په لګولو د هغوئ د محکومولو جسارت کولای شي. د مسلمانانو لپاره د قتال یوازې یو صورت پاته دی او هغه د ظلم او تیرې په وړاندې جنګ دی. نن د الله په لار کې جنګ همدغه دی. له دې پرته د هیڅ هدف لپاره د دین په نوم جنګ نه شي کېدای." (۵۹۹)

---

* البقره ۲: ۱۹۰، ۱۹۴، الانفال ۸: ۳۸-۴۰، التوبه ۹: ۳ - ۵، ۲۹

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."



www.javedahmadghamidi.com
www.al-mawrid.org

د ابراهيم عليه السلام د اولاد په اړه هم د خدای پريکړه ده چې که هغوئ پر حق ولاړ ول او له څه کمي و زياتي پرته يې د نړۍ ټولو قومو ته د رسولو کوښښ کاوه، نو د دوی له دعوته پر منکرينو به غلبه ورکول شي، خو که يې له حقه انحراف وکړ نو د هغوی په ذريعه به ذليل او محکوم او په عذاب به اخته کړل شي.

دا ژمنه له بني اسرايلو او بني اسماعيل دواړو سره ده. قران کريم ښکاره ويلي چې د دين د شهادت لپاره بني اسماعيل هغه ډول غوره کړل شوي لکه مخکې چې بني اسرايل انتخاب شوي ول.* نو کومې ژمنې چې په د بني اسرايلو لپاره په تورات کې ذکر شوې او قران ځای پر ځای حوالې ورکړې** هغه وعدې د بني اسماعيلو په اړه هم د دوی په شان منلې کېږي. خو د دې معنا دا نه ده چې دوی د دې لپاره خپله کوم اقدام کولای شي او پر نړۍ والو قومونو د دې هدف لپاره بريد کولای شي. هيڅکله نه، د دې حق نه دوی ته په تورات کې ورکول شوی او نه په قران کې. د دې ژمنې را ښکاره کېدا په تکويني توګه کېږي او اسباب يې هم په همدې توګه پيدا کېږي. د دوی کارېوازي دا دی چې د خدای پر ورکول شويو حکمونو عمل وکړي او له خپل وس سره سم د شهادت هغه مسووليت په اخلاص او ديندارۍ پوره کړي چې خدای دوی ورته منتخب کړي دي.

د دې فيصلې يوه فرعه دا ده چې د فلسطين او ور سره شاوخوا سيمه الله تعالی د بني اسرايلو لپاره ځانګړې کړې او عربي ټاپووزمه يې د بني اسماعيل لپاره خاص کړې چې د نړۍ ټول قومونه له دوی سره يوځای د دې مشاهده وکړي او هدايت ترلاسه کړي. نو بني اسرايلو ته له دې امله امر وشو چې د خپل ميراث دا سيمه د هغې له اصلي

---

* الحج ۲۲: ۷۸

** استثنا ۲۸: ۱-۲۵، البقره۲: ۴۰، بني اسرايل۱۷: ۸

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

او سیدونکو خالي کړي، هیڅ مشرک او کافر ژوندی ایله نه کړي او نه دي له دې سیمې سره پیوست په سرحدونو کي کوم مشرک او کافر حکومت ته د قایمېدو مجال ور کوي. مګر که هغه حکومت دوی ته باج ور کاوه. که هغوی له دې انکار وکړ، نو نارینه دي قتل او ښځې و ماشومان دي غلامان کړل شي. د استثنا په ۲۰ باب کي دا حکم په پوره تفصیل بیان شوی دی. سلیمان علیه السلام د سبا ملکه د همدې حکم له مخې مجبوره کړه. د مکې تر فتحې وروسته په عربي ټاپووزمه کي د مشرکینو ټول معابد د همدې حکم له مخې ختم کړل شول. د لا یجتمع دینان في جزیرة العرب* (په عربي جزیره کي دوه دوینه نه شي سره یوځای کېدای.) لاربښوونه د همدې له مخې وشوه. نو په عربي خاوره کي د همدې له مخې نه د غیر الله د عبادت لپاره کوم معبد جوړېدای شي او نه یو کافرو مشرک ته د اوسېدنې اجازه ور کول کېدای شي. دا ټول احکام د توحید له دې مرکز سره اړه لري، د نړۍ له بلې هیڅ سیمې سره یې هیڅ ډول تړاو نه شته.

دا د خدای منصوصي پریکړي دي او په الهامي صحایفو کي په ښه وضاحت سره بیان شوې. په تورات کي هم دا تفصیلات بیان شوي او په قران کي هم. د مسلمانانو بد مرغي ده چي نن د هغوی ځینو مشهورو مفکرینو د دې پریکړو اصلي نوعیت درک نه کړ. د اسلام سیاسي تعبیر د همدې تیروتنې له منځه را وټوکېدی. د قتال او جهاد تحریکونه د همدې تعبیر پایله ده چي ټول مسلم امت یې نن نتیجه زغمي. د دې حالت د اصلاح لپاره اړینه ده چي د خدای په پریکړو د پوهېدنې او پوهونې نړي والي هڅې وشي چي بنسټپالو ته د دې عامونې په ذریعه د فتنې پیدا کولو هیڅ فرصت پاته نه شي. (۲۰۱۱)

*الموطأ: ۲۶۰۷

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

# حلال او حرام

د زينت توری په عربي ژبه کي د هغو شيانو لپاره کاريږي چي انسان يې د جمالياتي حس د تسکين لپاره ښايسته کوي. نو جامې، ګيڼې او نور د بدن زينت دی. پردې، کوچونه، غالۍ، انځورونه او نور د کور زينت دی. ښونه، ودانۍ او دا ډول نور شيان د ښارونو زينت دی. موسيقي د اواز زينت دی. شاعري د کلام زينت دی. د دين صوفيانه تعبير او صوفي مذهبونه دا شيان ټول د دوکې دام ګڼي او عموما يې حرام، يا مکروه، يا د نه توجو وړ او يا هم د روحاني ارتقا په لار کي خنډ بولي. مګر قران کريم داسي څه نه دي ويلي. هغه دا مذهبونه ردوي او په ښکاره وايي چي دا ټول شيان روا دي. بلکي د خبرداري او تهديد په ژبه پوښتي چي څوک څنګه د دې شيانو د حراموالي جسارت کوي چي خدای د خپلو بندګانو لپاره پيدا کړي:

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللهِ الَّتِيٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ (الاعراف۷: ۳۲)

دوی ته ووایه، د هغه زينت چا حرام کړی چي خدای د خپلو بندګانو لپاره پيدا کړی او د خوراک پاک شيان چا حرام کړي دي؟

يوازي دا نه ده، بلکي اعلان کوي چي پاک شيان او زينت ټول له لويه سره په دې نړۍ کي د مومنانو لپاره پيدا شوي او اصلا يې همدوی حق لري. له خدايه منکرينو ته د دوی له طفيله او د هغه مهلت له وجې ورکول کيږي چي په دنيا کي د ازمويښت لپاره دوی ته ورکول شوی. په اخرت کي به دا ټول شيان د مومنانو لپاره ځانګړي وي او منکرينو ته به يې هيڅ برخه نه ورکوله کيږي او هغوی به له دې څخه د تل لپاره بې برخي شي:

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُواْ فِي الۡحَيَاةِ الدُّنۡيَا خَالِصَةً يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ (الاعراف ۷: ۳۲)

ووايه، دا په دنيا کي هم د مومنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ به د دوی لپاره خاص وي. موږ په دې توګه هوښيارو خلکو ته خپلو اياتونو کي تفصيل بيانوو.

د قران دا اعلان حيرانونکی دی. د عمومي مذهبي افکارو او صوفيانه مذاهبو برخلاف قران د دنيوي ژوند بالکل يو بل ډول تصور وړاندي کوي. خدای ته د نژدېکت او وصول لپاره له دنيوي زينتونو د لاس اخيستنې پر ځای قران مومنانو ته ترغيب ورکوي چي له اسراف او تبذير څخه په ځان ساتلو الهي حدودو کي دننه هغوی د زينت ټول شيان له کوم تردد پرته استعمالولای شي او د همدې الهي نعمتونو شکر دي ادا کړي:

يَا بَنِي آدَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٍ وكُلُواْ وَاشۡرَبُواْ وَلاَ تُسۡرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الۡمُسۡرِفِينَ (الاعراف ۷: ۳۱)

د ادم زامنو! هر مسجد ته د حاضري مهال زينت کوئ، خورئ او څښئ مګر اسراف مه کوئ. ځکه الله اسراف کونکي نه خوښوي.

تر دې وروسته پوښتنه دا ده چي په الهي شريعت کي کوم شيان حرام دي؟ د دې پوښتنې ځواب قران په اعراف سورت کي همدلته لږ وړاندي ورکړی چي د خوراک او څښاک له شيانو پرته خدای نور پنځه شيان حرام کړي: فواحش، د بل حق تلفي، ناروا تيری، شرک او بدعت.

د خدای په شريعت کي همدا پنځه شيان حرام دي. له دې پرته هيڅ شی حرام نه دي. د حلال او حرام په اړه دا د خدای اعلان دی، ځکه نو



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هیڅوک حق نه لري له دې پرته نور شیان حرام کړي. نن که یو شی حرامېږي هغه مهال به حرامېږي چي له دې پنځو شیانو کوم یو پکي وموندل شي. روایات، آثار، حدیثونه او د پخوانو صحیفو بیانونه هر څه دي د قران د همدې لار ښوونې په رڼا کي وفهمول شي. له دې پرته یا د دې خلاف هیڅ شی د منلو وړ نه دی. الهي وینا ده:

قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ (الاعراف۷: ۳۳)

دوی ته ووایه، زما رب یوازي فواحش حرام کړي، ښکاره وي که پټ، حق تلفي، ناروا تیری، دا چي تاسو له خدای سره هغه شریک کړی چي دلیل یې نه دی پرې نازل کړی او دا چي پر خدای له ځانه داسي څه وتړئ چي تاسو پرې نه پوهېږئ.

(۲۰۰۹)

# له منکراتو منعه

د ایمان یوه لازمي غوښتنه دا ده چي خلکو ته ښه وښودل شي او له بدو منعه کړل شي. دا تلقین او منعه به دواړه په حکمت، سمه بلنه او د نصیحت په غوره اسلوبو کېږي. د خلکو د هدایت او بې لارۍ معامله خدای په خپل واک کي ساتلې. دی هغه هم پېژني چي د ده له لاري اوړي او هغه هم چي هدایت تر لاسه کوي ځکه نو د حق و انصاف بلنې ته دي نه څوک څارونکی کېږي او نه دي خپلو مخاطبینو ته د جنت او جهنم فیصلې صادروي. قران په دې اړه ډېر واضح دی چي د حق د بلونکي په توګه د خدای پیغمبر هم تر تذکیر، نصیحت او ښکاره دین رسونې پرته د بل شي اجازه نه لري. الهي وینا ده:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ * لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ *
(الغاشيه۸۸: ۲۱– ۲۲)

ته نصيحت کونکی یې، پر هغوی څارونکی نه یې.

البته د واک او اختیار معامله بیله ده. د پوهې حد ته په رسېدو نارینه د یوې ښځې مېړه او د ماشومانو پلار کېږي. د انسان دا دوه حیثتونه د دین او فطرت له مخې هغه ته د واک یوه دایره ور کوي. همدا معامله د ادارو او حکومتونو هم ده. کله چې موجود شي نو مشرانو ته د واک دایره رامنځته کوي. نبي علیه السلام د همدې دایرې دننه د بدیو په اړه ویلي:

من رای منکم منکراً فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه، وذلک اضعف الایمان.
(مسلم شمېره: ۱۷۷)

له تاسو که څوک بدي وویني، نو هغه ته په کار ده چې په لاس یې مخنیوی وکړي، که یې د دې همت نه وو نو په ژبه او که یې دا هم نه شوای کولای، نو په زړه کې دې بد وګڼي او دا د ایمان ډېره وروستۍ درجه ده.

د بدي لپاره په دې روایت کې د منکر توری استعمال شوی. له دې څخه هغه بدي نه ده هدف چې یوازې د مذهبي احکامو له مخالفته پیدا کېږي، بلکې هغه بدي ښیي چې ټول انسانیت یې د مذهب او ملت له امتیاز پرته بدي ګڼي. غلا، دروغ، بد دیانتي، بخل، خیانت، په کچه او تول کې کمي، سم و ناسم مال سره ګډول، حق تلفي، فواحش، د ځان، مال او عزت خلاف تیری او د دې نوعیت نوري بدیو ته په عربي کې منکر توری کارېږي. د نبي علیه السلام دا لارښوونه د همدې بدیو په



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

اړه ده. په قران کې چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوم حکم بیان شوی دا د همغه فرع ده. رسول الله خبرداری ورکړ چې د وس سره سم که دا بدی په زړه کې هم بدې ونه ګڼې نو تر دې کښته د ایمان بله درجه نه شته.

د (ان لم یستطع) کوم الفاظ چې دې روایت کې راغلي په دې هم باید پوه شو. له دې څخه هدف هغه وس نه دی چې انسان په یوه شي مکلف کوي ځکه چې د دې په نه شتون کې که څوک پر یوه حکم عمل ونه کړي، نو د ایمان کښته درجې ته نه شوه کېږي. په روایت کې دا الفاظ د همت او حوصلې په معنا کارشوي چې د ایمان د قوت او کمزورۍ له امله کم یا زیاتېدای شي. بیا هم یوازې د واک په ساحه کې. دلته که څوک بدي ووینې او په لاس یې منعه نه کړي نو د هغه په اړه ویل کېدای شي چې د ایمان لومړۍ درجه نه لري. ځکه له واک او صلاحیت سره یې د بدي مخه ډب نه کړه. د دې هیڅکله هم دا معنا نه ده چې د ایمان د دې درجې موندلو لپاره دې خلک د خپلو پیروانو ډلې جوړې کړي او په دې هدف پسې دې را ووزي چې د منکر مخه ونیسي. که دا رنګه اقدام وشي نو دا به بدترین فساد وي چې په دین کې هیڅ ځای نه لري. د دین ټول احکام د انساني اختیار او وس له مخې ورکول شوي. لا یکلف الله نفساً الا وسعها * (دا حقیقت دی چې) الله د چا له وس پرته زیات بوج نه پر اچوي) پرېکنده اصول دي چې د دین او شریعت په ټولو احکامو کې به ورته پام کېږي. د نهی عن المنکر په اړه به د رسول الله لارښوونې د همدې اصولو په رڼا کې فهمول کېږي.

(۲۰۰۹)

* البقره۲: ۲۸۶

© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

## د ثواب بخښل

الله تعالی په قران کريم کي د يو اصل په توګه دا وضاحت کړی چي هر شخص د خپلې کړنې مسوولیت په خپله پر غاړه لري. د هیچا د عمل مسوولیت پر بل نه شي وراچول کېدای او نه څوک د بل د کړي کار مسوولیت پر غاړه اخیستی شي. دا يې هم روښانه کړې چي د قیامت په ورځ چي هر کس ته څه ور کول کېږي د هغه د عمل په مقابل کي ور کول کېږي. د يوه شخص د عمل بدله بل څوک نه شي تر لاسه کولای. له کوښښ او هڅو پرته هلته د چا لپاره هیڅ هم نه شته. الهي وينا ده:

أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى * وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى * أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى * وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى * وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى * ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَى *

دا چي هیڅ کس د بل پیټی نه شي اچتولای او دا چي انسان ته (په اخرت کي) هغه ور کول کېږي چي ده (په دنيا کي) کړي وي او هر څه چي ده کړي وي ژر به يې ووينې، بيا به يې پوره بدله تر لاسه کړي.

(النجم۵۳: ۳۸ – ۴۱)

له دې سره دا هم حقیقت دی چي د انسان عمل صورت نه لري چي خدای ته ورشي او هغه د اجر مستحق شي بلکي د زړه تقوا ده چي د اجر سبب کېږي. څرګنده ده چي دا تقوا د انتقال شی نه ده. ځای يې د انسان زړه دی چي له هغه ځایه بل ته نه شي نقلېدای چي بل کس هم د هغه په ثمره کي برخه تر لاسه کړای شي. قرباني يو ستر عبادت دی. په دې کي موږ د ځان او خپلې قربانۍ مخ د قبلې لور ته کوو او له دې احساس سره يې د خپل خدای په دربار کي نذر کوو چي ګویا حقیقت کي موږ خپل ځان هغه ته نذرانه کوو. په دې اړه الهي وينا ده:



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِن يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنكُمْ
(الحج۲۲: ۳۷)

الله ته (ستاسو) د دې (قربانيو) غوښې او وينې نه رسېږي، بلکي هغه ته يوازي ستاسو تقوا رسېږي.

د قران دې دوو ځايونو ته په کتو د خداى په خوا کي يو چا ته د نورو د نيکي يا بدي د فايدې يا زيان رسونې يوازي يو صورت پاتېږي او هغه دا چي د هغه نيت، اراده او هڅې و کوښښونه به په مستقيم يا غير مستقيم ډول د هغه په نيکي يا بدي کي دخيل وي. د دې څو ډولونه کېداى شي. مثلا: هغه د خير او نيکي تعليم ورکړى وي. په خپل عمل يې د نيکي نمونه وړاندي کړې وي. يا د نيکي لپاره يې هغه ته د اسبابو او وسايلو په چمتو کولو کي برخه اخيستې وي. رسول الله پر همدې اساس ويلي:

اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة: الا من صدقة جارية، او علم ينتفع به او ولد صالح يدعو له.
(مسلم شمېره: ۴۲۳۲)

انسان چي مړ شي نو عمل يې هم له هغه سره ختمېږي. البته درې شيان استثنا دي: يو صدقه جاريه، دويم ګټور علم او درېيم نيک اولاد چي والدينو ته دعاوي کوي.

په دې کي د اولاد پر ذکر دې څوک تعجب نه کوي. حقيقت دا دى چي اولاد له يوې مخې د والدينو کوښښ دى. ځکه که مور و پلار رښتني مومنان وي نو د لمانځه، روژې، حج، زکات او نورو ټولو نيکو اعمالو زده کړه تر هر چا مخکي خپل اولاد ته ور کوي. که هغوى د نيکي کوم کار تر سره نه کړاى شو، نو په دې کي بدي نه شته چي د هغه



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دا اراده يې اولادو نه ور بشپړه کړي، بلکې د رسول الله له هدايته ښکاري چې بايد بشپړه يې کړي ځکه دا د نيکمرغۍ غوښتنه ده. د نيت و ارادې سره به هغه ته د تعميل اجر هم ور کول شي. په رواياتو کې راغلي چې د خثعم قبيلې يوې ښځې پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! زما پر پلار حج فرض دی، مګر هغه دومره بوډا دی چې پر سپرلۍ نه شي سپرېدای، ايا زه د هغه له لوري حج کولای شم؟ ده وويل: کولای يې شې.* دا رنګه د جهينه يوې ميرمنې پوښتنه وکړه: زما مور د حج نذر منلی وو، خو اوس مړه شوې ده، ايا زه د هغې له خوا حج کولای شم؟ ده وويل: لا زما يې وکړه. که پر هغې قرض وای، نو تا ادا کاوه؟ دا د الله قرض دی، دا هم ادا کړه، ځکه الله د دې ډېر حقدار دی چې قرض يې ادا کړل شي.**

د انسان په ژوند کې همدا د مور و پلار حيثيت بل څوک لکه استاد يا بل مشر هم خپلولای شي. د دوی حکم هم ښکاره ده چې همدا دی. د دې مضمون ټول روايات پر همدې قاعده ور حمل دي. له دې پرته که څوک يو عمل د بل لپاره کوي، نو اجر يې د هغه چا دی چې عمل يې کړی. د رسول الله په اړه راغلي چې يوې ميرمنې خپل ماشوم ور پورته کړ او پوښتنه يې وکړه، ايا دا هم حج کولای شي؟ رسول الله ورته وويل: هو، البته اجر يې ستا دی.***

د نبي عليه السلام د دې خبرې له مخې چې څه ويل کېدای شي هغه دا دي چې د چا لپاره نيکي کېږي، که يې هغه ته د نيکي رسېدلو امکان هم نه وي، نو هم د نيکي کار بد نه دی. اجر يې نيکي کونکي ته په هر حال رسېږي. البته دا معنا يې نه ده چې د دې لپاره دي د هغه ايصال

---

*بخاري شمېره: ۱۸۵۵، مسلم شمېره: ۳۲۵۱

** بخاري شمېره: ۱۸۵۲

*** مسلم شمېره: ۳۲۵۳



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

ثواب جواز تر لاسه شي چې نن يې په مسلمانانو کې کوم شکلونه رواج دي. دا ټولې غونډې يقينا بدعت دي. په قران و حديث کې د دې لپاره هيڅ بنياد نه شي موندل کېدای.

البته په دې اړه بايد دې خبرې ته پام وشيچې د (ليس للانسان الا ماسعیٰ) د نفي اسلوب د نفي د استحقاق لپاره دي او دا قاعده له هغه ځای سره اړه لري چې د خلکو ته په اړه د جنت او دوزخ فيصله کېږي. د خپل ايمان او عمل په وجه چې د جنت مستحق شي نو د خدای له نوري مهرباني او فضل سره د دې هيڅ تړاو نه شته. قران صراحت کړی چې که اولاد د خپل ايمان په مټ په جنت کې د ډېرې وړې برخې مستحق هم شي نو الله تعالی د هغه پر والدينو د نعمت بشپړولو په خاطر اولاد ته هغه درجه ورکوي چې د ده مور و پلار ته يې ورکړې او له هغوی سره يې يو ځای کوي. الهي وينا ده:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ* (الطور ۵۲: ۲۱)

چا چې ايمان راوړی او د دوی اولاد هم د ايمان په يوه درجه کې د هغوی پيروي کړې وي، د هغوی اولاد هم موږ (په هغه درجه کې) له دوی سره يو ځای کوو او د دوئ له عمله هم هيڅ نه کموو.

له دې څخه دا خبره هم ثابتېږي چې همدا معامله به په هغه صورت کې هم کېږي چې مور و پلار په کښته درجه کې وي. ځکه د مور و پلار چې له اولاد سره د زړه تړاو هغې درجې ته د اولاد وړلو سبب شو هماغه تړاو په دې دويم صورت کې هم موجود دی.

(۲۰۱۱)



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

# اضطراري علم

علم بديهي او نظري ته وېشل کېږي. بديهي هغه دی چې ته يې له څه غور او فکر پرته حاصل کړې او نظري بيا دا دی چې د فکر او تدبر په ذريعه له بديهي څخه تر لاسه کېږي. له دې وېش څخه دا نتيجه اخيستل کېږي چې بديهي د اصل او اساس حيثيت لري او پاته هر شی د هغه فرع بلل کېږي. د فلسفې پيل د خارجي حقايقو له بحثونو څخه شوې وه. بيا د مدارکو حقيقت د بحث موضوع شوه او بديهي ته د اصل حيثيت ور کول شو. د دې نښه دا وه چې څوک ورسره هيڅوک ورسره اختلاف نه لري، مګر انسان داسې دی چې له هر شي سره اختلاف کولای شي. همداسې وشول، شکوک او ګومانونه شروع شول. نن حالت دا دی چې يوه ډله په ټينګار وايي معلوم يوازې محسوس دي او همدا اصل دی. ټول افکار او خيالات له هغه شي پيدا کېږي چې موږ يې په خپلو حواسو فهمولای شو. دماغ (tabula rasa) يا ساده لوحه ده. زموږ تر ادراک مخکې پر هغې هيڅ شی هم ثبت نه وي. بله ډله وايي چې وارداتي علم په خپله نفس دی او له مدرکه نفس پرته موږ د يو شي پر وجود باور نه شو کولای. دريېمې ډلې ادعا کړې چې له محسوس اثر پرته هيڅ شی باوري نه دي او څلورمې اعلان کړی چې حس او فکر دواړه د باور وړ نه دي ځکه نو په نړۍ کې د يقين او باور په نوم هيڅ شی له سره وجود نه لري.

د دې پايله څه ده؟ لومړۍ ډلې له عقل، روح، اله او اخرت څخه انکار کړی. دويمې دا محسوس جهان نه دی منلی. درېيمه له دواړو منکره ده او له محض علم پرته د هر شي له اثباته منکره ده. څلورمه مطلق علم او يقين منفي کوي، دا ډله له دې شيانو د يوه منلو ته هم چمتو نه ده. ديکارت (Descartes) چې کله وويل: (زه فکر کوم، ځکه نو وايم چې يم) نو تر سقراط او اپلاتون وروسته يو ځل بيا له همدې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

شک څخه د علم او فلسفې د را ایستلو کوښښ وشو. * تر ماړرن دور وړاندې د همدې فلسفې ژبې د تحلیل په مټ خپله ادعا ثابتول غواړي. د ده وینا ده چې هیڅ نښه یا لفظ (signifier) هم د یوه معلوم شي (signified) د معنا بیان نه کوي ځکه نو د یوه معلوم شي حتمي وجود نه شته. د هر لفظ معنا په جمله کې د نورو الفاظو د تکیې په مټ معلومېږي. که یو لفظ ور اضافه کړې یا یې ترې کم کړې نو د پوره جملې معنا بدلېږي. نو معنا نه په الفاظو کې شته او نه په جملو کې، بلکې هیڅ ځای هم نه شته. په جمله کې هیڅ لفظ هم په پوره توګه د معنا ورتیا نه لري. له دې امله هغه تر بله لفظه یا الفاظو معنا ځنډوي (defer). په همدې توګه د مختلفو الفاظو په تکیه معنا خپل اړخ ټاکي، د عبارت سیاق هغه پر له پسې بدلوي چې هیڅکله هم باوري او حتمي نه وي. نو له دې سره تړلې ارزښتونه هم بې معنا دي، هغه هم حتمي نه شي کېدای. ** له الهي وحې پرته چې څوک د حقیقت په لټه وتلي دي د هغوئ د سفر توښه همدا ده. اقبال ناسم نه دي ویلي:

---

* Cogito ergo sum. د دیکارت دا څه هم فیصله کوونکې نه شوه ځکه په دې کې هم په انساني فطرت کې دننه د بدیهیات اصل او اساس د استدلال بنسټ ونه ګرزول شو. نو ژاک دریدا (Jaques Derrida) تر هر څه مخکې د وجود پر مابعد الطبیعیاتي حیثیت ولاړ همدا روایت تر نیوکې لاندې راوست او پر دې خبره ټینګار کوي چې (په خپله زما وجود ) هم هیڅ حقیقت نه لري، ځکه چې دا هم هیڅ پریکنده معنا نه لري.

** د دې نظر خاوندان پر دې خبره فکر نه کوي چې د دوی دا استدلال په خپله د نظر او استدلال پر صحت د هغوی د یقین اظهار دی. حقیقت دا دی چې د باور ابطال هم تر هغه په لوړ له یو بل باور پرته نه شي کېدای. دا د انسان اضطرار دی نو د ابطال د هر کوښښ نتیجه حقیقت وي. مګر د انسان غمیزه دا ده چې هغه د جذباتو په توپان کې په ټېښته کولو مخته ځي. شخصي ازادي او انفرادیت چې د همدې لپاره دا ښاغلي مره کېږي، دا هم یو ارزښت دی او د



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

هے دانش برهانی حیرت کی فراوانی

قران د دې برخلاف د خپل استدلال بنسټ پر هغه فطري علم ایښی چي په انساني نفس کي الهام کړل شوی دی. د انسان د ټول علم و عمل او فکر و استدلال بنیاد په حقیقت کي همدا علم دی. په دې کي شک نه شته چي تر هر څه مخکي چي نظر پر کوم شي لوېږي هغه بدیهي دی، نو د هغه په اصل منلو انسان خپله هڅه پیلوي. د ده دې ته نه پام کېږي چي اصلاً دا د هغه فطري علم دی چي دی تر بدیهیاتو رسوي او تر خوځنده نظریاتو یې کشوي. که دا علم نه وای نو له بداهت، نظر او استدلال څخه به یو شی هم موجود شوي نه وای. ځکه له خارجه چي کوم شی راځي هغه یوازي موضوعات دي. د هغوی حکم له خارجه نه راځي. هغه په نفس کي دننه له وړاندي لا موجود وي. هغه همدا حکم کوي او بیا – بیا موضوعات په نوې بڼه تبدیلوي چي نوی حکم پر وکړي. ذوق او ادراک د همدې ظهور دی چي لومړی یکي د عمل او دویم د علم سرچینه ده. د ذات او صفاتو، حامل او محمول، فعل او انفعال، حسن او قبح، مدرک او غیر مدرک او ذات و عوارضو ترمنځ د توپیر و امتیاز سرچینه همدا دی. د حواسو په ذریعه چي کوم اثرات تر انساني نفسه رسېږي، له هغه څخه پر موثراتو استدلال د هغه دنده ده چي له امله یې خارجي وجود باوري کېږي. انسان چي تر کومه انسان وي، د هغه له فیصلو څخه انکار نه شي کولای. پر انساني نفس د هغه حکومت چلېږي. تسلیمي او غاړه ښودنه یو اختیاري شی نه دی، هغه مجبور دی چي د دې علم پریکړې داسي و مني لکه د خپل فطرت غوښتنې چي مني. تاسو ویلای شئ چي انسان له هر شي انکار کولای شي، نو له دې

---

ټولو ارزښتونو پر نفي له ټینګاره هم له دې ماسیوا بل شی نه تر لاسه کېږي چي یو بل ارزښت موجود شي. ګواکي هماغه حال دی چي: نه جای ماندن نه پای رفتن.



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

يې ولې نه شي منکر کېدلای؟ د دې ځواب دا دی چې په ژبه يې يقينا کولای شي، مګر څه وخت چې دا انکار کوي، عيني په همدې وخت کې يې عمل، اعضا و غړي او حالت دا ردوي. په دې سره هر هوښيار انسان پوهېدای شي چې دا يو ښکاره تضاد دی. امام حميد الدين فراهي له دې امله دا علم اضطراري بللی او بالکل يې سم ويلي دي چې په انساني نفس کې د الهام راتلو يو ځای دی چې هغه ته بايد مرکز وويل شي. له دې څخه د علم هغه دايره رامنځته کېږي چې موږ ورته فطري وايو. تر دې وروسته بديهي او نظري دي. نو د علم وېش يوازې بديهي او نظري ته نه شي کېدای بلکې جذري، فطري، بديهي او نظري ويشونه هم بايد را منځ ته شي.

د همدې په پايله کې ګورو:

قران وايي چې پر خالق اقرار د مخلوقاتو فطرت دی. هغه د خپل وجود له مخې اقرار کوي چې د خالق محتاج دی. دوی ته که د خالق اثبات په مخکې وي، نو د منطقي استدلال اړتيا نه شته يوازې د تنبيه او پام را اړولو ضرورت وي. دا يو حقيقت دی چې هيڅ مخلوق له خپله خالقه انکار نه کوي بلکې که يې پام را واړول شي نو منلو ته يې داسې ورمنډه کوي لکه تږی چې اوبو ته ور ځغلي. قران کريم وايي چې له بني ادم څخه خدای پوښتنه وکړه ايا زه ستاسو رب نه يم؟ نو ټولو يو ځواب ورکړ چې هو، ته هرومرو زموږ رب يې. مګر موږ پوهېږو چې په دنيوي ژوند کې ځينې وختونه انسان انکار ته مخ کوي مګر دا يوازې غرور دی. کوم وخت چې دی انکار کوي، عيني همدا مهال د خپل علم په دايره کې د هر انفعال لپاره فاعل، د هرې ارادې لپاره مريد، د هر صفت لپاره موصوف، د هر اثر لپاره موثر او د هر نظم لپاره د يوه عليم، حکيم او ناظم په لټه کې لالهانده وي. د هغه ټول علم د همدې لالهاندۍ راپور



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

دی. دا د عمل تکذیب دی چې د هغه د انکار حقیقت بیخي په وروستۍ درجه کې په ډاګه کوي.

د خیر او شر د شعور معامله همداسې ده. قران کریم وایي چې د خیر او شر د امتیاز او خیر ته د خیر او شر ته د شر احساس د انساني تخلیق پر مهال په انساني نفس کې الهام کړل شوی دی. مګر انسان کله ناکله انکار کوي. دې ته هم له مکابرت یا غرور پرته بل نوم نه شو ورکولای. ځکه څه وخت چې دی انکار کوي، عیني همدا وخت که خپله هغه له کومې بدۍ سره مخ شي نو له کوم تردود پرته بدۍ ته بدي وایي او پر ضد یې د خدای تر ابده احتجاج کوي. بیا یوازې دا نه ده، که نیکي وکړي نو د عزت او درناوي جذبات یې را ښکاره شي او که دی په هره ټولنه کې وي، نو د حق او انصاف لپاره به لازما یو نظام جوړوي. د هغه قانون، محکمې او نړۍ والې ادارې ټول د همدې حقیقت شاهدي ورکوي.

د الفاظو د دلالت (ښودنې) معامله همداسې ده. قران وایي چې هغه میزان، فرقان او د شخړو د حل لپاره د حکم په توګه نازل شوی او ده خپله خبره په قاطعیت سره رسولې چې د هغې له مخې به انسان د قیامت په ورځ مسئوول وي او د هغه لپاره د جنت او دوزخ پریکړې کېږي. د قران دا وینا د هغه فطري باور پر بنیاد ویل شوې چې د انسان پر خبرو او د ده د بیان او نطق په وسیله پر رسیدونکي پیغام تل موجود دی. د فقهې و حدیث امامان د ټولمنلې قاعدې په توګه وایي چې (ما ثبت بالکتاب قطعي موجب للعلم والعمل) د فلسفې له کوږوالي او بې لارېو اغېزمن متکلمین یې نه مني. د دوی وینا ده چې پر خپل مفهوم د الفاظو دلالت ظني دی ځکه نو د قران الفاظ نه، بلکې عقل د حق او باطل لپاره معیار دی.* که فکر وشي دا هم څرګنده مکابره ده. ځکه دا مهال چې

---

*تر موډرون دور را په دې خوا مفکرین هڅه کوي چې له انسان څخه دا باور هم واخلي. تر دې وروسته به نو له انسان سره له بې انتها بې باورۍ او بې



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

همدا خبره کوي، په دې وخت کې خپل همدا نظر د همدې الفاظو په ذريعه بيانوي او دوی ته هيڅ شک نه ورلوېږي چې د دوی خبرې يې مخاطبينو ته په پوره قاطعيت نه دي رسېدلې. يوازې دا هم نه، د بل اورېدنې او ليکنې چې وايي هم دا شک نه ورته پيدا کېږي. که د بحث او مباحثې ځای راشي نو د هغوی هر لفظ د همدې تصديق کوي. دا پر انساني نفس د انساني نفس شهادت دی چې تر دې بل ستر شهادت نه شته. بل الانسان على نفسه بصيرة ولو القى معاذيره. *

ابن قيم ليکي:

من ادعى انه لا طريق لنا الى اليقين بمراد المتكلم، لان العلم بمراده موقوف على العلم بانتفاء عشرة اشياء فهو ملبوس عليه ملبس على الناس؛ فان هذا لو صح لم يحصل لاحد العلم بكلام المتكلم قط، وبطلت فائدة التخاطب، انتفت خاصية الانسان، وصار الناس

څوک چې ادعا کوي د متکلم تر موخې د باوري رسېدنې هيڅ لار موږ ته نه شته ځکه د ده په مراد د پوهې لپاره اړينه ده چې لومړی د لسو شيانو پر نفي پوه شو. ** هغه خپله هم ګډوډ دی او نور هم په دې مرض ککړوي. که دا خبره سمه وای، نو متکلم ته به د کلام علم هم نه کېده او مخاطبت بې معنا کېده. بلکې انسان خپل انسانيت له لاسه ورکوي او خلک به تر

معنويته بل څه پاتې شي؟ او دا چې دردونه به يې تر کومه ځايه ورسېږي؟ هيڅوک نه پوهېږي.

* القيامة ۷۵: ۱۴– ۱۵. انسان پر خپل ځان شاهد دی که څه هم ډېرې بانې جوړې کړي.

** يعني اشتراک، مجاز، نقل، اجمال، تخصيص او عقلي معارض او نور. د نورو تفصيلاتو لپاره وګورئ: شرح المواقف، الجرجاني ۲ / ۵۱



© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

www.javedahmadghamidi.com www.al-mawrid.org

كالبهائم، بل اسوأ حالا، ولما علم غرض هذا المصنف من تصنيفه، هذا باطل بضرورة الحس والعقل وبطلانه من أكثر من ثلاثين وجها مذكورة في غير هذا الموضع. (اعلام الموقعين ۳/ ۱۰۹)

حيواناتو هم بد واى. دا به هم نه معلوميده چي د دې ليكوال په خپله له دې كتاب څخه څه هدف لري؟ نو عقل او حس دواړه وايي دا ادعا ضرور باطله ده، د بطلان يې تر ديرش هم زياتي وجې دي چي بل ځاى ذكر شوې.

(۲۰۱۱)

د ژباړې پاى

۲۰۱۷/ اگست/ ۹



www.javedahmedghamidi.com
www.al-mawrid.org
© "All rights of this book are reserved for the publisher and the author. This copy is for reading purpose only. This copy cannot be uploaded on any website except those of the publisher and the author."

المورد

د علم او څېړنې اداره